## د الحاج محمد حسن حسام

# نثري کلیات




Ketabton.com

۱۳۹۴ لمریز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زه کابل یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پیلامه

## د لښکرونو ملك ته وايه
## په مړو موړ شوې كه لا نور كوې جنګونه

له شلو كلونو څخه زيات وخت تېر شو، چې زموږ په غمځپلي هېواد افغانستان كې د جګړې اور لمبې په غړغندو دي او زموږ ټوله معنوي او مادي شتمني يې له ستوني تېره كړه او زموږ هېواد ته غرض لاسونه را اوږده شول.

زموږ مسلمان ملت د نړيوالو استكباري او ښكېلاكي ځواكونو د رقابت ښكار شو او ددې رقابت ټول مادي او معنوي زيانونه موږ ته راورسېدل، هېواد مو كنډواله شو، اقتصادي منابع مو فلج شول، هېوادوال مو څه له مينځه ولاړل، څه معيوب او معلول شول، مېرمنې كونډې او ماشومان مو يتيمان او يسيران شول؛ اوس د بل په دروازو د سوال كچكول ګرځوي او د هر كس او ناكس نه د خير تمه كوي.

چا زموږ هېواد ته د انترناسيوناليستي ورورۍ تر پردې لاندې خپلې لښكرې رادننه كړې او څوك هم د ((جهاد)) نړيوال دوستان او اسلامي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خواخوږي شول، خو نتيجه دا شوه چې هېواد په تش کنډر بدل شو او دود شوي او لاش شوي پاليز په څېر هر چا په کې خپله هڅپله برخه واخيسته.

زموږ د هېواد غربي او جنوب شرقي ګاونډيانو د خپلو ملي ګټو د ساتنې لپاره او د حفظ ما تقدم په منظور داسې ډلې ټپلې جوړې کړې چې په ډېره بعيده راتلونکې کې هم ترې زموږ د هېواد د ملي منافعو په تاوان او په خپله ګټه کار واخيستلای شي، زبرځواکونه هم د خپلو ستراتيژيکو ګټو د تامين لپاره ددغو ډلو او ټپلو تر شا ودرېدل او له يو بل څخه يې د خپلو تاريخي شکستونو غچ زموږ په بې صاحبه هېواد کې واخيست.

کله چې يې ددغه ډلګيو جهاد سرته ورساوه او د هېواد واګي يې په لاس کې ورکړې، نو ددغه بې نظمه تنظيمونو غړيو داسې نادودې راواخيستې چې د اسلامي او کفري هېوادونو اوسېدونکي ورته ګوته په غاښ شول.

دغه بې نظمه تنظيمونو په ټول هېواد او په تېره بيا د هغه په سياسي کلتوري او تجارتي مرکز(کابل) کې داسې ناروا اعمال ترسره کړل چې د کابليانو فغان اووم اسمان ته پورته شو.

راډيويي اژانسونو، ژورناليستانو، افغاني ليکوالو او شاعرانو او نورو د بشر د حقونو ساتندويه موسساتو ددغه ايله جاريو له خپلسره کړو وړو څخه په خپل وخت او زمان کې پرده پورته کړه او د بې نظمه تنظيمونو په ((حکومت)) او ټوپکمارانو باندې يې لعنت او نفرين ووايه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددغې غميزې په اړه په بهر مېشتو افغانانو په خپلو امکاناتو سره د هېواد د اوسېدونکو فغان د نړيوالو غوږونو ته ورساوه او د خپلو کړېدلو او هسکيرنو ورونو په غم يې د اوښکو پرځای په وينو وژړل او خپل دغه تاثرات يې په هنري نثرونو، سياسي او حقوقي تحليلونو، اشعارو، ادبي ټوټو په ژانر او نورو هنري او ادبي پيرايو او سفرنامو کې څرګند کړل.

د هېواد څخه بهر خپلواکو خپرونو لکه ((ائينه افغانستان)) (امريکا چاپ)، ((مجاهد ولس)) (ناروې چاپ)، ((دعوت)) (ناروې چاپ)، ((فرياد)) (المان چاپ)، ((وفا)) (د ازاد افغانستان د ليکوالو د ټولنې خپرنی ارګان، د پېښور چاپ) ((پيام زن)) (د افغانستان د ښځو د انقلابي سازمان، راوا، خپرونه، د کوئيټې چاپ)، ((افغان ملت)) (پېښور چاپ)، او داسې نورو خپرونو زموږ پر هېواد روانه بربنډه ديکتاتوري وغندله او د پرديو بريڅو د ناروااو څخه يې پرده پورته کړه.

د رواني تراژيدی د سياسي تحليل په ترڅ کې کولای شو د پروفيسور عبدالرسول امين ((د افغانستان تاريخ له خطرناك پېچومې تېرېږي، وفا- ۱۳۵۷ل)) کتاب، د ښاغلي عبدالجليل وجدي ((افغانستان د لويې لوبې ستيج- وفا- ۱۳۷۶ل)) کتاب او د حقوقي تحليل له مخې د پوهاند دکتور ودېر ساپي ((مساله افغانستان از نګاه حقوق بين المللی، وفا- ۱۳۷۶ل)) کتاب د يادونې وړ دی او د شعر په ژبه زموږ د در په دره هېوادوالو بده وضعه کولای شو د پوهاند عبدالشکور رشاد ((د افغانستان بدې ورځې- وفا- ۱۳۷۳ل)) کې د بېلګې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



توګه ووينو، همدارنګه ددغه رواني تراژيدۍ او غميزې په ترڅ کې هېواد ته اوښتي فرهنګي زيانونه د پوهنيار محمد اسمعيل يون د ((افغانستان ته اوښتي فرهنګي زيانونه- وفا- ۱۳۷۶ل)) اثر کې په څرګنده ليدلای شو.

له بلې خوا ښاغلی شهرت ننګيال په خپلې سفرنامې ((د دوزخونو په لمبو کې سوځېدلی جنت)) کې د هېواد، کنډوالو د حسرت اوښکې تويې کړې او په عاملينو يې نفرين او لعنت ويلی دی او ښاغلي جنرال رحمت صافي په خپل کتاب ((افغانستان څنګه تباه شو)) کې د ډېرو پټو رازونو څخه پرده پورته کړې ده.

په بين المللي توګه د عفوې د نړيوال سازمان له خوا (( افغانستان د بشر د حقونو د فاجعې په خاطر نړيواله ذمه واري)) کتاب چې په هغه کې د ((مجاهدينو)) په ځلورنيم کلن حکومت کې ترسره شوي جنايات په مستنده او مصوره توګه شرح شوي دي، د يادونې وړ دي.

د همدغې رواني فاجعې څخه د ياد داشتونو او برداشتونو په سلسله کې ښاغلي (م-ح حسام) هم قلم ته لاس کړی او د کابل د ښار د تاريخي عظمت د ړنګوونکو او کابليانو سره د جهاديانو د غيرانساني، غير اسلامي او ضد افغاني چال چلند څخه يې په مېړانه پرده پورته کړې او د دوی توره څېره يې نړيوالو ته په واقعي توګه بربنډه کړې ده او هم يې د سيمې د مغرضانو، ضد افغاني پلانونه افشا کړي او د بې نظمه تنظيمونو د سرپراهانو پليت نيتونه او باطني خيانت يې په خلاص مټ څرګند کړی دی او په دې توګه يې د هېواد د يوه حکاك، حساس او دراك څاروونکي په څېر اوسني او راتلونکو نسلونو ته دا ښوولې ده؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه څوك چې د هېواد د ازلي او ابدي دښمن د خوشالولو لپاره خپل وطن او تاريخي افتخارات د نابودۍ کندې ته غورځوي، تاريخ يې هېڅکله نه بښي او همېشني نفرين پرې وايي.

زه د ښاغلي ليکوال دغه خاطرات او تفکرات چې ده ورته د ((زه کابل يم)) عنوان غوره کړی دی واقعاً داسې خاطرات بولم چې موږ ټول فکر کولو ته رابولي او د عبرت درس راکوي.

د ليکوال دا يادښتونه او برداشتونه دده شخصي يادښتونه نه بولم، بلکې د هېواد د روښنفکره قشر د زړه اواز يې ګڼم چې ده په خپل قلم له نسيان څخه وژغورل او عاملين يې دتاريخي محکمې ته مختورن ودرول.

په مينه

ح- ابو التقي

۱۳۷۷/۱۲/۷ل کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګرانو او محترمو لوستونکو!

دا کتاب چې عنوان یې دی (زه کابل یم) پر ۱۳۷۸ل کال په پېښور کې په لومړي ځل په ډېرو سختو او اختناق په شرایطو کې په (۱۸۱) مخونو کې د م،ح، حسام په مخففو ټکو او د ح ابوالتقي قاضي حضرت ګل حسامي په سریزه په زرو ټوکو کې چاپ ته ورسېد.

کله چې کتاب د وخت مطبوعاتو وکوت لیکوال یې د کلك تعقیب لاندې ونیو. خو د کتابو لوستونکي هم په دننه او هم دباندې داسې زیات شول چې د اوونۍ په دننه دننه کې د کتاب ټول ټوکونه د خلکو ګوتو ته ورغلل که دروغجن نه شم، نو ما سره یې نمونه هم پاتې نه شوه.

د لوستونکو د مکررو تقاضاوو له مخې چې کتاب دې د دویم ځل لپاره چاپ شي، خو د کتاب لیکوال محمد حسن (حسام) د خپلو مالي نیمګړتیاوو له مخې په هغه وخت کې نه شول کولای چې کتاب د بل ځل لپاره بیا چاپ او د لوستونکو تونده پرې ماته او د ظلم، استبداد، بربریت او وحت څېرې لاپسې بربنډې او وطنوال د کابل په غمیزو نور هم اګاه کاندي. اوس اوس چې له نېکله مرغه د سولې او دموکراسۍ لمر زمونږ د بارود په ډك اسمان کې نوی په ځلا راغلی او هم لاډېر داسې شته چې ځانونو نه یې پاس په اسمان کې د وریځو اوښان او فیلان جوړ کړي او په ځمکه کې د دموکراسۍ د ریښو د قطع کولو لپاره مورچه کان شوي تر څو دا خدایي حق له مونږ څخه د یو بل ځل لپاره په دغه او هغه واخلي او د نړیوالې ټولنې په موجودیت کې یې زندۍ کاندي، نو کتاب د دویم ځل لپاره د لیکوال په اصلي نوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



(محمد حسن حسام) له خوا کټ مټ د طبعاتي غلطيو د نيولو وروسته په هماغه پخواني متن قطع او صحافت د نبراسکا مطبعې له خوا په يو زر ټوکه کې چاپ ته ورسېد او لوستونکو ته د دويم ځل لپاره د دموکراسۍ په فضا کې وړاندې شو. زه د کتاب ليکوال د محترم احمدشاه دراني د نبراسکا مطبعې د رئيس څخه مننه کوم چې (زه کابل يم) کتاب د دويم ځل په نشرېدو او (اوړپرنګی) د پښه يې ژبې د اشعارو مجموعې په اول ځل خپرېدو کې له ماسره پوره پوره بې الايشه او د ورورګلوۍ نه په ډکه فضا کې وطنپرستانه او سولې ته په وفادارۍ همکاري کړې ده.

په احترام

محمد حسن حسام

(c) ketabton.com: The Digital Library



# قومندان صيب

خبرې خو ښېشانه ډېرې دي، څه سر به دې خوږوم، څه چې مې په غوږونو اورېدلي وو هغه مې په خپلو ګنهکارو سترګو وليدل او څه چې مې په سترګو وليدل، نو زما غوندې ښوسه بنده سره نور څه وو؟ هغه مې د څو توبو په ويلو سره وزغمل او لاسونه مې غوږونو ته ورووړل او ومې ويې چې:

توبه خدايه! توبه.

زموږ په ايل شوي ښار باندې د مړه ښامار كيسه شوې وه، هر چا به توره پر وينو سره كړه او خپل پاچا ته به يې ويل چې ښامار ما وژلى دى.

نه، نه داسې خو نه وه.

زموږ ښايسته ښاريه په دې نوم ايل شوې وه چې نور د ښارېې هېڅ كوم تن دې بې ځايه مړ نه شي، خو افسوس چې خبره بل شان وخته.

هر څوك چې به نوى زموږ ښارېې ته په نوي ماډل ګاډو (پيجارو، ډاټسن، فلاينكوچ) او نورو كې په ډېره منډه او بيړه راورسېدل، د ښارېې په تندي به يې ژر ژر د بغاوت مهر ولګاوه او په ډېره چالاكۍ به

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځخه په څو دقیقو کې ووتل او په ښاریه به یې د اور لګولو اډر ورکړ. ایل شوې ښاریه یې د اور څخه وویسته لمبه او لولپه یې کړه.

ښاریه په تشو ایرو بدله شوه، دا ښاریه ځانته د یو چا نه وه شریکه تاریخي ښاریه وه، دې ښاریې له موږ څخه پر دوی حق ډېر درلود، ولې چې دوی ددې ښاریې د ازادۍ په نوم بې شانه ډېرې قربانۍ ورکړې وې. زه هېڅ نه پوهېږم، هډو لا زما سر پرې نه خلاصېږي چې دوی دې ښایسته ښاریې ته ولې دومره کینې اخیستي وو، د دوی د غضب نیلی څومره تُند او تېز و، د دوی غوصه هېڅ سرېدونکې نه وه، د ملك د ابادۍ نه په ورانېدو او کنډوالو او د ژوندیو نه په هدیرو خوشاله و.

دا څومره مستعد او پوه خلك دي(!)

دوی څومره ښه زده کړه کړې وه (!)

دوی لوستلي وو چې په مړو ښه حکومت کېږي ((ګنج در ویرانه است)) دوی خزانې په تشو کنډوالو کورونو او کنډرو کې لټولې.

د دوی استادان د (وژلو او ورانولو) فرمولې ورکوونکي مې هم ولیدل څرمنې یې ډېرې تورې وې، د سر ویښته یې کوږې، کوږ و، شونډې یې ډېرې پلندې وې، د جثې نه ښه غټ خلك وو، زموږ د خلکو نه یې په هرڅه کې توپیر درلود، په عربۍ کې به یې سندرې ډېرې ویلې، مست شانته وو، مېلې یې خوښېدې.

خو ډېر بدرنګ او پیکه خلك وو، دا خلك زموږ د خلکو نه خوښېدل، زموږ د خلکو تور شی نه خوښېږي. دا تور خلك د یو څو په ګوتو شمېر افغانانو ښه یسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانانو چې ((سره)) خوښ نه کړل ((تور)) به هیڅ وخت خوښ نه کړي. خبره رانه اوږده شوه، خپل مطلب ته راځم.

له نن څخه يو کال مخکې زما يو هم وطن د خپلې ډلګۍ سره په ايل شوي ښاريه ننوت، ده ته خپلې ډلګۍ قومندان صيب ويل. دا ډلګۍ برعکس په ګاډو او ډاټسنونو کې نه وو راغلي، قوماندان صيب د لارې په اوږدو کې نارو شوی و، دده سره د خپلې ناروغۍ د تداوۍ روپۍ هم نه وې، قومندان صيب د خپلې ډلګۍ سره په درملتون ننوت، د پلاستيك شلېدلې څپلۍ يې په پښو وې، څپلۍ يې دوه درې ځايه په ستن او تار ګنډلې وې، پوندې يې داسې چاودلې وې چې په هر چاود کې د چا خبره چې ((خرې په کې لنګېدلې)) د پښو دواړه غټ نوکان يې شنه اوښتي وو، د پرتاګه دواړه پيڅکې يې سپړل شوې وې د قومندان د پښو تلې سپين او څرمن يې تکه توره وه، نيم زالو جامو يې خپل رنګ خيرو ته ښښلی و، د سر ويښته يې ګرد قيچي کړي وو، ږيره يې زما له ږيرې څخه يو څه اوږده او د موټې څخه يو څه زياته د سنت په طريقه بالکل برابره وه، د نسوارو په اچولو يې غاښونه تك ژيړ اوښتي وو، د مسواکو لرګي يې هسې په مخامخ جيب کې ټومبلي وو، د ملا وستنې هرول يې داسې ريچې ريچې تللي و لکه ته به وايې چې په تبرکي وهل شوی دی، د قومندان صيب ټوپك ښايسته و د چاينا ساخت و، د خپل ځان يې هغه ښه ساتلی و، د قومندان د ډلګۍ وسله د هر ملك وه، ډول ډول مارکونه پرې لګېدلي وو، قومندان صيب د خپلې خيرنې ډلګۍ سره په پاك هدف او مرام کابل ته د جهاد لپاره راغلی و، هغه په خپلو وروڼو غزا کول، هغه په وروستيو کې ځان غازي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاوه، هغه به د تسبو په اړولو کې له خپل خدای(ج) څخه د شهادت درجه غوښته د لمانځه په نیت کې به یې خپل لاسونه تر اوږو پورته کړل، په لمانځه کې به یې پښې ارتې ایښودې، لمونځ به یې د مساپرۍ کاوه، د لمانځه څخه به یې وروسته دعا نه کوله، قومندان صیب په ډېرو کیسو نه پوهېده، د ښار هرې ودانۍ ته یې اوتر اوتر کتل، کومې لوړې ودانۍ ته چې به یې وکتل لاس به یې په خولۍ کلك کېښود، له دې نه مې په ولګوله چې قومندان صیب «هلته» په کوم لرې کمپ کې ساتل شوی دی او که «دلته» په کوم لرې غرنۍ سیمه کې اوسېدلی دی.

قومندان صیب د ښار سره په کم تماس کې پاتی شوی و، هغه د ښار د ډېرو شیانو سره نا اشنا و، هغه ته زیات شیان عجیب بریښېدل، ده ته چې په هر قدم کې څه مخ ته ورتلل، د ځان سره به پرې وبوږنېده، هغه به هر څه ته په سوچ کتل، هغه به خپلو ملګرو ته په اشاره کې څه وویل او بیا به یې سر وخوزاوه چې: «نه، نه هغسې خو نه وه»؟!

«دا خو زموږ په څېر خلك دي، موږ او دوی خو سره هېڅ توپیر نه لرو، ددې ښار خلك خو زموږ سره ډېره مینه لري، هغه ډاکتر صیب زما مفته تداوي وکړه، زهز یې له ناروغۍ څخه وژغولم، موږ لا په چا سلام نه وي اچولی چې دوی وعلیکم وایي، ما خو ډېرو خلکو ته وکتل، ګوندې د کوم چا پورې لکۍ ووینم، ما خو د چا پورې لکۍ ونه لیده، زه خو چې هر جومات ته ننوځم، هلته خلك په لمانځه ولاړ وي، هر کور ته چې ورشم، الماریو او تاخچو کې قران شریفونه یې په اوو دسمالونو کې پوښلي وي، دلته خو په ګاډو ډریوران کمې روپۍ اخلي، د هوټلونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوراك يې ځومره ارزان، سوتره او مزيدار دى، دلته خلك هم پښتو وايي او هم په پاړسو خبرې کوي، پښتانه او پاړسيوانان په اکثره ځايونو کې يوځاى ناسته پاسته کوي، ددې ښار ښځې خو خپلې لارې ته ګوري، دلته چې هسې ځنګل دې په چا ولګي هغه سړى درنه په ځو ځو وارې ښښنه غواړي، دا ځومره نرم او پاسته خلك دي.!))

هو کې (( ډېر ښايسته خلك دي، دا خلك ځومره د يو بل سره مينه لري، دوى ځومره د يو بل سره په پسته ژبه خبرې کوي، دلته هر سړى خپل کاروبار کوي، د هېچا دروازه خو مې پرانيستې ونه ليده، خو د ښار د خلکو څېرو ته چې ګورم يو څه خفه معلومېږي، شونډو يې له خفګانه پترې نيولې دي، ټوپك ته په بد نظر او کرکه ګوري، د جنګ او جګړې نه ستومانه شانته دي، يوه ورځ دوه نور هم صبر کوم ټول شيان له نږدې څخه ځارم داسې نه چې غلطه نه شم او دا به هسې پروپاګنده وي.))

هوکې! (( هر کله چې زما زړه څه ومنل بيا نو هغه سات او هغه مصلات.))

قومندان صيب د خپلې ډلګۍ سره ماښام زمونږ کور ته راستون شو، ستړى ستومانه او جوو، جو د هر ارګمي سره به يې خپل لاس خولې ته يوړ دېواله ته يې تکيه وکړه او يوه پښه يې په بله واړوله خپلې ډلګۍ ته يې مخ ورواړاوه چې:

((ستړي شوي يئ ځئ شاباس خوب وکړئ، خو ګورئ چې پهره مو هېره نه شي.))

قومندان صيب د يو څه سوچ څخه وروسته ماته مخ کړ او ويې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



((راځه عزيزه په ځنګ کې مې کېنه.))

زه پوه شوم چې د قومندان صيب په زړه کې څه شته، خو په خوله يې نه راځي، خبره به يې سازه کړه خو بېرته به يې ځان ونيو.

په دې مهال زه پرې لومړی شوم چې: قومندان صيب! ((په ښار کې مو څه وکړل څه مو خوړل او څه مو وڅښل، څه مو وليدل، څه مو خوښ او څه مو ناخوښ او بدې شول، کوم شی سم او ناسم و))؟؟؟ دی غريب د اخري کليمې سره بيا په سوچ کې لاړ، زه په دې مهال د يو څه پسې پاڅېدم چې ده راباندې غږ کړ.

عزيزه! (( زه درته يو څه ايم او تاته يې وايم دا خبره يوازې تاته کوم ولې چې زموږ دې ډېر دارمدار وکړ له موږ سره په تکليف کې شوې، زموږ دې ډېر عزت وکړ، خدای دې ستا عزت وکړي، خدای پاك دې په خپل امن کې وساته))!!! ګرانه! (( موږ خو په اصل کې ددې ښار د ورانولو، نړولو او د خلکو د وژلو پسې رالېږل شوي يو، موږ ته يې ويلي وو چې: څومره يې وژلی شئ مړه يې کړئ او چې څومره يې ورانولای شئ وران يې کړئ، سرونه يې لوټ او مال يې تالا کړئ.))

نو ما له قومندان صيب څخه پوښتنه وکړ چې قومندان صيب!

((دا خبره چا تاسې ته کړې وه؟)) نو قومندان صيب خپل وچولی په دوو ګوتو کې کلك کړ او په نيولې اواز يې راته وويل: (( په دې بره غره کې يو څو تور شانته خلك دي چا ورته عربيان ويل او څوك ورته سوډانيان وايي يحب الل، يحب الل کوي نور يې پته نه لګېږي، هسې بدرنګ غوندې خلك دي، موږ ته يې د خپل ملك په بابله بدرنګې، بدرنګې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبرې ښودلې دي، دې تورو به موږ چېرته لرې غرونو ته د ټريننګ لپاره بوتلو، دې تورو زموږ زړونه د خپلو خلکو څخه تورول، موږ ته به يې ويل چې: د کابل په ښار کې هر څه د حيواناتو په څېر دي، په کابل کې خلکو ته په اخور کې ډوډۍ ورکول کېږي، د کابل په ښار کې مور او خور نه پېژندل کېږي، په کابل کې هر څه اشتراکي دي، په جوماتونو کې ډمې نڅول کېږي، کمونستان د ځناورو په څېر غټ، غټ خلك دي، د هر چا په مخ چې ږيره ووينئ او يا يې پټکی په سر وي، د هغه نه سر پرې کړئ، د ښځو او نارينه وو حمامونه يوځای دي، د هر چا د کور دروازې پرانيستې پرتې دي، اوس چې مې په يوه دوه ورځو کې وليدل، هر څه په شرعي لحاظ سم او ټيك و، د بدرنګو ټولې خبرې بدرنګې او دروغ وې.)) ډاکتر صيب ! ((موږ ته به يې د جګړې په دوران کې ويل: که مړ شوې شهيد يې او که دې مړ کړ، نو غازي يې، چور، چپاول او لوټول مباح او روا کار دی، هغه غنيمت دی، هغه ستاسې دی، د کابل نارينه اوسېدونکي ستاسې غلامان او ښځينه يې ستاسې وينزې او کنيزې دي، خو شاباس کار وباسئ کار.))!!!

نو ګرانه بې پروا سړيه! ((موږ د جګړې په دوران کې په دې نومونو په ډېر شمېر کې شهيدان شو او شهادت د ټولو غريبو، بېوزلو او کم بختو خلکو په نصيب شو، چې اوس يې اولادونه له ولږې مري او په ښځو يې نکاح وتړل شوې، افغانانې څوك عربو ته ورکړای شوې او څوك عجمو ته، چا د ځان سره بوتلې او چا د الوتکو د ختلو پرمهال په هوايي ډګرونو کې په ځای پرېښودې او هغوی ورڅخه وتښتېدل، چې تر ننه پورې د هغوی په تمه ناستې دي او د خپل برخليك نه په سورو، سورو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژاړي)). ډاكتر صيب! ((هغه څوك چې نوكتي مالدار شانته و او عرب يې ښه غولولای شول، غازيان او بې له كومې اركان حربۍ او شهادتنامې څخه د اولې درجې قومندانان شول، غازيان غله وختل ډاكې كوي، خلك وژني او كرۍ ورځ په لوټولو او شوكولو لګيا دي اميران مو بې تخته او بې تاجه پاچايان دي، د پردو په اشاره او سترګك هر څه يې چې له وسه وشي اسره پرې نه كوي.))

د قومندان صيب مشغولتيا ډېره خوږه وه، په ما ډېره ښه ولګېده، كه څه هم قومندان سواد نه درلود انپړ و، خو ذكي او ذهين سړی و. د يو وار نسوارو اچولو نه وروسته بالښت يې په بل اړخ كېښود او پښې يې په توشكې وغځولې او بيا يې مخ ماته راواړاوه.

ګوره وروره! ((موږ ټول د يوې ابۍ زامن نه يو دا ښار به حتماً ورانېږي دا ښار به په كنډواله بدلېږي، دلته به كوځه، په كوځه او كور، په كور جنګ وي دلته به د ډېرو خلكو كورونه وران شي، دلته به ډېر خلك په مردكو ولګېږي، دلته به ډېرې معصومې پېغلې كونډې شي، دلته به ډېرې ميندې بورې شي، دلته به ډېر پلرونه په ملا كړوپ شي او داسې به كړوپ شي چې هغوی ته به خپلې لكړې تاب نه شي راوړلای، دلته به وېره وي، وېره! يو وحشت، يو قيامت به وي قيامت...)) ما په اول كې د قومندان صيب په خبرو يو څه تعجب وښود او بيا مې ورو، ورو غونې ځېږ او په نيولي اواز مې وويل: چې ((ولې قومندان صيب!؟ اوس خو شكر دی اسلامي انقلاب بري ته ورسېد، دلته خو تا وليدل چې ټول خلك مسلمانان دي شكر دی خلك پنځه وخته خپل لمونځونه كوي، روژې نيسي او ذكاتونه وركوي. دا خك خو د وژلو خلك نه دي او نه دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښار د ورانولو ا لوټلو ښار دی، دا د ژوند کولو ښار دی.))نو په دې مهال بيا قومندان صيب له ما څخه خبره ونيوله او ماه يې وويل چې:

((په کم عقله او ساه! دا خو زه او ته وايو چې دا خلك مسلمانان دي او دا ښار د ورانولو ښار نه دی هغه تور خلك نه دي؟(!) هغمخکې چې مې ياد کړل هغوی زموږ غوندې په زرګونو خلك روزلي دي، هغوی زموږ په څېر خلکو ته بده ښوونه کړې ده، دا ښار بايد وران او خلك يې بايد اواره شي. هغوی اوس هم وايي چې افغانان لاازاد نه دي. د دوی په عقيده (چور، چپاول، ګډوډي، د بل شتمني په غلا وړل، د پرديو ښځې خرڅول، په ملي شتمنيو خېټه اچول، بې عدالي، بې قانوني او بلاخره د ټولنې ټولو ناوړو او منفيکارونو ته ازادي وايي) اوس نو ستا خوښه وروره! که دغه شان ازادۍ ته زړه ټينګولای شې، خو همدلته ووسه او که نه شې ټينګېدلای، نو همدا وخت د ملك څخه د وتلو دی. بايد د اوس لپاره ځان وباسې)) ما د قومندان صيب خبره واورېده خپل کور او ژوند مې په ځای پرېښودو شپږو مياشتو وروسته چې زه کله د کوزې پښتونخوا څخه راغبرګ شوم همغه خپل محلي کور اوکلي ته رم چې کتل مې په زرګونو بې هيلې، بې اسرې او بې دفاع خلکو قبرونه د کورونو په انګړونو کې د سرکونو په غاړه او حتی په پارکونو کې جوړ شوي وو، هر څه وران ويجاړ پراته وو، د هېڅا کور سلامت او دان نه و پاتې شوی، د هر چا عزت ته صدمه رسېدلې وه، د ښار د خلکو په عزت لوبې شوې وې، د هغې محلې اوسېدونکي جو جو شوي وو او پاتې خلك يې اوراه وو، د هغه ښکلې محلې شکل داسې اوښتی و چې ته به وايې دلته کې له سره انسان نه و اوسېدلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تورو زړونه لا يخ نه وو، جګړه روانه وه او ورځ په ورځ يې لا زور اخيسته او اوريدل کېدل چې ددې ښار يوه لوېشت خاوره بايد وتوږل شي.

په دې ښار کې لا اوس هم نيمګړې ژوند روان دی، ددې ښار انسانان بايد ژوند ونه کړي، ژوند ددې ښار د خلکو خدايي حق نه دی. ددې ښار د خلکو ژوند د يو څو خرڅ شويو پاچايانو او اميرانو په لاس کې دی. د خرڅ شويو بې تختـه او بې تاجه اميرانو او پاچايانو هر څه چې زړه وغواړي همغسې کوي. دوی د سره په وژلو او ورانولو نه ستومانه کېږي، د هر افغان په وژلو او د هرې ودانۍ په نړولو او لوټولو د دوی ناپاك احساسات لا پسې پارېږي او ددې ټولو ناباسامانيو او بدبختيو علت او انګېزه د خدای پاك رضا او اراده بولي.

په همغه کنډواله محله کې چې هلته ډېرو کمو خلکو ژوند کاوه روان وم چې همغه قومندان صيب په يو نوي ماډل پيجارو کې د خپلو بدماشانو سره سترګې په ما ونښتې خدای دې ورسره ښه وکړي. موټر يې ودراوه د ګاډي څخه راکوز شو، دوسيه په تخرګ نيولې وه، شتري پکول يې په سر و ښه ښايسته واسکټ يې په غاړه کې و. خبرې يې په ګوته کولې او د خندا نه تك شين و، ماته يې وويل عزيزه!

(( ما درته نه ويل ګوره زما خبرې رښتيا شوې. زه اوس د يوې موسسې رئيس يم په کابل کې مې درې څلور کوره په بيه اخيستي، پيجارو موټر مې په اختيار کې دی، څلور ښځې مې په شرعي نکاح په نکاح کړې دي، څو تنه مې په کورونو کې په تشه مړۍ کار کوي، ډېر بې زره مزدوران لرم، د جهاد په برکت اوس زما روزي پراخه ده.)) د قومندان

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساتونباتې ډېر جوړ و، طبې یې غونډاري ویشتل کنډرو ته ډېر خوشاله و، قومندان صیب چې کله رانه مخه ښه اخیستنه نو ما ورته وویل چې: قومندان صیب! ((سواد دې کله زده کړی دی؟)). ده راته خوله رانږدې کړه او په غوږ کې یې راته پټ شانته وویل: ((چوپ شه چې خلك راسره دي تراوسه پورې سواد نه لرم، کله چې مدیران او مامورران په میاشت کې کوم مکتوب راته راوړي، مکتوب په هغوی لولم په اخره کې هسې کرې پرې وکړم چې یو لاسلیك مې له بل سره سر نه خوري، د ړندو پاچایي ده، زه لا په دوی کې د یوې سترګې والا یم.))

قومندان صیب رانه رخصت شو، خپل لاسونه مې غوږونو ته وروړل او ومې ویل:

چې توبه خدایه!

توبه..........

۱۳۷۱ل کال، زمري میاشت

کوزه پښتونخوا، پېښور، چارسده

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پساتونو مور

د جهان وګړي څومره بختور دي، په تېره بيا د نوې نړۍ پاچايان او وزيراعظمان يې په يو منټ او سيکنډ کې بدل رابدل شي. هر څه يې په خبره حل شي، ماښام وزيراعظم او سهار کې بيا د ملك عادي وګړی وي، قهر، غصه، سپکې او سپورې نه وي، پاچا ګرځي وشي سر خو لا پرېږده چې غاښ هم په کې مات نه شي. خلك پرې د سره خبر نه وي چې په ملك کې څه خبره ده.

خو زار، زار مورې ته چې مورې دوه لسيزې د اوږده عمر د بې بقا تاج او تخت د حصول لپاره د يو بل وينې وڅښلې، افغان د افغان خامې او بوټۍ غوښې پرله پسې وخوړې په دغه خوراك دوی ډنګر او نور د ناوسۍ په طرف روان دي، خو برعکس د پاکستان پنجابيان د ايران اخندان او د سعودي عرب شيخان پرې څاربه شول. عجيبه شان معما ده خوراك يو څوك کوي او څاربېږي پرې بل څوك.

هوکې! مورې خپل کورونه وران کړل او ومو سېزل اورېدلي مو و چې په ((بازار کې ايرې ښې خرڅېږي.))

(c) ketabton.com: The Digital Library



ياد مې دي چې ډېر کلونه تېر شول زموږ شونډې بيا د خندا لپاره خلاصې نه شوې، د نړۍ خلك چې موږ له ورايه وګوري، موږ پېژني ډېر ځل مې د دوی بونږېدل په خپلو غوږونو اورېدلي دي چې دا بدبختان! ((مېږي ته چې خدای په قهر شي وزرې وباسي.)) دوی ته خدای په غضب شوی دی خدای!!

هېڅ مې له ياده نه وځي چې زما د وطن پېغلې لاهمغسې سياه پوشې دي، زما د وطن د ځوان نسل اوږې او ملاوې د پردو ټاټکو او پېټهو په چلولو کړوپې ښکاري، دوی د نورې نړۍ د ځوانانو سره بالکل فرق لري. زمزوږ د ماشومانو تعليم او تربيه د ضربا ګردان په درياب کې غوټې وهي. هېڅوك نه پوهېږي، دوی نه پوهېږي او هغوی هم نه پوهېږي، چې زموږ د ماشومانو ښوونه او روزنه په کومه ژبه، کوم نصاب، په کوم ښوونځي کې څه وخت، په کوم فصل کې په کوم معيار، د کوم ښوونکي له خوا شروع کېږي؟؟؟

که سر مې د لحد په تيږه لګېږي هم مې نه هېرېږي، چې زموږ د ځوانانو د لوړو تعليماتو د زده کړې په ځايونو په (کابل پوهنتون)، کې پوځي اډې جوړې شوې دي، هلته پوځي تمرينونه کېږي، هلته مذهبي، قومي، قبيلوي او ايتنکي تعصبات او کينې راژوندۍ کېږي، هلته د تفرقې کتابونه تدريسېږي. هغه کتابونه، کتابخانې، فرنيچرې، ورکشاپونه او لابراتوارونه چې په هغو باندې د پروفيسرانو، انجنيرانو، ډاکترانو او مهندسينو کلونه، کلونه وخت ضايع شوی و، په هغه کې علمي اثار چاپ شوي و، ټول اومه او پاخه مواد يې د بهر څخه په جګو روپو خريداري شوي و، د چاپ ماشينونه يې په ډېر زحمت سره فعال

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوي و، کارګرو ته پرې تنخوا ورکړې شوې وه، مسلکي کسانو پرې حق الزحمې اخیستې وې، کتابونه د لاربنود په شکل اماده شوي وو، هغه قیمتي اثار د تېرو څلو کلونو د بې بجلۍ ژمي له امله د ځان د تودولو او د چایو د جوشولو وسیله شول.

ټول تاریخي او ملي اثار د سیمې هېوادونو او د نړۍ په بازارونو کې په خرڅلاو ولیدل شول. د کابل پوهنتون په ټوله ساحه کې یو شعار لیدله کېده چې: ((یك ثانیه غفلت صد سال جوالیګیري)).

که هر څومره یې هېر کړم، خو نه مې هېرېږي. نړیوالو او هېوادوالو د ملك د لوټ او تاراج په هکله به یې ډېر څه لیدلي او اورېدلي به یې هم وي، لیکوالانو، شاعرانو او ژورنالیستانو به پرې یو څه ناڅه لیکل هم کړي وي.

که ښه لوټ او یغماوي لکه د شخصي او دولتي ګاڼو تښتول، په ګمرك کې د تجارانو مالونه غلا کول، د مالدارو څخه د کمونست په پلمه د جګ رقم اخیستل د ښو، ښو ودانیو د کړکیو او دروازو نړول، د غنمو، غنمو اوسپنو ذخیره کول او کباړول د دولتي ودانیو څخه د فرش او ظرف پټول دا خو لا یوه خبره ده:

ماته د دوو شیانو تاراج، لوټ او غنیمت ډېر جالب او په زړه پورې و، دا لوټ هغه ملا صیب کړی و چې: موږ یې په څو ورځو کې د لمانځه څخه تېښتې ته اړ ایستي وو.

د هر لمانځه څخه وروسته به ده دوه ساعته وعظ کاوه، په اکثره خلکو به یې لمونځونه تېرول، مامور به د ماموریت څخه پاتې و او معلم به د

(c) ketabton.com: The Digital Library



معلمۍ څخه، زده کوونکي به د زده کړې څخه پاتې و او دوکاندار به د دوکاندارۍ څخه...

دا خبره مې د ملاصيب هېڅ نه هېرېږي، ده به په وعظ او تقرير کې ويل چې:

((حبيب الله د سقاو زوی خادم اسلام او امان الله خان کار و، دې ملا صيب به په وعظ کې ويل چې: کله لمونځ کوئ بجلي مه لګوئ دا د سنت طريقه نه ده.)) دې ملا صيب اکثره لمونځونه په موږ باندې به تورتم کې کول. ملا صيب د بجلۍ او روښنايۍ ډېر مخالف و او په خطاب کې به يې ويل چې:

((بجلي د پيۍاتونو مور ده، په دې باندې راديو اورېدل کېږي، د راديو اورېدل بدعت دی، په بجلۍ باندې تلوېزيون ليدل کېږي، د تې وي ليدل ګناه ده او په (وي، سي، آر) کې د فلم ليدل خو د کفر درجه ده.)) ملاصيب د پخوانۍ ډيوې چې هغه هم شړشمي تېل سوزوي ډېر شوقي و.

خير خو په هر حال د ملا صيب سره شپې او ورځې سختې وې، ده چې به هر څه ويل زموږ د مقتديانو قبول و.

د ۱۳۷۱ل کال د زمري د مياشتې په ۲۱ نېټه د جنګ په سخته شپه کې چې مې کتل زموږ د جومات همغه ملاصيب دوه زړې دولتي کرسۍ او د بګراميو د ټوکرانو د اوبدلو د فابريکې سل دانې نچې او توتې دده په برخه رسېدلي و، نو ما ملا ته وويل چې: (( ملاصيب))! ((تا چې د سقاو د زوی صفت کاوه هغه خاص ددې لپاره و چې ((هغوی)) او

(c) ketabton.com: The Digital Library



((تاسې)) د يـوې ابـۍ زامـن واسـت سـتا پـه برخـه دا دوه زاړه څيـزه ورسېدل!؟))

دا متل مې ورته ووايه چې د ((خوارو برخې خوارې وي.)) نو استازه!

((ته د کابل نه تر پېښـوره پـورې دا زوړ سوغات (ډالـۍ) وړې کـوم نـوی څيز نه پيدا کېده که څنګه؟)) ملا صيب لږ څه مسکی شانته شو او پـه ونښکو کې يې په خندا، خندا راتـه وويـل: (( کـه هـر څـه وي، خـو بيـا هـم غنيمت دی او موږ لپاره روا دی.))

نه پوهېږم چې په موږ څه ټکه پرېوته په کابل کې هرڅوك هـر چېـرې چـې دی خو چې ټوپك ورسره دی. هغه د خپلـې ډلـې ټپلـې سره يوځـه دی يـو بې تخته او بې تاجه پاچا دی، خبرې اترې ورسره نه پـه پسـته ژبـه کېـږي او نه په ځيږه ژبه...

په طنز يې سر نـه خلاصېږي، پـه اشـاره نـه پـوهېږي، ټوکـه او ټکالـه يـې بدې راځي، د تور سرو او ماشومانو ژړا اورېدی نه شي، پـه سر سـرتوره د پېښې ايبلـه ښـځې او ماشـومان چـې د جګړو د لمبو لـه لاسـه پـه منډو وي، هغه ليدی نه شي، معصوم او بـې ګنـاه انسـانان ((افغانـان)) چـې د دوی په پېښو کې ساه ورکوي پـه هغـوی پېښـې ږدي، جنګـي ماشـينونه او ګاډي پرې تېـروي او پـه ډېـره بـې ننګـۍ ورڅخـه تېرېږي، د هغـوی لاش (جسد) ورته د يو افغان او د يو انسان لاش نه ښکاري.

زه يوې ډلې ته ځير شوم، ښه دقيق مـې ورتـه وکتـل پـه تېرېـدو کـې مـې بيا مخ وروا ړاوه، خـو ماتـه پتـه ولګېـده چـې هغـوی هـم ړانـده دي او هـم کاڼه. دوی نه څه ليدی شي او نه څه اورېدی، نـه کـوم درك ورسـره شـته

(c) ketabton.com: The Digital Library



او نه کوم درد ، ددوی د پوهې کچه دومره ده چې څنګه باید افغان مړ شي، څنګه يې بايد شتمني چور شي او څنګه يې بايد کور ونړېږي؟؟

موږ ړانده او کاڼه نه يو درك او درد مو تېز دی، په طنز ښه پوهېږو، هر څه اورېدی شو، خو په ژبه توتله او ګونګ شو، ستونی مو ناست دی، غاښونه مو په ډېر زور ارت شول، زموږ اواز اوس د نړۍ هېڅ سياستدان نه اوري، څه شول هغه ((دوستان)) چې موږ ته به يې د ځمکې په سر خيالي جنتونه جوړول او مانۍ ابادولې؟

څه شول د سوډان تورپوستي؟

څه شول د بنګال ټګان؟

څه شول د بحرين او قطر شيخان؟

څه شول د سعودي عرب چهل تاريان؟

څه شول د ايران اخندان؟

څه شول د پنجابي امير منو وارسين؟

څه شو ټامسن دا خود غرضه او بې وطنه سفير؟!

څه شول هغوی، څه شو موږ او څه شول دوی دا ټول څوك و او څه شول؟؟؟

نه پوهېږم چې دوی چېرته ځي، موږ چېرته ځو او هغوی چېرته ځي؟؟؟

نه پوهېږم چې دوی څه کوي، موږ څه کوو او هغوی څه کوي؟؟؟

نه پوهېږم چې دوی څوك وژني، موږ څوك وژنو او هغوی څوك وژني؟؟؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه پوهېږم چې په جګړه کې څوم مات شول، وروستی بری د چا په نصیب شو، چا ډېر مړه کړل او ملك چا په ښه کنډواله بدل کړ؟؟؟

نه پوهېږم چې اوس څوك غازي، څوك شهید او څوك صحیح سلامت کور ه راستون شو؟؟؟

زموږ د پېړیو، پېړیو پوځي ماشین د خود غرضو او لاسپوڅو په اشاره او دیکتـه لکـه چې زمـوږ د خـوږ همسـایه زمامـدارانو د بیـا قـدرت د لاسته کولو د خلکو د رائیو خاصولو لپاره ښه معیار وګڼل شو.

منفجر او له پښو وغورځېده، وسایل یې پرزه پرزه شول، دړې وړې شو کباړ شو، تاراج شو او د لیلام په قسم په ((خوارږه همسایه)) په هسکه غـاړه او ټیټـو سـترګو خـرڅ شـو، د هـر چـا زړه پـرې یـخ شـو ((مـوږ)) او ((دوی)) پرې خوشاله شو، مګر ((هغوی)) پرې جشنونه ونیول. خو زړه او ابرومنده په ملا کړوپه مور پرې خفه شوه، هغه پرې ډېره خفه شوه، هغې پرې ډېر وژړل، هغه په قهر شوه، په غصه شوه، هغه په نارو، نـارو او سورو، سورو وژړل، ډېـر وخت کېـږي چې هغـه بې خوبـه ده، سرګردانه ده، نـا ارامـه ده، سـتړې او سـتومانه ده، پـه تشـویش کې ده، پـه داسې تشویش کې چې خدای مه کړه دده عزت ته صدمه ونه رسېږي.

هغه چې ړانده او کاڼه دي د مور حقوق نه پېژني، چې مور لا څه ته وایـي او د مور خبرې ته هډو لاغوږ نه نیسي، موږ چې بینا یو په ژبـه توتله او ګونګ شو او هغوی چې دانایـان دي او ځانونو تـه یـې یـو څه ویـل او د جهاد لپاره یې اسباب او وسایل جوړول او ترتیبول، زموږ د مـور پـه ژړا خاندي د خوشالۍ نه ټقې کوي. څوك په لندن کې جشنونه نیسي او څوك په نیویارك کې...

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ریاض، تهران او د اسلام اباد پاچایان خوشاله ناست دي، د غمونو وری (پېټی) یې زمونږ د افغانانو په اوږو بار کړ او د قیامت د ورځې پورې به یې په شا ګرځوي، تر څو یې ملا ښه کړوپه او تندی یې ځمکې ته ورسېږي او پروني دوستانو ته د نن بادار په شکل کې په سجده پرېوځي او بیا د بدبختو افغانانو سوال که خدای قبول کاندي.

۱۳۷۲ش کال د وري میاشت

کوزه پښتونخوا، پېښور ، چارسده

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لوونه

پسرلی دی، رنګ په رنګ ګلان غوړېږي، د ځمکې مخ يې په مخمل کړی دی، باغونو او بڼونو په خپله غېږه کې هر څه شنه کړي دي، داسې يې شنه کړي دي چې له ډېر شينوالي څخه سترګې برېښوي، د سهار نسيم په چلېدو سره ډېر د هجران سوزېدلي ساه اخلي او راژوندي کېږي.

زموږ د هېوادوالو غوږونه د وطن د بلبلانو اوازونو ته لک پک دي او په زړه کې وايي چې نن به د وطن بلبل څه پيغام راوړی وي؟ خو چې اورم د غوږونو په شپېلۍ کې مې هماغه زړې ترانې دي د پسرلي توراڼګو اوازونو زما د پېښور د دهقان په ملا کې دلو البته د غنمو لو لپاره لور وتړو مبه.

د خواوشا په ملکونو کې د غنمو لوی دی، په بختورو ملکونو کې غنم لوېږي، خو زما په کابل کې د ځوانانو لو او د تنکيو رژېدل ورځ پر ورځ زياتېږي. تاسې به له ما سره په دې خبره انشاالله اوس متفق ياست، د افغانانو د بدبختيو جنګ او جګړې ته به اوس د ځوانانو لو او د تنکيو د رژېدو نوم ورکړو، ولې چې: خبره سرچپه وخته خبره په بل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای کې وه خبره په قصر او حرم کې وه خبرې د جومات نه راووتې او په قصر او حرم ننوتې.

وو د جومات او قصر ترمنځ د ځوانانو لو او تنکیو رژېدل په نړۍ کې ساری نه لري، د ځوانانو لو هوکی؛ د ځوانانو لو دا یوه پخوانۍ خبره پاتې وه. دا به زموږ سپین ږیرو او مشرانو په خپلو خبرو کې ویل چې د پښاپښ غزا او د کړپې جنګ د پرنګیانو سره زموږ د ځوانانو په لو تمام شو، ځوانانو لو وشو جګړه د ځوانانو په لو تمامه شوه.

خو هغه د ځوانانو لو موږ په خپلو ګنهکارو سترګو ولید، البته میندو به خپلو نازولو زامنو ته ښېرا کړې وه، خدایه خیر، د میندو په ښېرا هغوی تنکي ورژېدل د ځوانانو او د تنکیو رژېدل کومه ساده او اسانه خبره نه ده، د ځوانانو په لو او د تنکیو په رژېدو ډېر پلرونه په ملا کړوپ شول او حتی داسې کړوپ شول چې په سینه روان دي. د لو شویو ځلمو د ناوو جوړې مې د بزاز په هټۍ کې د ګزونو په سر پاتې لیدلې، اخیستل شوي زېورات یې د زرګر په دوکانونو همغسې پراته دي، په زرګونو ناوو تنۍ ځیرل او په سر خاورې بادول مې په خپلو ګنهکارو رondo لیدلي، د هغوی داد او فریاد نه تور لوګی او د تورو لوګو نه د وریځو پامپولۍ په رښتیا جوړې شوي په دغه آه او فریاد اسمان ژړلي دي اسمان!!

خو خدای مې دې غاړه نه بندوي، چې غیرتي میندو له خولې څخه مې هېڅ نه دي اورېدلي، د هغوی له سترګو څخه مې اوښکه په بهېدو او څڅېدو هم نه ده لیدلې. پښتنې میندو خپلو ځلمو زامنو په ویر کې خپلې ملاګانې تړلې، خپلو لو شویو زلمو ته یې یوازې دومره ویلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي، چې: ((په همخه مو ښه شه، نر ګډان په قربانۍ کې حلالېږي.)) د ځوانانو لو او د تنکيو رژېدل زما د کابل هر پلار ابدالي هره مور زرغونه او هره خور ملالۍ کړه، خو افسوس چې نه د زرغونې غږ چا واورېده نه د ملالۍ ټپه او نه د ابدالي ناري.

ډېر کلونه تېر شول د کابل د پېغلو مستي مې نه د پغمان په پلندو ورشوګانو او نه د لغمان د مهترلام بابا په مېلو کې وليده.

د ځوانانو لو هر څه ساړه کړل، خو ځمکه يې سره کړه، زموږ هيلې د سرې ځمکې نه د سرو ګلانو راټوکېدل و، خو اوس چې ګورو زموږ په ځمکه سرې او تنکۍ غوټۍ له تندې سوزي او اور اخلي، رژېږي او پاڼې، پاڼې توندې سيلۍ په مخه کړي دي.

سره پوهېږم چې ډېر کلونه تېر شول د ځوانانو لو د ازادۍ په اميدونو وشو، خو ناخبره له دې چې بله غلامي زموږ برخه او بنده شوه. ((غوړونه موږ ګټل خو سرونه موږ بايلودل))ی زموږ د هرې سهوې نه خطا او د هرې ټوکې نه پټاکه جوړه شي او پټاکه زموږ د وينو په سېلاب بدله شي، بيا نو زموږ د وينو په سېلاب کې ډېرې ((پنځوس کلنې جونګې)) او ((اتيا کلن اوښان)) ورغړي. کلونه تېر شول وختونو، وختونه وزېږول، وختونه ځلمي شول او ځلمي لو شول، تنکي ورژېدل او ځمکه يې سره کړه، داسې سره چې د پښې دوکان ورته له ډېره شرمه سترګې نه شي غړولای، هېوادوال دي که غير هېوادوال خير خوا دي که بدخوا، د کابل په ځمکه پښې نه شي ايښودلای، د درېيم ګړي پښې په کې وسوځوي، لولپه شي، هېوادوال ناره کړي چې ((آخ ايره شوم، خو ايره مې درڅخه سيلۍ يو نسي او لاش مې درڅخه سپي او کارغان ونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوري)) ډېر کلونه تېر شول زموږ ژوند د مرګ په تلي کې لاغلی پلی نه دی، زموږ ژوند د مرګ سره په لوښو پوښو کې دی. زموږ رڼا د تيارو سره غېږ په غېږ ده زموږ او دراڅي (راتلونکی) سره رستم او سحراب شول.

ډېر کلونه تېر شول د ځلمو لو د نړۍ د ډېرو ملکونو نه زموږ په ملك کې ډېر وو. ډېر لوګري په دې لو ستړي شول. ستومانه شول. لوګرو زموږ د ځلمو په لو کې ډول ډول لرو نه په خپلو پښانو جوړ او تيره کړل او بيا يې زموږ په نادانو لوګرو خرڅ کړل، بې انصافو په دې لرو، نو ښه بې وته او بې دريغه څو کلن پسرلي يې لو کړل، ستړۍ يې بېشانه ډېرې وې، خو حاصل يې د غويانو د غوبله او د لوګرو د لويۍ قرباني شو.

لوګرو څخه اوس خپل لرونه ورك دي، کله يو ته وايي چې لرونه مو راکړئ او کله بل ته.

چا چې د ځلمو په لو کې حلوا ويشله هغوی د خپل حلوا په ويش پښېمانه دي او د ((کجورو والالامرور راته ښکاري))

۱۳۷۲ ل کال د ثور مياشت

کوزه پښتونخوا، پېښور، چارسده

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د قلم ملګرې ته يو ليک

عزيزه! د اپريل د ۲۲ نېټې مضمون مې دې ولوست حقپالل تـه دې ښې لارې چارې ښوولې وې، مضمون د ظرافت له پلوه ډېر اوچت و.
مرغلرې دې پـه مشـکين تـار کـې ډېـرې ښـې پېيلـې وې او ډېـر ښـکلى امېـل دې ترينـه جـوړ کـړى و. کاشـکې پـه دې مهالل زمـا د وطـن لـيلا د اوږدې بيمـارۍ څخـه رغېـدلې واى. پـه ننګرهـار کـې مـا او تـا دواړو پـه شريکه يو د ګلو هار هم پرې اضافه کړى واى او د وطـن د لـيلا پـه غـاړو کې مو ځړولى واى، هغه ته مو په شريکه مبارك بـاد ويلـې واى، د هغـه سره موږ په شريکه راز او نياز کړى واى.
خو افسـوس چـې زمـا د وطـن لـيلا لا همغسـې بيمـاره ده او ورځ لاتـدې شـانته ښـکارې. دده بيمـارې ګـړۍ پـه ګـړۍ زيـاتېږې، پـوره تنـدې راخيستې تبجنـه ده، تبـه يـې خداى مـه کـړه پـه والګـې وانـوړې پـه هغـه والګې چې دارو يې وخت او خذمانه يې حوصله غواړې.
دوسته او نا اشنا دوسته! ستا ليکلو تـه القـاب نـه شـم مونـدلى، کلـه پـه دې لټه کې شم چې ستا ليکلو تـه القـاب بيـاموم. بيـا مـې پـه خيالل کـې راشي په فکر کې مې غلې شانته وګرځي چې سـتا پـه دې لويـو کـارونو څه؟
خير خو په هر حال د ښه ليکلو اتلوال القاب به تاته زمانـه غـوره کـړي او تاته به يې ډالۍ کاندي. تا خو ډېر لرو او برو پښتنو ته وليکل چې ماتـه ((غوږ شه)) خو زمـا پښـتون زړه يـو وار پـه ناڅاپـه ډول پښـتو وکـړه او دا پښتو يې زړه نا زړه وه. ددې لپاره چې تاته څوك جرائت کولاى شي چـې ووايي: ډېر نه يوځل ته ماته غوږ شه بيا مې ستا هغه ليکل رايـاد شـول چې تا ويلي دي ((د ژبې کليمې او حروف د چا جاګير او مال نه دى)) نـو ددې حقيقت په رڼا کې ګرانه عزيزه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته یوځل ماته غوره شه په غوږ کې دې یو څو پټې او ډېرې پټې خبرې کوم، خیر زه خو ستا په غوږ کې دا پټې خبرې کوم، خو زه له تا څخه یوه هیله کوم بیا هم هیله چې زما خبرې د ځان سره پټې ونه ساتې، زما بدبخت قوم ته دې ډېر څه ولیکل په رمز او طنز کې دې ورته ډېرې اشارې وکړې، خو د دوی پرې سر خلاص نه شو، اوس اوس ددې وخت رارسېدلی دی چې هغه په بربنډې او ډانګ پېیلې ولیکه دا په تا داین دی. ښکاره هر پښتون ته یې ولیکه او په رسا ډول د هغوی غوږونو ته په خپلو هغه نازکو او خوږو لیکونو کې ورسوه چې هغه تاته قدرت درکړی دی.

عزیزه! زه چې ستا په غوږ کې پټې خبرې کوم او تاته یې وایم چې ته یې مه پټوه دا به دا معنا نه لري چې زه وېره او ډار لرم، نه نه داسې نه ده، زه هېڅکله نه ډارېږم، زه احساس لرم، زه تور ته تور او سپین ته سپین وایم خو څه وکړم چې وسایل نه لرم.

نو په دې وجه ګرانه عزیزه!

غوږ دې رانږدې کړه، زر کوه قلم راواخله، کاپۍ پرانیزه، بسم الله کړه په اوله کرښه کې افغانانو ته ولیکه:

((چا په زهرو مړه کړئ او چا په شاتو تباه کړئ چا په چړو مړه کړئ او چا په لرو، بیا ورته ورزیاته کړه چې ورور وژنې څه درکړل؟

ځانونه وشمېرې چې څومره کم شوي یاست او پوښتنه ورځنې وکړه چې بشري مادي او معنوي قوت مو څنګه دی؟

بس دی تښتې شوی پر تاسې د پرمختللې نړۍ د ساینس او ټکنالوژۍ ټولې وسلې هم تښتې شوې ګوره! چې ددې نه وروستو دې څوك د شهید او غازي په نوم ونه غولوي او مړ دې نه کاندي.

افغانان په نړۍ کې په سر لوړۍ د ژوند حق لري ژوند زموږ خدایي حق دی موږ چاته اجازه نه ورکوو چې له موږ څخه زموږ ژوند په دغه او هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



واخلي. په اخره کرښه کې ورته وليکه چې ولې د ابدالي په پل مو پل کېښښود؟
اوس خو غنمو هم وږي ايستلي دي، د غنمو وږي خو ډېر دي، د غنمو وږي ته ولې لاس نه شئ اوږدولای؟ د غنمو وږی خو زموږ د خپل ملك دي که نا د غنمو وږي هم د پرديو دي ولې ستاسې لاسونه نه رسېږي؟
شاباس! لاسونه اوږده کړئ يو د غنمو وږی غوره کړئ او هغه د خپل هېواد په هسکه شمله کې وټومبۍ.
ګورئ افغانانو! وخت تاسې ته صبر نه کوي بيا به اخ کوئ وخت به درڅخه تېر وي. ستاسې د وطن هسکه شمله مخ په کښته کېدو ده، ددې شملې بيا ترل به په ګرانه بيه تمامه شي، زمزوږ د مور پوړني څخه اجنبيان د ثواب او تبرك په نامه څنډې پرېکوي، که د مور پوړنی څنډه، څنډه شو نو که په غج کې يې ټوله نړۍ ايل کړئ ګټه به يې څه وي؟
۱۳۷۲ل کال سرطان مياشت
کوزه پښتونخوا، پېښور، چارسده

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خوب

خوب مې ليده چې: خدای تعالی پر موږ رحمت نازل کړی دی، دا داسې رحمت دی چې متعال خدای(ج) د اسمان ملايکې د انسانانو په جامه کې را استولي دي، دا ملايکې دي ملايکې!!

سپينې جامې اغوندي، ږيرې يې ښې اوږدې او لويې دي، د سنت په طريقه بالکل برابر ې دي، دا ملايکې څوك ملا وستني په سروي او څوك پکولونه، د مسواکو لرګي يې هسې مخامخ جيبونو کې دوه درې ټومبلي وي، په ګردي مخونو کې نور او روښنايي له ورايه ځلېږي، خوراك او څښاك نه کوي او که ويې هم کړي، هغه به ډېر معمولي او ناڅيزه وي.

خوب مې ليده چې دوی څخه هېڅ انسان او خاصتاً ((افغان)) نه دی ازار شوی دوی افغانانو ته په ډېره درنه سترګه ګوري، دروغ خو د سره نه وايي. جوماتونه که د جهازونو په بمونو ونړوي او په راکټونو يې سوری، سوری او شهيدان کاندي په زلزلو او طبعي افاتو يې ور وتپي.

هره وعده چې وکړي هغه په ډېره ايمانداری سرته رسوي.

خوب مې ليد چې په دنيايي اسبابونو او وسايلو باندې هېڅ غم غرض نه لري، ددې عصر په پرمختللي تخنيك کې ګرندی ګاډی يې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوښېږي. دفتر او دفتر داري يې خوښه ده، خو په ټيپ باندې ټيپ شوي مكتوبونه يې بدې ايسي، نو په دې وجه ټول دفتري ټيپونه يې كبار او دوی ته يې قيمتي درجه وركړه. د لاس خط د ليكلو په مكاتبو ډېر خوشالېږي، ولې چې دوی د سره سواد زده كوي او خپل لاسي خطونه او امضاګانې پخوي. په دفترونو كې يې ټلېفونونه ډېر خوښ دي، خو د ټلېفونونو ماشينونه پټوي او د ځانه سره يې وړي.

په هره وزارت خانه كې د قرطاسيې د خريدارۍ بازار تود دی، د دوی روپۍ خوښې نه دي، د هغه دفترونو امران او ماموران په ورځ كې درې څلور ځله بدلېږي، په داسې دفترونو كې هېڅ رش او ګڼه ګوڼه نه وي. د راكړې وركړې بازارونو كې د شپې او ورځې له پلوه د صرافانو هټۍ د شهزاده په سرای كې لوكسې مغازې په نادر پښتون جاده كې، د بزازۍ دوكانونه د چوك په سر كې د ګاډو پرزې د چندولو په سرای كې د (وي، سي، آر)، ټي وي، او د يخچالونو دوكانونه د محمدجان خان په څلور لارې كې د كلكې څارنې او پاملرنې لاندې نيولي وي، چې د خدای مه كړه غله او ډاكوان يې په غلا يو نسي.

خوب مې ليده چې دوی په خبرو اترو كې د چا سره دومره ډېرې شولې، نه نيالوي ډېر ښه قوانين او مقررات لري، امنيتي پرسونل، څارنوالي، قضايه او مقننه قواوې شپه او ورځ د خلكو په خدمت كې دي د دوی په ټولو قوانينو او لوايحو كې د ځنګله قانون معتبر او په زړه پورې دی.

خوب مې ليده چې دوی د اسلام د مبين دين د پنځو اركانو څخه يو ركن نه تبليغاو او د زكات په وركړه يې هېڅ نه ويل او تبليغ يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



كمزوری شانته و، ولې چې دوی اوس مالدار او بډایان شوي نو په دې وجه د زكات د وركړې دومره پروا نه ساتي.

خوب مې ليده چې د جومات په ممبر كې د امر باالمعروف او نهی عن المنكر په وينا ډېر مېړني وو. مګر په پټه او عمل كې به يې د دې برعكس كار كاوه او امر به يې كاوه په بدو كارونو او منع كول به يې خلك د نېكو كارونو څخه.

حجاب كليمه يې د ښځينه وو لپاره هسې په خوله كې اړوله را اړوله د ښځو د حجاب نه په بې حجابۍ خوښ شانته و. لكه چې د دوی په يوه شعار كې مې لوستلي و.

((حجاب پت ما است)) (!) دوی حجاب تر ورانه پورې غوښته د خپل ټول عمر په اوږدو كې په يو ناقص او كم وخت لپاره په اصلاحاتو كې په يوه اصطلاح يې ډېر ويار درلود، چې هغه هم ((نارينه به د ملي بس په وروستۍ دروازه او ښځينه به په لومړنۍ دروازه موټر ته ختل)) (!)

خوب مې ليده چې دوی د ښار په اوسېدونكو او د بازار په ګرځېدونكو هېڅ غم غرض نه درلود، چا چې څه كول هغه به يې كول. دوی د خلكو او خدای(ج) د مسوليت څخه مبری او بري الزمه دي، د دوی مسوليت فقط او فقط خپل بال و بچ ته دی چې هغوی ته په كوم چل ول پيسې پيدا كاندي.

خوب مې ليده چې لكس اپارتماني كورونه يې نه خوښېږي، ولې چې دا په شرعي مهندسۍ نه دي اعمار شوي، د نړولو نه يې خوند اخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوب مې ليده چې د دوی د پاچايۍ سره سم د کابل ښار بيا برېښنا پړق ونه ليده د رڼا نه په تورتم کې خوشاله دي. د ماشومانو زده کړه يې بدې راځي، د ځوانانو تعليم څخه وېره لري، ديني او عنعنوي مدرسې يې خوښېږي، خو هغه هم ورنه پوره نه ده دوی اوس په دوو کې پاتې دي، چې کومه لاره غوره کړي.

جوماتونو ته ګواښېږي چې وران يې کاندي ممبرونه او محرابونه ورته په نوې طريقه او ميتود اعمار کاندي، په دوی کې لا ځينې شته دی چې د اسلام او اسلاميت په نوي والي کې طرز تفکر لري، دوی د يو ملك جغرافيوي حدود او سرحد نه مني. د دوی جنګ او جګړه دومره خوښه نه ده او نور ځوك هم جګړې ته نه هڅوي. ما د دوی د يو مشر له خولې نه د يو لوی مشر له خولې په كراتو مراتو اورېدلي دي چې ((موږ د اسلام بايلدوزران يو موږ دا د غلغلې (کابل) ښار بايد وران کړو او اسلامي ښار جوړ کړو، ځکه چې په بت خانه باندې سجده نه کېږي.)) (!)

د ښار ودانيو څه ګناه کړې ده، ګنهکار خو يې افغانان وو، ولې چې ددې ښار تاريخي شمله يې هسکه ساتلې. ما د دې شرپسنده مشر څخه اورېدلي دي چې (( د کابل ښار خلك دې فقط ډوډۍ وخوري، دوی په سياسي ژوند کې هېڅ حق نه لري)) (!)

د سياسي ژوند فرمان خو يوازې دې شرپسنده ورور د لوح محفوظ څخه راوړی دی دا ورور عربي ريالونو مست کړی دی، عربي ريالونو!!!

ريالونو له ده ثاني فرعون جوړ کړی ، فرعون!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



دده ټول کړه وړه د فرعون او خزانې يې د قارون په څېر دي، د قارون!!

دې فرعون خپلو خلکو ته او خاصتاً د کابل ښار خلکو ته د ښارو په نظر کتلي د ښارو په نظر!!

ښاروي هم واښه خوري او هم خوب کوي، نور د هېڅ شي حق نه لري د هېڅ شي!!

خوب مې ليده چې د کابل د ښار د ودانيو په دېوالونو تاوده شعارونه ليکل کېدل چې د هغې له جملې نه يو شعار و ((جنګ هنر ما است)) (!)

په لوستلو مې ورته په کرس، کرس او بې دريغه وخندل او په زړه کې مې تېر شول چې که د انسان هنر جنګ وي، نو د سپي هنر به څه وي؟ ددغه کړس، کړس خندا سره سم له خوبه پاڅېدم او خپل پروردګار ته په زاريو شوم او په دعا کې مې خپل لاسونه د هغه دربار ته پورته کړل او ومې ويل چې:

ای زما او د مخلوق خالقه!

ته ما وبښه او ماته په خپله پراخه لمن کې امن راکړه. ما چې څه وليکل هغه مې په خوب کې وليدل، ويښ نه وم، نو کله چې له خوبه بيدار شوم، په ويښه مې يو افت وليد يو افت!!

چې دا افت د شلمې پېړۍ دا د کمپيوټر د عصر سړي وژونکي او سي تښتوونکي دي، د انسان وژنه ورته هېڅ نه ده. دا د دوی عادي حرفه ده. دوی زموږ د ټولنې د ټولو منفي او ناوړو کارونو ټيکه داران شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی د جنګ او جګړې په تودوښې کې د اسلام مقدس او د عدالت او ورورۍ نه د ډک دين رينښې له بېخه او بنه نړوي. دوی هڅو لا د خپلو عقايدو پروا نه ساتي د دوی اعمالو کړو او وړو ته چې ګورو دې نتيجې ته رسو چې:

دوی په اخرو دوو لسيزو کې د بل کوم مذهب، عقيدې او لارې پيرو شوي دي.

د ۱۳۷۲ل کال د لړم مياشت

افغانستان، کابل دريم پروان

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جګړه، جګړه وه!

خو دا جګړه سړه نه وه، توده وه داسې توده چې: په لمبه يې ډېر مخونه وسول او لولپه شول، خو د جګړې لېوانو او کارغانو به په کې د خوشالۍ نه ټکې کولې کورونه يې لوټل، ودانۍ يې نړولې دفترونه يې چورول او ځانونه يې مړول، نو نور يې شووکول.

جګړه، جګړه وه.

خو دا جګړه ورکه نه وه لاپرته وه. داسې پرته چې: د جګړې سپو، کارغانو او لېوانو خپل فکري او ذهني اختلافات پرځای پرېښې و، قومي، قبيلوي او ايتنکي تعصبات يې راژوندي کړي وو، چې په دغه ميتود او طريقه دوی د جګړې اوږد عمر غوښته.

جګړه، جګړه وه.

خو دا جګړه د زهرو نه هم ډېره ترخه وه، داسې ترخه چې د ګوډ سره به يې کلمې ربېلې، مګر د جګړې لېوانو او کارغانو به په کې مښوکې وهلې او بيا به يې خولې څنډلې.

جګړه، جګړه وه.

خو دا جګړه رښتيانۍ نه، تشه دوکه وه، داسې دوکه چې د جګړې لېوانو او کارغانو زموږ خوارکی ولس د شهيد، غازي او وطنپرست په

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوم وغولاوه چې اوس يې ښځې کونډې ماشومان يې يتيمان او ميندې يې بورې ناستې دي، د جګړې لېوان او کارغان خپلې مزې او چړچې کوي.

جګړه، جګړه وه.

خو دا جګړه يو مخې نه چې دوه مخه وه، داسې دوه مخه چې د جګړې کارغانو او لېوانو په ښکاره کې يو څه غوښتل او په پټه کې د تاج او تحت په تمه و، د هغه تاج او تخت په تمه چې نه تاج په هوا کې کارغانو په سر کړای شو او نه په تخت لېوان کېناستلای شول.

جګړه، جګړه وه، خو دا جګړه ډېره پيکه وه، داسې پيکه چې هېچا له ستوني نه شوه تېرولای، هر چا به له خولې څخه ارتوله ځينو به ورپسې دوه درې ځله توکانې تف کړل، خو د جګړې لېوانو او کارغانو به ترېنه په ډېره مزه شخوند واهه.

جګړه، جګړه وه.

خو دا جګړه په ژوند نه په هديره وه، په داسې هديره چې د جګړې کارغانو او لېوانو په تشو هديرو حکومتت کاوه، د جګړې کارغانو او لېوانو هديرې خوښېدې او مړي خوښول.

جګړه، جګړه وه.

خو دا جګړه هم غدۍ وه هم تاړه وه هم داړه وه، داسې داړه چې د جګړې کارغانو او لېوانو په شپه او ورځ داړې کولې، ډاکې به يې اچولې او د تاړاك ميدان به يې تود او ګرم ساته.

جګړه، جګړه وه.

خو دا جګړه وږې نه وه، ډېره مړه وه، داسې مړه چې د جګړې کارغانو او لېوانو د ځان پورې، ډالرې، پونډونه، کلدارې، ريالونه، تومنونه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



روبلونه ترل، د سرمایې لېوان او کارغان به یې په هغه څه خوشالول چې هغوی پرې نه خوشالېدل.

جګړه، جګړه وه.

خو دې جګړې کې نهیلي وه، نه اسره وه، داسې اسره چې، د جګړې کارغانو او لېوانو د یوې سپږې لپاره تول پوستین ته یې اور واچاوه، چې اوس پوستین له اغوستو څخه ووت.

جګړه، جګړه وه.

خو دا جګړه سسته نه ډېره تېره وه، داسې تېره، چې د جنګ لېوان او کارغان د غرونو او بانډو څخه راکښته شول او په ډامبر او پخو سړکونو د شوکې غلا او ((محصول)) لپاره ځالې جوړې کړې.

جګړه، جګړه وه.

خو ا جګړه هم په تادۍ او هم په حوصله وه، په داسې حوصله چې، د جګړې کارغانو او لېوانو د ملك ټولې ماشینرۍ پرزه، پرزه کړې. په سره سینه بې له کوم غم و غش څخه وسپړلې، کباړ یې کړې او په ټیټو سترګو او هسکه غاړه یې د غنیمت په نوم خرڅې کړې.

جګړه، جګړه وه.

خو دا جګړه تازه نه وه زړه وه، داسې زړه چې د جګړې لېوان او کارغان به هم زاړه شي، غاښونه به یې خوزېږي او وزرونه به یې سوزي، په ړقېدلو غاښونو به بیا د افغانانو غوښې نه شي خړلی. لکۍ به یې شاته ټومبلې وي او ځانونو ته به غارونه پیداکوي.

جګړه، جګړه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو دا جګړه د ټولو عربو نه، د کوم چهل تاره وه دداسې چهل تاره چې اوس د جګړې کارغان او لېوان یې خبرو ته غوږ نه نیسي او چهل تاره یې په خپلو کړو پښېمانه کړی دی.

جګړه، جګړه وه.

خو دا جګړه به بل څه نه، په پیسه وه او څه په ټکه وه، په داسې ټکه چې د جګړې لېوان او کارغان د وینو په بهولو ټکې راټولوي، قصرونه پرې جوړوي، ماڼۍ پرې ابادوي، ترانسپورتونه پرې چلوي، شرکتونه پرې پرانیزي او دولتي شتمني لکه د ((چمتلې دښته، د ببرك چمن او باغ زنانه)) پرې رانیسي.

جګړه، جګړه وه.

خو دا جګړه په خوله ښایسته، په زړه کې غله وه، داسې غله چې د جګړې لېوانو او کارغانو د جګړې ټول ماهیت او ارزښت بربنډ او نړیوالو ته یې په مینه وښود او څه چې د پنجاب، ایران او د سوډان لېوانو او کارغانو څخه یې په ارث اخیستې و، خپلو هېوادوالو ته یې وړاندې کړ.

جګړه، جګړه وه.

خو دا جګړه هسې خوشې شانه پلمه وه، داسې پلمه چې د جګړې لېوانو او کارغانو زموږ د خوارکي ولس په ټوله شتمنۍ خېټه واچوله، سامانونه یې چپاول شول کورونه یې ونړېدل او هغوی اواره شول.

جګړه، جګړه وه.

خو دا جګړه په دوه نه، په یو ناره وه، په داسې ناره چې د جګړې لېوان او کارغان په هغه ناره څوك اوس نه شي راټولولای د هغې نارې ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library



اصول د جګړې کارغانو او لېوانو د ښو لاندې کړل او په خېټه کې واچول.

جګړه، جګړه وه.

خو دا جګړه په ډول نه، په نغاره وه، په داسې نغاره چې اواز یې په اوله کې د لرې نه غوږونو ته خوږ راته، اوس خو لا دوی څه چې د سرمایې لېوان او کارغان په غوږونو کې پنبې ږدي، د نغارې اوازونه پرې بد لګېږي او ځان ترېنه ګوښه کوي.

جګړه، جګړه وه.

خو دا جګړه هم په توپ وه، هم په ټانك او په چړه وه، په داسې توپ او ټانك چې د وچو له کبله یې لامده هم وسېزل. د جګړې لېوانو او کارغانو زموږ ښار په تشه کنډواله تبدیل کړ. زموږ خلك او ولس هسې د خاورو په تشو ډېرۍ ناست دي، لېوان یې په شاوخوا پرڅېدلي ګرځي او کارغان یې په سر الوزي.

جګړه، جګړه وه.

خو دا جګړه هم پیاده وه، هم سوره وه، داسې سوره چې د جګړې کارغان او ټپوسان زموږ د کابل شین اسمان تور اړولی و، دا اسمان داسې تور شوی و چې د هغه ځني لمر خپلې وړانګې نه شوې تېرولای، تورتم و، تپه تیاره وه زموږ د ملك په وګړو شپه او ورځ یوه وه زموږ په اسمان یو تور څادر خپور و، د باروتو لوګو دا څادر نور هم لاپسې توراوه. هېوادوالو د تازه هوا پرځای د باروتو او د تورو باروتو ککړه هوا اخیسته.

جګړه، جګړه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو دا جګړه د خپلو نه د پرديو په لمسه وه، په داسې لمسه چې، د جګړې لېوانو او سپو زمورږ د ځمکې مخ په مخه کړی و، د جګړې د ځناورو غاښونه په وينو سره و، د هر يوه لېوه د خولې څخه وينې څڅېدې، سرې وينې د افغان وينې د انسان وينې او د يو معصوم مسلمان وينې.

جګړه، جګړه وه.

خو دا جګړه سپکه نه وه، ډېره درنه وه، داسې درنه چې د جګړې لېوانو او کارغانو، د افغانانو غوښې وخوړې، هډوکي يې ورته وشپېلول او ځرمنې يې ورته د خرڅلاو لپاره وساتلې.

جګړه، جګړه وه.

خو دا جګړه لنډه نه، ډېره اوږده وه، داسې اوږده چې د جګړې لېوان او کارغان په ساړه ژمي کې او سره اوړي کې په غوښو ماړه و او داسې ماړه و چې د ډېر مړښت له لاسه په لاره ارت ارت روان وو، خو ددې ملك افغان انسان دومره وږی و، چې له ولږې يې نور سونګ له خولې نه شو ايستلی.

د جوزا میاشت ۱۳۷۳ل کال

دربیم پروان- کابل- افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نړیوالو!

نړیوالو! د ملت نه ویوښتئ او بیا هم د مظلوم افغان ملت څخه و ویوښتئ په خپلو راپورتاژونو او مرکو کې د ملت ټول قشرونه راټاله کړئ، چې زموږ ملت د زړه له کومې څه غواړي؟

د څو کلونو د ځنګله په قانون او د وحشت او بربریت په ملاشاهۍ کې زموږ خلك بې عزته شول، د اقتصاد او تجارت ښېرازي یې ونړېدې، زارعت او صنعت یې ویجاړ شو، مالداري او باغ داري یې په سین لاهو شوه، زموږ ټول پوځي تجهیزات په ګاونډیو هېوادونو کې د کباړ په شکل خرڅ شول، خارجي اسعار، داخلي بانکونه موټروې (ترانسپورت) مو یرغمل او غلا شول، د هستوګنې ټاټوبی مو غیر حق د شلمې پېړۍ په درنو وسلو غلبېل، غلبېل شول، د کلونو، کلونو کړي کورونه مو تالا شول، زموږ د خوارکي ولس د کور لوښي او سامانانونه د چپاولګرو له خوا په بازارونو کې لیلام شول. د ملك هر څه لکه ((جیټ او نوري پوځي الوتکې، ټانکونه، د افسوتر او کاماز د باروړولو دولتي موټران پوځونه)) او د ملك ټوله عامه شتمني د افرادو او اشخاصو پورې وتړل شول. لکه زموږ وګړي لاڅه چې د جهان خبر لوڅي په خپلو مرکو او مصاحبو کې هم وایي، د چا الوتکه! د مسعود صیب الوتکه، د چا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټانك؟ د دوستم صيب ټانك، د چا پوځ؟ د حكمتيار صيب پوځ. د چا راډيو ټلوېزيون؟ د رباني صيب راديو ټلوېزيون. د چا هوايي ډګر، د لوی امير اسماعيل خان صيب هوايي ډګر، د چا ودانۍ؟ د حجت الاسلام و المسلمين ايت الله (محسنی) ودانۍ، د چا قصر؟ د پوهاند صيب سياف قصر، د چا پوهنتون د مزاري صيب پوهنتون، د چا لاره او سړك؟ د قوماندان صيب شېرعالم خان، زردادخان، امان الله خان او د قاري بابا لاره او سړك او نور په زرګونو لكه چې په جلال اباد كې حضرت علي قومندان په طياره ليكلي دي: ((اين طياره از زشخص حضرت علی است هر كس كه دعوه نمود دعوه شان باطل است))!! مثالونه يې ښكاره ليدل شوي او موندل شوي دي.

نړيوالو!

د ښوونې او روزنې، لوړو تعليماتو، دفتر او دفترداری، د حكومت او حكومتداری، دولت او دولتداری، قانونيت، عدالت او مصونيت په هكله زموږ مجاهدينو ورونو د خپل زاړه پلار ((حبيب الله د سقاو زوی)) چې دوی ورته خادم دين رسول الله او د مومنانو امير وايي كړنلاره عملي كړه د هغه په پله يې ټيك خپل پل كېښود.

زموږ مشرانو به ويل كله چې ((بچه سقاو)) د كابل پر تخت كېناسته، نو په خپله لومړنۍ خطابه كې يې وويل: ((مردم كابل! مكتب ها دفاتر، ماليات برعايدات و همه چيز برای شما معاف وبخشيديم، برين سگ جنگی، مرغ جنگی و بودنه بازی تان بكنيد و چرسا يتان بكشد)) (!!!)

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو راځئ چې وګورو څه دپاسه څو کاله وشول چې ټولې تعليمي، تربيوي، دفتري کارګري، صنعتي، زراعتي، تصدي او ترانسپورتي موسسې ترل شوي دي او په نورو کلونو دې لاخدای خير پېښوي چې څه به کېږي؟

زموږ خلك نور بې بندوباريو، خودسريو، لوږې، تندې او د ځنګل قانون لېوني کړي دي. زموږ په ملك کې د کباړ نه هيولې د خارجي اسعارو پورې او د تعميراتي لرګو نه نيولې د بدخشان او بنجشېر د قيمتي ډبرو پورې ختم او په دې ود شوي ملك کې آن د ګردېز د ميرزکې افسانوي خزانې او د کونړ د ځنګلونو پورې څه پاتې نه شول.

د پاکستان د پنجابي پانګوالو لاپه دې زړه يخ نه دی، پنجابي صايبان لااوس زموږ په بې عزتۍ، بې حرمتۍ، توهين او تحقير لاس پورې کړی دی. زموږ مولاناګان دا تحقير او تعجيز د پنجابي له خړلې څخه اوري او زموږ مولاناګان ورسره هم سر خوزوي خپله مولانا صيب(ح) د ۱۳۷۲بل کال د دلوې پر ۲۹مه نېټه په چهاراسياب کې د قومندانانو په يوه لويه غونډه کې د حکمتيار صيب سره د – پا، (راديو پيام ازادی) په سهرنۍ خپرونه کې اعتراف کوي او په خپلو خبرو اترو کې وايي چې (( څه موده مخکې ما د کابل د نويو مهاجرينو په هکله د پاکستان پنجابي حکامو سره په پېښور کې د تورخم د سرحد په پرانيستو خبرې کولې د پاکستان مشرانو ماته وويل چې دا تاسې پخواني مهاجرين چې اوس هم دلته بودوباش کوئ باعزته، با شرفه او با عفته خلك ياست موږ ته مو عزت، شرافت او عفت زده کړی دی. دا د کابل نوي مهاجرين چې د ناصرباغ کمپ او يا د پېښور په ښار کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای پرځای شوي دي هغوی د کابل څخه فحشا او بې عزتي راوې ده. دا نوي مهاجرین د اروپا یانو څخه ازاد خلك دي، نو په دې وجه موږ د تورخم سرحدونو افغان (کابل مهاجرو) په مخ وتاړه.۹)

نو مولانا صیب په عوض ددې چې د پنجاب حکامو ته منطقي ځواب ورکړی وي، نو ده به صرف ورته خندا کړي وي په اوږده ږیره به یې لا راکښلی وي او د دوی سره به همغږی او هم نوا شوی وي او د خدای(ج) شکر به یې ادا کړی وي.

وګورئ! چې دا څومره خوار او ذلیله مولانا دی، چې دی نه ملي نوامیس پېژني نه ملي عزت او هه ملي ګڼې.

دوستانو! مولانا صیب خو د پنجاب حکامو ته ځکه منطقي ځواب نه شي ورکولای چې دا خوارکی ځوارلس کاله نه، بلکې شل کاله د هغوی تالي څټې او بازره وکر و.

دده خدمتت او د جګکې شملې ماموریتت نسبتت نورو شیخانو او مولانا ګانو ته بې سابقه، سابقه درلوه. نو د مولانا صیب ددغې ننګني وینا په اورېدو مجبور شوم چې د پنجاب حکامو ته یو څه رد ځواب د تاریخ زړه ته وسپارم.

کله چې افغان زړو مهاجرو او مجاهدو تاسې ته عزت، غیرت، عفت او شرافت زده کړل، د افغان زړو مجاهدینو او مهاجرینو خو صرف ځوارلس کاله کېږي چې ستاسې په ملك کې پنا اخیستې، نو په دې حساب څوارلس کاله مخکې لکه چې تاسې عزت، شرافت، ... زده کړی وي تاسې نامردانو ورته په بدل کې څه ورزده کړي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواب يې روښانه دی چې ټولو نړيوالو وليدل. ورور وژنه، ورانکاري، بې شرفي، بې عزتي، بې عفتي، بې ننګي، بې سوادي، چورچپاول، نړول، غلا، لارې نيول، سړي تښتول، پيسه دوستي، مقام پرستي، بې اتفاقي، شرارت، پسات او نور زر قسمه مرضونه. اوس چې زموږ په وړه شوي او بې مالکه ملك كې د ځمكې په سر او په غير فني شكل د ځمكې د لاندې هر څه خلاص شول او هر څه د پنجاب پانګوالو په جيب كې ولوېدل، نو د افغانانو د نيكونو او پلرونو لارې او دروازې د افغان بدبخت او ناپوه ولس په مخ وتړلې او پنجابي صايبان نور توهين، تحقير او تعجيز ته خوله پرانيسته.

حال دا چې موږ خپلو پلرونو او نيكونو څخه چې كله به پنجاب ته تلل او د پنجابي امير (منو) څخه به يې باج اخيسته د چا كلی، كنچنې خانې او رانې خانې كليمې اورېدلې وې، په افغان ولس كې لا دا كليمې رايج نه دي.

په اسلام اباد، لاهور او كراچۍ كې خو د فحشا مشخص او ځانګړي ځايونه معلوم دي، به هغه باندې پنجابي دلالان په زړه پورې عايد ترلاسه كوي.

پنجابي چې د اروپا په څېر د ازادۍ كليمه له خولې ايستله، نو څه خبر يم چې په مولانا صيب(ح) باندې به ښه لګېدلي وي او كه بده؟!!

مولانا صيب خو به شل كاله كېږي چې د پاكستان په لويو ښارونو كې ګشت و ګذر كوي، هلته به يې د ښځو ازادي ليدلي وي او كه نه مولانا صيب د روژې د چيلې د ايستلو لپاره به هلته تللی و او يا مولانا صيب چې د پاكستان كوم لوی ښار ته رسېدلی وي د بهلول په څېر به يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سترګې پټې کړې وې او د هغه ښار د واټونو او څلور لارو څخه په پټو سترګو تېر شوی وي او یا مولانا صیب د ډېر قوي زاهد او پرهېزګار په څېر د پاکستان په لویو ښارونو کې په مخ او لویه ږیره څادر راښکلې وي چې دنیاوي ناخوالې ونه ګوري، نو ځکه دې خوارکي د پاکستان په لویو ښارونو کې د ښځو ازادي نه وه لیدلې چې پنجابي صایبانو ته یې ځواب ورکړی وای. د تورخم د تش په نامه دروازې پورې کول او تړل و نوو افغان مهاجرو په مخ څو منطقي دلایل لري:

لومړی: پنجابیان هغه چاته د مهاجر په نوم ځای ورکوي چې هغوی د خپل ملك ورانکاری، ته وهڅولای شي چې دا خبره په څو وروستیو کلونو کې په افغانستان، مصر، تاجکستان، الجزایر، کشمیر او په اذربایجان کې په علني توګه ثابته شوې ده.

نوي افغان مهاجرین خو خپل ملك نه ورانوي، هغوی خو صرف د جنګ نه او د دوی د تربیه شویو ورانکارانو نه ځانونه په ډډه کوي.

نوي افغان مهاجرین خو د افغانانو روښانه قشر دی، په دوی باندې خپل ملك ډېر ګران دی د خپل هېواد په ورانولو ډېر خفه کېږي. پنجابیان خو د غرونو ځناورو سره ډېره مینه لري، نه د ملك روښانه قشر سره.

ثانیاً: که پنجابیان وایي چې اوس په افغانستان کې روس نه شته په اکثرو ولایاتو کې امن دی، نوي مهاجرین دې همغلته مېشته شي، نو په دې طرحه موافق یو ولې چې زموږ سرنوشت اوس د پنجاب په لاس کې دی، نو پنجابیان دې لطف وکړي، زموږ د قومندانانو، شیخانو، مولاناګانو او حتی د جهاد رهبرانو ښځې، ماشومان او خپلوان دې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاکستان د پنجاب او پښتونخوا د (کويټه او پېښور) څخه وباسي او د کوزې پښتونخوا پښتانه ورونه دې د دوی له شر څخه خلاص کاندي او د افغانستان پر امنو ولايتونو ته دې واستوي.

ثانياً زموږ په ملك کې نور څه د ورانولو پاتې نه دي، د ملك څه چې و هغه پنجابيانو په ((زړو مجاهدينو)) او مهاجرينو دړې وړې کړل، نو په دې وجه نويو مهاجرينو او مجاهدينو ته په افغانستان کې د ورانولو او کباړولو کوم شی پاتې نه دی.

له بلې خوا د امريکايي ډالرو، انګليسي پونډونو او د عربي ريالونو رش هم کم شوی دی، نو پنجابيان څه کوي چې په خپله خاوره کې نور افغان مهاجر مني.

که داسې نه وي، نو د شرط لپاره دې يو غربي هېواد د نويو افغان مهاجرو سره د کومك او مرستې اعلان وکړي، نو هغه وخت تاسې څه چې ټول نړيوال به د سر په سترګو وګوري چې د پاکستان اجنټان، پوليس او ټول استخبارات به يې کابل، جلال اباد او کندهار ته منډې وهي او افغانان به په زور او زارۍ مهاجرت ته اړ باسي. يو ډالر به د مهاجرو په خوله کې او سله ډالره به په خپل جيب کې اچوي، نو په هغه مهال به نه د اروپا په څېر د ازادۍ خبرې وي او نه د فحشا او نه به نور څه. ما د افغانستان په اوسني شيخانو او مولاناګانو کې يو بل څه، بل څه وليد زه د جهان ټولو ډله ييزو اطلاعاتي او بين المللي ادارو ته ليکم چې: په کلکه ددې اصل مراعات دې وکړي که په راځي (رااتلونکي) کې افغانستان ته هر خبر لوڅي، جرګه مار او يا مرکچي راته نو بايد ړيره ولري ولې چې زموږ شيخان لااوس وايي څوك چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخ ږيره ونه لري، هغه په جرګه مرکه کې د خبرو کولو حق نه لري. داخبره ماتېره موده د کابل د بګراميو په ولسوالۍ کې د يو لوی شيخ صيب له خولې څخه واورېده، يو څه د احمدشاه بابا مېنې سپين ږيري او مخورين چې د کابل د روانې جګړې څخه په تنګ راغلل، نو د جرګې او مرکې په شکل دوی د سيمې پاچا (قومندان صيب) ته د اور بند په هکله مراجعه وکړه، چې په هغوی کې د يو مرکچي ږيره په مخ نه وه، دې مرکچي چې کله د خبرو رشته په خوله کې واخيسته نو د سيمې پاچا (ټولواك) مرکچي ته ډېر بد بد وکتل لکه له مرکچي چې کوم لوی جنايت ترسره شوی وي د سيمې ټولواك او پاچا مرکچي ته وويل: چې ته خبرې مه کوه بس کړه ته د خبرو حق په جرګه او مرکه کې نه لرې، ولې چې تا ږيره خريلې ده، له مرکچي بېچاره سره کلاشينکوف نه و او نه کومه د بدماشانو ډله ټپله ورپسې وه، هغه يو مخور و، د هغه يو څادر په اوږه پروت و، هغه رښتيا وينا کوله، هغه حيران دريان پاتې شو، هك پك شو. په خوله کې يې لاړې وچې شوې د قهر نه تك تور واوښت او بيا يې سونګ له خولې ونه خوت.

نو راځئ وګورئ چې زموږ قومندانان او شيخان څومره هوښيار او د دين په احکامو مين او ښه پوهېږي. ښه مې په ياد دي کله چې د ۱۳۷۲ل کال د وري په مياشت کې زموږ د پاچايانو او اميرانو د پنجاب د مشرانو سره په اسلام اباد کې سرمشريزه وه د افغانستان د مسلې د حل لپاره يې لارې چارې لټولې، نو دې قومندان کله وويلې چې نواز شريف او غلام اسحق خان ږيرې نه لري، دوی په سرمشريزه کې د اميرانو سره د خبرو اترو حق نه لري او خبرې نه شي کولای. دا د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کابل د بګرامیو د ولسوالۍ ټولواك او قومندان صیب راولپینډۍ او پېښور په بدنامو او خود غرضو معاهدو کې په کومه سوړه کې ناست و؟ هلته ټولو ربړخريلو پنجابيانو نسخې او ديکتې ورکولې او زموږ ملك يې د تباهۍ کندې ته غورځاوه. دا مولانا صيب هغه وخت په څه لګيا و چې د سعودي عربستان ربړخريلي شاه فهد په مکه معظمه کې زموږ رهبرانو ته په ښکاره کې قران شريف نيولې و او په پټه کې ورته ويل چې يو افغان درځخه ژوندی خلاص نه شي، دا قومندان صيب هغه وخت چېرته خوب وړی و، چې زموږ رهبران او اميران د يو بل پسې ايرانې بې ربړې اخند رفسنجاني د ترکي سليمان د ميرل د مصر ربړخريلي حسن مبارك په پښو کې يې ځانونه غورځول، جرګې او مرکې يې ورسره کولې او ودان ملك يې د خاورو په تشه ډېرۍ بدلاوه. د ټولو اسلامي هېوادونو ښځينه رهبرانې او مشرانې خو لا په ځای پرېږده، چې د نارينه رهبرانو يې هم ربړې نه شته، د مولانا، قومندان د شيخ او د سيمې د ټولواك په قول هغوی په اسلامي او ورو نړيوالو غونډو، کنفرانسونو کې د خبرو حق نه لري. نو لازم دی چې زموږ پياوړي ((رهبران او اميران)) (!) د ربړخريلو مشرانو سره د ملك په بابله په هيڅ قسم د هغوی خبرې سلا او مشورې ونه مني ولې چې دا ټول ربړ خريلي دي. محمود مستيری، دا د تونس مسلمان خو به ربړه هم نه لري. زه به هغه مولانا نر وګڼم چې په پاروتس غالي باندن غږ وکړي چې دا د افغانستان د مسلې د حل نوې مامور دا د ((تونس مسلمان)) خو ربړه نه لري، نو کله چې ((مستيري)) زموږ د شيخانو په عقيده ربړه ونه لري، نو په هغه صورت کې دی په جرګه او مرکه کې د خبرو حق هم نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عزيزانو! ځينو نه بلکې اکثرو ليکوالانو، شاعرانو، روښنفکرانو او اهل خبرو توره وکړه ځانونه يې پناه کړل. موږ ناخوالو ته پاتې شو. موږ ته نوره هېڅ اسره او هيله نه ده پاتې، موږ د کابل اوسېدونکي د يو سخت بربريت سره لاس په ګرېوان يو. زموږ هر قدم د تيپې تياري په لور دی تروږمې ده د سبا ستوری له موږه خفه دی او مخ نه راکوي، زموږ د هر هېوادوال د ويښتو تارونه د ورځنيو ويرونکو پېښو له امله ځيږه ودرېږي، هغه پېښې چې زموږ په ملك کې روانې دي، د نړۍ په هېڅ ګوټ کې دې راځرګندې نه شي.

پرېږدئ، عزيزانو پرېږدئ!!

چې دا وحشت او بربريت افغان انسان او پاك مسلمان په افغاني صبر او حوصله او په اسلامي سپېڅلې عقيده تحمل کړي. د نړۍ بل هر انسان او مسلمان ددغه وحشت څخه په امان کې پاتې شي (امين يا رب العلمين).

عزيزانو! زما په عقيده ظلم خو چې هر چېرې وي ظلم دی، که يو مسلمان يې په بل مسلمان او يا کافر په سلمان او يا د هرې عقيدې او ژبې انسان چې د بلې عقيدې او ژبې په انسان يې کوي خو ظلم ته بايد ظلم وويل شي.

خو د نړۍ اوسني مشران او سياست دانان څه عجيبه شان خلك دي په ظلم کې توپير ته قايل دي چې دا فرق او توپير په خپل ذات کې ظلم دی د بېلګې په توګه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



که په افغانستان کې په یوه میاشت، شلو ورځو او یا په یو توغندي باندې زر تنه مړه او لس زره تنه ټپیان شي، معیوب لاس او پښې ایسته وغورځول شي انسان یې له ولږې مړ شي د منځنیو پېړیو د وحشت او بربریت ښکار شي، نو په دې ملك کې خیر و خیریت دی، هېڅ خبره نه شته، د سره پرې نړیوال او د نړۍ سیاست پوهان خبر نه وي. که په سرایاګو، بوسنیا او د نړۍ په بل اروپایي او غربي هېواد کې په یو هاوان او یا توغندي باندې پنځه شپېته تنه مړه او څو تنه ټپیان شي. نو ټوله ناټو خو لا پرځای پرېږده چې مړه شوې سنتوهم راژوندی شي او لتیما تومونه ورکړي دباونه ترسره شي، غونډې وي، جرګې او مشورې وي د پوځ سوقیات او خوځول وي، په عامه مفاهمه ییزو او د نړۍ په ډله ییزو اطلاعاتي وسایلو کې یو های هوي بګیرونمان بې درېغه ناتار او ماتم وي.

د غربي نړۍ دې یو طرفه قضاوتونو ماته وښودله چې: د افغانستان د انسان وینه د نړۍ د نورو انسانانو د وینې سره بالکل توپیر لري ولې چې د هغوی وینه سره او زموږ د افغانانو وینه سپینه ده.

هغه څه چې د نړۍ په هېوادونو او د نړۍ په نورو انسانانو کې ډېر ارزښت لري د انسان ژوند او د هغه مقام ته ((اشرف المخلوقات)) په اساس احترام دی.

خو برعکس زموږ د مولاناګانو او شیخانو د افغانانو وژنه حرفه ګرځېدلې د انسان او مسلمان ژوند او د هغه مقام ته درناوی ورته هېڅ ارزښت نه لري، د افغان وژنه ورته د هغه چا خبره ((یو وار نسوار هم نه ښکاري.))

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو لنډه دا چې: زموږ په هېواد کې وژنه، لوټل او نړول ډېر ارزانه او اسانه کار دی، نور هر څه زموږ په ملك کې قيمته او د اور په بيه دي. ګورئ! فلپس ارماکورا (!) دا د بشر د حقوقو مدعي او ساتندوی، خو اوس هډو لا زموږ تپوس نه کوي، هغه ته خپل ژوند څومره ګران دی، هغه د خپل ژوند د حقوقو څخه څومره په کلکه دفاع کوي اوس چې زموږ د هېواد په زړه (کابل) کې د راکټونو او د شلمې پېړۍ پرمخ تللو وسلو د ګوليو باران دی، هغه هېڅ زموږ په خاوره کې قدم نه ږدي.

پام وکړئ! مشوريش(!) ته او د کابل نه ورته ښه وګورئ چې هغه په پېښور او اسلام اباد کې ناست دی، هغه څومره د راکټونو او توغنديو نه کرکه لري. ما فکر کاوه چې د هغه زړه خو به د فيل زړه وي په پښتو کې متل دی ((اوښ چې درانه بارونه وي خوراك يې زوز دی)).

هوکی: ټامسن صيب(!!)

خو پخوا په پېښور کې زموږ د مجاهدينو ورونو سفير و د هغه اوس درك او خرك نه شته دا به چېرتته ولتهوو او د چا نه به يې تپوس وکاندو. هغغه سکرشل، سکردېرش او شپېتم قسم سکر چې زموږ ورونو ته يې په خلاص لاس بخششول او په شا به يې ټپول چې شاباس ډېر ښه....

اوس خو دې د يو څو منټو لپاره کابل ته راشي خپل دړې، وړې او سورې، سوروې سفارت دې وګوري او د خپلو سکرونو اوازونه دې وګوري او واوري او که نر وي، نو دوه منټه دې ورته ځان ټينګ کاندي. لږ تر لږه خپلو انډيوالانو ته دې ووايي لاتراوسه سم غازيان شوي نه ياست او په شهادت کې مو نيمګړتياوې شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټاچره بي بي (!) لکه چې زړه شوه او يا د دنيا د سياست نه لاس په سر شوه او که نه مجاهدينو ورونو ناخوالو ورته مزه ور نه کړه.

بي بي(!) دې هغه وخت په زړه کاندي چې په پښو کې يې مجاهدينو ورونو د بدرقې په بدله کې پسونه حلالول او د خيبر په تاترو او مورګو کې په هغه مورګو کې چې عجب خان افريدي انګرېزۍ ((مس ايلس)) د ځان سره ګرځولې وه. مجاهدينو ورونو انګرېزۍ بي بي(!) ته په خپلو درندو عنعناتو مېلمستياوې جوړولې او د خيبر دره يې ورته تره، په تره ښووله.

په هغه وخت کې د مجاهدينو ورونو په ښارويو او پسونو زور رسېده اوس د مجاهدينو ورونو زور په هر مظلوم افغان رسي.

انګرېزۍ دې د خداى په پار د يو ځل لپاره کابل ته راشي د خپلو اشنايانو زور زياتي ننداره دې په خپلو سترګو وکړي، دا ځل به ورونه په ډېر فخر او سرلوړۍ د هغه په بدرقه کې بې وسه او بې چاره افغان حلال کاندي.

زموږ قومندانان او ملوك الطايفان ورونه اوس د غلامانو (برده ګانو) او کنيزو په فکر کې دي يو قومندان صيب بايد څلور ښځې او څو کنيزې ولري او حتى ((ښکلي او پې مخي هلکان ودوي)) د خوښې هلکان په ګرندو ټيوټا ګاډو باندې ښه تبادله کېږي، زموږ په ملك کې نسبت ښځو ته د پې مخو هلکانو بازار ګرم او بيه يې جګه ده!!!

زموږ هېواد د مرکزي حکومت څخه لاس ووينځه د يويشتمې پېړۍ پيل دا د کمپيوټر عصر په موږ افغانانو ښه رانغی زموږ اميران سرزوري

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي د نړيوالو او د نړۍ پرمختګ سره په مخالف لوري په حرکت کې دي. دوی ځانونه د نړۍ د ټولونو څخه جلا ګڼي ملايکې او فرښتې دي!!!

د ساينس او ټکنالوژۍ پر مختګ نه سترګې پټوي زموږ د مولاناګانو د ملك پرمختګ ته هيڅ ډېره نه لګېږي دوی په تورتم کې خوښ دي په دوی کې د منځنۍ پېړۍ خويونه ډېر ليدل کېږي. زموږ شيخان د پوهو او دانشمندو کسانو سره هسې تش په تشه کينه لري، د دوو لسيزو جنګ عمده عوامل مکتبونه او پوهنتونونه ګڼي، زموږ د مولاناګانو او قومندانانو يوازې مدرسې او کليوالي زده کړه خوښېږي، زموږ شيخانو او زاهدانو د ټولنې اکثره ناپوه قشر په څنګ کې په دروغو ودرولی دی، ناپوه د جوړولو نه په ورانولو ښه پوهېږي.

عزيزانو!

نو زمو د خوارکي ولس ټول وخت له نوم نه يې قربان شم په يو ځواب ((انشاله)) کې واوښت. د هر امير، پاچا، ټولواك، قومندان او مولانا نه چې تپوس وشي.

کله به په ملك کې سوله اوثبات تامين شي؟

کله به درندې وسلې يو مرکز ته راغونډې شي؟

کله به د افغان ولس ژوند خپل عادي حالت ته راستون شي؟

کله به د حکومت کابينه د مساپرۍ له لمانځه څخه خلاصه شي؟

کله به دولت او حکومت په کار پيل وکاندي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله به يوه ملي اردو جوړه او د ملك امنيت تامين کاندي؟

کله به اختلاف د وروڼو په منځ کې حل و فصل شي؟

کله به ورور وژنې ته د پای ټکی کېښودل شي؟

کله به د چور، چپاول او د پاټکونو خبرې ختمې شي؟

کله به لارې د لومړنيو موادو پر مخ خلاصې شي؟

کله به مهاجرين خپل هېواد او ختيځ ټاټوبو ته راستانه شي؟

کله به مو يو موقت حکومت جوړ شي؟

کله به انتخاباتو ته لاره هواره شي؟

کله به د خلکو واقعي استازي پارلمان ته لاره پيدا کړي؟

کله به د ولايتونو شوراګانې د مرکزي حکومت بيعت قبول کړي؟

او نور په سلګونو دا ټولې هغه پوښتنې دي چې اميران او پاچايان ورته يو ځواب لري.

چې هغه ((انشا الله ډېر ژر به وشي.)) او بس.

ددې ځواب په ورکړه به زموږ مومنن او خدای پالونکی ولس نور څه ووايي ((انشاالله)) کليمې سره که زموږ خوارکي او مظلوم ملت او يا چا يو څه ورزيات کړل په همغه ساعت کې به يې له خولې څخه کځوړه جوړه شي، د ټکه به د کمونست او دهري په نوم د روان ((جهاد)) ټولې فتوې پرې تطبيق شي او د ژوند څکه به پرې حرامه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که يو روان لاروي د کابل نړل شوې جادې او واټونه په پښو لنډوي، د خپل کنډر او خرابه کور ته د تشې ننداري لپاره ورځي د پخوا ، هغه خوا ګوري چې په ځپيره سرك او ښارو کوڅو کې بې له سپيو، کارغانو، ټپوسانو او لاشونو نور څه نه ويني د واټونو او کوڅو په دواړه اړخونو کې ځاى پرځاى ځلور ينځه داړه ماران د شګو او خاورو په پنډغالو کې د چرسو په څکولو او د قمار په کولو لګيا وي.

هوکي: ددې مجاهدو داړه مارو وروښو کار دې ورانو جادو او کنډواله کورونو کې قمار کول، چرس څکول د پيمخو هلکانو ساتل ((بچه بازي)) د لارو د جيبونو شوکول دي که د چا په جيب کې پيسې وي په وهلو او ټکولو يې تربنه اخلي او شوکوي يې او که د چا په جيب کې څه نه وي د وهلو پر وخت ورته په لوړ اواز وايي: ته چې زموږ له وېرې په جيب کې څه نه ګرځوې موږ غله درته ښکارو که څنګه؟

موږ مجاهدين يو مجاهدين!!

موږ د غلو او لوټمارو پسې ټوپك اخيستى دى.

زموږ ولس څو کاله کېږي چې په بلا ککړ دى په هر حال په هر صورت په هرځاى کې رټل کېږي، ځپکېږي، تحقيرېږي او ځورول کېږي.

اوس زموږ د ولس رټل، ځورول او تحقيرول په ملك کې معمول ګرځېدلى دى، زموږ ولس اوس وهل، ټکول، شوکول دومره باك نه ګڼي، دا نادودې اوس زموږ ورځنى خوراك دى. هر يو مجاهد ورور د خپل تنظيم په سطحه دويم سړى دى، د هر ورور سره چې په تماس کې شوئ او ږيره يې يې يو څه اوږده وي، په خبرو کې ډ ېرې باټې ولي په خپلو څو کلنو بدو کړو وړو افتخار کوي، که تپوس ورنه وکړې چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولې جګړه پای ته نه رسېږي، ولې بې دفاع خلك وژل کېږي، ولې د خلکو جيبونه شوکول کېږي، ولې په هستوګنځايونو باندې راکټونه ورېږي، ولې عامه شتمني لوټېږي،ولې جوماتونه شهيدانېږي، ولې زيارتونه او مقدس اماکن ورانېږي او سوځول کېږي؟؟؟؟ او داسې نورو په سلګونو پوښتنو ته مولاناګان او شيخان يو ځواب لري او وايي چې ((دا به د خدای رضا وي په دې کې د خدای(ج) اراده ده په دې کې به هم د خدای پاك حکمت وي په افغانستان او خاصتاً په کابل کې چې څه کېږي دا د انسان د واك او اختيار څخه وتلی کار دی، په کابل کې لا اوس هم د خدای فضل دی د کابل يوه لوېشت خاوره بايد وتوږل شي، کورونه يې بايد د يو ځل لپاره رنګ او لمر ووينې، په کابل کې ډېره شراب خوري شوې ده. ښځې په دفترونو کې د نارينه وو سره اوږه په اوږه ناستې وي، په دې ملك کې هېڅ د حجاب مراعات نه دی شوی، په کابل کې د اروپا په څېر زنا شوې ده، په هوټلونو کې ودونه ترسره شوي دي...))

د مولاناګانو او شيخانو زړونه لااوس هم د کابل او د هېواد په ورانولو او عامه وو په وژلو ساړه نه دي. مولاناګان ټول تخريبي کارونه عامه وژنه د شتمنيو لوټول، نړول او د خلکو بې عزته کول، د پروردګار رضا او حکمت بولي.

په موږه (د کابل په اوسېدونکو) دنيا سره تبې ده، ځمکه کلکه او اسمان لرې دی، په خوله کې مو لومه ده که څه وايو خو په غم ککړېږو او ((جانی کده کوي)) او که څه نه وايو دې ناخوالو ته څوك ځان ټينګولای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې ټولو بې عدالتيو او فاجعو سره سره زهز د يوې بلې فاجعې څخه پرده پورته کوم چې دا فاجعه د کابل په اصطلاح د اوبو مالکې (يوڅه شتمن) خلکو تبنتول او يرغمل او د هغوی څخه د لوړ رقم اخيستل دي. نو کله چې زموږ مجاهدينو ورونو د کابل په تخت او تاج باندې خېټه واچوله د پلان سره سم د څو کلونو په اوږدو کې د اول ځل لپاره لوی تجاران، په دويمه مرحله کې د شرکتونو لميټدونو خاوندان وريسې ترانسپورت لرونکي خو اوس خبره عادي دوکاندارانو، درملتونونو او د کورونو خاوندانو ته ورسېده، چې دا خبره د يرغمل نيونې او د سړي تښتونې مرحله په تېره بيا د (۱۳۷۲ل) کال د جدي د لسمې نېټې څخه راپه دېخوا سخته شوې ده. په زړه پورې خو لا داده چې په کومو ځآيونو کې لکه (ډکو، شکر دره او پغمان) کې چې هلته د ملك جمهور رئيس (!) د جنګ او جګړې په وجه پناه اخلي په همغه منطقو کې يرغمل شوي ساتل کېږي، يو متل دی چې وايي: ((د څراغ لاندې تياره ده.)) د کابل هغه منطقې او هستوګنځايونه چې د محترم جمهور رئيس(!) د قلمرو لاندې دي او دده فرمان په کې نافذ دی، په سلو کې لس الی پنځلس خلك تښتول شوي دي، څه يې وژل شوي او پاتې د لوړ رقم په بدل کې خلاص شوي دي، خو څوك حاضل نه وايي. زموږ په ولس باندې د هغه مړي کانه وشوه چې ډېر بوی يې کړی دی وايي ((کوم ژوندي سړي په قبر کې ځان ښخ کړی و د يو څه وخت په تېرېدو د کلي خلکو وويل چې راځئ د فلان سړي قبر وسپړو چې بوی يې کړی دی او که نه، کله چې د کلي خلکو قبر سپړلی و، هر يو چې په نوبت قبر ته سر ټيټاوه د هغه څخه به يې پزه پرېکوله، هغه چا چې به د قبر څخه سر پورته کړ، پزه به يې کلکه نيولې وه او غږ به يې کړل چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مړي خو سخت بوی کړی دی. حال دا چې د هغه به يې پزه پرې کړې وه يو بل ته به يې سره حال نه وايه)).

زموږ ولس خو د وېرې اوس يو بل ته حال نه وايي ولې چې يرغملگرو تښتول شوي خلك داسې تهديد کړي دي چې د خلاصېدو سره سم يې يا وطن پرېښی او يا د خپلې تښتونې څخه انکار کوي. زموږ خلك ډېر ځيرك او هوښيار دي، هغه چا چې دوی د پيسو لپاره يرغمل کړي او په مياشتو يې په سمڅو کې ساتلي دي، هغه ځايونه او هغه خلك دوی ښه پېژني هغه نه شي خطا وتلی، د هغو له اوږو څخه به حتماً ټوپك کښته کېږي، دا خلك به ترينه خپلې پانگې څو چنده اخلي، خير دی که دوی د هېواد په دننه او دباندې چوپ ناست دي. دوی د يوې ورځې په انتظار کې دي چې د يو رښتينې انساني دولت په راتگ سره به زموږ وگړي زموږ د پېړۍ سري تښتونکو په گرېوانونو کې لاس اچوي او رښتيني بشري محکمې ته به يې راکاږي په کابل کې د يرغمل شويو شمېر او د هغوی مکمل شهرت به په بل کتاب کې چاپ ته ورسېږي.

۱۳۷۳ل کال د حمل او ثور مياشت

کابل- افغانستان دريېم پروان

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زموږ مشران څه وايي؟

د نړۍ ژورنالستان او خبرلوځي د تل لپاره په دې کش و ګير کې وي چې زموږ د مشرانو ويونکي په کابل کې دي که په پېښور او يا په مزار شريف کې په ډېرو ستونزو بيا مومي او د هغوی سره په ټلېفون کې مرکې وکاندي.

دا دومره دروغجن ويونکي دي چې د دوی په وينا اوس زمزوږ وګړي د سره باور نه کوي، زموږ وګړو دوی ته اوس د پاټيانو لقبونه ورکړي دي. د دوی خولې خو لا وړې دي، نو کله چې وار لويو خولو ته ورسېږي د لويو خولو خاوندان (مشران) بيا د دروغو ښاخۍ راواخلي داسې بوس پرې باد کړي چې د خپل قوم او ولس سترګې پرې ړندې کړي، په يوه ساعت کې د پچې نه پېچومی، د غرونو نه غوښې او سيندونو څخه ښوروا جوړوي.

زموږ د ملك مشران د خپل واك د غزولو او ساتلو لپاره ډېرې چنې ووهلې ډېر لغمونه يې وايستل او ډېرې چلوټې وکړې د څلورو مياشتو موده يې کله د حل و عقد د شورای په نوم، کله د سترې محکمې په حکم کله د اسلام اباد او ننګرهار د غونډو پر اساس او کله د هرات د شورا د پرېکړو له مخې ځو کاله اوږده کړه او لاپسې د واکمنۍ په زين

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلې قوي قيضې لپاره خپرې او منګولې ښخوي. زموږ مشرانو د خپلې واکمنۍ لپاره ډېر بې ګناه افغانان په بل چا مړه کړل، ډېرې موسسې فلج کړې ډېر کورونه يې ونړول، ډېر خلك يې اواره او خېمو ته کېنول، ډېر خلك يې مهاجرت ته اړ ايستل، ډېر افغانان يې د بې پتۍ او بې حرمتۍ په درشل ودرول، ډېر دروغ يې د مسلمانانو او مجاهدينو په نوم خپل مجاهد او مسلمان ولس نه دريغ نه کړل، خپله غاړه يې ښه ډېره بنده کړه، خپل ځان او خپل ولس يې ډېر سرګردانه او لالهانده کړ. که د نړۍ ژرونالستان د يو مشر څخه تپوس وکاندي چې د هرات د شورا پرېکړه څه وه؟

په ځواب کې ويل کېږي چې: زما ټاکنه، د يو شل زره کسيزې اردو جوړښت او د لويې جرګې لپاره زمينه برابرول.

د هرات شورا تاسې د څومره مودې لپاره په دې ذمت بيا وټاکلئ؟

د هرات شورا زه د دريو مياشتو لپاره بيا په دې ذمت وټاکلم. ستاسې اردو به کله جوړه شي او دا به څه ډول اردو وي؟؟

زموږه اردو به په دريو مياشتو کې جوړه شي. د دريو تنظيمونو په سطحه به يوه ملي اردو وي.

او لويه جرګه؟

په داخل کې مو ورته درې کمېسيونونه ټاکلي دي.

زموږ د بعضې مشرانو په ويناوو کې د همېش لپاره رقم درې وي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه درې مياشتني درې کاله درې تنظيمه، درې نماينده ګان، درې پوستې، درې کمېسيونونه، درې ولايته، درې هېواده، درې جهازونه، درې ګاډي، درې قصره، درې ناحې او نور...

زه نه پوهېږم چې د دريو په رقم کې کومه معما پرته ده او که کوم نېك فال، په هر صورت. کله ناکله بل کوم امير او مشر د لويې جرګې د اصل سره موافق نه وي. هغه په يوه لويه اسلامي شورا ټينګار کوي، د اردو د ساختار او جوړښت په هکله ډول ډول خبرې او مرکې يې له خولې وځي، کله هغه بل امير او مشر د ملي پوځ په جوړښت موافق وي او کله د اسلامي اردو په ساختار.

د دريو کلونو په اوږده موده کې کله يوه ډله په داخل کې ((کمېسيون)) جوړ کړي او بله ډله په خارج کې ((کمېشن)) (!!)

داخلي کمېسيون او خارجي کمېشن خپل کار هېڅ وخت سرته ونه رساوه. ددې کمېسيونونو کار همېش نيمګړی پاتې وي او لويه جرګه کې د ښځو په شموليت، په بد مسلمان او ښه کافر باندې هر څه پاتې شي. په جرګه کې د دوستم اشتراك او نه اشتراك په وجه خبره سړه شي. خو جنګ تود شي، کله چې جنګ سوړ شي، نو بيا ميرې تود شي. جرګې، مرکې جوړې شي، کله د ايران اخندان کوربانه شي او کله د سعودي عربستان شيخان کله د پېښور د نشترحال تالار تود وي او کله د کويټې سرينا ، کله د اسلام اباد ملك فيصل د جومات جمع غونډه وي او کله لاهور د ريونډ شريف په جومات کې يو د بل سرونه مات کاندي. څوك په غرب او اروپا کې اوسېدلي افغانان مسلمانان بولي او څوك يې کافر، څوك ورته ښه سياستدانان او کارپوهان وايي او يو نيم لا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته وايي چې د دوی لاتراوسه لمونځ نه دی زده. دوی د جهاد لپاره څه کړي دي چې د ملت لپاره به يې وکاندي.

يو مشر جلال اباد ته منډه واخلي بل په هرات ورشتی وي، يو که په پېښور کې خپل ځان جمهور رئيس اعلان کاندي بل يې کابل ته د معاون په توګه ځان وروروسوي، يو که يو موټی روپۍ د بانك نه د خپلو مصارفو لپاره وباسي بيا يې هغه بل مرور وي او د مرچو په سته ناست وي.

کله يو مشر په يوځای کې يو څو تنه مليان په ځان راټول کړي، توده او خوږه حلوا ورته ورکړي په بل مشر د کفر فتوا ورکوي. کله بل مشر په بله سيمه کې څو تنه په بډو او رشوت پيدا کاندي د کفر فتوا هسې په خوله کې د جاولې په څېر اړوي را اړوي. کله يو مشر کافر شي، کله بل او کله بل.

کله پر يو چا باندې د شهيد نوم ورپورې کړي او کله پر بل باندې کله يو غازي کړي او بل چټي.

ګډې وډې خبرې د ګډو وډو خلکو څخه اورېدل کېږي هغه د کفر فتوا چې تر پرونه پورې زموږ په ملت په ناحقه ورتپل کېدې، شکر الحمدالله اوس دا فتوا زموږ مشران په خپلو منځو کې پر يو بل ورکوي. يو متل دی چې وايي: ((چاه کن در چاه است)) ښه دی زموږ سر لوړی قوم د کفر د بهتان څخه بري الذمه ووت. د پرون ورځې د جهاد سالاران نن کافر شول او د کفارو مخکښان د نن ورځې مجاهدين او د خالد بن وليد او د مجاهد کبير په نومونو وستايل شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ په ملك كې د كفر او اسلام مهر لګول ډېر اسانه او ارزانه كار دى، دا كلمه نه په بيه اخيستل كېږي او نه په وينا يې څه له جيبه ځي. نه په كې كوم مسوليت شته او نه وېره. هر چا چې هر څه وويل همغسې وشول او كېږي لا.

لومړى به ويل كېدل چې سل خبرې او سر يې يو، خو اوس سل خبرې زر سرونه لري، دلته د ملك په دننه كې او د باندې د سولې او سلم لپاره طراحان ډېر شول هر چا يوه طرحه په دوسيه كې ايښودې وي. څوك په هرات كې د سولې طرحه جوړوي او څوك په ننګرهار كې، څوك په لويه پكتيا كې قومندانان راغونډوي او څوك په شمالي صفحاتو كې سياسي نمايندګۍ پرانيزي، څوك په غرب كې لاس تر زنې ناست دي او څوك په پېښور او اسلام اباد كې د ملي يووالي او تفاهم شورا ګانې جوړوي، چا د ملګرو ملتونو نماينده ((مستيري)) رادمخه كړى دى، څوك د امريكې او روس نه سوله په سوال غواړي، څوك ګاونډي هېوادونه زموږ په جنګ جګړو كې مقصر بولي او څوك ټوله پړه په بيننسوان او د افغانستان پر پخوانيو كمونستانو اچوي.

څوك د اسلامي كنفرانس مداخله پرځاى بولي او د هغه په مشر ((الغابد)) باندې بې ځايه رسا د توغندو ډزې كوي، چا قاضي صيب حسين احمد او مولانا صيب فضل الرحمن رامخ ته كړي وي، چا پير صيب پګاړه په پنجاب كې په تمه كېنولى وي، حوك د جنرال حميد ګل او اسلم بيګ سره په زړو كيسو لګيا وي خپل سر خوږوي، څوك د سوډان توريپوستي ډزوي او څوك د هندوستان د هندوانو مرستې غواړي، چا د ايران د اهل تشيع پورې ځان پيوند كړى او څوك د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ازبکستان په ازبکو افتخار کوي او څوك فرانسويانو ته په پټه خوله لاجورد ورکوي.

دا ټولې هسې خبرې دي او وي به، عمل يې هېڅ نه شته. د هېڅا طرحو عملي جامه وانه غوسته ((هسې سيند ته تبی ورکول دي)) دوی څه کوي افغانان وژل کېږي، ملك د افغانانو په کنډواله بدلېږي ((پردی غم له واورو سوړ دی)) او ((سوزي هغه ځای چې اور پرې بلېږي)) پردي خو پردي دي، خو په ملك کې خپل هم پردي شول. له بل پلوه راځئ موږ د خپلو مجاهدينو ورونو احساسات د خپل هېواد او د خپلو خلکو پر وړادې وګورو:

کله چې ژمی شي او د کابل هوا مخ په سړېدو شي، خبرې هم سړې شي. هر يو د تنظيم له مشر نه نيولې د تنظيم د واړه سليمانه پورې تودو سيمو پېښور، اسلام اباد او لاهور ته کښته شي، ژمی ښه ارامه او اسوده له خپلو بچو سره د تيمورشاهانو په دود په ((پدر وطن)) کې تېر کړي، وران، ويجاړ، وږی، تږی او ټوك، ټوك کابل موږ ته خوشې کړي، دفترونه لاپسې شاړ شي، تشې جادې لا پسې تشې شي، لنکروزرونو او ډاټسونونو نه سرکې خالي شي او د پېښور ساخت ارنونو (د ارنډونو نه)) زموږ غوږونه هم ارام شي. د کورونو کراګانې ښې شي او د کرنسۍ په بازار باندې رش هم کم شي.

خو کله چې پسرلی شي او د کابل هوا لږه شان ښه شي، کش و فش بيا زيات شي وزيران هم پيدا شي او ماموران هم، د کابل څلور لارې او جادې يوځه ګڼه ګونه وومي د کابل اوسېدونکي هم خوشاله شي چې ځه له خيره سږ کال به حتماً موږ ته سوله راشي، ولې چې زموږ ورونه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



لښکې نه په ښه جوش او خروش راوختل. مګر ورونو به عوض ددې چې سوله او وروري راوړي وي، دې خدای ناترسو د جنګ جګړو لپاره په نوي میتود او طریقه پلانونه راوړي وي او ګوري چې د کابل ښار کوم ځای او کومه کوڅه ودانه پاتې ده، چې هغه د سرږني ماسټر پلان له مخې رنګه کاندي. مور د کابل اوسېدونکي کرۍ شپه او ورځ په سوچونو او اندېښنو کې یو. زمور ټول وخت په خوشې اندېښنو کې مصرف شو. زمور د وخت زیاته برخه په کړاو کې تېره شوه د ژوند خوورې مېوه په مور د زهرو نه هم ترخه شوې ده، نه د کابل ځمکه مور ته مزه راکوي او نه د پېښور.

زمور د مشرانو زړونه د کاڼو نه هم کلك دي. نه پوهېږم چې د دوی زړونه له غوښې څخه جوړ دي او که له اوسپنې څخه؟

د بل هر چا زړه که د هر څه نه جوړ وای او زمور حالت یې کتلی وای، نو زړونه به یې بې له کوم شك او شوبې څخه نرم او پاسته شوي وای، خو زمور د مشرانو د زړونو تنده لا نه ده ماته شوې. زمور مشرانو مور په داسې بلا ککړ کړو چې اوس مو نه سرخلاصېږي او نه پښې مور افغان قومونه یې په داسې تربګنۍ واړولو چې دا تربګني زمور ورځ په ورځ تودېږي او د سرښت یې هېڅ نښې او نښانې نه شته.

۱۳۷۳ل کال د اسد میاشت

کابل- افغانستان، دربیم پروان

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زموږ پوځونه

زموږ امیران او شاهان هر یو ځان ځانته پوځ لري، دوی ته خدای(ج) ډېر بې زره پوځي مزدوران ورکړي دي. دا داسې پوځي نوکران دي چې زموږ امیران یې له سره په خرځ او خوراك خبر نه وي. د اعاشې او اباتې قاغوشونه یې معلوم نه دي، د تعلیم او تربیې میدانونو ته یې حاجت نه شته، تعلیمي نصابونه یې لاپخوا تکمیل کړي دي، په کین ګرز او شاګرز باندې ډېر ښه پوهېږي، په پروت او زهف باندې یې ډېر وخت ضایع کړی دی. لکه چې یو قومندان صیب یوه ورځ خپل غونډ ته قومانده ورکړه او ویې ویل: ((ځئ په هغه لاس راوګرځئ چې پرون پرې ګرځېدلي وئ)) سفر بري یې په خپل سر ده د توپچي، هوایي او پیاده قطعاتو تفکیك یې ډېر مشکل دی، پوځي یونیفورم د هر چا په خپله خوښه مرضی دی، تشکیلاتي سیستم یې په زړه پورې دی. هر چا چې په هرځای کې هر څه جوړ کړل، مشر ته د قبول وړ دي، تنخوا، منخوا به کې نه شته، سپاهیان د جلب او احضار او د مکلفیت له لارې او یا د پچې پر اساس نه ځېره کېږي کندك مشر، غونډ مشر او فرقه مشر په کې معلوم نه دی، د لبه قومندانان دي. قومندانان ډېر او سپاهیان یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کم دي، په تشکيل کې قومندان ته موټر نه شته، خو قومندان ته دوه درې قسمه د وخت ماډل ګاډي ولاړ دي، تنخوا يې نه شته، خو د پيسو سره لوبې کوي، د قومندان په نوم کور نه شته، خو د څلورو، پنځو کورونو کونجۍ ورسره دي، په قطعه کې يې ټانک مانک درک نه لري، خو د قومندان د کور د امنيت لپاره څلور پنځه ځنځيره ټانکونه ولاړ دي.

د پوليسو درك او خرك نه شته، يو تن نيم که په ټول ښار کې په زره او خيرنه دريشي کې تر سترګو شي. د ترافيکو عمر ډېر خوار و زار دی. د دوی په چورك هېڅوك موټران نه دروي، په ترافيکي حادثو کې د سره د دوی خبرو ته څوك غوږ نه نيسي، په هر حال د پوځونو تفکيك د هغوی ارتباط يونيفورمونه اوتشکيلاتي سيستم يې:

د مسعود صيب د پوځ يونيفورم:

د اشخاصو او افرادو اکثريت يې د پنجشېر، خوست و فيرنګ، چاريکارو او د کاپيسا د خلکو نه تشلکېږي، خړ فرانسوي ساقداره بوټان، برګه پيکداره خوله او کم رنګه پيکه پلنګي برګه دريشي، يو دانه د اوږې دسمال او د سر پکور.

د جنرال بابه جانه او مومن د پوځ يونيفورم:

د افرادو او اشخاصو اکثريت د بګرام او نهرين د خلکو څخه تشکيلېږي، تور چکي صاداره بوټان برګه پيکداره خوله او تېز رنګه برګه پلنګي دريشي.

د رباني صيب د پوځ يونيفورم:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د افرادو او اشخصو اکثريت يې د بدخشان، تخار د شمالي کوهدامان او کوهستان د خلکو نه تشکيلېږي، هر قسم بوټان، واسکټونه، جګې د بدماشانو قره قلۍ، پټکي او پکولونه اوږدې جامې بډوهلي پرتوګونه لنډې او بونډۍ ږيرې.

د سياف صيب د پوځ يونيفورم:

د اشخاصو او افرادو اکثريت د کبال په ښار کې د پغمان او قندهار له خلکو تشکيلېږي. امريکايي ساقداره کرميچ او نسواري بوټان، کورياپي جمپرونه اوږدې ږيرې او د ملنګانو په څېر ببر سرونه.

د حجت الاسلام والمسلمين ايات الله محسنی صيب د پوځ يونيفورم:

د اشخاصو اوافردو اکثري يې د کابل د تايمنيو اهل تشيع څخه تشکيلېږي. تورې جامې، سپينې خولۍ، څلور خانه ((چارخانه)) دسمالونه، رنګ په رنګ جمپرونه، بونډۍ ږيرې او اوږدې تسبې.

د مزاري صيب د پوځ يونيفورم:

د اشخاصو او افرادو اکثريت يې د هزاره جاتو نه تشکيلېږي.

اوږدې ږيرې، تورې جامې، لنډې پوزې، پلن تندي او تور پټکي.

حکمتيار صيب د پوځ يونيفورم:

دده پوځيان د هر ولايت اوسېدونکي دي، د کومې خاصې سيمې او ولايت پورې تعلق نه لري، پکولونه، پټ:ي، سپينې خولۍ، پاکستانۍ چپلقې د غټو پينځو وطني جامې او به نکريزو رنګ شوې ږيرې.

د دوستم صيب د پوځ يونيفورم:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اشخاصو او افرادو اکثريت يې د ملك شمالي صفحات او خصوصاً ازبکان تشکيلېږي. د برېستونو ګوبيچې، بډ وهلي پرتوګونه، برګ پتکي، کم خلك يې رېږي لري.

څه غاړه به بندوم او د اخرت پېتهي به درنوم د پير صيب مجددي صيب، خالص صيب او د محمدي صيب پوځونه مې د کابل په جنګ جګړو کې نه دي ليدلي، نه يې د يونيفورم او نه يې د تشکيلاتو په هکله څه ليکلی شم. خدای شاهد دی د دوی د پوځونو زور زياتې مې هم نه دی ليدلی، د دوی پوځونه که د نورو پوځونو سره په انفرادي ډول يوځای شوي وي، د همغه پوځونو رنګ به يې اخيستی وي.

زموږ د مشرانو د پوځونو ډولونه:

## لومړی نمبر پوځ:

دا پوځ چې تنخوا او امتياز يې د پخوا په څېر ورکول کېږي، اعاشه او اباته يې په خپله غاړه ده اعاشه او اباته لري، خو د قراردادیانو سره د سازش په اثر نغدې روپۍ اخلي د جنس دومره شوقيان نه دي، د دريو ناحيو په ځلور لارو کې دندې اجرا کوي، په محاربو او جنګونو کې ونډه اخلي، دا پوځ ښه دی. نظم او دسپلين يې هم ښه دی، خلکو ته دومره ازار نه ورکوي، مګر کمزوري خلك ښه تلاشي کولای شي، ښاري ټکسيان ورځخه بې تالاشۍ نه شي تېرېدلای، او زورور ته يې ملا ماته ده، زورورو ته هېڅ نه شي ويلای، د دوی په ساحه کې چې زورور هر څه وکړي مخه يې نه شي نيولای او که کمزوری څه وکړي په هماغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساعت بيا بې زندانه زنداني وي، دې پوځ ته کله ناکله خلك د بابه جان ګارنېزيون هم وايي.

## دويم نمبر پوځ:

دا پوځ هغه پوځ دی چې مشران او اميران د سره پرې اګاه نه وي، د ښار په څلور لارو او کوڅو کې ښې کلکې ښزې (مورچلې) د شګو لـه بوجيو او د بايلرونو څخه جوړې کړې وي، د کابل څلور لارې او کوڅې يې لـه منطقوي قوماندانانو څخه په ټيکه اخيستې وي. نـه د دولـت بـودجې تـه ورکـوي او نـه د دولـت د بـودجې نـه څـه اخلـي، د تنظيمونـو د قومانـدانانو سـره يـې پيسـې او نـورې ګټـې شـريکې وي اکثـراً د ملـك جنايي مجرمين په دې قطعاتو کې تنظيم دي.

دا کټه ګوري خلك سلاح او مهمات په خپلو پيسو اخلي، په تيتـه او پرکه جګړو کې تيت او پرك ګډون کوي، دا پـوځ د ښار تيت او پرك جنګ ته ډېر وهلي ناست وي. د شپې لـه پلوه پـه قيمـارونو کـې د خلکو دوکانونـه، مارکېټونـه، نغـدې پيسـې پـه نسـيا ډول پـه داو کـې ږدي، د کابل د ښار د کارته پروان او خيرخانې تر چور او چپاول پـورې د خپلـو دوسـتانو او انډيوالانو څخه پـه پـور روپـۍ اخلـي، د ښار پـه پـاتې برخـه ډېـرې نسـيا او جګـې معـاملې کـوي. دا پـوځ جنـګ جګـړې تـه ډېـر خوشـالېږي، ولـې چـې د دوی د چـور او چپـاول بـازار د يـو څ ساعتونو پـورې ډېـر تـودی وي. ددې ايلـه جـاري ټـول تمويـل او تجهيـز د کابـل خوارکي ولس په غاړه دی. دا پـوځ ډېر ناکـاره او ناړامـه پـوځ دی، ددې پوځ له لاسه څوك د کابل په ښار کې نغدې پيسـې پـه جيب کـې نـه شـي ګرځولای، ساعتونو خو د ټکه د سړي له لاسه وباسي، بايسکل، ټيپ او

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړې جيبي راډيوګانې خو د دوی مال دی، تېزرفتاره ګاډو پسې ((چشم درد)) ګرځي او په شپو، شپو ورته شوګيرونه تېروي.

## دريېم نمبر پوځ:

دا ډېر کاپر او سر تمبه پوځ دی په چل او هنر کې د انګرېز نه خور اخلي، هغه چلونه او دوکې چې د دوی زده دي، دشيطان، لغماني او پغماني په خيال او خاطر کې لا نه شي ګرځېدی. دا پوځ د قوماندانانو او د بعضې امنيتي اراکينو په سلا او مشوره جوړ شوی دی، دا پوځ په جنګ او جګړه کې دومره ګډون نه کوي، د جنګ او جګړو په ورځو کې دوی ډېر خوښ وي. سرې تښتونو ((يرغمل نيونو)) ته ډېر ښه دقيق پلانونه ترتيبوي، د دوی په واک کې روسي جيفان او د امنيت ملي د دستګيری تيب شوي مکتوبونه په جيب کې ګرځوي، د دستګيری دوسيه راکټ لنچرې او کلاشينکوفونه د تورو پردو او د فلم داره جيفانو سره کښته پورته ګرځي، ددې پوځ کار د پانګه لرونکو سره دی، ددې پوځ وظيفه د هغه کمزورو افغان پيسه لرونکو څارنه او تعقيبول دي چې په واک کې سلاح نه لري.

ددې پوځ اشخاص او افراد د کورونو، دوکانونو، شرکتونو او ترانسپورت لرونکو پسې کوڅه په کوڅه او کور په کور سرګردانه ګرځي، د ماښام له اذانه وروسته که د چا زړه د فيل نه هم غټ وي له خپله کوره نه شي وتلای. شپه خو لا پرځای پرېږده، زهز خو به هغه څوك نر وګڼم چې هغه د ورځې له پلوه هسې څلور کنجه ډبه چې د افغانيو يو مليوني ډبې ته ورته وي د ځان سره دې حمل کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا قوت او قدرت په چا کې نه شته، په دې ډبو باندې د کابل د ښار ډېر صابون خرځونکي تښتول شوي او ډبول شوي دي. درېيم نمبر پوځ ته هر څلور کنجه شی د افغانيو کاپۍ برېښي او کړه بند د افغانيو نوټونو پسې يې سا وځي او تبې ورته نيولي وي.

## څلورم نمبر پوځ:

دا ډول پوځ د تنظيمونو د مشرانو له خوا او د هغوی په اجازه سلا او مشوره جوړېږي، دې ډول پوځ ته د تنظيم له ډډې په موقت ډول سلاح او مهمات ورکول کېږي. د مکلفيت دوره يې هم د پنځلسو ورځو څخه تر يوې مياشتې پورې ده. دا ډ ،ل پوځ د نړولو او ورانولو پوځ دی څه چې يې مخ ته ورشي د قحطي ملخانو په څېر پرې ورتوی شي، د بجلۍ مزي او کيبلونه، د ودانيو سيخ او ګول، د برېښنا ميترونه او ساکټونه د برېښنا د برجونو ترانسفرمرونه، کړکۍ او د کورونو دروازې، لاړي، د تخريب شويو ګاډو او جنګي وسايطو پرزې، زړې بوجۍ، د اوسپنې د کباړ ټول ډولونه زاړه ټيمان (زړه پردانه) د کارخانو پرزې، د ټلېفونونو مزي او ماشينونه راټولوي د ميدان ښار، چهار اسياب او د پلچرخي مارکېټونو ته يې په ډېره بيړه د پاکستان دلالانو ته يې رسوي او په ټيټه بيه يې پرې پلوري.

دا ايله جاري (څلور نمبر پوځ) جنګ د خدای لپاره په بيه اخلي ولې چې به نړولو کې د دوی ګټې زياتې دي. دا پوځ کله ناکله د (خودکفا) پوځ په نوم هم يادېږي. دا پوځ له ولاياتو څخه په همدې نوم جنګ جګړې ته هڅوي چې په کابل کې هر څه د سړکونو پر سر پراته دي. ددې پوځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



محاربوي توان او مورال لوړ دی، ددې پوځ شعار دادی ((سر یې وهلی او مال یې لوټ)) (!!)

## پنځم نمبر پوځ:

ددې پوځ دنده او مسولیت په لویو لارو او اوږدو جادو کې دی. د ملك په ټولو لویو لارو په هره یوه پنځه کیلو متری کې یو ((پاټك)) موجود دی د ((پاټك)) او د ((چلو)) کلیمې زموږ نه دي دا دواړه کلیمې د پنجاب نه راختلي موږ به پخوا ((پاټك)) ته د تالاشۍ پوسته او ((چلو)) ته به موږ زه په خیر استازه ویل.

مګر اوس ورته ((پاټك)) او ((چلو)) وایو چې خبره رانه اوږده نه شي.

نه پوهیږم چې د پنځم نمبر پوځ وظایف او دندې مشرانو ټاکلي او که پوځ په خپل سر دې مقدسې دندې ته رونق ورکړ ی دی. تر کومه ځایه چې ماته ثابته شوې ده او ما د څو کلونو په جنګ جګړو کې څو ځله د تورخم په لار پېښور ته د چمن په لار کویټې ته او د سالنګونو په لار مزارشریف ته کډې کډې کول وکړل د پاټکونو پوځ ډیر بې رحمه او بې دینه پوځ دی، ددې پوځ سپاهیان ډیر ناړامه سر ټمبه او د یوې خبرې والادي. ددې پوځ سپاهیان لا یو بل هنر هم لري، ښه مجاهد او ښه کمونستت د خټ په بویولو پیژني د هر هغه چا چې خټ او غاړه لږه څه پاکه وي او څه پاکې جامې یې په ځان کړې وي، هغه ښه کمونست دی او که برعکس ددې وي، نو هماغه ښه مجاهد دی.

دا پوځ د هیچا مخ او خټ نه ګوري، چې نورې هیڅ څه ګوتو ته ور نه شي د راکیبینو څخه د سر خیرات غواړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کورونو په قيمتي لوښو او سامانونو باندې جلا جلا محصولونه ږدي. زموږ د خوارکي ولس د کورونو لوښي او سامانونه د ((پاټکونو)) پوځ په ځو ځو ځله په همدوی خرڅ کړل. زموږ د خوارکي ولس د کور لوښي دوی ته په ډېره جګه بيه تمام شول.

څلورم نمبر پوځ ((د ورانولو او خود کفا)) پوځ چې کله ملت ته راکټونه راواړوي او د توپونو او ټانکونو خولې د کابل اوسېدونکو ته ورسمې کاندي، نو د کابل اوسېدونکي زر، زر خپل د کور لوښي راټول کړي او په موټرو کې بار کړي، تش کورونه څلورم نمبر پوځ ته خوشې وي، ښه سامان لکه قالينه، ټلوېزيون، ويډيو، يخچال او بادپکې د موټر نه کښته کړي، يو نيم سپاهي لا پر کور والا وغړمبېږي او پرې ورغږ کړي.

((ګوره کمونست ته: ده لا په وي، سي، آر کې فلمونه ليدل په ټې وي کې به يې څومره جينکۍ ليدلي وي، د فريج يخو اوبو ته په کابل کې ناست و.))

بل سپاهي د لرې نه ورغږ کړي ((زر، زر يې ورکښته کوه. ګوره دې کمونست ته چې د روس په سامانونو نه يې موټر تر خولې پورې بار کړی دی.)) او داسې نور د پاتې لوښو دومره لوړ ((محصول)) د کور والا نه واخلي که هغه لوښي بيا يې خاوند بازار ته وړاندې کړي ځانته د ((محصول)) قيمت نه پوره کوي.

د کابل خلکو د څو کلونو په ملا شاهۍ کې څو څو ځله کډې کول وکړل، د ګاډو مالکين ښه ماړه شول، خو د پنځم نمبر پوځ له خوا يې ښه ډبول وخوړل. داسې ورځ به ډېره کمه وي چې د ګاډو مالکانو او ډرېورانو سر او غاښ مات نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا پوځونه ټول د يو بل سره په خپل منځ کې حسنه او نېکې اړيکې لري، د څلورم او پنځم نمبر پوځونو ګټې سره شريکې دي، د جنګ او جګړې پر وخت يو د بل په مورچل ولاکه ډز کوي، ټولې درنې او سپکې ډزې په خلکو باندې وي، چې خلك د خپلو کورونو څخه باځوي او ورونه د مظلوم ولس پخه وخوري او اومه يې په چرسو، ورکاندي.))

زموږ د ملك ((خودکفا)) پوځونو په هېچا کې د حيا ښته پرېښښوده. وږو تجارانو د دوی له لاسه تجارت پرېښود، کوچان په سږکونو او لويو لارو باندې خپل څاروي او رمې نه شي بيولی، دې ملك کې د هر چا مال، سر او عزت ته صدمه ورسېده. د پنځم نمبر پوځ د سپاهيانو عجيب او غريب نومونه دي لکه:

سپی، کونګری، لېونی، لېوه، تازي، چارپای او نور دا لاڅه کوي چې ددې پوځ سپاهيانو د خلکو غوږونه هم پرې کړي دي، د شکر درې دوه تنه اوسېدونکي ګل مير او خان مير چې دواړه سره ورونه وو. د دوی د غوږونو غوڅول ډېرو خلکو ليدلي. ددې بېچاره ګانو د ګنډو په نفقه کې خپل غوږونه له لاسه ورکړل خپل غوږونه!!

لومړی به ويل کېدل چې غوږ ګټې سر به بايلې، زموږ په دې سرچپه ملك کې هر څه سرچپه شول اوس نو که سر ساتې غوږونه به بايلې.

هوکی: نصرالله بابر صيب د پاکستان د کورنيو چارو وزير خپلې بازارموندنې ته ډېر وارخطا شانته و، په منځنۍ اسيايي هېوادونو کې د بازارموندنې لپاره بايد د تجارت وزير او د پاکستان د صنعت وزيران وارخطا وای، په ده کې بله خبره وه هر سړی پوهېږي چې غوا توره ده او شيدې يې سپينې دي. د ملايانو نه چې په افغانستان کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم ځای روغ پاتې دی، پاکستان یې اوس په طالبانو ورانوي. بابر صیب غریب منځنۍ اسیا ته د ځمکې له لارې بې له کوم باز خواست او بې له کوم پاسپورت او اجازتنامې څخه د افغانستان په ښارو، کنډو او کپرو لارو واچول چې دا طلايي مارکېټونه ور نه بل کوم هېواد ونه نیسي.

د پاکستان غریبانانو خو د مجاهدينو د حکومت د کامیابۍ په اول کال اعلان وکړ چې د تورخم کابل سړك به په درېو میاشتو کې ډامبر او پوخ شي. د دريو مياشتو په تمه څو کلونه تېر شول. د سړك پخلی خو لا پرځای پرېږده په کوم ځای کې چې د سړك پخې د ډامبر او قير چنډې وې هغه یې هم ونړولې. نو اوس څنګه کېدی شي چې په دومره اوږده او لرې لار بابر صيب په منځنۍ اسیا کې د مارکېټونو او د ځمکې له لارې د مالونو د کاروانونو خبرې او د منځنۍ اسیا د مشرانو سره لوظنامې دستخط کوي.

که د بابر صیب خبرې رښتیا شي، نو زموږ د پنځم نمبر پوځ قوماندان او سپاهيان به د جهاد خوبونه په سپين بولدك، کندهار، لښکرګاه، ګرشك، هرات او تور غنډۍ په بندرونو کې ويني.

زموږ د پنځم نمبر پوځ قوماندانان يوبل ته په مخابرو کې کلکې مبارکۍ ورکوي او وايي چې که خدای کول زموږ پوځونه به نور ددغو ولايتونو په لارو ګودرو کې قوي جهاد پيل کړي. جهاد دغو ولايتونو کې د سره پيل ته ضرورت لري. اګر چې بابرصيب يو څه طالبان مالبان په دغو لارو ګودرو کې د کاروانونو د سلامت تګ راتګ لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېنولي، خو زموږ د پنځم نمبر پوځ او د طالبانو په منځ کې به شخړې حتمي شي.

د طالبانو د سړکونو د ساتلو، تجارتي مالونو او ورکړې راکړې سره ځه دي، طالبان په مدرسو او جوماتونو کې بايد سبق ووايي چې ديني عالمان ترېنه جوړ شي.

بابر صيب ته به مشوره ورکړو چې د وطن سوی، د وطن په تازيانو وينسه او يا د وطن لارې د وطن په سپاهيانو وساته.

ميزان ۱۳۷۳ل کال

کابل- افغانستان، درېيم پروان

(c) ketabton.com: The Digital Library



# قوماندان مُلك

پاڅېږه! ستړي مشي ووايه چې زموږ د اوسني پاچايانو او اميرانو اخيستل ډطر دي او که ورکول؟ بې غمه پروت يې څادر دې د سر نه تر پښو پورې په ځان راکښلی او د پښو په ګوتو کې دې د څادر پيڅککې ټينګ کړي دي. د کټ پيارمې دې زړې کړې. نه خوب لري او نه خواږه، هسې دې په سوچونو او چورتونو کې ځان زوړ کړ، ږيره دې بې ځآيه سپينه شوه، ځان نه دې عالم غمګين جوړ کړی، کری ورځ کابل (قوماندان مُلك) په غام کې يې ربښتيا د څادر لاندې په پټو سترګو په څه چورت، سوچ او فکر کې وې؟

د کابل (قوماندان مُلك) په فکر کې وم.

په کابل کې دې څه وليدل، څه دې واورېدل او څه دې وخوړل؟؟

عزيزه!

څه مې سر خوږوې زما خو ليکل او لوستل نه دي زده اوسنۍ کمپيوټري زمانې ته انپړ يم، زما ليك او لوست سوچ او فکر دی. نو هغه څه چې مې په خپلو سترګو وليدل او په فکر او سوچ کې مې تېر شول، ته بسم الله کړه قلم راواخله کاغذ خور کړه. زه چې څه درته وايم

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا که ټول رښتيا نه وي، نو دروغ به هم نه وي، خپل خدای پاك ته غاړه نه شم بندولای. خپلو خلکو او ولس ته مخ نه شم تورولای، کوم حرف، کوم ټکی او کومه کليمه چې زما له خولې وځي کټ مټ يې همغسې وليکه. څه چې زه درته وايم په هغه کې کمی او زياتی رانه ولې. زما له وينا نه به يو وخت که خدای کوله تاريخ جوړ شي، که په ليکلو کې دې ورانی وکړ، تا به د افغانانو تاريخ ونه ښيي، بيا دې زه له افغانانو څخه نه شم خلاصولای، په ډېر احتياط او پام يې وليکه او په ساده او شډله پښتو يې وليکه چې: تولې سمې لارې اوړدې شوې، (( موږ بدبخت شو ولې چې زموږ د ښار دروازې اوس غله ساتي)) زموږ ملك د غلو په لاس کېوت دولتي ترانسپورتونه شخصي شول، روغتونونه له ښځه ونړېدل، مکتبونو خپل ځای پوځي اډو ته پرېښود، پوهنځي شاړ او د سرور کاينات او امام اخر زمان د جوماتونو ودانۍ پوهنځي شول. استادان يې په لوی لاس رخصت کړل. اکاډميسنان يې وشړل عامه موسسې رنګې شوې، جايدادونه او ملکيتونه ضبط شول، د ملك مالياتي عوايد به جيبونو کې وراسته شول، د بانکونو راکړه ورکړه په خپله خوښه شوه، د ملت سره ثانيه په ثانيه جفا او ظلم زياتی کېږي او رمې په لېوانو پول کېږي، خپلو خلکو ته د ورکړې هېڅ علايم نه شته، د راکړې ورکړې معاملو خپل ځای بې اعتباريو ته پرېښی، خلك د خپل ملك پرېښودو ته اړ ايستل شول. زموږ يو موټی خاوره په ننني بشري نړۍ کې موقعيت نه لري. زموږ ملك د بلې کومې نړۍ په يوه بله کره کې د قوماندان په حيث پروت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ په مُلك كې قوماندان صيب هر څه دی. قوماندان صيب هغه کيلي ده چې: هر ماشين پرې چالانېږي، قوماندان صيب هم شاګرد دی او هم معلم، هم امام دی او هم جنګجو، هم ملا دی او هم مولاٌ، هم اقتصاد دان دی او هم سیاستدان، هم محصل دی او هم استاد ، هم په كابل کې دی او هم په پېښور کې، هم وزیر دی او هم مامور، هم غل دی او هم د غلو مل، غله نیولای شي او هم يې پرېښودلای شي. قوماندان صيب هم کارګر دی او هم بورد تخنيك. د ماشينريو پرزې په ډېر ښه شان د يوې ((فابريکې)) څخه سپړلای شي او بل ((ميل)) ته يې وراچولای شي، قوماندان صيب هم دهقان دی او هم ښه لاره ساتونکی، قوماندان صيب هم قوماندان دی هم تجار، قوماندان صيب هم برمه کار دی او هم د زمرودو، یاقوتو او د ټولو قيمتي ډبرو ټيکه دار، قوماندان صيب هم نجار دی او هم د ځنګلونو د خرڅولو دلال، قوماندان صيب هم سرباز دی او هم جنرال، قوماندان صيب كه د پرديو قصرونه نړوي، خو ځان ته ښې ماڼۍ ابادوي، قوماندان صيب هم په مېخ وهي او هم په نعل، کله د يو سره ملا وتړي او کله د بل سره، کله د یو نه جیب ډك کړي او کله د بل نه.

دې قوماندان مُلك کې هر يو تن قوماندان شو او هر څه د قوماندان شول، پيسې د قوماندان شوې، بانك د قوماندان شو، وزارت خانه د قوماندان شوه، ښکلې مکتبۍ جينكۍ د قوماندان شوې، پی مخي هلکان د قوماندان شول، شرکتونه او ترانسپورتونه د قوماندان شول، ټانکونه، طیارې، کامازونه، مواصلاتي لارې، هوايي ډګرونه، دولتي ودانۍ او ان تر زراعتي غواګانو پورې د قوماندان شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې قوماندان ملك کې سپاهيانو ته هېڅ ونه رسېدل، په دې ملك کې سپاهيان د ژوند کولو حق نه لري، زموږ په قوماندان ملك کې قوماندان هر څه دی او هر څه يې له وسه او واکه پوره دي، خو له يوه کار نه ډېر عاجز او بېوسه دی، هغه چاته د هغه ژوند نه شي راژوندی کولای. ددنيا په سرخو به دې د خپل ځان د برائت لپاره ژوندو ته وايي چې د هغه بې ګناه مسلمان او افغان په مرګ کې چې دده له لاسه شوی دی، په هغه کې د خدای(ج) رضا وه، مګر د حساب او کتاب په ورځ دی خپل پروردګار ته نه شي ويلای چې دا مظلوم او بې ګناه افغانان چې ما وژلي او د هغوی کورونه مې نړولي او د هغوی مالونه چې مې د غنيمت په نوم چور کړي، په دې کې ستا اراده وه او دا کار مې خاص ستا در ضا لپاره کړی دی.

دده دا دليل به پروردګار قبول نه کړي، ولې چې خدای(ج) زموږ د رهبرانو په څېر بې خبره او دوه مخی نه دی. هغه په هر څه ښه پوهېږي، هغه دانا او توانا دی، هغه په نړولو، وژلو او چور کولو نه راضي کېږي. د هغه رضا او اراده د تل لپاره په نېکو کارونو او په ښو لارو چارو کې ده.

د نړۍ د ملکونو، دولتونو او حکومتونو اميران، شاهان او امپراطوران خپلو خلکو ته که څه ورکوي او که نه خو په ټې وي، ټلکس، ټلېفون او په نورو وسايلو کې چې اول حرف يې په ((ټ)) شروع کېږي، هسې لاپې، شاپې او غوراډبې ښې ډېر کوي. څه چې خلکو وي هغه خو ترېنه نه اخلي. مګر زموږ څو کلن حکومت زموږ خوارکي ولس نه هر څه يې په عام ډول او د کليمې اول حرف يې چې په ((ټ)) شروع کېږي په خاص

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډول په غيرقانوني د خپلو غلو په واسطه واخيستل. زموږ ولس يې په سپين ډاګ او سپېره درينګه پرېښود. ملي او شخصي پانګې يې په خپلو خېټو کې واچولې. ددې حکومت اقتصادي سيستم يو عجيب شان سيستم دی، د نړۍ اقتصاد دانان دې د يو ځل لپاره زموږ قوماندان ملك ته راشي او زموږ د قوماندانانو نه دې وپوښتي چې دوی ددې اقتصاد تعليم په کومو هېوادونو کې سرته رسولای دی. دا کوم قسم سيستم دی، سيستم ته کوم نوم ورکولای شي؟؟؟

د ملت غونډې يې تش کړل، مګر د غلو جيبونه ډك نه شول، هر څه يې له ستوني تېر کړل، خو ماړه نه شول، د وينو په ډنډونو کې يې ولامبل خو نه سره شول او نه شنه شول، دا ولسونه په کړاوونو کې دوی خپلې بې غمۍ لټولې، خو بې غمه نه شول. د ډېرې پرهېزګارۍ نه يې د خلکو په مخکې د ريا لپاره انګور نه خوړل، خو د پردې تر شا يې خمونه تش کړل او نشه نه شول.

لنډه دا چې له موږ سپاهيانو نه زموږ مشرانو او قوماندانانو هر څه په دغه او هغه واخيستل او لا اخلي يې.

دوی په دې کمکي او کوچني قوماندان ملك په خوراك باندې کله مړېږي؟

دا خو خېټې نه دي، جوالونه دي جوالونه!!

دوی ته کوم لرې لوی او بې تاريخه مُلك په کار دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بس دی نور په دې قوماندان ملك کې جهاد بس دی، یوازې خو د دې قوماندان مُلك خلك کافر نه دي، کافرو دنیا په سر اخیستې. د دنیا کافر دومره ډېر شوي دي چې پښې په کې ځي پښې!!

په هغوی ښه جهاد کېږي. ځئ ورشئ له هغو پسې ورشئ هغه کافرو سره هر څه ډېر دي او په ډېره اسانۍ یې ورڅخه لاسته راوړلای شئ.

سنبله ۱۳۷۳ل کال

کابل- افغانستان، درېیم پروان

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د فکر ازادي او سوله

ډېرکلونه تېر شول چې دا خوارکی بندي دی، دده د زندان موده هېڅ نه پوره کېږي، دلته ډېر مجرمین په خپل سر د زندان دوره د ګیرۍ له سوري نه ووتل. دلته ډېرو سیاستدانانو د زندان دروازه ماه کړه، دلته ډېر غله د زندان له وېرې وتښتېدل، دلته اوس زندان، مندان نه شته، خو هغه خوار بې زندانه زنداني دی.

پخوا به دا بېچاره په یو یا دوو تونمو کوټو کې بندي و، خو اوس دی په ډېره ارته او پراخه ساحه کې زنداني دی، هر څه په خپلو ګنهکارو سترګوویني، خو خبل غوږ نه شي ګرولای، د خپلې ماتې خولې څخه سونګ نه شي ویستلی، د زخمي زړه آه او فریاد یې په ګوګل کې غولۍ وهي، هر څه یې ګډوډ دي، ژبه یې ګونګه ده، غابښونه یې وړقیدل، خوله یې وګنډل شوه، غوږونه یې کاږه او کسي یې پرېوتل، د قلم رنګ یې وچ او مشوانۍ یې ماته شوه، لیکوال یې په ګولیو او راکټونو سوری، سوری شو د شعر ژبه یې ټوټه ټوټه شوه، کاغذ یې وسو، فرهنګ یې لوټ او کتاب یې خرڅ شو. زده کوونکو له ښوونځي نه مخه ښه واخیسته، ښوونکی لادرکه شو.

پرېږدئ دا خوارکی پرېږدئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر بنديان خوشې ګرځي، دې غريب خو کوم جرم نه دی کړی، دا خو له تاسې څخه کومه غوښتنه نه لري. دا څومره ارام د لويې حوصلې او د قوي هوډ څښتن دی، دا بېچاره کټ او پوزی نه غواړي، جيب خرځ ته محتاج نه دی، د چا پلو او چلو ته تمه نه لري، تخت او تاج يې نه دی په کار، د چا په ښو او بدو غم غرض نه لري، د هېچا په غم او ښادۍ يې پروا نه شته، دا ډېر بې ګناه بندي دی. دده د زندان شپې او ورځې څومره اوږدې دي، دده جرم د وخت مستنطيقينو او د زمانې څرانوالاټو ثابت نه کړای شو. دا څومره بې ضرره بندي دی. دده هرڅّ دړې وړې شول، خو بيا هم په قهر او غوسه نه برېښي.

زمانې ته ننواتې کوم او د وخت له قاضيانو نه غوښتنه لرم چې دا بندي له زندانه پرېږدي.

د وخت قاضي ته وايم چې دا کوم ساده او چتې، پتې بندي نه دی، دې ګوډ شل او کاڼه بندي سره داسې څه شته چې زموږ د کلونو کلونو دښمني او تربګني پرې پای ته رسېږي. دې بندي سره هغه څه شته چې زموږ د ولس تونده پرې چورلټه ماتېږي.

ددې بندي ازادول او زموږ د ملت غوښتنه لازم او ملزوم ده.... دا بندي به د جهان د امپراطورانو په عذر او زارۍ هم له زندانه ونه وځي. دې بندي زموږ د مودې مودې د خوشبختۍ ناوې يرغمل کړې ده او له ځانه سره يې کلکه ساتلې ده. زموږ د ولس يرغمل شوې د خوشبختۍ ناوې له ده څخه په توپ، طياره، ټانك او ټوپك نه اخيستل کېږي، يرغمل شوې ناوې که زور اخيستل کېدای، خو نو د روسانو سره ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



زور و. که يرغمل شوې د خوشبختۍ ناوې په زر اخيستل کېږي، خو نو د عربو سره ډېرې بې حسابه روپۍ دي.

دا ناوې نه په زور لاس ته راځي او نه په زرو، زموږ ولس ته نه زور ځه ورکړل او نه زرو.

نو راځئ چې دا بندي (د فکر ازادي) په ګډه خوشې کړو او له ده څخه خپله يرغمل شوې د خوشبختۍ ناوې (سوله) لاسته راوړو.

او که دا بندي څومره ټينګ کړو او ويې ځوروو هغومره به زموږ د خوشبختۍ ناوې زيانمنه کړي.

۱۳۷۳ل کال، ميزان

کابل- افغانستان، درېيم پروان

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بېوسه کوچۍ

ای د تورې پیوندي او سورۍ سورۍ کېږدۍ مالکه!

ته خو ډېرې رمې لرې، ډېرې رمې دې ډېر شپانه غواړي شپانه!!

شپنو ته شپېلۍ جوړې کړه او رمو ته شپانه ولټوه.

ستا شپېلۍ کنې دي. په کڼو شپېلیو هېڅوك او هېڅوك له خوبه او له درانه خوبه نه ویښېږي.

ای بېوسه کوچیه!

رمې څوك په لېوانو نه پیايي، ستا رمې ستا لېوانو ماتې کړې، تا هېڅا ته کورت ورنکړل.

ستا د شیدو نه هېچا څکه ونه کړه.

ستا پېروی او ماسته پیشوګانو وڅښل.

پوڅه دې خوسا شوه او په غوښو دې سپي، لېوان او کارغان ماړه کړل، پسرلی درنه په اوتو، بوتو او دغه و هغه کې تېر شو، ستا رمې څه وترهېدې څه له لوړې مړې شوې او څه درنه لېوانو ماتې کړې. ستا د

(c) ketabton.com: The Digital Library



رمو وږی په ولاړه ونړول شوې. د رمو وږی دې تندې سیلۍ او ترخه باد په مخ کړي دي.

ته څومره کمبخته، بېوسه او بېواکه مالدار کوچی یې(!)

ته کمزوری زورور او بې ځایه سرټمبه یې.

په ناراميۍ دې د ځړ ټول ځایونه لولپه کړل.

ته داسې مالدار کوچی یې چې د خپلو رمو نه خپل لېوان ښه ساتې، رمې دې د لوږې مري خو لېوان دې د ډېرو غوښو په خوراك چوي، ستا زړه هېڅکله په خپلو خوارو رمو ونه سو، ستا زړه سوی په خپلو لېوانو ډېر دی.

عقرب، ۱۳۷۳ل کال

کابل- افغانستان، درېیم پروان

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زموږ د زماني ښاماران

موږ چې واړه و په هوجرو او ډېرو کې به موږ ته مشرانو کيسې کولې، په کوچنيوالي کې خو به په دومره څه نه پوهېدو، لږ چې غوټ:ي شو، بيا به مو په دې کيسو باور نه راته او ويل به مو چې دا ټولې د دروغو کيسې دي. دا هسې له ځانه جوړې شوې دي، لکه د خونکار پاچا کيسه د شادمان او د هغه په څېر نور ديوان او يا په ښار باندې د اموخته شوي ښامار کيسه او نورې.

خو اوس چې موږ زاړه شو او د يوويشتمې پېړۍ په درشل کې د ژوند سره لوڅې پوڅې کوو، زموږ له ياد نه وتې کيسې يو ځل بيا زموږ په ذهنونو کې وګرځېدې او مړې کيسې راژوندۍ شوې، زموږ د مُلك دوو لسيزو جنګونو دا اوښودله چې پخوانۍ کيسې رښتيا وې او دروغ نه وې. انسان هر څه کېدای شي. د انسانانو نه، ديوان، ښاماران او خونکاره شاهان او اميران جوړېدای شي.

د هغه پخوانيو کيسو نه يوه دا دوه چې: د خونکار پاچا په ښار باندې داسې يو ښامار اموخته شوی و چې د خلکو څخه به يې په باج کې د ښار يوه پېغله نجلۍ په سره ډولۍ کې اخيسته او هغه به يې ژوندۍ له ستوني څخه تېروله. ددې ښار په خلکو کې جرئت سلب شوی و، هېچا د ښامار مقابله نه کوله، ښامار ته د ښار د خلکو ايمان ښه معلوم و، د ښار د پاچا مزه هم نه وه، هغه هم د ښامار څخه وېره لرله او ان دده يوه لور هم د پچې او نوبت پر اساس ښامار خوړلې وه. پاچا ښه و د ښار د

(c) ketabton.com: The Digital Library



عادي خلکو په څېر يې د ښامار باج پرېکاوه. ده د خپلو ښاريانو څخه برتري نه درلوده، پخوا خو ډېر ښه و يو ښامار دوه به په ښار موختـه کېدل او په باج کې به يې يوه يا دوه پېغلې اخيستې او دا باج به په عادلانه توګه په شاه او ګدا يو ډول و. مګر زمـوږ په زمانـه کـې ډېره بې عدالتي روانه ده، ښاماران بې شانه ډېر شول او باج يې هم ډېر لوړ دی. ددې لوړ باج نه شاهان خلاص ګدايان، فقيران او بېوزلان پرې اختـه دي، ګدايان په بلا ککړ شول.

شاهان خپل بال بچ او خپل پردي ښامار تـه نـه مخ کـوي. شاهان او اميران د باج نه خلاص دي. زمـوږ د ښامار ټول غريب او غربا خلك ښامارانو مات کړل. زمـوږ د ښار بېوزلانو تـه ښامارانو هېڅ شـی پرېنښودل، په هره ورځ زموږ په ښار کې د ډېرو ښامارانو او ديوانو لـه ستوني دېرش، څلوېښت تنه تېرېږي. ښامارنو زموږ ښار لوټ کړو، زموږ ښار نور د نابودۍ کندې ته ګوزار شو. د ښامارانو باج اخيستنه ورځ پر ورځ زياتېږي. ښاماران زموږ د ښار د امير خپل خپلوانو او دوستانو سره غم غرض نه لري.

زموږ د ښار د پاچا خپلوان، دوستان او اشنايان لـه موږ بېوزلانو سره يوځای نه اوسېږي، هغوی په کوم لرې او بېګانه ښار کې اوسېدل خوښ کړي دي.

له کومې ورځې نه چې زموږ په ښار باندې ښاماران اموختـه شوي دي، زموږ پاچاهانو هم لـه موږه سره سمه شپه سبا نـه کړه، د بې مهاره اوښانو په څېر کښته او پورتـه ځغلي. زموږ بې وزلانو نـه دوی ډېر کم زړي دي. دوی لـه مرګه ډېر ډارېږي، دوی هېڅ وخت کې شهادت تـه ځان نـه شي مختـه کولای. شهادت تـه همېش غريب او غربا رامختـه شوي دي، د ښامارانو باج د بېوزلو پر غاړه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا څومره وړي ښامارن دي چې په هره یوه نیمه ورځ او ان په دقیقه، ثانیه او سکینټ کې د دېرش څلوېښتو تنو په خوراك نه مړېږي. دا ښاماران نه پوهېږم چې په کومه کربلا کې جل وهلي، د دوی تونده دومره زیاته ده چې زموږ د ښار د انسانانو وینه په ژبه څټي، د دوی جل وهنه نه په توده وینه ماته شوه او نه په سړه او پرنده وینه. د پخوا زمانې ښاماران ډېر ښه وو. دومره بې انصافه نه وو په ورځ نیمه کې به یې یوه یا دوه پېغلې خوړلې، خو د اوسنۍ زمانې ښاماران ان ماشومان او زاړه له هم ستوني تېروي، د ماشومانو له چیغو او فریاد څخه خوند او مزه اخلي، ماشومانو ته خپل حق خدای(ج) ښښلی، خو ښامارن یې نه ښښي. دا ښاماران بخیل دي، د بخیلو ښامارانو نه وېره په کار ده، وېره!!

ډېرو غریبو او غرباوو به ویل چې موږ څه کوي. ډېرو معلمانو، مامورانو، استادانو، شاګردانو، محصلینو، دهقانانو، کارګرانو، پوهانو، روحانیونو، ملیانو به ویل چې په موږ یې څه کار دی. ډېرو غیر ژوندي شیانو لکه موټر، فابریکې، اوسپنو، تیرانو، دروازو او د کور سامانونو به ویل چې موږ د هر چا په خدمت کې یو، خو ناخبره له دې چې:

د شلمې پېړۍ راکټونه زموږ ښار ته ښاماران وګرځېدل، امیران مو خونکاره پاچاهان او برېښي یې زموږ د زمانې دیوان شول.

قوس، ۱۳۷۳ل کال

کابل- افغانستان، دربیم پروان

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دلته د ټوپك قانون حكم فرما دی

ټولې جګړه مارې ډلې ټپلې غلې وې، غلو به په ټول ملت د غله ګومان کاوه.

ملت به په جنګ جګړه کې د خپلو کورونو لوښي او سامانونه خوندي ځايونو ته نه شول چلولای، د مظلوم ملت هر يو بې اسرې تن به د خپل کور په لوښو غل نيول کېده، څوك چې غله او تاړاکګر و هغه به د ملت د هر مظلوم تن د کور مالك شمېرل کېده. غله او تاړاکګر د نورو د کورونو څښتنان شول او د کورونو څښتنان غله او تاداکګر ووتل.

په دې سرچپه ملك کې هر څه سرچپه شانته وو، ولې چې د ټوپك قانون حكم فرما و.

هېڅا خپل غوږ نه شو ګرولای، چا خپل سر نه شو خوځولای، له خولو څخه سونګ نه خوت، د زړه د فرياد څوك نه پيداکېدل. ښکنځلو خپل ځای سړو اسوېلو ته پرېښی و، ژبې توتله او لنډې وې، هرچا په خپلو غوږونو څپېړې اچولې وې، د سترګو ديد ورځ پر ورځ کمزوری کېده،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هر چا سترغلي پړسېدلي وو، فرهنګیانو خپل فرهنګ پرېښی و او مکتبیانو خپل مکتب، ولې چې د ټوپك قانون حکم فرما و.

جومات که شاړ و خو نو شهید و، ملا مړ و او هم پړ و، طالب هسې په چارچوبۍ کې کښته او پورته منډې وهلې. د جومات جمعې نه وې، هر چا به لمونځ په یوازې ځان کاوه، د سهار او ماسخوتن جمعو خپل ځای وېرې ته پرېښی و.

په هغه ځای کې چې د الهي فرض اداکېدل، د ملیانو وعظ او نصیحت هېڅ ځای نه نیوه، ملیانو سازشونه کول، د جګړې اخته خوا له یوې خوا د ملت په وینو اودسونه کول، له بلې خوا په ممبر باندې د قتلولو امر یې هم کاوه.

د یزید او شمر د کارنامو سترګې دې حالتو ته ډېرې خړې او ټیټې وې. زموږ د ژوند په هدیره کې هر چا د ((نکیر)) او ((منکر)) له ډډې ډبول خوړل. زموږ خلکو چنګېزخان او هلاکو ته اورنګزېب او جهانګیر ته دعاګانې کولې، روس او پرنګ لا دومره نه و ځورولي، زموږ د ملت نه عادل نوشیروان او پیر روښان ورك وو ولې چې د ټوپك قانون حکم فرما و.

جګړه مارو به دلته جګړه کوله او خپل ملك به یې پایمالاوه، خاوره او ولس یې خوشې پرېښی و. په وډشوي خاوره بې سرپرسته ولس او بې مالکه مُلك کې هر څه خوشې خوشې و.

زیاتو به د مشرۍ دعوه کوله، خو یو هم مشر نه، هر چا د مسلمان، مسلمان چیغې وهلې خو یو هم........ نه و هر چا به د ملك دعوه کوله،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو يو هم مالك نه و، دلته هر څه پيکه و، خو ورور وژنه خوره وه، وينې خورې وې لاشونه بنه خوړل کېدل او هډوکي بنه شپېلېدل.

ولې چې د ټوپك قانون حکم فرما و.

دلته هر څه تېر شول او لاتېرېږي، خو هېرېږي نه، دلته هرڅه هرڅه لا ژوندي دي داسې زر مړه کېږي نه، د ژونديو، ژوندۍ بېلګې پرتې دي، خاورې کېږي نه، دلته د وينو سوداګر زمونږ د کلي په مخ وستل کې اوښ چو کړی، وينه په بيه او په لوړه بيه اخلي. د وينو لپاره نغدې روپۍ ګرځوي په نغدو يې تباه کړو، دلته نسيه معاملې نه شته، دلته هرڅه لاس په لاس دي، سوداګرو مې ملك مړ او تاريخ خړ کړو، خو افسوس چې دلته د ټوپك قانون حکم فرما دی.

د ۱۳۷۳ل کال قوس مياشت

کابل- افغانستان، دربېم پروان

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زورور او کمزوری

کاکا! بیا دې څنګه شونډې وچې او وار دې خطا شانته دی. پکول دې هسې په غوږونو راکښته کړی دی، زموږ جومات ته په خیر راغلې. د څپلۍ وندوی دې هم شلېدلی، نه پوهېږم چې څه درپېښ شوي دي. اخ! اخ جامې دې ولې چڼ،چڼ او په وینو سرې دي، زر کوه وایه! زر، زر یې ووایه!

تاسې کره راکټ نښتی او که د همسایه په کاله کې. څوك خو به یې وژلي او یا ټپي کړي نه وي. نه، نه زویه بلا وه خو برکت یې نه و، زموږ ماشومان الحمدالله روغ رمټ دي او ګاونډیانو ته مو هم خیر و خیریت دی، هېڅ خبره نه شته.

زه به د جومات په چارچوبۍ کې اودس وکړم، په کوم ځای پورې مې چې وینه پورې شوې هغه به هم ومینځم، لمونځ به په جومات کې وکړو، شپه مې درسره ده. بیا به کرۍ شپه د نننۍ پېښې په اړوند خبرې کوو.

ولې کاکا ځان دې له وینو څخه پاك نه کړو؟

په چارچوبۍ کې اوبه نه وې که څنګه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه بچیه!

د جومات چارچوبۍ له وینو ډکه وه له وینو!!

د جومات د چارچوبۍ په لښتي کې ويني رواني وې. چارچوبۍ په وينو ککړه او لیت، پیت وه. زر کوه بچیه اوبه پیدا کړه چې لمونځ مې قضا کېږي. ملا هم په ممبر وعظ کوي.

مخکې شه کاکا په لومړي صف کې ښي لاس ته کېنه. نه بچیه د چا په اوږو نه شو تېرېدی، وروستی صف ښه دی. ولې پاڅېدې کاکا څه کوې او چېرته ځې؟؟

راځه بچیه چې له دې جومات څخه ووځو، لمونځ به په کوم بل جومات کې وکړو. ددې جومات د ملا له خولې څخه د فتنې بوی راځي. دا بې خبره ملا دی، په چارچوبۍ کې يې د اوبو پرځای ويني بهېږي وينې!!

د انسان وينې او بیا په انسانانو کې د مسلمان وينې او په مسلمانانو کې بیا د افغانانو وينې.

زویه!

دې ملا د خدای احکام نه بیانول، دده زړه لاتراوسه په افغانانو سوړ نه دی. دا لااوس هم افغانانو خپل منځي جګړو ته په ډېر قیل و قال هڅوي.

ده ته هر څه کفر، کفر دي. دا لااوس هم به ممبر باندې د قتلولو امر صادروي، دا لااوس هم د شهید او غازي په غم کې دی. دا لانورې کینې هم راپاروي. دا لااوس هم د شمر او یزید په صفتونو بوخت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بچيه!

هغه د برګ جمپر بډوهلی او د اوږدې ږيرې خاوند څوك دی؟

کاکا!

هغه زما په خيال چې زموږ د منطقې قوماندان دی.

ورپسې څوك روان دي او په اوږو يې څه بار دي؟؟

کاکا! ورپسې يې بريخي دي، د خلکو سامانونه يې په شاه کړي دي. راکټ لنچرې او ماشينونه ورسره دي. غلا يې کړې غلا!!

په دې لار نه ځو بچيه! له دې خلکو نه به لار بچ کړو. په دې ښي لاس راوګرځه. اخ، اخ هغه د کوم کمبخت کور اور واخيست، په دې ښکلي کور خو ډېر بدرنګ اور لګېدلی دی. زوی مړې راکټ خو په سرګلوله کې اور راوړی اور!!

هله زويه هغه قوماندان ته ورنارې کړه د جومات د امام پسې ورمنډه کړه چې ددې مسلمان کور د سوځېدو نه وربچ کړو.

قوماندان صيب!

قوماندان صيب!

هله چې ددې مسلمان کور اور اخيستی او په راکټ لګېدلی، کومك او مرسته وکړئ.

هله ملا صيب چې د نږدې مقتديانو کور اور واخيست اور.

مرسته!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



د قوماندان د شا پېټي کښېنته نه شو او ر يې په خپلو سترګو ليده او په ډېره بې پروايۍ يې وويل چې: په کابل کې د ورځې دوه زره کورونه اور اخلي، زه خو يې د اور وژلو ګنهکار نه يم. ملا هم له جومات ځخه ونه ووت، هسې يې خپله غاړه صافوله او له جومات نه يې نارې وهلې چې بل راکټ هم راځي بل. څه فرق کوي راکټ د ګنهکار او کافر په کور کې لګېدلی دی دا کور بايد وسوځي.

بچيه!

زما په سترګو ښه نه ښکاري، هغه خلکو څه را اخيستي ځنګهه په ډېره چابکۍ روان دي؟

اخ! کاکا هغه خو د ځلورو پنځو تنو جنازې دي، ګومان کوم چې هديرې ته يې د ښخولو لپاره وړي، دا ځلور پنځه جنازې لکه چې د يوه کاله دي. لاره په وينو تکه سره ده، د هرې جنازې نه د لښتي په څېر وينې بهېږي وينې!!

زر کوه بچيه دېواله ته کېنه دېواله ته!! بل راکټ راغی.

اخ راکټ ډېر نږدې ولګېده. بيا به يې د چا خونه ورانه کړي وي، ته دې سر له دېواله نه پورته کړه چې توغندی په کوم ځای کې ونښته.

کاکا!

زما په خيال چې توغندی په جومات کې ولګېده، هغه د جومات نه لمبه پورته شوه. جومات بې ګناه شهيد شو. توغندی که د چا په کور کې ننښلي، هغوی خو ګنهکار دي، جومات خو ګهنکار نه دی. جومات خو د ګناه نه پاك صاف دی. دا توغندي څومره بې حيا دي، توغندي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځومره ړانده دي. د ګنهکارو او بې ګناوو کورونه نه پېژني دا توغندي ان د خدای(ج) کورونه ولي او لوخړه کوي يې.

کاکا!

هغه ورېږ ډزې دې واورېدې، ته راشه چې هلته خلك غالمغال لري، ګڼه ګوڼه زياته شوه چې هلته څه پېښه وشوه. وګوره د هغه سپين ږيري په غاړه يې پړې اچولی او راکاږي يې. دې سپين ږيري به څه خطا کړې وي. دا خلك يې ټول ننداره کوي او هېڅوك څه نه وايي، د هېچا له خولې سونګ نه خېږي، دا څومره بې رحمه او کاپر خلك دي، سپين ږيری بېچاره يې په کندغونو شين واړاوه.

ورونو څه خبره ده!

مه يې وهئ خبره مو په خبره حل کړئ.

((برو، برو برادر بتو چی تو سر پياز کون پياز)) دا سپين ږيری مجرم دی مجرم!! جيب ته يې وخېژوئ، تالاشي يې کړئ، جيبونه يې ولټوئ، وه ورور جانه ددې غريب په جيب کې به څه وي؟

ددې غريب په جيب کې به راپورونه وي راپورونه!!

حزب اسلامي ته يې وړي، حزب اسلامي ته!!

دده يوه پښه په چار اسياب کې ده او بله دلته. دې سپين ږيري پسې موږ شپه او ورځ لالهنده ګرځو. د سپين ږيري له جيب نه يې په تالاشی کې دوه لکه کلدارې وويستې. سپين ږيری او موږ په ځای پاتې شو، ورونه جيپ ته وختل او وتښتېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې غلو او سرې تښتونکو سپين ږيرى له پخوا نه تعقيب کړى و. کله چې خپلې افغانۍ په کلدارو بدلې کړې وې، دى مجرم و. کله چې کلدارې ورونو د ټوپک په زور واخيستې بيا نو سپين ږيرى له زندان څخه خلاص او د حزب اسلامي د راپورونو په هکله بري الذمه شو.

کاکا!

دا پېښنه مو هم وليده، ناوخته شو ځه مخکې شه چې کور ته لاړ شو، د خپلې پېښې په اړوند هم کيسه وکړه.

بچيه!

زما پېښنه هم دې اخرنۍ پېښې ته کټ مټ ورته وه. له ما سره يو څو کلچې روسي صابون په کڅوړه کې پروت و. پياده د کور پر لور روان وم چې د ډاټسن موټر څخه راباندې په سم بازار کې ډزې وشوې. جامې يې راباندې چڼې، چڼ کړې بعضې ځايونه يې راباندې هم وګرول، د روسي صابون کڅوړه يې رانه په زور د افغانيو په تير کې وتښتوله. دادي زموږ ورځنۍ پېښې او حوادث.

دادي زموږ وګړي.

دادى زموږ امنيت.

دادي زموږ حقوق او د هغوى وجايب.

د ۱۳۷۳ل کال قوس مياشت

کابل- افغانستان، دريم پروان

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اوس څوك د يوث ((دووس)) شو

وزیر صیب نوی په یوه وزارت خانه کې د وخت د امیر په فرمان مقرر شوی و. دده پاتې شونو او بالل بچ لاد مهاجرت په هېواد کې شپې ورځې سبا کولې.

نوي وزیر صیب باید نوې نوې خبرې کړی وای. د وزیر صیب اولنۍ خبرې ډېرې ښې پیل شوې، وزیر صیب خپلې خبرې د قران شریف د څو ایاتونو په لوستلو پیل کړې. خو خبرې چې څومره زیاتېدې او اوږدېدې، هغومره پیکه او بدرنګه کېدې. د وزیر صیب اخرنۍ خبرې ډېرې پیکه او خوشې وې. ادبي فرهنګ ماته اجازه نه راکوي چې هغسې پیکه او خوشې خبرې د کاغذ پرمخ راولم.

د وزارت په تالار کې ټول ماموران ناست وو. مامورانو د وزیر صیب خبرو ته ښه په زور او زېر غوږ ایښی و. په هر یو مامور باندې له ډېره وهمه خولې راماتې وې. په خبرو کې د وزیر صیب سوال چا نه شو ستنولی. وزیر صیب په خپلو خبرو کې هم سوال کاوه او هم یې په خپله ځواب ورکاوه. ښځینه مامورینو به له ډېره شرمه سرونه ځوړند نیولي وو. له شرمه به یې سترګې نه شوې پورته کولای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د وزارت په تالار کې يوه لويه چوپه چوپتيا او خاموشي وه، د هېچا له خولې نه کوم احساساتي شعار نه ووت، د لاسونو چك چك او پړقول خپل ځای غاړو صافولو ته پرېښی و. پوس بوس او ټوخ، ټوخ نه اورېدل کېده. وزير صيب چې کله په احساساتو راغی، نو د تالار د اول صف يو مامور يې له ځايه د لاس په اشاره پاڅاوه او ورته ويې ويل:

ته، تاته يې وايم! مامور صيب؟!

((ديوث)) (دووس) تعريف کړه.

مامور د ((دووس)) ((ديوث)) د تعريف په هکله هغه دغه وويل. خو ځواب يې د وزير صيب د قناعت وړ نه و او د سر په اشاره يې مامور ته د کېناستو اجازه ورکړه.

وزير صيب خپله پرانستې خوله نوره هم پرانسته او ويې ويأ:

ديوث هغه چاته ويل کېږي چې سهار شي ښځه يې يو دفتر ته کار لپاره روانه وي او مېړه يې بل کوم وزارت خانې ته د ماموريت لپاره. خويندې په فاکولتو او ماشومان يې په کودکستانونو کې وي. کری ورځ نه ښځه له مېړه څخه خبره وي او نه مېړه له خپلې ښځې څخه، ماشوما ن له ميندو څخه خبر نه وي او ورونه له خويندو څخه. د وزير صيب په اخره جمله باندې په تالار کې د مامورانو ګونګسی او پوس پوسی پيدا شو او د تالار د اخر صف د يوې کورسۍ نه يوې مېرمنې په ډېر ادب سره خپل لاس پورته کړ او له وزير صيب نه يې په ډېره سړه سينه د يوې خبرې اجازه واخيسته او وزير صيب ته يې وويل:

وزير صيب!

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه مامور صیب نه چې تاسې د دووس ((دیوث)) په هکله پوښتنه وکړه سم ځواب یې در نه کړی شو او تا چې دیوث... په هکله کومې خبرې اترې وکړې دا هم سمې نه وې دیوث... ته تاسې دواړو درست ځواب پیدا نه کړی شو، که ستا اجازه وي دووس ((دیوث)) ته به زه ځواب پیداکړم. وزیر صیب وویل مهرباني.

مېرمن غږ کړل او د لاس په اشاره یې وزیر صیب ته ګوته ونیوله چې ((دیوث)) هغه چاته ویل کېږي، چې مېرمن یې دلته زموږ وزیر وي، ښځینه او ماشومان یې د جنګ له وېرې د هجرت په هېواد کې او خویندې او لوڼې د ډېرو پیسو په بدل کې عربي شیخانو او د سوډان تور پوستو ځناورو او روسي کنډك مشرانو ته ورکړي وي. په دې خبره د تالار سکوت مات شو. نو ماته ثابته شوه چې د ډېرو چوپو تالارونو سکوتونه مېرمنې ماتولی شي او ډېر ناممکن کارونه ممکن کولای شي.

کابل- افغانستان

د وزارت خانې له تالار څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# يو بازار او دوه نرخه

د اوربند ورځ وه. جګړه لږ څه سړه غونډې وه. سودا پسې له کوره خودساخت بازار ته ووتم.

خودساخت بازار په دې معنا چې زموږ د ښار اصلي بازار له اور څخه وتی و. د هغه ښکلي بازار ځو پوړيزې ودانۍ د خاورو په تشو ډېريو بدلې شوې وې. زموږ د ښار خلکو د خپل روزګار د چلولو لپاره د سړك په غاړه څنډو، د ودانيو ترڅنګه او ان په پارکونو کې کانتينرونه د لرګو او څادرو غرفې جوړې کړې وې. د ختو په کنډو کې سماوارونه جوش او په عنعنوي توګه د پسونو له غوښو څخه چاينکي جوړېدې، خو هغه د غړو او ګنګړو غږونه د هوټل د شاګردانو نارې د بجلۍ د ګروپونو رنګارنګ منظرې د چوپان د کبابونو بويونه د اوبو د سقاو منډې تررې نه وې. په خودساخت بازار کې هر څه ساړه و، نه سرې قالينې په سترګو کېدې او نه شنه او ښکلي مخملي ټوکران. د خودساخت بازار ماحول د غلا مالونو او جنسونو نيولی و. دې بازار ته جنسونه به غلو په غلا راوړل او په ټيټه بيه به يې خرڅول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دبازار هټۍ لرونکو به په يو جنس دوه نومونه او دوه بيې ايښودې. د لرګو دوکان ته ودرېدم. لرګي مې د تنور او نغري لپاره اخيستل. دوکاندار نه مې تپوس وکړ چې:

کاکا!

لرګي من په څو خرڅوې!

دوکاندار راته وويل: کوم لرګي؟

ما دوکاندار ته وويل چې:

کاکا!

لرګي خو يو لرګي وي چې خلك يې د سونګ لپاره اخلي. دوکاندار له خندا نه تك شين واوښت او راته يې وويل:

بچيه!

موږ دوه قسمه لرګي خرڅوو. يو قسم يې جهادي او بل قسم يې عادي.

کاکا!

تاسې ولې په يو لرګي دوه نومونه او دوه نرخه ږدئ؟

دوکاندار راته وويل:

((يو د غلا لرګي دي چې مجاهدينو د خلکو کورونه نړولي او په موږ يې په زور او جبر خرڅوي. نو دا لرګي د جهادي لرګو په نوم يادېږي. د دوی بيه نسبت عادي لرګو ته کښته ده ولې چې موږ ته ارزانه پرېوځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او بل عادي لرګي دي چې موږ يې په بازار کې په لوړه بيه اخلو او په لوړ قيمت يې خرڅوو.))

**بچيه!**

((زه يوازې په دې غم ککړ نه يم په دې بازار کې چې څه ګورې هغه نيم په نيمه د غلا او د چور مال دی، دوکانداران يې له وېرې د غلو څخه په بيه رانيسي. کوم دوکاندار چې د غلا مال وانخلي، هغه ډبول خوري، دلته د ډېرو دوکاندارانو ککرۍ ماتې شوې دي او غاښونه يې په وهلو وتلي دي.)) د دوکاندار غريب فرياد نه خلاصېده د خپلې پېشې نه ډېر سترې معلومېده.

له دغې ورځې نه وروسته زه د بازار د جنسونو په رمز پوه شوم چې رښتيا زموږ په خود ساخت بازار کې د احتياج ټول شيزونه د سيمټو سيخ او ګول څخه نيولې تر طبي دواګانو پورې او د اوړو څخه نيولې تر سونډو او سپېرکو پورې يو جنس دوه نومونه او جلا جلا بيې لري. يو بازار دوه نرخه، يو جنس دوه نومونه او دوه نومونه دوه قيمته لري.

د قوس مياشت ۱۳۷۳ بل کال

کابل- افغانستان، دربيم پروان

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درې فقره ییز اساسي قانون

د ملك لپـاره اساسي قـانون جوړېده په اساسي قـانون کې مې دریـو اساسي ټکو ته پام شو، د هغه قانون درې اساسي ټکي دا وو.
۱- د حکومـت د چـارو واګـي بـه هغـه څوك مـخ تـه بیـایي چې حنیفـي مذهبه وي.
۲- ښځې به تر شپږم جوماته پورې لوست او لیـك کـوي، د متوسطو او لوړو تعلیماتو حقوق یې سلب دي.
۳- ښځې په افغاني ټولنه کې نه ځان انتخـابولی شي او نـه خپلـه رایـه چاتـه ورکـولای شـي. ښـځې بایـد د څلـورو دیوالونـو پـه مـنځ کـې خپـل اولادونه تربیه کاندي او بس.
نه پوهېږم چې دا درې ټکي اساسي قانون، قانون پوهانو تصویب کړ او که تصویب کړی وي، نو قانون پوهانو به زړه نا وړه تصویب کړی وي او که نه وي تصویب شوی په اساسي قانون کې دې ملاشاهان غـور وکـړي او قانون پوهان دې خپل مخونـه د ملك راتلـونکي تـاریخ تـه نـه تـوروي. خو زما په خیال د دوی اساسي قانون تصویب همغسې د انترکانټیننټل هوټل د تالار په مېزخانو کې پاتې شو.
ددې درې فقـره ییـزه اساسـي قـانون د تصـویب لپـاره د مملکـت د درویشتو ولایتونو څخه نه پوهېږم چې څو تنـه د سپینو پټکیـو او تـورو ږیـرو خاونـدان دعـوت شـوي وو. دا ټـول پـه یـوه لاره روان نـه وو. د دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



لارې بېلې بېلې وې په سني او شيعه يې اختلاف و، په پښتون او پارسيوان به يې جګړه وه، په شمال او جنوب به يې ډزې وې. په شرق او غرب يې بحث و. شپې ورځې به يې په هوټل کې په توره برېښ تېرولې. د دوی مشري به دوو رهبرانو کوله هغه رهبرانو چې په انسانانو کې د انسان او په مسلمانانو کې د افغان حقوق يې نه پېژندل. هغوی فقط غلامي، ورور وژنه، پيسې، قصرونه، د ورځې د ماډل ګاډي، د بې اتفاقۍ د تخم پاشل چورچپاول او غنيمت يې ښه پېژندل، هغوی په هر څه سترګې پټولې، هېڅ ته يې حق نه ورکاوه، د خلکو حق يې په داسې وخت کې غلا کاوه چې ورځ وه شپه نه وه شپه تېءه شوې وه، هر څوك په ښو او بدو ښه پوهېدل. دوی ټول خلکو په غلا وليدل مګر ځانونه يې غله نه شمېرل، د خلکو په سترګو کې خاورې شيندلې، مګر د خلکو سترګې يې په خاورو نه شوې ړندولای، دوی خپلې سترګې ړندولې. زموږ د ملك ټولو خلکو به دوی ته غله ويل، مګر دوی په غلا نه شرمېدل او غلا ته به يې د غنيمت نوم ورکاوه. زموږ د هېواد ټولو خلکو به دوی ته قطاع الطريق ويل، مګر دوی به په پاټك افتخار کاوه او هغه ته به يې د محصول نوم بانبه.

زموږ د ملك ټولو خلکو به دوی ته ورانکاران ويل، مګر دوی به په خپله ورانکارۍ سرلوړي کوله او ويل به يې چې په بتخانه مسجد نه اباد پرې.

زموږ د هېواد ټولو خلکو به دوی ته سړي وژونکي ويل، مګر دوی به پرې وياړ کاوه او ويل به يې چې کفار وژنو او اسلام تطبيقوو.

زموږ د ملك وګړو به دوی ته سړي تښتونکي ويل، مګر دوی به پرې موسېدل او ويل به يې چې موږ هم دومره زورور يو چې سړی تښتولی

(c) ketabton.com: The Digital Library



شو او د هغه شتمني موږ بې له کوم زحمت څخه په خپلو جيبونو کې اچولای شو.

هوکې! د درې فقره ييز اساسي قانون جوړونکي ملاشاهان خپلو اجرائتونو ته د کمپيوټر په عصر کې څومره خوشاله و. دوی خپل ځانونه ښاغلي او وياړلي ګڼل، دوی به داسې فکر کاوه چې زموږ اعمالو ته هېڅوک ګوته نه شي نيولای، هغه چا چې زموږ اعمالو ته ګوتې نيولي هغه مو د ناپوهو او شډلو کسانو په ډغرو کې مات کړل. هغوی واقعاً په ډغره کې مات شول، هغوی اوس نه شته، هر څه يې تاسې ته پرېښودل اساسي قانون يې هم تاسې ته پرېښود. خو د هغوی په اساسي قانون کې فقرې درې نه وې، د هغه فقرې ډېرې وې، د هغوی سره د نر ښځې تعصب نه و موجود، هغوی شيعه او سني ته په يوه سترګه کتل، د انسان عالي مقام ته يې د احترام ځای پرېښی و، د شرق، غرب، شمال او جنوب خبرې ورسره نه وې، د تاجك او پښتون مسئله حل وه.

هوکې! درې فقره ييز اساسي قانون څومره په تنګ نظر او محدود چوکاټ کې جوړېده، دې اساسي قانون هېڅاته هېڅ نه شول ورکولای، د يو څو محدودو کسانو عمر يې اوږداوه، دا خو ورځ ده څه شپه خو نه ده په ورځ کې اوس هر سړی خپله لار ليدلای شي اوس څوك ځان په کندو کې نه غورځوي، د کندو د غورځېدو شپې اوس تېرې شوې دي. اوس هغه څوك به په کندو کې لوېږي چې بل ته کندې کني.

هوکې! درې فقره ييز تنګ نظر اساسي قانون څومره ضيق او په محدود چوکاټ کې پرې بحث کېده، به هغه درې فقره ييز اساسي قانون باندې شپې شپې بحث وشو، مګر د انټرکانټيننټل د هوټل د لوړې ودانۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښخه راکښته نه شو. دا اساسي قانون همغلته درې کاله ځوړند پاتې شو، د هغه اساسي قانون هېڅ زړه نه کېږي چې د هوټل د غونډۍ ښخه کښته شي او د کابل ښار په ورانو جادو او کنډواله کورونو کې د یو ځل لپاره د خدای په پار چکر ووهي او خپلو خلکو ته ځان وروپېژني او ووايي چې: ((ای د کابل او د هېواد خلکو زه ستاسې اساسي قانون یم، ستاسې حقوق به زه په خپله لمن کې ونغاړم.)) دا بېچاره اساسي قانون دومره نیمګړی و چې هغه د ډېره شرمه خپلې سترګې کښته اچولې وې او خپل ولس ته یې د هوټل د غونډۍ ښخه په جګه ناره ورغږ کړ:

ای ولسه!

((ما نه هېڅ مه غواړئ، زه تاسې ته هېڅ شی نه سم درکولای، له ما سره هېڅ نه شته، زه دومره نیمګړی او ناتکمیل یم چې له شرمه تاسې ته کتلای نه شم، زه به ددې هوټل د لوړې غونډۍ ښخه هېڅکله کښته نه شم. تر څو چې ټوپک وي، زه نه یم! د اوس لپاره ستاسې قانون ټوپک دی، ستاسې ټولې خبرې اوس د ټوپك په شپېلۍ حل کېږي.))

ای د کابل او هېواد خلکو!

((پرېږدئ چې په تاسو کې د ټوپك قانون حکمفرما وي په ما درې فقره ییز اساسي قانون باندې ستاسې د کلونو کلونو تنده نه ماتېږي.))

د جدي میاشت ۱۳۷۳ل کال

کابل- افغانستان، درېیم پروان

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مرکه

پخوا زموږ ادارو کې د ادارو مشرانو او نورو به ورته کمېسیون ویل خو اوس ورته کمېشن وایي. زموږ اوسنیو شیخانو دا کلیمه د پاکستان څخه د ځان سره کابل ته راوړې، د دریو کلونو څخه را په دې خوا او خاصتاً د ملا شاهۍ په اول یو نیم کلونو کې چې به کوم خبرلوڅي د یو چا سره مطبوعاتي مرکه کوله، نو هغه به طبعاً مسول سړی و.

مرکه به په دې ټکو پیل شوه:

پوښتنه: د کابل- جلال اباد لاره د ترافیکو پرمخ بنده ده، په دې هکله حکومت څه تدابیر نیولي؟

ځواب: موږ هم خبر شوي یو چې د کابل- جلال اباد لاره د ترافیکو پرمخ تړلې ده، د لارې د خلاصولو لپاره مو یو کمېشن ټاکلی.

بله پوښتنه: په نوې کارته کې د اسلامي حزب او اسلامي جمعیت ترمنځ د درندو توپونو سخته جګړه روانه ده، په درجنو بې ګناه خلک مړه، کورونه یې وران او لوټ شول، په دې هکله څه تجویز لرئ؟

ځواب: دې جګړې لپاره د مختلفو تنظیمونو څخه د سولې کمېشن موظف شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



درېیمه پوښتنه: بانکي نوټونه نه شته، د درېو میاشتو راپه د پخوا مامورینو خپلې تنخواګانې نه دي اخیستي، په دې هکله ستاسې اجرات څه دي؟

ځواب: بلې مونږ خبر شوي یو خو د ستونزې د حل لپاره د مختلفو تنظیمونو څخه مو یو کمېشن ټاکلی دی، مامورین دې د اوس لپاره د خپلو شتمنیو څخه استفاده وکړي.

څلورمه پوښتنه: په خوشال خان مېنه کې د اسلامي وحدت او د اسلامي اتحاد د تنظیمونو ترمنځ د درنو توپونو ډزې روانې دي، ستاسې نظر ددغې جګړې په هکله څه دی؟

ځواب: ددغې جګړې په هکله کوم خاص نظر نه لرو هلته حایل طاقتونه پراته دي. کمېشن هم ورسره په جګړه کې مصروف دی.

پنځمه پوښتنه: په کابل ښار کې به دایمي اوربند کله نافذ شي؟

ځواب: ته د کمونستانو په څېر پوښتنې کوې، دا پته ماته نه شته، دده معلومات خدای پاك ته دي.

شپږمه پوښتنه: په سلو کې اویا برخې د کابل ښار د تنظیمي جنګ جګړو له امله په خرابه بدل شوي دي، د بېرته ابادولو په هکله ستاسې نظر څه دی؟

ځواب: خیر دی د کابل ښار د راکړای شوي پلان سره سم ونړېده او په خرابه بدل شو، دا ښار به ډېر ژر جوړ شي او د کابل د خلکو د سهولت لپاره باید ووایم چې مهاجرو ته په جوماتونو او مکتبونو کې ځایونه ورکړی شوي دي. له کومې ورځې نه چې مونږ په تخت خېته اچولې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاج مو په سر کړی دی، د کابل خلکو بيا راڅخه د برېښنا پرق ونه ليده، د خلکو د سهولتونو لپاره چې څه ملي بسونه وو هغه مو ورته تاراج کړل، د صحي اوبو نلونه د وخت حکومتونو د ځمکې لاندې ډېر ژر ځغلولي دي، ډېر ځايونه مو ورپسې وسپړل، زموږ د وخت زياته برخه همدا سپړنه نيسي، د تلېفون د مزو او برېښنا د مزو د شلولو لپاره کمېشن ته مو وظيفه ورکړې ده.

اوومه پوښتنه: درنو وسلو د غونډولو لپاره کوم اجرائت په نظر کې نيول شوي دي؟

ځواب: بلې د درنو وسلو د غونډولو لپاره کمېشن موظف شوی دی چې د مسلح غير مسول ګروپونو څخه درنې وسلې ټولې کړي او که چېرې غير مسول مسلح ګروپونو څخه درنې وسلې راغونډې نه شوې، نو تعهد به ترېنه واخيستل شي چې بيا به پرې ډزې نه کوي.

اتمه پوښتنه: په اوسني وخت کې ستاسې په هېواد کې پوځ نه شته، څه خيال لرئ چې کوم قسم پوځ به جوړ کړئ؟

ځواب: د پخواني پوځ درې ورې کولو افتخار خو خدای پاك موږ ته په نصيب کړو او موږ پرې ډېر وياړو، د نوي پوځ د جوړولو لپاره کمېشن موظف شوی دی، يا ملي اسلامي نه خير اسلامي وبښئ، ملي پوځ به جوړ کاندي.

نهمه پوښتنه: قاضي صيب حسين احمد، مولانا فضل الرحمن، جنرال حميد ګل او د شهيد جنرال ضياالحق زوی اعجاز الحق هر يو په خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوبت تاسې سره د جنګ بندۍ په هکله هلې ځلې کړي دي، د دوی د سفرونو په هکله څه نظر لرئ؟

ځواب: د دوی سفرونه ډېر ښه و مثبت اړخونه يې ډېر لرل، په جنګ بندۍ او په جنګ اچولو کې د دوی اثر او رسوخ ډېر دی کله ناکله موږ ته موقتي سوله راوستی شي او کله ناکله موږ په جنګ اچولی شي.

لسمه پوښتنه: موږ له عوامو څخه اورو چې په کابل ښار کې مسلح ګروپونه په رڼا ورځ داړې اچوي، ددې مسلحو ګروپونو په هکله ستاسې نظر څه دی؟

ځواب: بلې پرون يې له موږ څخه هم يو ګاډی او يو څه ډالر په زور اخيستي، د دوی د نابودۍ لپاره موظف کمېشن ته لارښوونه شوې ده.

څه سر به دې خوږوم پوښتنې ډېرې وشوې ځوابونه يې هغه او دغه و. جرګو او مرکو هېڅ سر ونه نيو، جنګ جګړو هر څه په کنډواله بدل کړل، جنګونو زموږ پېغلې کونډې کړې، ميندې بورې کړې، ماشومان يې رايتيمان کړل، جوماتونه يې راشهيدان کړل. بې ځايه سر ټمبګيو زموږ هر څه او هر څه بې ارزښته او بې معنا کړل او تاريخي افتخارات يې د پوزکي په څېر رانچه کړل موږ او زموږ ملك په يو ختم کې ختم شو.

۱۳۷۳ل کال

کابل- افغانستان، درېيم پروان

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د شاعر واك

نه پوهېږم چې اديبان، ليکوالان او شاعران چا رابللي وو؟ دوی د نابللو مېلمنو په څېر ناست وو، خدای مې دې غاړه نه بندوي چې د پښتنو او بلوڅو ورځ نمانځل کېده او که بله کومه تاريخي ورځ وه، خو په تالار کې يو څو شاتورې کرسۍ پرتې وې، د کومې موسسې څخه سوالي مايکروفون راوړل شوی و، د تالار کړکۍ ماتې او ټوټه ټوټه وې، د شيشو پرځای پلاستيکونه مېخ شوي وو، د بعضې کړکيو پلاستيکونه، دوه درې ځايه څيرې و او باد به ورنه تېرو بېر ووت د تالار قنديلونه په ښه زور او شور نړول شوي وو، فرش مرش په کې درك نه لاره، د تالار هغه پخوانی برم او دبدبه اوپو وړې وه، په دې تالار کې ډېرو غلو لاس ګرځولی و. تالار ته يې داسې څه نه و پرېښې چې هغه دې پرې ونازېږي او وويارې. لنډه دا چې د مشاعرې د تالار غونې زيږ برېښېدل او داسې معلومېده چې اديبان ګوندې په زور دعوت شوي دي، يو نيم شاعر لا په تالار کې د کاغذ پرمخ نيمګړی شعر تکميلاوه، مشاعره شروع شوه بې مقدمې او بې له کومې خبرې په تريو تندي د شاعر نه دعوت وشو چې خپل شعر ولولي.

شاعر چې کله په لومړي بيت خوله پرانيسته په نرمه او پسته ژبه، په نيولي اواز د خپلو عواطفو بيان يې د شعر په ژبه چې له ماڅخه يې اوس مطلع هېره شوې خو د اول بيت مطلب يې دا و چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې کنډواله او باروتي وطن کې د نوي کال په لومړۍ ورځ اسمان له بره ژړل ما د خپلو اولادونو سره په هغه کنډواله کور کې ژړل چې زه په کې زېږېدلی وم د اسمان ژړا او زما د اوښکو باران زما د وطن د باروتو اور نه شو مړ کولای. د شعر په مقطع کې ناستو څو خلکو خپل لاسونه وپړکول، څو نورو د تکبیر نعره پورته کړه. څلورو پنځو لا د مرحبا ، مرحبا چیغې ووهلې، په دې کې یو شمېر د تالار ناست خلك هك پك او حیران پاتې شو چې مور د شاعر خپل شعر په ډېره سختۍ ولوست په شاعر خولې راماتې وې، شاعر د مایکرافون له ګویا څخه ماات زړه خپلې شاتورې کرسۍ ته راستون شو. شعر ډېر ښکلی و، څو ناستو خلکو د یو بل سره په زړه کې ګونډې لاره. د تالار اکثرو ناستو خلکو خپل پښتانه او بلوڅ وروڼه نه پېژندل پښتانه او بلوڅ یې د جهاد په دوران کې په دښمنۍ تورنول.

د مشاعرې تالار د یو څو دقیقو لپاره سکوت اختیار کړ، مخکې له دې څخه چې بل شاعر د مایکروفون مخ ته ورشي، د تالار د ناستو خلکو له جملې څخه یو تن مایکروفون ته لاس کړ او ویې ویل چې شعر باید په نعره تکبیر سره بدرقه شي. یو بل تن د مرحبا ، مرحبا په بدرقه ټینګار کاوه. کوم یو به لا ویل جزاك الله ب افضل تر وی! یو تن هم لا د مشاعرې پرخلاف وینا کوله او ویل یې چې په اسلام کې شعر، شاعري او سندرې ځای نه لري. دا هسې الحادي رسمونه دي. دې رسمونو نه لا اوس هم مونږ خلاص نه شو.

په یو سوري سوري او رنګ تالار کې د لاسونو د پړقولو په سر د مشاعرې ناست خلك درې څلور ټوټې شول، یوې ډلې د بل نظر نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تائيدو مشاعره ډېره پيکه پايته ورسېده. نو د محترمو لوستونکو پام ځو پوښتنو ته راګرځوم.

په يو مملکت کې چې د شعر د بدرقې واك محدود شي، نو د هغه ملك د شاعر واك او اختيار به څنګه وي؟

په يو ملك کې چې خپل ورور په دښمنۍ تورن شي، نو په شاعر به کوم تور پورې شي!

په يو ملك کې چې انسان نه پېژندل کېږي او د انسان مقام ته درناوی نه وي، نو د شاعر عواطف به څه وپېژندل شي؟

د يو ملك چې د مشاعرې تالار سوری سوری وي، سوالي مايکروفون او شاتورې کرسۍ په تالار کې پرتې وي د هغه ملك ښوونځی، کتابتون، پوهنتون او روغتون به څنګه وي؟

که د يو ملك خلك د يو شاعر په عاطفي مطلع په درې، څلورو برخو ووېشل شي د هغه ملك خلك به په نورو تجويزونو او تصميمونو په څو برخو ووېشل شي؟

په يو ملك کې چې د شاعر عواطف د پښو لاندې شي او په خوله ورته مهر ووهل شي، د هغه ملك د عادي وګړو حقوق به څنګه وي.

کابل- افغانستان ۱۳۷۳ل کال

د مشاعرې له تالار څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ښکلي دوه ځل مري

زموږ په ښارګوټي غدۍ راغلې وه د غدۍ سره سمه د جګړې سيلۍ الوتې وه، سيلۍ ورځ پر ورځ زور اخيسته بالاخره د سيلۍ نه طوفان جوړ شو، خو د جګړې طوفان او زموږ ښکلی ښارګوټی يې په خپله ناپاکه لمن کې ونغښت، طوفان، طوفان و خو ډېر سخت ناولې طوفان، په دې کرکجن طوفاني وخت کې ټولو خوښيو غمونو ته ځای پرېښی و. د عدالت پرځای کاملاً بې عدالتي حکمفرما وه، اباد ېدو ټول خپل وخت ورانيو ته ښنلی و، د عالم په کرسۍ جاهل او ناپوه ناست و، د سولې او سلم نه وسله جنګ جګړې اخيستې وه، د ملا نه ممبر شيطان په قبضه کړی و، د معلم او شاګرد په ښوونځي قوماندان او د هغه برېخو خېټه اچولې وه، د کاريګرو په فابريکو باندې په ګاونډيو ملکونو کې تودې سوداګانې روانې وې، په ډېره بيړه او چالاکۍ ددې ملك پوځي ماشينري اره کېدی او خرڅېدې، د ښکلو نه ښايست نقاب تر ګوتو کړی و. په ميکدو کې د رندانو پرځای ديوان ناست و، د که قاف د ښاپېرو ښکلا د بنګال د وبيانو وينځله او د پنجاب د جادوګرو منترونو په وجه چې د جګړې له سيلۍ نه طوفان جوړ شو. طوفان

(c) ketabton.com: The Digital Library



طوفـان و خـو ډېـر نـاولی طوفـان پـه دغـه طوفـاني وخـت کـې زمـوږ پـه ښارګوټي کې هر څه ساړه و او د زړونـو زور مـخ پـه اوبـه کېـدو و. ددې ښارګوټي د ټولو اوسېدونکو په مخ یوه لوپښـت خـاوره پرتـه وه، د ډېـرو خلکـو شـونډو پتـري نیـولي وو، ډېـرې پېغلـې سـیاه پوشـې او خپلـې (راتلونکي) ته اند ېښمني وې، خو زموږ په چم ګاونډ کـې ددغـه طوفـان سره سره یوې جدرې پېغلې تـور نـه اغوسـتل د نقـاب سـره یـې شـوق نـه درلوده، هغه به همېشه او په خلاصه تنې سپین پوړنی په سراوه. دده لـه سـپین پـوړني څخـه د هندوسـتان د تـاج محـل د مغـل شـاهانو اروپـایي ښاپېریو وربېښمین ساریګان جارېدل. ددې البته تـور نـه خوښـېدل هغـې په همېش سپین اغوستل، هغـه پـه خپلـه هـم سپینه وه، د هغـې زړه هـم سپین و، د هغې خبره هم سپینه وه، هغې به سپیني سپیني ویلې، هغـه به په سپینه وینا ټولو خوښوله، د هغـې اپارتمـان پـه څلورم پـوړ کـې هـم سپین و، د هغه سپینوالي تور نه شو زغملی، تورو ټوپکوالاوو به هغه د تل لپاره اذیتوله او تعقیبولـه بـه یـې. د هغـه پسـې بـه تـل زړي پـروت و، تورو به په تورتتم کې سپین تروروُل او تښتول به یې اختطـاف یـې پېښـه وه او اختناق ورته په ارث رسېدلی و. زموږ د ښار د خلکو بې عزتـۍ او بې پتۍ ته بډوهلي ناست و د طوفانونو پر یو ماښام کې تـورو پـه تـورتم کې د هغه چا په کور حمله وکړه چې د هغه هر څه سـپین و هغـه د تـورو تور داغ پرځان پرېښنود، سپیني د تورو د تاراج په مهال د څلورم پوړ نـه په درینګه او توره ځمکـه ځـان ګـوزار کـړ او خپـل پت او عـزت یـې د تـل لپاره وساته، سپیني خپل پت تورو ته په لاس ورنکړ، هغـه مـړه شـوه خـو ښکلو ته یې ښـه لاره وښـوده، د ښـکلو او سپینو لارې څومره ښـکلې او سپینې دي. په دغه پېښه زموږ د ښار خلك ډېـر ستومانه شول، پـه دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ظلم باندې زموږ د ښار خلکو احتجاج وکړ، سپینه یې په سپینه جنازه کې د احتجاج په ډول د وخت زمامدار ته وړه چې د هغه د بېړیځو زور او ظلم زمامدار ته وښایي او زمامدار پرې پوه کاندي چې د سپاهیانو او ساتونکو زور ظلم نور دې حد ته رسېدلی، د زمامدار د ماڼۍ و مخ ته هماغه تورو د دویم ځل لپاره د سپینې په سپینه جنازه بې رحمۍ او نا اشنا ډزې وکړې، سپینه یې د دویم ځل لپاره د زمامدار د ماڼۍ ومخ ته د ناهید په نوم په وینو سره کړه د وخت زمامدار پرې خپل غوږ هم ونه ګراوه او د سره پرې یې پروا هم ونه کړه.

د وخت زمامدار ډېر بېواکه بېوسه او بې صلاحیته و تورو زموږ د خلکو سپین احتجاج په وینو سور کړ، نو په دغه وجه ماته پته ولګېده چې ښکلي دوه ځل مري خو پل پت او عزت د ناولو څخه ساتي.

کابل- افغانستان

درېیم پروان

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د شلمې پېړۍ جلاد

ولې د څه لپاره په دومره بې رحمۍ دې حلالو؟!

بیا یو نه دوه نه درې دې حلالول!!

اوتومات ماشیندار درسره نه و که څنګه؟

راکټ لنچر خو به دې څنګ ته پروت و، تمانچې خو به دوه درې درسره وې. دوی ته چې دې دومره قهر راته او ته ورته دومره سختې غوسې نیولی وې، دوی به دې د ماشیندار په ګولیو وژلي وای، دوی به په اسانۍ ساه ورکړې وای او ستا به ثواب شوی وای، ته چا موندلې، تاپسې څوك د شونتۍ په رڼا ګرځېده؟؟

دلته خو تورتم دی، تپه تیاره ده په تورتم کې څوك خپل قاتل موندلی شي او څوك د چا پسې ګرځي، دلته په هېچا خپل سر درونډ نه دی، دلته هېڅوك د بل غم نه خوري هر سړی په خپلو خولو کې ډوب دی.

ای د شلمې پېړۍ جلاد خانه!

ته له دې نه خبر نه یې چې دلته سر په سر سودا ده تاته وایم تاته!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



څنګه دې په غوږونو څپېړې اچولي یو ځل خو ماته وګوره او زما څو لیکلي ټکي په دقت سره ولوله او خپل سر ګرېوان ته کښته کړه تاته وایم!

ګنهکار خو يې پلار و، د ګناهونو پېټی خو د هغه په اوږو بار و اولادونه يې خو ماشومان و ماشومان خو د هر قسم ګناه څخه پاك وي، د هغوی په دې کې څه قصور و چې پلار يې ملحد او کافر و. ایا ته به ډېر بې رحمه او بې عاطفې وې که د هغه حلال شوو ماشومانو پلار د خپل زمام په وخت کې؟!

ایا تا چې دا ماشومان د مکروریانو په درېیم پوړ کې د تشناب په سپین بلورین تنګ لنګ تپ کې حلالول ستا انساني او اسلامي عاطفه چېرته وه؟

هغوی به له تا سره څومره لاس او پښې اچولي وي، دا یو چې دې حلالوو دې بل به درته څومره زارۍ او ننواتې کړې وي، تاته به يې څومره ژړا کړې وه، چې نه کاکا نه کاکا موږ مه حلالوه.

ایا! تا د یوې ثانیې لپاره د خپل ځان سره سوچ کړی و؟!!

تا چې ددغه ماشومانو په مرۍ چاړه ښخوله تاته هغه نازنین اولادونه نه په یادېدل؟!

په دغه وخت کې ستا اسلامیت، انسانیت او افغانیت چېرته و؟!

ته که په دغه سات د انسانیت او اسلامیت له چتې څخه وتی وې، افغانیت خو به دې ساتلای وای!

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانان او خصوصاً ستا په څېر پهلوانان خو د ځان نه کمزوري ته هېڅ هم نه وايي، کمزوری خو کمزوری دی په کمزورو باندې افغانان رحم کوي او په ښځو خو د سره لاس نه پورته کوي او د کمزورو په وژلو خو نوم نه کېږي.

ای د شلمې پېړۍ جلاده!

ته ددغه ماشومانو او ددغې ښتنې مېرمنې په پرتله ډېر کمزوری وې. ته څومره جاني او لوی قصاب یې. تا به نور څومره بې ګناه ماشومان او بې دفاع مېرمنې وژلې وي.

قصاب چې قصاب دی هغه هم درې پسونه سر په سر نه شي حلالولی، مګر ته دومره کلك زړی وې چې تا درې بې دفاع او معصوم انسانان په یخه چاړه حلال کړل.

تا واقعاً د شلمې پېړۍ د جلاد اتلوال لقب وګاټه اتلوال!!

زه نه پوهېږم چې اوس به ستا وجدان او ایمان څنګه وي؟

تا به خپل وجدان نه لړزوي او نه به دې ځوروي؟

ستا به زړه قرار نیسي او که نه؟

ته به په خوب کې څومره ډارېږې؟

ته څومره ډارن وې چې تا خپل غچ او انتقام د ماشومانو د پلار څخه وانخستلی شو د دوی پلار خو تر پرونه پورې د کابل په ښار کې په خلاصه تنۍ ګرځېده، د هغوی پلار په اواخرو او خصوصاً په دې نږدیو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې موټر، ټوپك او باډيګارد نه درلوده خو ستاسې په تور کې نجيب درې كاله زنداني کړ.

ای بې رحمه د شلمې پېړۍ جلاده!

څه دې وکړل ته څومره د کابل اوسېدونکو ته بې پته او بې عزته ښکاره شوې. ښه شو چې تا د جګړې جنايت سرته ورساوه. ته د افغانانو په تاريخ کې د جګړې جاني شوې د هغه جګړې جاني چې د اسلام او اسلاميت په نوم پورته شوې وه. تا به اوس نو څوك بيا مومي، تا به اوس څوك زندان ته راکاږي، تا نه به کوم څارنوال تحقيق وکړي، کوم قاضي به په تاباندې د اعدام حکم صادر کاندي، څه شول د بشر د حقوقو مدعيان او څه شول د اسلامي نړۍ طراحان؟؟

چې اوس تا له نږدې څخه ويني او تاته ووايي چې:

ای د يوې پښتنې مېرمنې او دوو ماشومانو قاتله او د شلمې پېړۍ جلاده! ټيك ده چې تاته به ستا په څېر خلك ښه مجاهد ووايي او تا به د غازي او د دروند غازي په القابو مسما کاندي. دا د مجاهد او غازي لقب به ستا د همېش لپاره پټ پاتې وي. ددې جنايت له شرمه او له ډېره شرمه دا لقب تاته نه شي درکولای. مګر خلك به تاته د شلمې پېړۍ قصاب او د جګړې جاني ووايي او تا به د افغانانو له خاورې څخه د لست په اوله ګڼه کې د شلمې پېړۍ د قصاب په نوم ونوموي. خير دی که نن ته د وخت د قاضي څخه په وېره او ډار ګرځې، مه وېرېږه ته د چا نه وېره لرې د خپل سيوري نه؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ډاډه زړه ګرځه ولې چې دلته اوس هيڅ شی نه شته د ځنګل قانون عام او تام حکمفرما دی، محاکم تړلي دي، د زندان مندان درك نه شته، چا چې څه وکړل هغه يې وکړل. دلته ستا په څېر خلك اوس د تعقيب څخه خلاص دي، هغه وسايل، اسباب او کرمنالستيك چې ستا په شان جانيان يې معلومولی شول هغه اوس ستا سره دي هغه دي مخکې له مخکې په غلا يوړل او هغه دي چېرته ډېر لرې خرڅ کړل، اوس نو ستا په څېر جانيانو باندې درې شاهدان پکارېږي درې!!

ته خو په دې جنايت کې درې خو لا پرځای پرېږده چې يو تن هم نه يې ليدلی په تا باندې درې شاهدان په درې سوه کلونو کې هم نه شي تېرېدلای، ته د زندان او اعدام نه خلاص يې او په خپلو برېتونو لاس وهه او غاړه تازه کوه او دومره وايه چې: د شلمې پېړۍ جاني ته دې خدای(ج) د نېکو هدايت وکړي.

د دلوې مياشت، ۱۳۷۳ل کال

کابل- افغانستان، دربيم پروان

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پېښې

د افغانانو په خاوره کې يوه پېښه له بلې نه ډېره ترخه وي، يوه لوبه لا خلاصه نه وي چې بله شروع شي. خو هېڅ يوې لوبې لوبې هم پای ونه مونده. اوس دولسو کلونو پرله پسې پېښې مونږ افغانانو ته لوبې شوي. اوس مونږ په لوبو دومره سر نه خوږوو خو بيا هم بايد وليکل شي او راتلونکي نسل ته يو څه پاتې شي.

کله چې د ۱۳۷۳ل کال په نيمايي کې د طالبانو تحريك په کندهار کې پيدا شو، ددې تحريك لمنې د ۱۳۷۳ل کال د دلوې په مياشت کې ميدان ښار او لوګر ته ورسېدې، په ميدان ښار کې طالبانو د ګلبدين پياوړي قوماندان تورن امان الله ته د ملا بورجان په قومانده سخته ماته ورکړای شوه. کله چې ميدان ښار د طالبانو په لاس کېوت د تورن امان الله طرفدارانو د اتحاد اسلامي قوماندان حاجي شېرعلم ته پناه يوړه او شېرعلم د امان الله له طرفدارانو څخه وسايط او سلاح د غنيمت په ډول واخيسته چې په دغو ورځو کې د يو کلاشينکوف قيمت دوه لکه افغانيو ته کښته شو، د دلوې د مياشتې پر ۲۲مه نېټه د کابل- کندهار لاره چې د غذايي موادو په مخ څو کاله بنده وه، خلاصه شوه او په ډېره پيمانه لومړني مواد کابل ته راورسېدل. خارجي اسعار

(c) ketabton.com: The Digital Library



فوراً کښته شول د اوړو د يوې بوجۍ قيمت ځلوېښت زره او د غوړيو د يو ټيم قيمت دولس زره افغانيو ته راپرېوت. د کابل د خلکو په سترګو رڼا شوه، د کابل خلکو د طالبانو نه ډېر رضايت وښود. طالبان په دې لاره تر ارغندي پورې راورسېدل او د لوګر په لاره يې د ګلبدين څخه محمداغه ونيوله. په دې شپه ګلبدين د خپلې راديو څخه په څهار اسباب کې اعلان وکړ چې د افغان او انګليس ځلورم جنګ پيل شو، د طالبانو سره د کمك په هکله د انګلستان يو متقاعد سفير او د يو همسايه هېواد يو اسلامي تنظيم تورن کړ، حکمتيار د نظار شورا او د اسلامي جمعيت څخه د طالبانو په مقابل کې مرسته وغوښته. ګلبدين، سياف او يونس قانوني په همدې مياشت کې په جلال اباد کې يوه معاهده امضا کړه. سياف او قانوني د حکمتيار سره دا منلې وه که کله په ګلبدين باندې د طالبانو فشار زيات شي، نو دا دوه تنظيمه به د ګلبدين سره پوځي مرسته کوي، مګر برعکس کله چې طالبانو محمداغه ونيوله، حکمتيار ډېرې چغې او نارې وهلې او په څو څو ځله يې د مرستې غوښتنه وکړه مګر رباني صيب مسعود صيب او سياف صيب په خپلو غوږونوڅېرې واچولې چې موږ د سره څه نه اورو او د جلال اباد په معاهده يې پښې کېښودې. د ۱۳۷۳ل ل د دلوې پر ۲۴مه نېټه حکمتيار بې له کومه جنګه څار اسباب طالبانو ته پرېښود. د بګراميو له لارې سروبي ته او د سروبي نه درونټې، ګل غونډۍ ته ورسېد. د شپې له پلوه چې کله د حکمتيار صيب پوځونه د نوې کارتې، رحمان مېنې، شاه شهيد، بينې حصار، شيوکيو، بګراميو، حسين خېلو، شينې او احمدشاه بابا مېنې څخه وتل د نظار شورا پر ښې کلکې بمبارۍ وکړې هغوی خپلو پښو او خپلو ډاټسونو خلاص

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړل د دوستم يو زر کسان يې عبدالعلي مزاري ته وسپارل. مزاري د دوستم يو زر کسان د جګړې په اول خط کې ځای پرځای کړل. مزاري خپل دوامدار تماس د طالبانو سره ټينګ وساته. مزاري د نظار شورا سره د کابل په دريمه او ځلورمه کارته کې قومي جګړه توده ساتله، د نظار شورا زور په هزاره ګانو نه رسطده، د هزاره ګانو مورچلې د کابل په جنوب غرب کې ډېرې پخې وې. حکمتيار چې کله د جګړې نه پښې سپکې کړې، هزاره ګانو چې د حکمتيار متحدين په سخت موقف کې پاتې شول، مزاري د (بي بي سي) راديو سره په يوه مرکه کې ګواښ وکړ که چېرې په موږ باندې جګړه سخته شوه، نو موږ به کابل د مزارشريف څخه په اسکاټ وولو. د نظار شورا د طالبانو د جګړې څخه ډېره ګټه پورته کړه. طالبان چې کله د هزاره ګانو په تفاهم سره د کابل دريمې او څلورمې کارتې ته ننوتل دوی د کابل سره نابلده و. دوی د نظار شورا د توپچي او هوايي ضربو لاندې راغلل. طالبانو هغه مورچلې د هزاره ګانو څخه نيولې وې، نظار شورا ته په پرېښودو اړ وتل په دې جګړو کې ډېر مرګ او ژوبله دواړو خواوو ته ورسېده. طالبان د ميدان ښار او محمداغه پورې تر شا لاړل. راتلونکې نامعلومه ده چې جګړه به څوك وګټي.

د حوت مياشت، ۱۳۷۳ل کال

کابل- افغانستان، دريم پروان

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زه کابل يم!

له مانه يې واورئ!

تاسې ته يې وايم!

ماته غوږ شئ!

په غوږونو ښېرې مه اچوئ، زه کابل يم!

زه اوس هسې خوشې شانته ډانچه د يو څو لوټو لاندې په کنډر او کنډواله کورونو کې ترمې، تالااو ګډوډ، زما خو اوس هغه پخواني برم نه شته. زه خپلو زامنو د هغه پخواني برم او دبدبې نه پرې يستم له مشهده او نيشاپوره پورې جهانيانو ليدله. خو افسوس چې اوس زما شمله دومره ټيټه ده چې زما په غاړه کې د زيندۍ په څېر کلکه پرته ده.

زه کابل يم هغه کابل چې په ما کې د چمچه مست سيند تېر دی، زه اوس د هغه شور او ځوږ نه اورم. زما چمچه مست ولې خفه دی؟

د هغه نوم خو چمچه مست دی، هغه ولې له مستۍ نه پرېوت، هغه خو لاتراوسه نه دی ايل شوی. لکه چې زما په ورانېدو خفه دی!

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه، نه زه اوس پوه شوم د هغه درد او کړاو له ما نه زيات دی، د هغه د اوبو رنګ بالکل اوښتی ، د هغه سپينې اوبه سرې شوې دي، په هغه کې د اوبو پرځای اوس وينه او د افغان وينه بهېږي، د هغه فوارې څومره سرې دي، د هغه د اوبو داره د وينو داره ده، هغه د خپلې دارې نه څومره په وېره او ډار کې دی.

چمچه مسته!

مه خفه کېږه ته بيا هم روان يې، په حرکت کې يې، په حرکت کې برکت دی، په تا به خدای پاك مهربانه شي او خړوبه پسرلی به دربانده راشي. بيا به مست شې اوبه به دې سپينې شي، بغاوت به کوې کله به په يو اړخ اوړې او کله به په بل اړخ، خو زار، زار ماته چې زه د اخ او تېخ نه پرېوتم، کړوپ شوم، وران شوم، کنډر او کنډواله شوم، زه خوارکی په تشو تورونو بې ګناه مرجم.

زه کابل يم زما هسې خوشې تشه شانته ډانچه په کنډر او کنډواله کورونو کې مړه پرته ده مړه!!

له مانه نور زما نا اهله زامن څه غواړي؟

زه ورته نورې کومې قربانۍ ته حاضر شم؟

زما له لاسه دومره کېدل چې ځان مې د دوی په پښو کې خاورې او ايره کړ. زه د دوی په پهلوانۍ او زور ازمايۍ کې په څو لوټو او ماتو خښتو بدل شوم. دوی، هغوی او هېڅوك په ما او زما په ورانېدو خفه نه شول. خفه خو به زه يم چې له څو لوټو لاندې په کنډواله کورونو کې لادرکه شوم، نو زما د دارالامان او چهلستون د ماڼيو ګلان خو به خود مړاوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او غړند وي چې دا دوه تاریخي ګنبدي ماڼۍ له ما سره یوځای د څو خبتتو لاندې پرېوتې او دړې وړې شوې.

د چهلستون بڼه ته ولې ژاړې؟

زه او ته خو یو شان او یوځای پایمال شو، د تورو خاورو او سوو چتونو لاندې خو زه او ته یوځای پراته یو.

چهلستونه او زما چهلستونه!!

څه دې کړل هغه ګلان چې نهه میاشتې به پرې پسرلي و؟

ستا ګلان به زما اصیلو شازلمو بچو د پکولونو او لنګوټو په کتارونو کې ټومبل او زما مستو پېغلو به د تور اوربل دپاسه وړل. زما د باغ بالا، قرغې او د پغمان مېله ځایونه څنګه تش پش پراته دي.

زما هغه دنګې پېغلې څه شوې؟

لکه چې له مانه اواره شوې!

ما خپلې پېغلې ونه ساتلای شوې، په دوی به د نورو ملکونو مېله ځایونه څومره ښکلي او تاوده ښکاري. زلمو مې دا بې معنا جګړه اوړده کړه او د ماشې نه لکه چې ګوتې نه پورته کوي!

زه کابل یم زما او د شاه دوشمشیره د عاشقانو او عارفانو، شاه شهید، خواجه صفاولي، ابوفضل، سید اسحق اغا او دده افغانانو د ادې زیارتونو دومره فرق دی چې هغوی د یو موټي خاورو لاندې او زه د څو لوټو لاندې په کنډواله کورونو کې خړ پړ پروت یم.

بالاحصاره، کاسه برجه، شیرپوره او اسمایي غره!

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دومره لوړوالي ولې سرټيټې ياست تاسې خو خپلو کابلشاهانو ته فکر وکړئ، رتبيل شاه او زنبور کشاه به تاسې څومره نازولئ، په تاسو به يې څومره لوی حساب کاوه. د تاسو په سر به يې څومره لويې ډغرې وهلې. زما په ليدو ولې اوس شرمېږئ، ما دلته کې ددې لپاره تاسې ته د ټولو نه هسك ځای درکړای و چې تاسې به ما د غلو، ډاکوانو، چپاولګرو او يرغلګرو څخه د پخوا په څېر ساتئ، زه خو تاسې په لوی لاس، چپاولګرو او داړه مارانو ته وسپارلم، تاسې زه د شلم قرن ډاکوانو څخه ونه ساتلی شوم. غلو او داړه مارانو چې له ماڅخه غوښې بېلولې او زه يې د خاورو لاندې کولم، تاسې ماته په غټو، غټو، بټې، بټې کتل زه مو له غلو څخه ونه ژغورلای شوم. زه له تاسې څخه ډېر خفه او مانېجن يم. ماته د هغه تېر برم په سترګه نور ونه ګورئ له مانه مخ واړوئ، زه به هم تاسې ته د هغه پخواني وياړونو په هغه وياړونو چې دلته تاسې عرب په ګونډو کړي وو. سکندر درنه په څنګ تېر شوی و، د چنګېز لښکرې همدلته وارخطا شوې وې، د ايران صفويان همدلته ترمې تالاشول، د ازبکو شيواني محمد خان له همدې ځايه وتښتېده، د مغلو سلطان ظهرالدين (بابر) په ډېر ارمان، ارمان مو همدلته خاورو ته وسپاره. د انګرېزي ميکناټن او سرالکسندر برنس د مړو درك او خرك لاتراوسه نه شته، د روسي چپاولګرو خو به شپه او ورځ ستاسې له لاسه خوب او خواړه نه شول کولای، د هر قدم لاندې به مو ورته اورونه کرل، د پنجابي امير منو څخه خو به تاسې باج اخيسته، د ډهلي تخت او تاج خو به مو له دې ځايه څاره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه کابل یم زه د هغه یو کم څلور سوه پښتنو مشرانو محصول یم چې الوغ بیك د ظهرالدین بابر تره درې سوه نهه نوي تنه د سوات د یوسفزیو قومونو نه نیولې د بولان د درانو او غلجو پورې د سر پښتانه مشران او خانان د یو تېغ نه تېر کړل، زما د پښتنو مشرانو سرونه پرې شول، مګر الوغ بیك ته تیټ نه شول، ما په هغه وخت کې خپله خېټه په اوسني سیاسنګ کې څیرې کړه او یو کم څلور سوه پښتنو مشرانو لاشونو ته مې په یو قبر کې ځای ورکړ. خو زه اوس د یوه پښتانه لاش ته خېټه نه شم څیرولای او د هغه لاش نه شم خوندي کولای، ولې چې بېګناه مجرم یم. د پښتنو لاشونه مې کارغان خوري، سپي یې تښتوي او لېوان پرې مړوي. په ما کې هر څه سرچپه شول ګیدړان د زمریانو په بربتونو لوبې کوي، تېپوسانو بازان په مخه کړي او بعضې لاد خپل ډېران چرګې وهي، شرمښانو د زمرو څرمن اغوستې ما ډاروي، زه اوس د یو وهمونو کور یم. په ما کې ټول خلك ډارېږي خو څوك حال وایي او څوك نه. زه کابل یم د څو لوټو، ګټو لاندې خړ، پړ پروت، بې ګناه مجرم او په تشو تورونو دړې وړې. زه به ستومانه یم، زه به خفه یم، زه به ژاړم، نو زما پل خشتي، شاه دوشمشیره، شاه شهید او د جادې د خولې جوماتونه ولې ژاړي؟

هغوی لکه هم د خاورو، لوټو لاندې سوري سوري پراته دي. زما جوماتونه دې نه خفه کېږي، د دنیا داسې ډېرو باغیانو دلته سجدې کړي دي او سرونه یې ټیټ کړي دي، د دوی سرونه به هم انشاالله په تاسې کې ټیټ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه خپلو جوماتونو ته تسلا ورکوم چې تاسې د شهادت درجه وګټله. د هر چا په نصيب کې د شهادت مقام نه وي. کاشکې د شهادت مقام ماته رسېدلی وای. زه تورن شوم زما بچو د نورو په اشاره پر ما قسماسم تورونه ولګول. زما په برخه شهادت ونه رسېده او نه زما په ورانېدو څوك غازيان شول. زما په برخه هسې خوشې تشه شانته ډانچه د څو لوټو او ګټو لاندې بې ګناه مجرم په تشو تورونو دړې وړې او خاورې ايرې ای د کوټوالي ګنبدې!

تا چې به پخوا خپلو مجرمينو ته د درو سزاګانې ورکولې او تا به باغيان رامول اوس دربانديې څه وشول. هغه وخت کې خو به يوه دوه او يا څو وله ماسره خيانت کاوه. اوس خو ټولو زما د ورانولو او نړولو پسې بډې ووهلې او ملاګانې وتړلې زما د شوربازار کوڅه يې دړې وړې کړه، تاريك کوڅه او د جې جې زيارت يې راته ونړاوه، زما ريکاخانه، تخته پل او بارانه د خاورو په ډېرۍ واوښته د سهك بچې کوڅه او او ستر بازار (د اوسنۍ فروشګاه بزرګ افغان شاوخوا) غلبېل غلبېل ده، شمريزه انار کوڅه، خرابات، هندوګذر، درخت شنګ او قروت کوڅه مې په سينه پرتې دي. خولې يې له خاورو ډکې په وينو کې لت پت د جګړې د بې پتو په لاس وران ويجاړ او خرابه.

ای د کوټوالي ګنبدې!

زه کابيل يم زما د ورانولو مجرمين ونيسه او پيدا يې کړه، هغه پخوانۍ دُرې ته لاس کړه دا سرکش باغيان درنه خلاص نه شي، دوی فقط زما د ورانولو پسې راغلي و چې ما ولوټوي، دوی بې هدفه، بې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرامه باغیان او حرامي ایله جاریان دي، دوی په ورانولو پوهېږي او بس.

زه کابل یم هسې خوشې تشه شانته ډانچه د څو لوټو او ګټو لاندې په کنډر او کنډواله کورونو کې حصار.

زه اوس هغه برم او عظمت نه لرم، چې ماته به د جهان امپراطورانو، شاهانو او امیرانو د احترام په رسم سر ټیټاوه او زما د پاکې هوا او خوږو اوبو څخه به یې د تبرك په نوم د یو څو لمحو لپاره استفاده کوله، د سیاحت په نوم به یې خپله ډیپلوماتیکه وېزه د څو ورځو لپاره تمدیدوله.

په ما کې د باروتو ککړې هوا کور دی، زه اوس ګور یم د پغمان د یخو اوبو بندونو مې ځای ونه نیو امپراطوران، شاهان، امیران او حتی سیاحان اوس له ماڅخه په ډډه تېرېږي. هډو لااوس ماته څوك مخ ته را اړوي، زما بچي په ما کې هم تنګ شوي دي او راڅخه تېښته کوي. زه اوس چاته پاکه هوا یخې اوبه او خوږې مېوې نه شم ورکولای، منې مې ړلۍ ووهلې، د انګورو تاکونه مې شول د توتانو ډډونه مې چنجو ووهل شفتالان او زردالان مې شنډ لاړل، الو او الوبالو مې تروه پاتې کېږي څوك یې پخوالي ته نه پرېږدي، هندوانو او خربوزو مې مرض وکړ. زه کابل یم هسې خوشې تشه شانته ډانچه د څو لوټو او ګټو لاندې په تشه کنډواله کورونو کې!

زه اوس تاریخي افتخارات نه لرم، زما تاریخي افتخار اوس د پنجابیانو، عربو، سوډانیانو او اخندانو د پښو لاندې پروت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی چې رانه کوم تاريخي افتخارات لکه د سکندر مقدوني جام، د ابدالي توره او پټکی، د وزيرمحمدګل خان تمانچه او د امان الله خان کريچ يې رانه په غلا وړل، په همدغو ورځو کې يې په ما خاورې واړولې، زما فرهنګ، کلتور، تاريخي اثار او پوځي تجهيزات يې رانه لوټلي او په خپله ولقه کې يې ټينګ کړي دي.

ای زما کاکه ګانو!.....

څه شوې د باراني شايقه، چېرته يې لطيفه د خپل باغ سره ورك شوې، فضلو په څه مصروف يې، د چارچتې اعظمه، فرمولي زرګره، کوکه اصفه او د سردارخان د جنډې برائته په تاسو څه وشول. تاسې خو به ځمکې ته ويل چې ته ځه مور نه ځو. تاسې ته خو ما مستي درکړې وه، تاسې خو زما په سر مست واست له تاسې څخه ماښېجن او ګيله من نه يم. اوس زمزا او ستاسې يو حال دی. صرف فرق مو دومره دی چې تاسې د يو بېل خاورو لاندې او زه د څو لوټو او خښتو لاندې په تشو کنډواله کورونو کې ورك پرك.

ای زما د غلجيو ميرويس خانه او نازو انا ، د ابداليو احمدخانه د درانيو عاشې او زرغونې، وزيرمحمد اکبرخانه، لوګری امين الله خانه، غازي محمد ايوب خانه، د وردګو محمدجان خان، د اندړو ملا مشك عال، غازي محمد عثمان خانه، کونړی سلطان محموده، د جبارخېلو ارسلاخانه، د محمدزو امان الله خانه، محمود طرزي، د کجوري ملاصيب، د کاپيسا د ساپيو د خانانو خانه، امير عبدالرحمن خانه، د بابړې ملاصيب، د هډې نجم الدين اخندزاده، د بېټنيو ملالی، د شينوارو ايمل خانه، د افريدو دريا خانه او عجب خانه، د ختکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشال خانه، د دوابې عبدالغفارخانه فخر افغان، د اڅکزو صمدخانه او عبدالله خانه، د کوهدامن میربچه خانه، د کوهستان میرمسجدي خانه، د ځاځیو نایب سالار صیب سربلند خانه، د ځدرانو ببرك خانه، د منګلو صنك زلمی، د باجوړیو عمراخانه، د چترالو امیر المملکه، د ننګرهار میافقیرالله، د مومندو چکنور ملاصیب، د مسیدو، وزیرو او دوړو پیر صیب میرزاعلي خانه، بایزید روښانه د احمدزو احمدبابا، د تېل او د وانه د جبهې عالي سرقوماندان محمدنادرخانه، د بلوڅو سردارانو او هزاره فیض محمد کابته!

ستاسې د بعضو عکسونه او تابلوګانې هسې تش د تظاهر او فریب لپاره په ما کې ځوړندې دي. تاسې ته په سورو، سورو او چیغو، چیغو ژاړم او تاسې ته نارې وهم او درته وایم چې ما خو په تاسې ځان سپارلی و. هله ژر شئ زما هسې خوشې تشه شانته ډانچه چې په څو کنډواله کورونو کې د ماتو خښتو او ګټو لاندې پرته ده، په خپلو اصیلو بچو یې راوباسې او که نه نو زما نومیالیو او ښاغلو!.....

زه درنه په ورکېدو یم ما ژر ژر په څو کنډواله کورونو کې ولټوئ او بیا مې مومئ اوس زما د تشې ډانچې د ملا په هډوکو باندې ماشومان چندرو کوي زه مو ولې هغه چاته پرېښودم چې هغوی ماه په قساوت او کینه ګوري، هغوی زما هیڅ قدر او قیمت نه پېژني، زه مو ولې د وحشیانو وحشت ته په لاس کې ورکړم. زه خو یو امانت وم او د ټولو امانت.

ای زما په غم شریکو!

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما د وجود غوښې چنډه چنډه په پښو چړو پرېکړای شوي، چاړه اوس هډوکو ته ورسېده، په هډوکو مې ماشومان ملنډې وهي، په پښو مې ټېل وهي او په سپکه راته ګوري.

ای هزاره فيض محمد کاتبه!

زه کابل يم که په ياد دې وي تاته مې يو وخت ويلي و چې په ما کې سراج التواريخ وليکه، شابا زر شه، اوس زر کړه په ما کې د يو بل دور مجاهدالتواريخ وليکه چې درنه ورکېږم او په څو کنډواله کورونو کې درنه پوپناه کېږم.

زه اوس داسې څه نه لرم چې په هغه باندې ووياړم زما د چار چتې د وريښمو بازار زما په شان د لوټو لاندې دی، د تخته پل او شوربازار مې نښې نښانې نه شته، عاشقان او عارفان مې څو څو ځله شهيدان شول، په حضوري چمن کې مې د پستو وانبو پرځای د شګو بوجۍ او د اوسپنو پارچې پرتې دي. زما د جادې په هغه پراخه زړه کې د برم نه ډکې څو پوړيزې ودانۍ او د نوم ورکې سپاهي ځلې زما په څېر د څو لوټو او خښتو لاندې پروت دی. هغه بازار چې د هغې هټۍ به د مورو په قالينو فرش پروت و اوس يې د لوګو نه ډ: سوري سوری اهن څادر اغوستی زما په څېږ غلی پلی پروت دی، د چهار شانه ازبکو منډې ترړې په کې نه ليدل کېږي، د سر نه تر پښو پوې په کې يوه کامله چوپتيا ده.

او د محمد نادرخان د شنه ګنبدي قبر نه شنې لوخړې خېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه کابل یم هسې خوشې تشه شانته ډانچه په څو کنډواله کورونو کې ورك.

فرهاده!

ای غلام محمد فرهاده! دا څه وشول چې تا جوړ کړم او چا وران کړم؟

خوشاله، رحمانه او فخر افغانه!

راشئ د کوزې پښتونخوا نه راشئ خپلې لېسې مو وګورئ، روښانه ته دې خپله ښوونکو عالي موسسه هم ووینه، ملالۍ، عایشې، مریمې، رابعې او زرغونې تاسې هم خپل ښوونځي مشاهده کړئ، شېرشاه سوري او سیدال (ناصره)!

ستاسې لېسې لا بېخي دړې وړې دي. سیدنورمحمد شاه، علاوالدینه او جماله!

ستاسې مېنې خو له سره نه شته.

هوکې! زه کابل یم زما په علي مردان کې د چوپان د کبابو د بوی پرځای اوس د باروتو بوی د سوو چتونو بوی او د وینو بوی په پزه راځي. زما د قبايلي سوداګرو پرځای اوس زما په علي مردان کې د سرونو سوداګر ناست دي. په سرونو سودا کوي. د سرونو سوداګر هوکې! د سرونو سوداګر او د وینو تږي د افغان د وینو په څښلو یې هېڅ تنده نه ماتېږي او خوا یې پرې نه سړېږي. دا د قدرت لېوني او د کلونو، کلونو د تاج او تخت ارمانجن د افغانانو د سرونو په ورکړه، راکړه بسوالې نه کوي دا څومره وږسترګي سوداګر دي چې د دوی هېڅ مړښت نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه کابل یم هسې خوشې تشه شانته ډانچه په څو کنډرو کې ورك. ما پخوا څلور دروازې درلودې. په هره دروازه کې به زما بچو ماته پهره کوله، زه به یې له دښمن څخه ساتلم هغه څوك چې به ما ځانته نه غوښتل هغه به یې له لارې نه ستانه کړل، زما لیدل په هغه وخت کې هر چاته څه اسانه او رازانه کار نه و، زما د لیدو پسې به ډېرو غریبانو جیبونه ډکول او زما د ښکلا په تکل به یې غرونه او رغونه د پښو لاندې کول، ډېرو شرق پوهانو او غرب پوهانو به په ما کې تحقیق کاوه، ډېر په دې ارمان کې وو چې موږ به کابل کله ووینو، خو اوس چې په هسې خوشې تشه ډانچه بدل شوم. زما څلور واړه دروازې د هر چا په مخ خلاصې شوې، په ما کې اوس خپل او پردی یو قسم ګرځي. زه اوس یووړ شوی کابل یم په ما کې اوس د خپل او پردي هېڅ توپیر نه شته. خپل او پردی اوس ماته په یوه سترګه ګور.

زه کابل یم هسې خوشې تشه شانته ډانچه د څو خښتو لاندې په کنډر او کنډواله کورونو کې.

پخوا به له ما سره هر څّ د تجارت او صنعت بازار مې تود و، په هره لار به مې کاروانونه روان و، په ما کې د هېڅ شي کمی نه ، پروا معمور وم ما به په هر مازیګر او ماښام کې هرچاته خپله برخه ورکړه، چې د شپې له پلوه د خپلو اولادونو سره په ښه مړه خېټه وخوري. په ما کې هېڅکله، هېڅوك وږي نه و پاتې شوي زده د ټولو کور وم، خو اوس...

زه کابل یم هسې خوشې تشه شانته ډانچه په کنډرو کې ورك.

په ما کې اوس د څو کلونو راپدېخوا تعلیم او تربیه نه شته، ځوانان مې د قلم پرځای ټوپکې ګرځوي، ټانکونه چلوي ماشیندارې پړقوي او ما

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورانوي. سپين ږيرى مې بې لارې او بدې خواره شول، حق ته حق نه وايي. ملايان مې کرۍ ورځ په چغلۍ لګيا دي، کله يو کافر کاندي او بل مسلمان، يو غازي شي او بل شهيد ، عالمانو او پوهانو مې پښې سپکې کړې او له مانه يې سترګې پناه کړې.

ښوونځي، مدرسې، پوهنځي، کارخانې او وزارت خانې مې ماغوندې په تشه ډانچه بدل شول، کباړ شول او په ټيټه بيه خرڅ شول.

ما خو د خپلو ځوانانو د زده کړې ځاى علامه سيدجمال الدين افغان ته سپارلى و. چې ګوندې زما ټول ځوانان به د علامه په بل، پل ږدي او د هغه د برم او دبدبې نه ډکې پوهې څخه د هغه د نبوغ څخه د هغه د کړو وړو څخه د هغه د لوړ شخصيت او د لوړ انساني معيار څخه پوره پوره ګټه اوچته کاندي.

زما په علامه هم چار رحم ونه کړ، د هغه قبر يې هم سورى سورى کړ، د هغه په زيارت يې ملنډې ووهلې، د هغه د خاورو په ډېرۍ يې څو لوټې ورزياتې کړې د هغه قبر يې زما په څېر د څو لوټو او ګټو لاندې کړ.

زه خو خير مګر د علامه د انساني او افغاني دلوړ معيار څخه د چا سترګه ونه سوزېده، د هغه نبوغ يې هم د څو لوټو لاندې کړ.

زه کابل يم هسې خوشې تشه شانته ډانچه په کنډواله کورونو کې پروت.

اى زما طاق ظفره!

ته چې يې څو کاله پخوا په وينو لړلې او ستا دېوالونه يې د وينو په سره رنګ رنګول ما درته کتل زما هېڅ وسه نه رسېده چې ته مې له دوى

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځخه خلاص کړی وای، ما ډېرې چغې ووهلې او په تا مې ډېر ګرېوانونه څيري کړل، چې تا وران نه کاندي ستا په تاريخي عظمت به دوی خندا کوله، په تا کې چې کومې پرېکړې شوې وې، په هغه جرګو او پرېکړو دوی بې باوره و. ته يې په دې تورنولې چې طاق ظفر يو اړخيزې پرېکړې کړې دي. زه او ته اوس يو شان د ځو ماتو لوټو او ګټو لاندې پراته يو.

طاق ظفره!

تا خپلې پرېکړې اوس زما نورو تالارونو ته وسپارلې. هغه تالارونو ته چې په هغه کې د سر نه تر پايه دروغ ويل کېږي، په هغه کې د چل او فريب نه کار اخيستل کېږي، په هغه تالارونو کې نوې، نوې خبرې راوځي، چې د هغه خبرو سره زه نا اشنا يم هغه د بل هېواد او د پرديو خبرې دي.

طاق ظفره!

ستا د جرګو او مرکو پرېکړې ډېرې پخې وې هغه زما خبرې وې، هغه درته ما ښوولې وې، زه اوس نويو تالارونو ته هېڅ نه شم ښولای. زما ښوونه پهره داران نوو، تالارونو ننوتو ته نه پرېږدي ولې چې زه اوس تشه ډانچه يم او طاق ظفره! ته له مانه بد تر يې نه اوس ته ځانته ځوك رابللی شې او نه ستا په پخوانو تاريخي پرېکړو څوك باور لري.

زه کابل يم هسې خوشې تشه شانته ډانچه د ځو لوټو لاندې به کنډوله کورونو کې وريت، پريت.

ای زما درنو ليکوالو، شاعرانو او اديبانونو!

(c) ketabton.com: The Digital Library



علامه حبيبي صاحب او خادمه راشئ، ما له نړدې وګورئ، چې په ما اوس کوم نوم ږدئ او په ما کې په کوم رنګ او خوند تحقيق کوئ؟

اوس په کوم نامه زېب کوم، زما به اوسنی نوم څه وي؟؟

يوه تشه ډانچه!

ګل پاچا (الفته)!

د خدای په پار زما په تشو او ورانو جادو د يو ځل لپاره په ژورو فکرونو او لوړو خيالونو ګذر وکړه او ما په ژورو فکرونو او لوړو خيالونو کې ومومه.

د پښتو بابا محمد ګل مومنده!

چېرته يې خپل لمسي دې ګوره لمسو دې پښتو هېره کړې، پيسې، زر اندوزي او بې ننګي يې غوره کړې. خرڅوي مې، نړوي مې او ورانوي مې.

چېرته ياست بهاوالدينه، بېنوا، سمندر د (بدرشو)، عبدالخالق خليقه، کاظم خان شيدا، حمزه شينواريه (د غزل بابا) عبدالرحمن پژواك او ملنګ جانه!

د غزل د بابا په دې دوو شعرونو په ما کې د خپلو ارواګانو او د پاکو ارواګانو په ذريعه مشاعره جوړه کړي.

تورې سترګې يې، د يار زړه ته مې ځير دي

بيا حبشو په کعبه تړلی لام دی

او يا دا چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مذهب دعوه دې پرېږده سرې خوره

ستا دعوه هله صحيح ده چې انسان شې

اى فخره افغان[1] نازوليه!

غني زما د پېړۍ فلسفي، ته خو لا ژوندى يې د يو ځل لپاره ماته راشه خير دى، كه زه اوس هسې تشه شانته ډانچه يم هغه څه چې ستا خوښېږي، لكه جام، جانان او رنګين شانته ماښام هغه اوس له ماسره نه شته. جام مات دى، جانان ورك دى، د رنګين ماښام پر ځاى راسره تور ماښام ملګرى دى. راځه په تور ماښام كې راشه او په رڼا ورځ په تور ماښام كې په شلو ښو په ما كې وګرځه او له نږدې نه مې وګوره چې په ما څه شوي دي، زه څومره په وينو كې لړلى او لت پت يم، زما په وينو يې وليكه او څومره چې ليكلى شې په خپله فلسفه يې وليكه ستا د قلم رنګ به زما د وينو رنګ وي.

غني اى زما خيامه!

مات جام مې كوشېر كړه او ورك جانان مې بيامومه زه اوس هېڅوك نه لرم، زما اديبانو او شاعرانو زما په ورانېدو او نړېدو بربنډه غمرازي ونه ښوده، په يو مركز راغونډ نه شول او احتجاج يې ونه كړ. په ما كې زما د شعر ژبه غوڅه شوه او د نثر قلم مې وچ شو، ليكوال مې ليكل هېر كړل. شعر او شاعري اوس په ما كې ګناه ده د شاعرۍ د ګناهونو پېټې اوس د بل هر وخت نه دروند دى، د هېڅ شاعر ور ته نه ورځي.

زما خيامه!

[1] كله چې كتاب په قلمي نسخه كې ځاى كېده، غني خان ژوندى و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته شا ورته کړه او زما تشه ډانچه په خپلو فلسفي شعرونو له خاورو پورته کړه، څنګه چې تهران او اصفحان په خپل خيام وياړي، زه او پېښور څه د هغوی نه کم نه يو او نه ته د خيام نه کم يې موږ دواړه هم په تا وياړو.

غني!

ستا د څو کلونو پخواني ويل اوس په ما کې صدقه کوي، لکه چې تا ويلي و:

تاج وړلی هغه سر شي

چې: وژل لکه وبا کړه

او يا

د شمکورو خرو ګله ده

هر يو لال يې خاورې کړی

او يا

چې کبر چا کې ډېر شي

يا فرعون يا دنکاچا شي

او بيا هم

کور کې د قصاب غويان په تشو ټانټو نښتي دي

هو لنډيه، هو برګيه هو چرګيه هو.

نوټ: کله چې کتاب ليکل کېده، غني خان ژوندی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه کابل یم هسې خوشې تشه شانته ډانچه د څو لوټو لاندې.

ای زما د روانو کلونو ادیبانو او شاعرانو!

پوهاند رشاده په خیرخانه کې څنګه غلی پلی ناست یې ته او ستا نوم خو په ما کې نه ځایېده، اوس څنګه په یوه کوټه کې ځای شوې.

محمود (حبیبي) او (رښتین) صاحب څنګه مو خولې په انبور نه بېرته کېږي. نصرالله حافظه تا خو به هر سهار په ماکې نذرانې ویلې او د هر نعت په وینا به دې د شیطان مخ توراوه. حافظه ستا نذرانو هېڅ ونه کړل، زه د نظره شوم او داسې د نظره چې...

د ختېکو اجمله زه کابل یم او هغه کابل چې تا ډېر زما نمك خوړلی، زه که دې ونه ښنم نو خدای(ج) به دې هم ونه ښښي زما په باغ و بڼ کې به ته د بلبل په څېر چغېدې او ویل به دې:

راځئ چې خوارو ته جنت وګټو

زه اوس د ټولو خوارانو دوزخ یم او داسې دوزخ چې په سقر کې مې ټول خواران لولپه شول او په زمهریر کې مې ټول بېوزلي یخ ووهل او تباه شول.

د ختېکو اجمله!

ته زما د جنتونو یار وې په دوزخونو کې رانه لاړې او په پېښور کې دې یوه پېښه په بله واړوله او زما په دوزخ کې دې هېڅ ونه ویل ولې چوپ یې؟ خپل سکون او زما سکون یو ځای مات کړه، وګړېږه او د پښتو په شعر وګړېږه، زما غمرازي پر تا حق ده، ته زما د غمرازۍ پوره وړ یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پور دې ادا کړه. سید شمس الدین مجروح (صدیق روهي)، مجاوراحمد زیاره، حسن ولسمله، مولوي صیب خالصه، زلمی هېوادمله، ننګیاله، بریالی باجوړیه، رحمت شاه سایله، محمد اسمعیل یون، نورالبشر نویده، اکبر کرګر، پیرمحمد کاروان، خالق رشیده، عمر جان پاڅون، محمد کاتب پاڅون، کاوون طوفان، صدیق پسرلیه، عصمت قانع، حبیب الرحمن بل، محمد ابراهیم عطایي، محمد الدین ږواك، محمدزمان کلماني، باري جهاني، انځوره، داود شهیده، نبي مصداقه، سایر افریدی، وطندوست، بابرزی، شمس، عمرګل، عسکر بختانی، امان الله کاسی، جعفر اځکزی، عبدالباري جهاني، رضامحمد رضا، رشا عبدالله غمخوره، همېش خلیل، سیدصابرشاه صابر، اباسین یوسفزی، حبیب الله رفیع، پرېشان خټکه، غلام رحمن جراره، مستوره شال، کبرا مظهري، پروین ملال، ورېمه سبا، عاصي اشنغری، شپون د برې او کوزې پښتونخوا د قلم نه پاتې ټولو شاعرانو، لیکوالو، ادیبانو او د هغوی مینه والو!

د خپلې وسې سره سم د کابل د څو کلنو غمیزو زما دا یوه ډالۍ چې عنوان یې دی زه کابل یم وایي خلۍ او د یو نوم ورکي مات ګوډ نثر لیکونکي نه یې تسلیم کړئ، نقد پرې وروسته ولیکئ، نوم ورته څه موده پس ورکړئ، په کوږ او سم په ښه او بد به یې بیا ګړېږو انتقادي برخې به یې وروسته لټوو، په چاپ او صحافت به یې په بل مشوره کوو، لیکوال به یې په قراره، قراره پیداشي. خو د اوس لپاره دا تاریخي ضرورت و د کابل د څو کلونو غمیزو یو انځور نه، بلکې یو واقعیت او یو تریخ واقعیت په ډېرو بربنډو، ساده او سرخلاصو ټکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې شف شف ورسره نه دی شوی، شفتالو ورته ویل شوی، دا ترخه واقعیتونه د سر په سترګو لیدل شوي او کراتو مراتو په غوږونو اوریدل شوي، باید زموږ راتلونکی نسل (کهول) ته پاتې شي.

کتاب د یو څو ازادو شعرونو په وینا د کابل تر عنوان لاندې ختم شوی او افغان ولس ته ډالۍ شوی دی.

کابل- افغانستان

د ۱۳۷۳ل کال د ثور میاشت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مبتکر، مخرب او که بت شکن

زموږ په وزارت خانه کې کوم نوی سرپرست رئیس مقرر شوی و. د وزارت خانې وزیر صیب سرپرست رئیس ته ویلي و، شابه ابتکار وکړه چې په اینده کې دې رسمي رئیس کړم.

سرپرست رئیس به خدا زده چې د شپې له پلوه د ځانه سره څومره سوچ او فکر کړی وي او د وزارت خانې د سالون دېوالي تابلو چې: په ګچو جوړه شوې وه او په هغه باندې د افغانانو د ملي عنعنې د بزکشۍ لویه حکاکي شوې وه، په فکر کې راغلې وي او سرپرست رئیس ته به کړی شپه څنګه خوب ورغلی و؟

خیر په هر صورت...

د ۱۳۷۵ ل کال د جوزار پر ۲۸مه نېټه سهار اته بجې چې سرپرست رئیس دفتر ته راغی یو تبر یې د همسایه نانوای څخه په سوال پیداکړی او د هغه دېوالي تابلو اساېوالي تابلو اسانو ته ودرېد او د الله اکبر په نعره یې د دېوالي تابلو اسان او د بزکشۍ خوسی په سوالي تبر ټوټه ټوټه کړ. د رئیس زړه تر هغه وخته پورې نه یخېده تر څو چې ددغه هنري دېوالي تابلو ټولې نښې او نښانې له منځه نو ته ودرېد او د الله

(c) ketabton.com: The Digital Library



اکبر په نعره یې د دېوالي تابلو اسان او د بزکشۍ خوسی په سوالي تبر ټوټه ټوټه کړ. د رئیس زړه تر هغه وخته پورې نه یخېده تر څو چې ددغه هنري دېوالي تابلو ټولې نښې او نښانې له منځه لاړې او په اخر کې رئیس صیب د خدای(ج) شکر ادا کړ او ویې ویل:

راضي یم چې لومړی غازي او اوس دې بت شکن هم کړم، نو په ولاړو مامورانو کې د هېچا سره دا جرئت نه و چې سرپرست رئیس ته یې ویلي وای:

ښه رئیس صیب! ته خو یوازې ددې وزارت خانې د دېوالي تابلو په نړولو او تخریبولو نه شې بت شکن کېدی، ولې چې دلته د کابل په موزیم او ملي ارشیف کې د غلو نه پاتې مات ګوډ بتان هم شته. بامیان خو د بتانو نه ډك دی، ډېر نقاشان کندن کاران او نور هنرمندان خو خپل اثار د کابل په هنري سالونونو کې د خلکو په وړاندې ننداري ته ږدي. بازارونه، دفترونه، ورځپاڼې او نور تبلیغاتي وسایل خو د فوټوګانو نه ډ: دي، د کابل پوهنتون د هنرهای زیبا پوهنځي کې زیات ځوانان ددغه مرض په جوړولو بوخت دي نو! نوی سرپرست رئیس صیب به د هغلاړې او په اخر کې رئیس صیب د خدای(ج) شکر ادا کړ او ویې ویل:

راضي یم چې لومړی غازي او اوس دې بت شکن هم کړم، نو په ولاړو مامورانو کې د هېچا سره دا جرئت نه و چې سرپرست رئیس ته یې ویلي وای:

ښه رئیس صیب! ته خو یوازې ددې وزارت خانې د دېوالي تابلو په نړولو او تخریبولو نه شې بت شکن کېدی، ولې چې دلته د کابل په

(c) ketabton.com: The Digital Library



موزیم او ملي ارشیف کې د غلو نه پاتې مات ګوډ بتان هم شته. بامیان خو د بتانو نه ډك دی، ډېر نقاشان کندن کاران او نور هنرمندان خو خپل اثار د کابل په هنري سالونونو کې د خلکو په وړاندې ننداري ته ږدي. بازارونه، دفترونه، ورځپاڼې او نور تبلیغاتي وسایل خو د فوټوګانو نه ډ: دي، د کابل پوهنتون د هنرهای زیبا پوهنځي کې زیات ځوانان ددغه مرض په جوړولو بوخت دي نو! نوی سرپرست رئیس صیب به د هغوی سره څه کوي؟ او په ده به زموږ راتلونکی نسل کوم نوم ږدي؟

مبتکر، مخرب او که بت شکن؟؟؟

کابل- افغانستان، د کار دفتر

۱۳۷وی سره څه کوي؟ او په ده به زموږ راتلونکی نسل کوم نوم ږدي؟

مبتکر، مخرب او که بت شکن؟؟؟

کابل- افغانستان، د کار دفتر

۱۳۷۵ل کال، د جوزار ۲۸مه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کابله

کابله، ګله

پخوا د ټولو

اوس د ناټولو

يو ته جګړه

دوم ته شخړه

دریيم ته غزا

څوو ته سودا

اوو ته پړه(!!!)

وران شوې کابله

نه يو په سله

سلو کې سله

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوك دي خرڅی

ځوك دي رانيسي

ځوك دي شرمئ

ځوك دي ورانئ

بيه دي جګه

سودا دي ټيټه

په يو دوه سيټه

پوهيږم نه چې؟

نور په تا څه کا

لمن د وينو

وينځي په وينو

په بدو بدو

که په ښو ښه کا

ګټي به تا ځوك؟

هغه په سوله

نه په غزا ځوك

نه په سودا ځوك

نه په شخړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه په جګړه
په خاورو خړه

په دوو ښاخو
دوو وزرو
زموږ بلبله
د ګلاب ګله
مات شوې کابله
اوس په تش نوم يې
هسې کابله

څوو ته بله
اوس خو به يې
ته!
په خاورو خړه
په تش تورونو
د خښتو لاندې
لوټو دپاسه

هر څه دې وران
ويجاړ په ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library



سنګسار

روا و

به تا روا و

دغه فتوا وه

د ملا جان

چا خلاصوله

ويل کتاب کې

په هر يو باب کې

دا به کېدله

څه په تقدير کې

څه په تدبير کې

نه بدلېدله

دا به ويله

ملا شاګله

په ګټو وله

رجم يې روا دی

چې مسلمان شي

دا لا کافر دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



په بم يې هسك كړه

په راكټ وله
برم يې په شرم
په تاكې
واوښت
ما به ويل
تا نه منله

په دوو ښاخو
دوو وزرو
زموږ بلبله
د ګلاب ګله
ماته شوې كابله
موږ ته هماغه يې

زموږ جغه يې
هسكه شمله يې
هم لوپټه يې
وران شوې كابله
نه يو په سله

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سلو کې سله

څوو ته بله
شيشې دې نه شته
دروازې سوي
چتونه ناست
کړکۍ دې مه وې
زولفۍ دې ماتې
کانکرېټ دې پاتې
يوړل څو چا
په فرمانونو
په فتواګانو
د کوم ملا
هر څه په تاکې
سيم نه نيولې
تر ټيمګاني
ټانك خو لا
پرېږده
پټکی يې يوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ابدالي

او کريچ يې خرڅ کړ

د اماني

تحفه کې يې ورکړه

تمانچه!

د اکبري

نوم يې پرې کېښود

د غنيمت

غنيمت بيا

روا ، روا دی

په روايت کې د

ملا دی

که په زور او که

په غلا دی

وخوت ارمان

د قوماندان

په دې فتوا

د ملا جان

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاکې کابله
په دوو ښاخو
دوو وزرو
زموږ بلبله
د ګلاب ګله
مات شوې کابله
موږ ته هماغه يې

زموږ جغه يې
هسکه شمله يې
هم لوپټه يې
وران شوې کابله
نه يو په سله

سلو کې سله
څوو ته بله
زموږ ورونو
د چا تربورونو
په تش نومونو
کړی جهاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



شکر خدايه!

ښکاره شو

تاکې

د دوی فساد

د چا امت

کوم يو ملت

به دا منله

وران شوې کابله

پرېږده مړه

لږ شانته يې

پرېږده

چې ځان څه موړ کړي

د تاريخ وږی

غلا يې پېشه ده

جنګ يې هنر

هغه يې کار

په شا يې بار

د څو قالينو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوه درې توشکو
سرو ګليمونو
بل روزګار نه شته
روزګار همدا دی

تاکې کابله
په غلا وړل شوی
چپاول شوی
د ملت مال
د خلکو حال
د چا جاه او
د چا جلال

تاکې کابله!
په دوو ښاخو
دوو وزرو
زموږ بلبله
د ګلاب ګله

موږ ته هماغه یې
هسکه شمله یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم لوپتهه يې

وران شوې کابله

نه يو په سله

سلو کې سله

څوو ته بله

کابل- افغانستان دربیم پروان

۱۳۷۴ل کال د جوزا میاشت

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پاڅون ته

پاڅونه!
کله
ناکله
بعد له ځو کلو
د غرب په خپرونو
او خپو
ستا د شعر متنونه
اورم او
ښه لولم ((يو بې سازه بې سامانه نانظام ته))
غرب له تا نه لوی مداح جوړ کړی څنګه؟
اوریدل خو د ليدلو په
څېر نه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او نه ليدل د ،

اوريدو

يو څو منتهه ډېره

(کمه زمانه ده)

دا وحشت،

او دهشت

کاشکې وايې ستا ،

ليدو

دا يو سوال مې

قبول کړه؟

چې: د تمدن د دوو څلو نه،

((يوه اته کلنه

نږيره))

اوبل تازه خريلی،

سر

او د علم لوی درياب نه

څلور څاڅکي راواخله،

يو ګردان د ضربا ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل ضربو،

ثلث (سنت)

او ربع د (فرضو)

يو څو لنډ ټکي ښه،

زده کړه.

بيا نو خپل وطن ته،

غبرګ شه!

او دا شاړې کوڅې،

کنډر کورونه ووينه

په خپله

بيا به نوم په خوله

وانخلې انشاالله

د چا،

او بيا د ((چا ما چا))

سوړ څپېړه

سماوار،

پروت دی

هغه ستاسې د،

(c) ketabton.com: The Digital Library



کور لاندې،

د انځرو،

کرلېچنې

اوس ټول مات دي

که پیاکوده که،

مېچنې

ستاسې د وړې باغچې،

ترځنګه

د ځنځلو قطار خوا کې

د دوو چنارونو،

کوزه ځنې،

او بره ځنې.

چې اوس نه شته

د سین په غاړه،

لوی ګټونو

په منځو،

د اوبو هماغه،

شپېږپا ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دوو جوماتونو په،
واټونو.
د کلي کوزه خوا کې
مسما کهن قلا کې
نرۍ خېرمه يو،
لار وه.
دا د سين يو لوی،
ګودر و.
اوس نو هغه ګودر
نه شته.
هغه شور او ځوږ،
د نجونو
د سرو لاسو شنو،
پوړونو
هغه مستې،
هغه دنګې
او ګړنګې
پېغلې نه شته

(c) ketabton.com: The Digital Library



د منګو کتار،

اوس مات دی

او منګوټي تولول،

کېږي

په ګودر کې

چې:

اوس بیا ملا شاهي ده!

نه قهقا خندا د،

چا.

نه شته دواړو،

جوماتونو کې،

ملا.

نه اوس هغه علی داد

شته.

شپو

په شپو

زموږ د ماشومانو ځای،

نیولې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوټه،

سپو.

نه زامن شته د ،

منو

نه قهر د سوبان شته،

او نه مينه د

پاتو

نه اوس هغه،

پټپټانی،

نه خځی،

نه کلانکيچ،

نه بټۍ،

د جمعه ګل

نه د ټګي

ارتول

نه ننی شته

نه پلۍ شته

نه ټوپۍ شته

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شکې

نه غوزان

نه مرهمې

ته په هماغه مینه مست یې

ای نادانه

دلته مینه

مینه

نه شته

هر څه دلته

فتنه

دي.

نه چندرو

د ماشومانو

نه پتې شته

د غور بټ

او د سر پیټ

نه هګې د

جنګېدو دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کیکرو
نه ګجري شته
د کوترو
اوس شکېدلي
دي لمنې
متهاق
چا لمن
ته واچوم
توشلې ټولې
ړندې شوې
او نبنبه ویشتی
نه شي
د جابو پراخ
سر مې په
ټولو
نه پروړې شته
د شولو
اوس د تور بابا

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بېرو مزه نه شته

څه چنجن دي

ټولو يې

عبثېږي

په يو سر نه خوړل

کېږي.

غړندې مې

جيب کې

په څو ورځو

پاتې کېږي

د خوردې والا يې

نه شته

چې يې ورکړم

په مليونو رانه

لرې

مسافر دی او

ويرجن دی

د جبې د شهيدانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اروا ګانې دې
وي ښادې
حلوا ګانې يې
اوس نه شته
څه تروې
او څه ترخې دي

پراټې يې
چقمتېن دي
نه مېلې د
خمنك شته
نه ټالونه د
اختر

نه حجرو کې
غل باچا
نه د پرو کې
په څو قوتو
د بيکاڼو
او د پچو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دانو چې موړ

کولې

لوبې د هغه

ميرا کاکا

نه ټپې د

يا کوربان شته

نه کوم مشر

مهربان شته

نه ګلان د پسرلي

شته

نه نرګس

اوږده ژمی

نه بوی د

کشمالي شته

نه د مني

ډمبرګل

کونړی

اوس خونړی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هر حال کې
د خونونو بوی
ترې خېږي

شيلې نه شته
چړ يې مات دی
ټاپوګان يې
ټپوسانو دی
نيولی
او لامبوزن يې
څه تالا شول
څه ترغې شول

څه سترګې شول
څه سپرغې شول
ماهيان يې اوس
باغيان دي
او خپل خلك
ترينه ورك
شول

(c) ketabton.com: The Digital Library



نيول يې
يو څه ګران دي
خمبه جال
مريو جال
او چړی جال کې
ته اوس اوړ شوی
او زه زوړ شوم
د همغې جالې

سفر کې
هسې کله چې:
په دې کلي او په دې ګودر
ګذر کړم
ته مې ياد
او ستا مې ياد
هغه مې ياد
هغوی مې
ياد شي
هغه ټول د خوب ليده
وو
موږ نه تېر شول
دا زما يو نيمګړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناتکميله او
بې ادرسه
ډالۍ
واخله
ای پاڅونه

که په شرق کې يې
که په غرب کې
د خپل ماشومولۍ
او ځلميتوب
تسل پرې وکړه

او دا کلی کنډر
دی
نور يې هېر کړه

۱۳۷۷ل کال، د خوت مياشت
کونړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# انساني دلالان

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د یوویشتمې پیړۍ انساني دلالان د یوه جنايي ((ناول)) په توګه

کله چې د پښتو او پشه يي ژبو د نثار ليکوال او خوږ ژبي شاعر محترم الحاج محمد حسن حسام (د یوویشتمې پیړۍ انساني دلالان) اثر کوت، ورسره سم د ايراني ليکوال ربيعي انصاري ((جنايات بشر يا ادم فروشان قرن بيست)) کتاب نوم او محتويات را په زړه کېدل او يو په بل پسې سترګو ته درېدل. په هغه اثر کې نه یوازې به روښانه ټکو د زورواکانو، بلکې د پانګوالو د ظلم او ستم په باب يو غږ جګ شوی او په حکومتي دستګاه باندې هم سخته نيوکه شوې ده. د ښاغلي حسام ((د یوویشتمې پیړۍ انساني دلالان)) اثر هم هماغه کتاب ته ورته او مشابه مميزات او ځانګړتياوې لري. دا کتاب په يوه خوندور نثر ليکل شوي او په ځو وارې لوستلو ارزي.

هو، دا کتاب د خپل ماهيت، شکل او مضمون له پلوه د ادبي رپوټ او منځنۍ کيسې مميزات او خصوصيات هم لري، مګر د جنايي ((ناول)) يو نوی شکل بولو، چې د ليکوال د نثر ليکنې په ځانګړي طرز او

(c) ketabton.com: The Digital Library



روش ليکل شوی دی. په دغه کتاب کې مهمه خبره داده چې ليکوال په خپله په پېښه کې دخيل دی او په پېښه شوې موضوع څرخي راڅرخي. دا کتاب له يوې خوا د پېښې د رښتينوالي او د ليکوال د رياليستيک ميتود له پلوه او له بلې خوا د کتاب د حجم له مخې د يو جنايي ((ناول)) څېره لري. په دغه اثر کې د يوه غمجن پلار د يوه پاك، معصوم، تعليميافته او ډاکتر زوی د تښتونې له غمونو ډکه کيسه، په رښتيني طرز بيان شوې ده. دا کتاب نه يوازې يو رياليستيك داستان دی، بلکې کټ مټ او ټکي پر ټکي، خپل ولس او ټولې نړۍ ته د يوې پاکې او بېګناه کورنۍ له افسوس او فرياد نه د نثر رباب جوړ شوی دی. په دې کتاب کې د ليکوال د فکر ژورتيا، د احساساتو تندي او د تښتونې او اختطاف حالت، د خواږه نثر په بڼه عکاسي شوی دی. زه دا کتاب په پښتو کې د بڼې، ماهيت او مضمون له پلوه، د سرخېلو کتابونو به لومړۍ ليکه کې شمېرم.

خبره داده چې ليکوال په خپل بې پروا او بې باکه قلم باندې، ددغې ځوروونکې پېښې تر ډېرې اندازې پورې يو بشپړه عکاسي کړې ده.

ليکوال خپل دماغ اوبه کړي، له خپل قلم نه يې ډيوه جوړه کړې ده او تاسې رڼا ته کېښولې ياست.

اوس تاسې ددغې رڼا په برکت، د جنګ د خونړۍ بلا د وړ وړليبو او بدمرغيو يو مخ او څټ کتلی شئ، دغه کرغېړن حالت زموږ په بې بندو باره ټولنه کې لااوس هم روان دی، دوام لري او پای ته نه دی رسېدلی.

ليکوال د کورنۍ جګړې په کلونو کې د کابل په ښار کې اوسېدلی او په دې ښار د جنګ داسې بدمرغې څپې راغلې دي چې د افغاني ټولنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تړول معيارونه او مقياسونه يې تر پښو لاندې کړي دي. دا پېښه دومره ځورونکې ده چې د يوه ډېرين انسان له سترګو نه هم اوښکې بهوي. موږ په دغه کتاب کې د جګړې له وژونکې او ځوروونکې بلا نه د ليکوال يوه ډېره حيرانوونکې بدبيني، کرکه او تېښته محسوسولای شو.

تاسې ځيء شئ، څومره سخت دی هغه حالت چې تښتونکي د زوی له پلاره پرېمانه پيسې غواړي او د زوی پلار يې نه لري او کله چې د هغه زوی په مرګ تهديدوي او د وژلو ګواښ ورته کوي، نو پلار يې په ځواب کې ورته وايي: ((زر زر يې حلال کړئ، چې درنه مردار نه شي!)) او يا کله چې د خپلې کورنۍ غړي، مېرمن، زوی او لورانې خپل مشر ته ژاړي او د زوی له پلار نه ډاډ او تسلي غواړي هغه په دغه جمله ډاډ ورکوي: ((تاسې خو ښه ياست، ماته وژاړئ، زه به چاته وژاړم؟))

د کابل ښار د خونړيو او بې وړه جنګونو دروازې هم زموږ د بېګناه هېوادوالو پر مخ بندې او تړلې ښکارېدې. ان دا خو لا څه کوې چې شينکي اسمان هم خپل مخ د جګړې د تورو لوګو په ښه لوی او ارت څادر باندې پټ کړی و. په يوه دغسې دردونکي حالت کې د ډاکتر احمد همدرد حسام تنکۍ اوښکې د پلار په ځيګر کې راجذب او غونډې شوې وې او همدغو اوښکو د ځمکې پر مخ د رڼو اوښکو يو داسې سيلاب جوړ کړی دی، چې د ډېرې په څېر سړي له سترګو هم اوښکې څڅوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دغه ((ناول)) کې هڅه شوې ده، چې ليکوال يو شمېر هغه عناصر بيان کړي کوم چې ده ته ددغې پېښې په دوران کې ډېر مهم ښکارېدل. دغه کرکټرونه خيالي او داستاني نه، بلکې رښتيني کرکټرونه دي.

د يوه ليکوال لپاره په ژوندانه کې د يادښتونو او خاطرو ليکل لوی صفت دی. د جنګ پېښې او حالات په کرونولوژيك سيستم ليکل، چې تاريخي تسلسل ولري، دا ډېر ارزښتناك قلمي کار دی او که بيا يو سړی دغه وړ غمچنه پېښه لکه د يو څو روپو په بدل کې يوه کورنۍ د غم په تغره کېنول، د يوې کورنۍ يو غړی تښتول، د کورنۍ له غړو او دوستانو بېلول، دا ټول بدمرغه حالت په خواږه نثر بيانول، بيا ډېر لوی کمال دی، ځکه موږ ته او بيا په ځانګړې توګه ليکوال ته دا نه ده لاړمه چې د جنګ په ورانيو باندې پټې سترګې تېر شو.

په دنيا کې هر څه خپل رواج لري، دا کتاب تاسې د جنګ د ناوړه پېښو له کرغېړن رواج او دود سره بلدوي. که څه هم په دغه کتاب کې يو منفي جريان تمثيل شوی او دا کرغېړن حالت په يوه ځوان او يا يوه کورنۍ باندې راغلی، مګر به هېڅ وجه د نورو هېوادوالو او لوستونکو لپاره له ګټې نه خالي نه دی. دا کتاب په ځانګړې توګه د بشر د حقوقو د ننګې او ملاتړ د مدعيانو لپاره هم ډېر زيات مهم او ددغې ليکل شوې موضوع په برخه کې ډېر مستند او په پياوړي دليل او منطق ولاړ نه انکار کېدونکي مواد لري.

که موږ ژور سوچ وکړو، د ليکوال احساس د يوه ختيځ پوه احساس ته ورته ښکاري چې خپل ناول د جنګ د ستونزو په ځينو مسايلو او د هغو په بدلون او تحول باندې ليکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه فکر کوم چې دا کتاب په پښتو کې د کابل ښار د جنګونو په دوران یو ډېر ښه لیکل شوی ((ناول)) دی چې ټول اثر په مستقله او خپلواکه توګه، د تښتونې او اختطاف پر موضوع باندې لیکل شوی دی. له دې امله د اثر لیکوال ته ددغه کتاب په لیکلو مبارکي ورکوم او د قلم، علم او ادب په ډګر کې یو په زړه پورې او نادر اثر ګڼم.

کور مو ودان

محمد نبي صلاحي

کابل- نوی ښار

۲/ ثور/ ۱۳۸۶ل کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سریزه

ځینې کسان د خپلو کتابونو او اثارو له وجې مشهور وي او خلك يې درناوی کوي او یو شمېر کسان د خپل شخصیت په سبب درونډ او منلی شخصیت وي.

خوشبختانه حاجي صاحب الحاج محمد حسن حسام هم ښه شاعر او لیکوال دی او که شاعر او لیکوال هم نه وای، د درنښت وړ به و. له نېکه مرغه دی د پښتو او پشه يي ژبو تکړه لیکوال او شاعر دی، تراوسه پورې يې اووه کتابونه چاپ شوي دي او دا يې اتم کتاب دی، چې اوس چاپېږي. په هغو غونډو کې چې د حاجي صاحب د بېلابېلو کتابونو د مخکتنې لپاره جوړې شوې وې، لیکوالو او ادبپوهانو هغه یو نوښتګر او نه ستړی کېدونکی شاعر بللی دی، دی په پشه يي ژبه کې د سپین شعر بنسټ اېښودونکی بلل شوی دی. په پښتو ژبه يې ښکلي کتابونه لیکلي دي او له یوه کتابه پرته چې د افغانستان د قلم ټولنې له خوا چاپ شوی دی، نور يې ټول په خپل ځاني لګښت چاپ کړي دي. دی د هغو کسانو له ډلې څخه دی چې مادیات تر معنویت جاروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حاجي صيب حسام د هغو شاعرانو له ډلې څخه دی، چې تل له شعر او ادب سره اوسي. هر څه ته په ژور نظر ګوري، شاوخوا اشياوو ته ژوره کتنه کوي او د شعر په ژبه يې راژباړي. دده خوبونه هم د عادي وګړو د خوبونو په څېر نه دي. خپل دغه خوبونه يې په شعرونو اړولي دي او په يوه کتاب کې يې خپاره کړي دي. الحاج محمد حسن حسام د افغان ادبي بهير او رشاد کره کتنې فعال غړی او د افغانستان د قلم ټولنې د مشرتابه پلاوي غړی دی. د رشاد کره کتنې او افغان ادبي بهير په اوونيزو بحثونو کې برخه اخلي خپله هم د ادبي ناستو او باندارونو مبتکر دی.

حاجي صاحب د هېواد په ادبي کړيو کې د يوه رسالتمند شاعر په توګه پېژندل شوی دی، خو دا ځل يې ناول ليکلی دی. ما دغه ناول له سره ترپايه ولوست. ناول د حاجي صاحب د سترګو ليدلی حال او درد دی. ناول له پيل څخه تلوسه لري او دا تلوسه تر پايه ساتل شوې ده. که لوستونکي يې لوستل پيل کړي، ډاډ لرم چې په ډېره تلوسه به يې ترپايه ولولی او دا د هر کتاب يوه کاميابي بللی شو.

دا ناول په حقيقت کې دوه برخې لري؛ چې هره برخه په زړه پورې ده. د ناول پېښې يو په بل پسې راځي، بې له دې چې اضافي خبرې په کې وي، د پېښو تسلسل ترپايه ساتل شوی دی.

ما د ناول د لوستلو په وخت کې په قلمي نسخه کې خپلې يادونې او مشورې محترم حاجي صاحب ته وليکلې، هيله ده په پام کې ونيول شي. په ناول کې د ځينو کسانو واقعي نومونه راغلي دي، کېدی شي يو شمېر کسان په ناولونو کې د واقعي نومونو پلويان نه وي، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



حاجي صاحب لکه څنګه چې په شعر کې ځانګړې طرز لري، په ناول کې يې هم خپل استقلال ساتلی دی. د ناول په ځينو ځايونو کې د ليکوال خپل احساس او قضاوت هم کله کله تر سترګو کېږي.

لکه داړه ماران، غله، جنايتکاران

او يا ډېر بد خلك او

چې دا ډول ستاينومونه هم تلوسه او هم د راوي بې طرفي زيانمنولای شي.

د ترخو او کرکجنو شېبو له يادولو څخه بايد درس واخلو او د مينې او صميميت لارې ولټوو.

که حاجي صيب همداسې په نه ستړي کېدونکې توګه خپلو ادبي فعاليتونو او ليکنو ته دوام ورکړي، په راتلونکي کې به که خدای(ج) کول دده د نورو ناولونو شاهدان واوسو.

حسام صاحب ته په دې لاره کې د لاڕياتو بريو لپاره د دعا لاس پورته کوم او تاسې ګران لوستونکي ددغه ناول لوستلو ته رابولم.

په مينه په درنښت

علم ګل سحر

وزير اکبرخان مېنه

لمر ټلوېزيون

۱۳۸۶/۱۲/۲۷ل کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د جګړې له ناخوالو نه

زما خيال دی هر څه چې د زړه له تل نه راوځي او وجه يې درد وي، که د شعر په ژبه و ياو که د نثر په ژبه، تر ټولو ښه اثر ګډل کېږي. په خوا به کله کله دا خبره کېدله چې ليکوال په سختو شرايطو کې ښه اثر بنځولی شي او په عادي شرايطو کې تربېنه د ښه اثر تمه نه شي کېدی. په دې خبره کې د کره کتونکو او څېړونکو ترمنځه اختلاف و، خو دا خبره بېخي د ردولو هم نه ده. شته داسې ليکوال چې د ژوند په سختو شرايطو کې يې ډېر ښه اثار ليکلي دي. يو له دغو ليکوالو نه حاجي صاحب حسام دی چې د کابل د تنظيمي جګړو په ناوړه شرايطو کې له تېرې سره مخامخ شوی او ځورېدلی دی. ده چې څه ليدلي، څه پرې تېر شوي او يا څه ورسهر شوي دي، هغه ټول يې په دغه ليکنه کې راخيستي دي. زما په خپال تر ټولو ښه مشاهده د ليکلو لپاره هغه ده چې سړی په خپله په حوادثو کې دخيل وي. ددې اثر ښېګڼه په دې کې ده چې ليکوال په خپله له پېښو سره مخامخ دی او په خپله يې ليکي. د بل چا روايت نه دی او نه کومه تخيلي کيسه ده. بس هغه څه چې پرې تېر شوي هماغه يې کټ مټ ليکلي دي.

حاجي صاحب حسام په دې ليکنه کې د خپل زوی د ورکېدو کيسه کوي چې د يوې ډلې له خوا نه تښتول کېږي او بيا دده سرګردانه لټون چې له کومو ستونزو او کړاوونو نه تېرېږي او په پای کې په دې بريالی

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېږي چې خپل زوی د مرګ له کومي روغ رمټ راباسي. په دې کيسه کې دده د کورنۍ غمجن حالت دده خپله بې وسي او د کابل د خلکو د ژوند مظلوم حالت تر سترګو کېږي. که د شکل له پلوه دې ليکنې ته وکتل شي، نو مشکله ده چې کوم نوم ورته وټاکل شي، لکه منځنۍ کيسه، ناول او که ګزارش؟ ځکه چې ددې دريواړو خصوصيات په کې شته. ددې ليکنې شکل کله کيسې ته پاتې کېږي، کله د ناول جوړښت نيسي او کله د ګزارش بڼه غوره کوي، خو ليکنه په زړه پورې او اغېزمنه ده. د بيان ژبه يې خوږه او روانه ده.

د ځينو حساسو شېبو ډېر ښکلی ترسيم کوی. کله کله په ځينو برخو کې ډيالوګونه هم راوي، خو ترپايه يې نه پالي. داستان دوې برخې لري چې يوه برخه يې د ليکوال خپله مشاهده ده او دی په خپله له پېښو سره لاس او ګرېوان دی. د داستان بله برخه دده د زوی سرګذشت دی چ ېد زوی له خوا نه يې روايت کوي. حسام صاحب د کيسې په بيان کې د خپلې سيمه ييزې لهجې لغات زيات استعمالوي چې کله کله يې ژبه نوره هم خوندوره کېږي او کله کله پرې پوهېدنه ګرانېږي. خو ددې ټولو خبرو ترڅنګه کله کله داسې خوږ نثر ليکي چې په لوستلو يې د سړي تنده ماتېږي. زه د نمونې لپاره دده د بيان يوه ټوټه دلته راوړم:

((د عالم په کرسۍ ناست و، د سولې او سلم نه وسله جنګ جګړې اخيستې وه. د ملا نه منبر شيطان قبضه کړی و، د معلم او شاګرد په ښوونځي قوماندان او د هغه برېڅو خېټه اچولې وه، د کاريګرو په فابريکو باندې په ګاونډيو ملکونو کې تودې سوداګانې روانې وې. په ډېره بيړه او چالاکۍ ددې ملك پوځي ماشينرۍ اره کېدې او په جګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



غاړه او ټيټو سترګو خرڅېدې. د ښکلو نه ښايست نقاب تر ګوتو کړی و، په ميکدو کې د رندانو پرځای ديوان ناست وو، د کوه قاف د ښاپېرو ښکلا د بنګال دوبيانو وينځله او د پنجاب جادوګرو منترونو او د عربو د دعاګانو په وجه په موږ باندې ښاماران نازل وو. دا څومره وږي ښامارن وو چې په هره يوه نيمه ورځ او ان په دقيقه او ثانيه کې به د دېرش، څلوېښت تنو په خوراك نه مړېدل.))

لکه مخکې چې ما ورته اشاره وکړه حسام صيب په دې ليکنه کې ځان د کوم فورمول لپاره نه مقيدوي، بلکې خپله کيسه کوي او خپل د ترخو ورځو سرګذشت بيانوي. په دې کيسه کې ده پېښو ته کوم خاص رنګ نه دی ورکړی او نه يې له کوم تخيل نه کار اخيستتی دی.

په دې ټوله ليکنه کې دده احساس په ډېره ښه توګه ځغلېدلی دی. نه يوازې د خپل زوی پر وړاندې، بلکې د کابل د ټولو اوسېدونکو په حال دردېږي. کله کله دا کيسه يو جاسوسي ناول ته هم پاتې کېږي، هغه وخت چې دی د خپل زوی په لټون پيل کوي او د مختلفو مشکوکو اشخاصو سره مخامخ کېږي، نو دلته په ډېر مهارت سره د هغوی سايکالوجي تر څېړنې لاندې نيسي، اشخاص او افراد ځان ته معلوموي او د هغوی په پاب له ځان سره قضاوت کوي، خو دا بايد هېره نه کړو چې به دې ټولو حوادثو کې دی ځان نه بايلي او صبر او حوصله له لاسه نه ورکوي. لنډه دا چې کيسه ډېره په زړه پورې ده د جګړې د کلونو يو عام تصوير او په خاصه توګه ددغو کلونو د يوې پېښې بيان دی. ښه خبره ده چې د جګړې د کلونو کيسې وليکل شي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



چاپ شي. همدا کيسي که د يوې خوا د کيسو د مينه والو تنده ماتوي، نو له بل پلوه د تاريخ ليکنې لپاره په زړه پورې مواد برابروي.

زه حاجي صاحب ته ددې اثر د چاپولو مبارکي وايم او هيله من يم چې دی به په خپلې دغې ځانګړې لارې کې نور اثار هم د ادب مينه والو ته وړاندې کړي. ځانګړې لار مې ځکه ياده کړه چې حاجي صاحب هم په شعر کې او هم په نثر کې ځانته لاره لري او زه فکر کوم که ده ته قيود وضع شي، نو له ليکنو به باتې شي.

زما هيله همدا ده چې کومه لاره يې نيولې ده، په همدې دې روان وي او شاته دې نه ګوري.

بريالی باجوړی

خيرخانه مېنه، کابل

۲۰۰۷/۶/۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لنډې خبرې

په شعر کې کله ناکله ګوتې وهم. زما شعر، شعر ته نه پاتې کېږي، کله رانه سپين شعر شي، کله يې رانه فورم خطا شي، يو بل څه ورنه جوړ شي، کله قافيه پيدا کړي، بيا وزن ورنه ورك شي، کله يې په شکل او محتوا کې راته دوه سوه شکه پيدا شي، خو په هر حال لګيا يم، لوړې ژورې ته راکاږم. په دري کې متل دی وايي: ((قطره قطره دريا ميشود)) دا څاڅکي کتابونه شول، د چاپ نه راووتل، اوس زما د شعرونو مجموعې د خلکو مخ ته پرتې دي. دا اوس د ولس مال دی، د ښه او بد د سم او ناسم شعر قضاوت د هغوی حق دی. هغوی چې پرې هر حکم کوي، د نظر خاوندان دي، حق لري.

دوستانو! ما په ناول کې کوم خاص لاس رسی نه درلود، خو زه چې کله د جګړو په کلونو کې د يوې پېښې سره مخامخ شوم او زما ځوان ځلمي زوی اختطاف شو، نو ماته يو څه ژوندي مواد ګوتو ته راغلل. په دې موادو مې هماغه مهال چې د ډېر فشار سره هم مخامخ وم، د هغه چا خبره ((ځمکه ډېره سخته وه او اسمان لرې)) کار وکړ. هر څه مې هو به هو په کومه شېبه او په کوم وخت کې چې به ورسره مخامخ شوم، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاغذ پرمخ به مې راوړل، ما په ناول کې هماغه نومونه راوړي وو چې د پېښې په وخت کې ورسره لاس او ګرېوان وم، هغه مهال امکانات ډېر محدود وو چې ددې ناول ځینې تخنیکي اړخونه لکه عکسونه، د نوار ثبت او یا نور مې تر ګوتو کړي وای. اختطاف کوونکي له مانه ډېر هوښیار او ځلاك وو او په ملاقاتونو او نورو مواقعو کې به يې پر ما ساحه دومره تنګه کړه چې زما به هېڅ ځای ته لاس ونه رسېده. زه د خپل زوی ژوند ته هم ډېر متوجه وم.

دا اثر مې په قلمي شکل کې ډېر وخت په دې امید وساته چې څه که خدای کول حق به په حقدار وسپارل شي او د هېواد جنګي جنایتکاران به محاکمو ته راښکودی شي، خو اوس چې ګورم په پښتو کې هغه متل دی چې وايي:

(ستا له خیراته زموږ توبه ده خو دا سپي دي کوري کړه) زموږ په ملك کې د فقیرانو او مظلومانو حقوق لا هماغسې تر پښو لاندې دي. زموږ د زړونو بړاسونه او ارمانونه په جنګي جنایت کارانو ونه وتل، همدغسې په زړونو کې مو پاتې شول.

عام ولس ته خو موږ لیکوالانو هېڅ ونه کړای شول، زموږ په ولس کې په هرو لسو تنو کې یو تن همداسې درد پړلای چې د هغوی د دردونو نه ناول او کیسه څّ چې نالونه او کیسې جوړېږي او کتابونه پرې ډکېږي. دا خو ډېره کماله نامردي ده چې په یوه لیکوال د یو څو غلو له خوا تېری کېږي او هغه بیا ورته غلی پاتې شي.

زما په اند او عقیده دا لویه ګناه ده. ددې ګناه د جبران لپاره لیکوال يې باید ولیکي، دې پسې دې نه ګرځي چې فورم يې څه دی، شکل به

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې خنګه وي. رپوټ به شي، ناول او که لنډه کيسه، ښه خبره داده چې ليکوال واقعيت وليکي او د هر قسم تهمت، بهتان، افتراح او افتزاح څخه ځان وساتي او که دا عناصر د ليکوال په ليکلو کې شامل شول، بيا د ليکوال او د غله توپير په څه شو؟ تر څو به مو خولو ته قلفونه پراته وي، تپوس والاخو هسې هم نه شته، په دې ملك کې هر څوك په خپله خپل ځان شي ښنلی، نو ما هم توکل وك او خپل ځان مې په خپله وباښه او کتاب مې د چاپ لپاره وړاندې کړ.

په دې کتاب کې ماته دوستانو يو لړ مشورې او سپارښتنې وکړې، د کرکټرونو اصلي نومونو ته مې ورته نومونه بيامونډل. د هغه چا چې دې خلکو سره سروکار دی، بې له کوم مشکله دا خلك پېژندلای شي. په ناول کې مې وخت او مکان ته تغيير او بدلون ور نه کړ. غله او داړه مار ته مې هم معادله کليمه پيدا نه کړای شوه، ولې چې؟! غل، غل دی نو...

ستاسې دوست

الحاج محمد حسن حسام

کابل- افغانستان

درېيم پروان

۱۳۸۶/۳/۲۳ل کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ۱۳۷۳ل کال د وري ۶مه نېټه وه، زما په ژوند کې ترخه او بدمرغه ورځ، چې دغه ورځ مې لاتراوسه بده راځي، د جګړې سختې شېبې وې، کورنيو ډوډۍ غوښته او جنګ جګړو مړي!

د کور نارينه وو بايد د وينو په بدل کې کار کړی وای او نفقه يې پيدا کړې وای زما دوه زامن هر يو:

ذبيح الله جان چې هغه مهال د نهو او يا لسو کلونو به وو او بل ډاکتر احمدجان چې هغه وخت د کابل د طب انستيتيوت د درېيم کال محصل و، خو له بده مرغه جنګ جګړو ورته انستيتيوت پارچاو[۲] کړی و. د هغې علمي زانګو د زنګولو لپاره استاد او محصل څه چې مرغۍ پرې هم پر[۳] نه شو وهلی. د جګړې اور ورته وزرونه سېزل او د کابل پوهنتون په ټوله ساحه او چاپېريال کې يو څو شعارونه تر سترګو کېدل.

((يك ثانيه غفلت صد سال جواليگری)) او يا ((جنگ هنر ما است)).

د پورته نېټې دا مهال اته بجې وې، په کور کې مو د چايو په سر فيصله وکړه چې زه به مارکېټ ته ولاړ شم او تاسې دواړه ورونه به درملتون ته چې په کلوله پشته کې و، ولاړ شئ. په نصيحت مې ورته وويل:

---

[۲] د يو وخت لپاره تړل
[۳] الوتل، پرواز

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګورئ چې له درملتون نه ونه وځئ، چې توغندي راځي!! په همدې خبرو خبرو کې له کوره ووتم، د کوڅې په جنوب اړخ کې مې يو جيپ موټر تر سترګو شو، د کوڅې په کوزه برخه کې ولاړ و، په شيشو يې ښه ډېر تور فلمونه تېل شوي وو، داسې جيپ موټر به چې په هغه وخت کې چا ليده، نو لار به يې ورځخه بچوله[۴]، ما له وېرې خپله لار هم بدله کړه. پلې مارکېټ ته ورسېدم. ډېر وخت لا نه و تېر چې کوچنی زوی مې ذبيح الله جان چې له ژړا يې سترګې سرې وې، ترځنګ ودرېد وارخطا شوم او ورته ومې ويل:

زويه! ژر ژر يې راته وايه چې څه پېښ شوي؟

ذبيح الله جان:

((پلاره! ورور يې راته په وهلو ټکولو بوت، له څلوېښت متره سړك څخه يې د تورو ښيښو جيپ ته پورته کړ.))

ورور دې چا بوت؟!

((پلاره! نور يې نه پېژنم، ږيرې يې ډېرې اوږدې وې او ان تر نامه غوټۍ پورې رسېدې، ځټونه يې ببر، پرتوګونه يې بدوهلي او کميسونه يې د پښو تر ښنګرو[۵] پورې رسېدل، د چا جګې قره قلۍ او د چا پکولونه په سر وو. يو نيم لا پکې ګوبيچې[۶] هم اغوستې وې. پنځه شپږ کسه به وو، په مټ قوي خلك وو، زما د ورور زور نه ورسره رسېده.))

---

۴- ګوښه کول، ځان يا بل په ډډه کول

۵- په پښتو کې انسان ته تر بجلکو پورې او حيوان ته تر نوکانو پورې کارول کېږي.

۶- دا مخصوص لباس دی چې زموږ د هېواد ازبک ورونه يې د ژمي په موسم کې اغوندي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ذبیح الله ددې خبرو په اورېدو په بیړه کور ته راستون شوم. په کور کې د ډاکتر مور بې هوشه وه، لوڼو مې په چیغو، چیغو ژړل. د شاوخوا ګاونډیان په کور کې راټول شوي وو. ((چا راته ویل مه وارخطا کېږه، نه یې وژني، ژر به یې پرېږدي، چا به ویل چې ډاکتر یې د پیسو لپاره تښتولی، چا به ویل چې نه والله دا ډېر خطرناك خلك دي. د چا زامن یې چې بیولي، هغه بېرته ژوندي نه دي راغلي، مړي یې د کور په مخکې ورته اچولي. یو څو نورو به د خیر غوښتنه کوله، د چا د خولې نه به وختل چې څه اوس درته پېښه شوه، د پېښې نه تېښته نه شته. یو نیم به لا په کې غږ کړل چې حکومت ته ورشه، بل به په کې غشی راښکوده حکومت شته ګنې؟!

که حکومت وای نو ډاکتر به یې ولې تښتاوه، ورور جانه! حکومت مکمت[۷] نه شته، په خوله دې لاس کېده، ځان دې غلی کړه. که درباندې خبر شول چې حوزې او یا بل کوم ځای ته تللی یې، په والله چې زوی به دې بیا په سترګو ونه ګورې. زوی به دې له تانه تېر کاندي او تا به له زویه!))

چا به کښته دموله او چا به پورته، خو زما په زړه پراټې پخېدې.

ما له هر څه نه لومړی د خپل درملتون قلفونه بدل کړل. نور ټول کارونه مې یو اړخ ته کړل. یوازې به مې د درملتون پرانیستو ته ډېر پام و. زه په دې پوهېدم چې د زوی پټه به مې د درملتون له لارې مومم او همداسې هم وشول. زه په درملتون کې د درملو په رانیولو او خرڅولو نه پوهېدم. ځکه درملتون خپل مسلکي سړی غوښت، خو ما درملتون د

[۷]- مهمله کلیمه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل زوی د موندلو لپاره د سهار نه تر ماښامه پرانیستی ساته هسې به په کې د فکرونو په دریابونو کې ډوب ناست وم، په ډېره لږه موده کې مې خپل وزن وبایله ډېر ډنگر او خوار شوم.

زما د زوی د اختطاف درېیمه ورځ وه. مازیگر مهال و چې زما د دفتر یو پخوانی ملگری (سادو) چې زما د درملتون تر شا یې کور و، د درملتون و مخ ته یو دوه واره تېر و بېر شو او د سترگو د لاندې یې درملتون ته وکتل، لږه شېبه وروسته درملتون ته ننوت. د معمولي روغبړ نه وروسته یې د ډاکتر تپوس رانه وکړ، ((چې ډاکتر جان چېرته دی؟))

ما ورته وویل:

ډاکتر مې ننگرهار ته لېږلی دی، موسکی شو او یو څه تابلیت یې رانه واخیستل، مگر دده د سترگو لاندې کتو او موسکي کېدو په وجه زه یو څه شکمن غوندې شوم، ولې چې دی په نورو ورځو کې کله چې به درملتون ته راته، کوم داسې په خاص اکټ باندې یې نه وم پوه شوی، په لسو ورځو کې به یې یو ځل درملتون ته سر راښکاره کاوه، زه ددې سرې په هکله یو څه ویښ شوم او زړه مې راته وویل چې (سادو[۸]) به د مشکوکو کسانو په اول کتار کې ونیسې. (سادو) له ما سره په ۱۳۶۰ لسیزه کې د هغه وخت د دولت د اداري په یوه څانگه کې کار کاه. زما کور یې پېژانده او زما د شخصي ژوند ځینې اقتصادي اړخونه لکه درملتون، یو تېز رفتار کرولا موټر چې زه به په کې گرځېدم، ورته معلوم و.

[۸]- د امیر عبدالرحمن خان په وخت کې د یو غله نوم و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ان زما په تېز رفتار موټر باندې دده په واده کې ګل وهل شوی و او دده ناوې يې د (لعلو) په ډرېورۍ لېږدولې وه. زه څو ورځې وروسته دده د واده مبارکۍ ته هم ورغلی وم، زه نور نه پوهېدم چې ده د چا خور لور واده کړې او د چا سره يې خپلوي کړې وه. ما يوازې او يوازې خپل همکار پېژنده او بس.

د کار په ځای کې مې له ده سره ښه سلوك کاوه، زما له خوا ده ته هېڅ ډول ضرر نه و رسېدلی، ان د نورو همکارانو په پرتله مې له ده سره ډېره مينه ښودله او دی به مې کار ته ډېر هڅاوه هغه شپې او هغه مرحله نوره تېره وه، کابل نور هغه پخوانی کابل نه و، کابل د تنظيمي جنګونو په منګولو کې پرېوتی و، هره خوا د راکټونو او ټانکونو غرهار وو، د جنګ جګړې کارغان او لېوان د افغانانو د وينو په څښلو او د غوښو په خوړلو ماړه وو او له ډېر مړښت نه ارت[9]، ارت ګرځېدل. خو افغان انسان داسې وږی و چې د لوږې يې له خولې نور سونګ[10] نه شو ايستلی.

زما د زوی ډاکټر احمدجان د اختطاف په شپږمه او اوومه ورځ د ماسپښين له خوا د دربيم پروان نه چې هلته مې کور و، د کلوله پشتې په لوري درملتون د پرانيستو لپاره د فکرونو او سوچونو په ټال کې ځنګېدلی روان وم. کله چې د کلوله پشتې پخواني تمځي[11] او څلور لارې ته ورسېدم. په نابېره ډول (سادو) د لارې په اوږدو کې راسره

---

[9] - پراخ.
[10] - غير مخصوص اواز او فرياد.
[11] - د موټرو د ودرېدو ځای (اسيتګاه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملګری شو، د سترړې مشي خوار مشي څخه وروسته مو په خبرو پیل وکړ. ما ورته وویل:

سادو جان!

((کجا رفته بودی))؟!

ده په ځواب کې راته وویل: ((خانه خسرم)) خبره یې وغزوله:

مدیرصاحب!

((اوس خو مې خسر د نظار شورا او د مجاهدینو ښه لوی قوماندان دی، تکړه عسکر لري، د هېچا نه یې سترګه نه سوزي، په خپل کار او پوځي عملیاتو کې ډېر ماهر دی.

د امنیت او داخلې وزیر صاحبانو سره له نږدې پېژني، دده دویمه ماندینه د پنجشېر ده او حتی چې د امنیت د وزیر صاحب له کورنۍ څخه ده. نن یې د نظار شورا جګ پوړي قوماندانان مېلمانه وو، ما یې کور ته چې په تایمنیو کې دی، سود سودا وړې وه.))

دلته (سادو) راته خپل خسر په ډېر مهارت راوپېژانده، نو زما شك یې لاپسې زیات کړ.

ده زیاته کړه.

((تاخو به هغه د کادر و پرسونل کارمند (دادو)، هزاره پېژانده هغه هزاره))؟

هوکې په هغه څه شوي دي؟!

له ماڅخه یې بیا خبره ونیوله او راغبرګه یې کړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



((د هغـه ورور چاتښـتولی و، بيـا نـو زمـا د خسـر سـره دې خـدای ښـه وكړي، زه يې ورتـه واسـطه كـړم، ډېـر ورپسـې ښـكته پورتـه وګرځېـده د ډېر لالهندۍ او سرګردانۍ نـه وروسـته د اسـلامي حزب د ګروپونـو سـره يې بيـاموند او د پيسـو پـه بـدل كـې د يرغمـل نيونكـو څخـه يـې خـلاص كړ.)) دادی حسنه، چې د نر زوی هم په مېخ وهي او هم په نال.

(سادو)[11] راته د (ددادو) هزاره بـل سـګنال هـم راكـړ. ده د درملتـون پـه مخكې رانه مخه ښه واخيستـه، ما د قلفونو كليانې راويستې، دواخانه مې پرانيسته، كېناستم او د (سادو) خبرې مې د ځان سره وڅېړلې.

په زړه كې مې وويل:

ته صبر كوه، كه په نږدې ورځ دوو كې (دادو) هزاره ماتـه د لارې پـه سـر، دواخانه او يا په بل كوم ځای كې ګوډ[12] پـه چنـه شـو، نـو يقـين بـه مـې ببخي خاص او نګه شی چې د زوی په اختطاف كې مـې د (سـادو) پـوره پوره لاس دی.

په دې ورځو كې مې فكر ډېر خراب و، نږدې وم چې لېونی شم. ځان مې ډېر نيمګړی احساساوه په كور كې مې خوراك او څښاك نه كېده، زموږ د كور يو ډېر نازولی او نازنين غړی ورك و، كله چې به كور ته راستون شوم د كور ټول لـوی او واړه بـه رانـه راچاپېر شـول او كلـك بـه راسـره ونښتل چې ګوندې پلار به مو د ورور پـه هكلـه كومـه نـوې خبـره راوړې وي.

[11] (۲) دا د امير عبدالرحمن خان په وخت كې دوه غله وو، كله چې په شينوارو كې ونيول شول، د كابل په بت خاک كې په پنجرو كې ځوړند كړی شول او همدلته په پنجرو كې يې ساه وخته.
[12] دا اصطلاح اكثره وخت كليوال پښتانه په هغه وخت كې استعمالوي چې يو څوک د چا په تعقيب كې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې ورځو کې زما د کورنۍ د غړو خوراك خپلې اوښکې وې، شپه او ورځ به مې په کور کې ژړا او انګولا وه، څوك به په زيارتونو ګرځېدل، چا به د بډګر[۱۳] (رمل انداز) پسې منډه واخيستته د نزرانو د ورکړې خو حساب او کتتاب معلوم نه و، د کور يو تن به مو د جګړې په هغو سختو شېبو کې هره ورځ د شاه دو شمشېره ولي د زيارت کوترې د غنمو په دانو مړولې.

د ډاکتر مور به زمونږ د يو نېك او خوشبرخورده ګاونډي په ښځه هره غرمه او ماښام درې څلور تنوره ډوډۍ پخولې، د لارې په سر به يې په خپله د حلوا سره خيراتولې، هر لاروي او مسکين به د ډاکتر مور ته ويل: ((مادر مراد دلت حاصل شود، خيراتت قبول ګردد.)) او داسې نورې ډېرې دعاګانې...

يوه ورځ وروسته مې کتل چې هغه د کادرو پرسونل مامور (دادو) هزاره درملتون ته راغی، د پخوا نه د جوړې شوې لوبې لپاره يې يوه جعلي نسخه لاس کې نيولې وه. دی په تايمنيو کې اوسېده. هلته څومره ډېرې دواخانې دي، خو دلته دوی راته پرون د لارې په سر يو غير مستقيم مقصد ټاکلی و چې د يو ځل لپاره (دادو) زما دوکان ته راشي او جعلي صحنې د ((ورور د اختطاف په هکله ورنه پوښتنې او ګروېږنې وکړم.)) حال دا چې دده ورونه و اختطاف شوی. دا يوه جوړه او غوټه شوې خبره وه چې ماته په بل ډول کې د (سادو) خسر سردار (کوټه) راوپېژني.

ماله (دادو) څخه تپوس وکړ چې په دې نږدې ورځو؟! کې کومه واقعه خو به درته نه وه پېښه شوې (دادو) راته وويل: هو!

---

(۱۳) پيشين ګو- يا پيش ګوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه نو کیسه وکړه چې څه و؟!

(دادو) د خپل ورور د اختطاف کیسه په جعلي له ځانه جوړ شوي شکل کې تېره کړه او د هرې خبرې په کوزه او بره کې یې د (سادو) خسر سردار (کوټه) مېړانه او باتوري ښکاره کوله او ځلوله یې راته او ویل یې:

((که دا سړی نه وای، نو خدای خبر چې د ورور غوښې به مې کارغانو او لېوانو چېرته خوړې!!))

دا بل فاکت او حدس و چې دې شیطانانو او (...) ماته په لاس راکړ، خو دومره مې (دادو) ته وویل، که سبا او یا بله ورځ دې (سادو) په دفتر کې ولېد، یو ځل یې ماته راولېږه.

(دادو) رانه رخصت شو، ما د سردار (کوټه) د اهلیت او شخصیت په هکله تجسس او پلټنه پیل کړه. د هغې ورځې په سبا اول وخت و، چې تیاره کوردینه او غوټه شوې خبره وه، ړوند له خدایه څه غواړي؟ دوه سترګې.

(سادو) خو ما او زما ځواب ته په دوو پښو ناست و چې، کله به زما له خولې نه زما د زوی د اختطاف خبره ووځي د (سادو) او (دادو) خوله پخوا نه خبره سره یوه وه. (سادو) راته په دواخانه کې نېغ ملاتړلې د بې زره مزدور په څېر ودرېد. ((مدیر صاحب!

کدام خدمت بود))

((امر کوئ پرون مو د (دادو) په لاس کې ځواب رالېږلی و، څه خدمت شته که څنګه؟!))

(c) ketabton.com: The Digital Library



هوکې شته، یو څه شته، نه پوهېږم چې درته وې ویې وایم او که نه خو بیا هم ما ورته په لنډو څو ټکو کې د ډاکتر د اختطاف کیسه وکړه او ده راته د خپل خسر (کوټه) امکانات ټول تشریح کړل چې توبه! ((دده پېژندګلوي په کابل زمین کې جوك[1] نه لري او بیا ستا په کار کې! خو د هر څه سره سره بیا هم خسر مې بېګاه ته زموږ کره راځي، زه به ورسره خبره شریکه کړم. بیا به نو تاته احوال درکړم، چې څه کولای شي؟))

سبا سهار چې مې کله دواخانه پرانیسته، (سادو) د دواخانې په منځ کې راته ودرېد او ویې ویل: ((بېګاه خو مې خسر زموږ کور ته راغلی و. د ډاکتر د اختطاف خبره مې ورسره شریکه کړه، خو نن د غرمې نه وروسته یې (۳۱۵) نمبر لوا چې د خیرخانې په هزاره بغل کې ده، غوښتې یې هلته به یوځای ولاړ شو.)) ما ورته ښه کړل خو له بلې خوا د سردار (کوټه) د اهلیت په هکله مې پلټنې چُستې کړې او یوازینۍ هیله مې همدا وه چې زه اوس داسې څوك پیداکړم چې د سردار په هلکه معلومات راکړي، خو په دې لنډ او تنګ وخت کې مې هېڅ ونه کړای شول.

ماسپښین شو، (سادو) له کوره راغی او په ټکسي موټر کې (۳۱۵) نمبر لوا ته ورسېدو. دا نو د (۱۳۷۳ل) کال د حمل اتلسمه ورځ ده، مه کوه چې په دې نېټه په کابل کې داسې واوره اوري چې ښی او چپ لاس سره نه پېژندل کېږي. څادرونه مو په ځان کوډۍ کړل، د لوا انګړ ته ننوتو، د اوږده دهلېز دواړو خواوو ته ماتې چوکۍ او ښې ډېرې د

---

[1] ساری عوض.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوسپنو تهوتهې پرتې وې، د دهلېز په اخر کې په کيڼ لاس يو لوی د کنفرانسونو وران ويجاړ تالار ته ننوتو چې ددې تالار ټوله اثاثيه د قنديل او شيټ نه نيولې، تر ستېج او چوکيو پورې په ډېر زور او شور نړول شوي وو. دېوالونه يې د ګوليو او توغنديو په پارچو سوري، سوري وو. له ځانه سره مې وويل: تالار به په خپل وخت کې څومره ښکلی و.

خو اوس ړنګ بنګ پروت و، د تالار په بره څنډه کې يو څو تنه په مات ګوډ پوځي يونيفورم کې د غلو په څېر راښکاره شول هلته يو شاتوری مېز او يو څو ماتې، ورانې ويجاړې کرسۍ پرتې وې او دا خلک پرې هم وران ويجاړ ناست وو، لکه چې په اشر غونډ شوي وو. په مات مېز يوه د پيکا ماشينداره هسې د تظاهر لپاره پرې نصب وه. دوه، درې زاړه او سولېدلي کلاشينکوفونه د تالار په بر کنج کې ډېر بې قدره پراته وو.

دا (کوټه) سردار د خپلو داړه مارانو سره د تالار په بله پېڅکه کې ناست وو، ددې لپاره چې اوس نو ماته ځان قوماندان راوپېژني، ولې چې په دې شپو ورځو کې د قوماندان باب و او بازار يې ډېر تود و، هر چا چې به يو يا دوه کلاشينکوفونه درلودل، هغه قوماندان و، د خپلې ډلې ټپلې سره يو څه و، د وخت بې تخته او بې تاجه پاچا و، خبرې ورسره نه په پسته ژبه کېدې او نه په ځيږه، په کابل کې هر څوک قوماندان و او سپاهيان ورک وو!

موږ دې سردار ته نږدې شو، له روغبړ څخه وروسته ځينو لغړو مړ ته لغړې او کړوپې چوکۍ پرېښودې، پرې کېناستو، د يو څه ځنډ څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته (سادو) خپل خسر سردار (کوټه) ماته راوپېژنده او ورزياته يې کړه دا نور يې چې په اشر غوښتي وو، ((چريکان يې دي.)) ...!! (سادو) په جعلي او ساختګي ډول په ډېر احترام ځوړند سر د (کوټه) سردار مخې ته ودرېد او زه يې ورته داسې معرفي کړم.

دا مدير صاحب!

بېچاره چې اوس دلته هېڅوك نه لري، ښه سړی دی! يو وخت کې موږ سره يې کار کاوه.

بېګاه مې دده د زوی د اختطاف په هکله تاسره خبره شريکه کړه، دادی مدير صاحب مې د تا پورې راورساوه، زه ببرته کور ته ځم، له ده سره دې خپلې خبرې مبرې وکړه.)) سردار داسې وښوده چې پسيشا (غياب) کې خو دی (مدير صاحب) ښه پېژنم، اوس چې خدای(ج) په ګوتو کې راکړې، نو دلته خو خبرې نه شو کولای، د مدير صاحب کور ته به ولاړ شو هلته به خبرې وکړو او ده سره به دا غم شريك کړو.))

سردار صاحب زما د غم شريکۍ په غم کې نه و، سردار صاحب زما وزن کوت چې د مدير نه څومره بودولی شم. ده زما ژوند له نږدې نه معلوماوه چې څومره خوله پرې لګولی شم او د وخت په اصطلاح په کابل کې د (کوټه) په څېر قوماندانانو به ويل ((ونډه‌م خورد)). (!!!)

او د مدير صاحب نه د خپل پلار او نيکه شتمني په کوم چل و فريب اخيستی شم. سردار خپل کار کړی و او ((ونډه‌م خورد)) شوی و.

دا خو د سردار اضافي معلومات و چې ځانته يې غونډول او په ما يې ځان قدرمناوه (کوټه) خپل په اصطلاح (چريکان) د ځان نه مخکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



رخصت کړل، ورپسې مور درېواړه د جو، جو او ټوټې ، ټوټې تالار نه ووتو. د (۳۱۵) لوا دوره مخکې په ټکسي کې کېناستو، په لاره کې مې سردار صاحب ته وويل: سردار صاحب!

زمور په کور کې مړی نه شته، خو ژړا يې شته، مور بخارۍ ګانې او د تودوخې نور وسايل ايستته کړي، د کور خونې مو ډېرې سړې دي، خير دی تاسې د خپل زوم کره تشريف يوسئ، ستاسې قدر به انشاالله ان هلته وشي (سادو) ته مې د هغه وخت يو لك څه زياتو کم افغانۍ په پرده کې ورکړې چې خپل خسر په خپل کور کې ونازوي.

ما چې کله د سردار (کوټه) خبرې کنټرول او دی مې د سايکالوجۍ په لحاظ وڅېړه، ماته ډېر يو بد ، اوباش، قمارباز، توطيه غوښتونکی او لاوبالي سړی رامعلوم شو.

د شپې او د ورځې له پلوه به ې خوب او خواړه چېرته وو؟ اشتها مې ورکه وه، سګرېټ به مې دم په دم لګول او راښکودل، سينه يې راته تخته کړې وه. د غذا نه مې بد راتلل، د شنو چايو په ښنلو مې خوله ځو وارې پُلۍ شوه، دوستانو به مې تسکين راکاوه او ډېر به راباندې خفه وو، ځينې ځينې به راسره په شپو پاتې شول چې غم مې غلط کاندي، خو ما په خپل ژوند کې همدا يو زوی روزلی و، زما او د مور يې همدا ډاکتر يوازينۍ هيله او اميد و، چې دده نه به که خدای کول يو څه جوړ شي او دده د سيوري لاندې به کېنو او دده له مېوو څخه به مور او زمور وطنوال پوره پوره ګټه اوچته کاندي.

کله چې درېيم پروان ځلور لارې ته ورسېدو، زه له ټکسي څخه کښته شوم او دوی مې رخصت کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کور ته راغلم، په کور کې مې ټوله کيسه وکړه، مصلحت په دې شو چې موټر د يو همسايه کره ودروم او د سالون فرش مرش سره راټول کړو او د دواخانې قيمتي دواګانې د الماريو څخه وباسم، پناه يې کړم. اوس نو خپل شته راپورې اور شول. بايد سردار (کوټه) ته ځان غريب او بېوزلی وښيم.

د سبا ورځې د لسو بجو په شاوخوا کې (سادو) راپسې راغی، تر څو د دوی په کور کې دده د خسر سره لومړۍ خبرې وکړو.

زه (سادو) کور ته رهنمايي کړم په سالون کې (کوټه) سره د اړې بړې او روغبړ نه وروسته کېناستم ماته يې مخ کړ چې: ((مدير صاحب!

څه فکر کوئ، ستاسې زوی به يې په کومه ډډه وړی وي؟))

ما لنډ ورته وويل:

شمالي ته

نو... سردار راته وويل:

((که ډاکتر يې شمالي ته وړی وي، خو نو هېڅ غم مه کوه، دا خو به ډېره ښه خبره وي، زموږ کار به ډېر اسانه شي. د قره باغ خان زوی پرون شپه ما سره دلته مېلمه و، د ګذر خان، تاج اله خان، قوچي خان او داسې نور په سلګونو قوماندانانو سره له نږدې نه شناخت لرم. د جهاد په وخت کې دوی زما د يو سنګر او مورچل ملګري دي.))

ای های جهاده! ته خو داسې اوباشانو او قماربازانو زموږ خلکو او نړۍ ته يې (... کړې). د ((لارې خرچه مرچه برابروه، شابه ته خو پوه سړی يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما تګ ځانته هم چېرته نه کېږي، څلور پنځه چریکه خو د هر وخت لپاره راسره وي، په جیب دې لاس راکاږه چې ناوخته کېږي.»
مجبوریت ب شی دی، د وخت څلور پنځه لکه افغانۍ مې ورته ونیولې.

دادي سردار صاحب!

خدای پاك مو په ډکه منګول له شمالي څخه راستانه کړه، خدای پاك دې زما د اولادونو عرض واخلي، خدای پاك دې زما زوی پیداکړي، زما د زوی د پیداکېدو افتخار دې خدای پاك ستاسې په نصیب کړي او داسې نورې ډېرې دعاګانې مې سردار (کوټه) صاحب ته له خولې وایستې.

ما غریب سره نور څه و، د ډاکټر یو قطعه عکس یې هم هسې د تش نامه لپاره راڅخه واخیست.

سردار (کوټه) هوکې! دې ناچله سردار چې کله جیب خرڅ جیب ته کړ، نو ډېر خوشاله او موسکی شانته شو بیا یې راته وویل:

«د ډنډ شمال ځمکه به چاڼ کړم، غلبېل به یې کړم او ستا زوی به د نقرې په څېر له شګو څخه راوباسم، مې فهمي مديء! مرا مردم (کوټه) میګن از رېګ روغن میکشم!»

ته پوهېږې (کوټه) په دې ورځ ډېر څه وویل، ډېرې غوړې خبرې یې راته وکړې، شنه او سره یې راته ډېر وښودل، اسمان یې قوي، قوي په توقو وویشت او د وریځو نه یې راته ښه غټ غټ اوښان جوړ کړل او ښې باتې یې وویشتې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه خو لا ان په هماغه د حمل په ۶مه نېټه دده په دام کې کېوتی وم، زما زوی دده او (سادو) په دلالۍ تېښتول شوی و. په زړه کې مې وویل، توکل په خدای په قوي دېره مارانو او قماربازانو واوښتم، خو بیا هم د سردار د پېژندګلوۍ په لټه کې وم یو چا راته وویل، هغه پورې انجنیر د قرغې دی انجنیر مې د چایو د څښلو په پلمه درملتون ته راوباله، انجنیر زما بلنه په پراخ تندي ومنله. په خبرو کې مې ورته ډېره خوشامندي کوله، کله به مې یو قسم چاکلیټ او کله به مې بل قسم ممیز وروړاندې کړل، خبرو مو دوام پیداکړ. د قرغې د آب او هوا، مېله ځایونو، باغونو، ځمکو د کارېز او چینې حتی د پخوانیو خلکو او بیا د حضرت صاحب د کور او قصر په هکله چې په قرغه کې لري، خبرې مو کولې. په قرغه کې د پخوانیو مخورو سردارانو خبره پورته شوه، نو زه په دې مهال ورو ورو خپل هدف ته نږدې کېدم، انجنیر صاحب زیاته کړه. ((د قرغې ټولې ځمکې چې اوس ګورې، دا د سردار پاینده محمدخان ځځکې وې او بیا دده نه وروسته سلطان محمد خان (طلایي) ته پاتې شوې، خو دې اوسنیو سردارانو ورته ښکرونه اړم کړل، د خپلو پلرونو هډوکي یې کله په دولت او کله په عامو خلکو څو څو وارې خرڅ کړل او دوی خدای پاك ماړه نه کړل.))

ما د انجنیر صاحب نه تپوس وکړ چې ددې سردارانو نه به اوس څوك پاتې وي که نه؟!

انجنیر راته وویل:

((دلته یو، دوه درې شته یو یې د سردار دوپه په نوم او بل یې د سردار کوټه په نوم خو اصلي نومونه یې بل څه دي. کوم چې په سردار کوټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشهور دی، سخت قمار باز سړی دی، ټوله ورځ په قمار لګیا وي، غلاوې کوي او شوکماري یې اوس پېشه ګرځېدلې، خو حرامي د یوې ځوانۍ نښه هم لري، ښه ډوډۍ مار او یو پر خرابات او کاکه دی.

ما د انجنیر صاحب نه خپل مقصد تر ګوتو کړ، زه اوس نور د (کوټه) په مشخصاتو پوره، پوره پوه شوم. زما ټول ګومانونه او د خوبونو تعبیرونه ورځ په ورځ سم راوتل.

(کوټه) په دریم مازیګر د (سادو) په لاس ځواب راولېږه چې ته یوځل د (سادو) دوی کور ته راشه، د (سادو) کور اوس زموږ په ملاقات خانه بدل شو، زه ورغلم، په لاره کې مې د ځانه سره وویل: په والله که (کوټه) له کوره هم خوځېدلی وي، د (سادو) له جوسې نه داسې معلومېده چې ډاکتر په شمالي کې نه شته، زه د دوی په سالون کې کېناستم، سردار د جاینماز سره سالون ته ننوت، د لنډ روغبړ نه وروسته په لمانځه ودرېد ، د مازیګر لمونځ یې وکړ، ډېرې دعاګانې او زارۍ یې خدای پاك ته وکړې، بیا پاڅېده او زما ترڅنګ کېناست په غریو نیولې په ټیټ اواز په قوي تاثر په ډېر مکر او فرېب په ژړغوني څېره او نیولې ښه یې راته وویل:

((متاسف یم او ډېر خفه یم، ستاسې ارجمند مې په ډنډ شمالي کې بیا نه موند. د شمالي ټول قوماندانان یې راته بیا راپره کړل، زه نه پوهېږم چې دې سردار دا د قوماندانانو نومونه چېرته زده کړي وو، خو بالاخره ما سردار ته وویل:

سردار صاحب!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستاسې دې هر قدم د ايمان په تله کې پرېوځي، ستا نيت، ديانت او ښه تقوا ماته ثابته شوه، ته ډېر نېك، زړه سواندی، زهير او مسلمان سړی يې...(!!!)

زما برخليك به همدا شان و، خير دی خدای(ج) مهربانه پاچا دی، زوی به مې خدای(ج) پيداکړي، مه خفه کېږه. زه به خپل خالق ته صبر کوم، خو زما او ستا همدا اخرنی ملاقات و، زه به په بل ځای کې سر او تندی ووهم، که ګونډې زوی مې پيداشي. د اخرني ملاقات په کليمه سردار صاحب ډېر وارخطا شو، ويې ويل:

((نه، نه مدير صاحب!

ملاقات اخرنی کوه مه.

زه ستا په زوی پسې ګرځم دا زما عندالله او عندالرسول وظيفه ده.))

ما ورته په غوصه او رډبډه وويل: زما په زوی پسې مه ګرځه، سردار صاحب زه چې په زوی پسې مې نه ګرځم، نو ته څه مجبوريت لرې.؟!

سردار صاحب!

د خپلې (مور نه ميره مهربانه نه وي) په دې خبره سردار لږ څه سست شو. سردار خو په يوه غشي دوه مرغۍ ويشتلې وې، په يوه لومه کې يې موږ دوه (پلار او زوی) نيولي وو. زما نيت و چې زه ورنه ځان خلاصوم، پاتې شو زوی مې بيا به يې ګزوو، سره.

خو سردار د سترګو په اشاره کې په زوم يې چای راوغوښتې، ماته پخوا دوی هېڅکله چای نه وې راغوښتې، اوس يې ددې لپاره چای راوړ چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا دواړه ټګماران د شعبده بازانو او یا د مداریانو په څېر بله لوبه پیل کړي او ما د یو څه وخت لپاره معطل او بوخت کړي.

بیا سردار صاحب خپلې ناوزونه خبرې شروع کړې چې خبرو یې یو د بل سره هېڅ تړاو نه درلود. هغه او دغه یې ویل او د یو بل چل ول په فکر کې و، چل یې ډېر زر جوړ کړ.

ویې ویل: «مدیر صاحب!

«اینمی کارا حوصله میخایه، دلت کلان بساز، ندیدی که چقدر بردن و کشتن» بیا هم «زه په قطعه کې یو میل کلاشینکوف باقي یم سبا ته د میدان ښار په طرف ځم، یو میل کلاشینکوف په بیه رانیسم او په خنګ کې ستا د زوی تپوس کوم. بلدیت مې زیات دی. ددې سمت قوماندانان لکه حاجي صاحب شېرشاه خان نه نیولې او تر واړه سلیمانه پورې پرې ګران یم، د خبرې نه مې نه تېرېږي، دوی مې هم د جهاد د دورې ملګري دي.

بله د ټولو نه مهمه خبره دا ده چې بېګاه مې خوب ولیده او په خوب کې زما پیر ماته یو د ګلابو د ګلونو ګېډۍ راکړه، نو دددغه خوب تعبیر همدا ستا د زوی میندل نه دي که څنګه؟...!!!»

نو ما په زړه کې وویل:

چې ګوره د یوویشتمې پېړۍ شرمېدلي سردار ته، ده خو ډېره زر افسانه جوړه کړه. ما په هماغه پخوانۍ خبره ټینګار وکړ چې... سردار صاحب ستاسې وظیفه زما د زوی د پیداکولو په برخه کې ختمه شوه، د خدای په امان زه درنه لاړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دروازه کې يې راته ډېرې سورې او نارې ووهلې او ډېرې جزې پزې وکړې خو زه ورته ونه درېدم، زما ټول ګومانونه او حدسنه نور دې اندازې ته ورسېدل چې سردار (کوټه) او (سادو) زما د زوی د تښتولو د معاملې طرف دي.

درملتون ته ستړی ستومانه راستون شوم، ډېر خپه وم او داسې ماېجن وم چې ولې دا سردار ماته په سپکو سترګو ګوري، دی ولې په ما د ړانده ګومان کوي، دی خو په دې پوهېږي، چې زه په ټولو شيانو پوهېږم، ماته خدای عقل او شعور راکړی، ما د دولت په ادارو کې شل پنځه ويشت کاله کار کړی دی، زه خو ډېر اجتماعي سړی يم او له ډېرو خلکو سره راشه درشه لرم، زه خو په افغاني ټولنه کې لوی شوی او زوړ شوم. خو دې سردار زما د مجبوريتونو څخه ناوړه استفاده کوله، زما زوی لـه همـده سـره او دده پـه دلالـۍ يرغمـل و، دی پوهېـده چـې حکومتت نه شته او سر په سر سودا ده، ده ته پته وه چې دا سړی يو ځری دی. دده شاته اوس څوك نه شته، د کوم قوماندان ممندان سره اړيکي او پيوند نه لري، چې څومره يې غولولی شي غولوه يې.

زه يې تېرايستی نه شوم، ده په حقيقت کې خپل ځان تېرايستی دی. زما ژوند لا هماغسې دی، خو ده خپل ژوند او خپله کورنۍ د خدای(ج) پر وړاندې تباه کړي دي، په مادي لحاظ دی او دده زوم له هماغسې پمن او د يوې مړې ډوډۍ پسې شل ځايه سرکونډۍ وهي. ده چې څومره خيانت له ماسره کړی دی، خدای خبر د جنګ او جګړې په کلونو کې د نورو څومره بېګنا کابليانو سره به يې جنايت کړی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده به زموږ د ټولنې دا ساده شډل او ښارېوارې انسانان څومره غولولي وي، څومره میندې به ده ژړولې وي، څومره بېګناه ځوانان او تنکي د هیلو نه ډك زلمي به په تورو او تورتمو خونو کې د خپلې قماربازۍ، اوباشۍ او د نامشروع او نامقدسو انساني او بشري ضد خواهشاتو د پوره کولو لپاره په ډول ډول نومونو او پلمو ساتلي وي.

دې... (کوټه) سردار به څومره پلرونه په شا کړوپ کړي وي او څومره خویندې به لاتراوسه سیاپوشې وي او څومره پېغلې به یې کونډې کړې وي. دې چالاکه په تش نوم سردار به زموږ د مظلوم او خوارکي ولس څومره شتمني لوټ کړې وي او څومره بېوزلې کورنۍ به یې د پولۍ ټق ته کېنولې وي. دده به په هغو پیسو هېڅ نه وي شوي. یو څو ورځې به یې د قمارمیدان تود ساتلی وي، هغه به هم د بل جیب ته تللي وي او دی به په تش میدان پاتې شوی وي، خو د کابلي مظلوم انسان به یې پرې سټه ایستلې ي او له جایداده به یې خلاص کړی وي لکه زما په څېر.

ددې (کوټه) سردار چابکي په ما ښه چلېده، هلته یې راته زوی او ګران زوی نه پوهېدم چې په کوم ځای کې د کومو تورو تمبو تر شاه ساتلی او دلته په ښار کې یې زه یرغمل کړی وم. دده چې به هر ډول خوراك ته زړه وشو، ځان به یې د غرمې پرمهال درملتون ته راورساوه. ټکسي به یې راباندې ونیوه، په تایمنیو کې یو هوټل و هلته به یې ډوډۍ وخوړه. د هوټل مالك ته یې زه د خپل لوژستیك مدیر په نوم ورمعرفي کړی وم. که به د هوټل والا یو لك افغانۍ کېدې، نو دوه لکه به یې رانه واخیستې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما په داسې حال کې څه ويلی شول او زما په وس کې څه پوره و. زه د خپل زوی د ژوند په غم کې وم.

سردار صاحب په زاړه کلاشينکوف پسې ميدان ښار ته نه ته او نه په خوب کې ده ته خپل پير د بېوختو ګلونو ګېډۍ ورکولې دا خو يوه افسانه وه افسانه.

ده ته خو خپل پير زما زوی د حمل مياشتې په شپږمه ورډالۍ کړی و، چې درنيسه يې او په تورتمو کوټو کې يې ساته که دې وهلو، ډبولو، د سکنجو او تورتمو کوټو نه ژوندی ووت، نو بېچاره پلار به يې درنه په بيه واخلي، ستا او ستا د جاني پير خواهشات به انشاالله چې څه ناڅه پوره کاندي.

يوه ورځ وروسته مازيګر و چې (سادو) زړه ختلی او يو ډول اوتر او وارخطا په درملتون راننوت په ډېره وارخطايۍ يې راته وويل:

((مدير صاحب!

دواخانه را زود بسته بساز، زود کو، که خسرم منتظر شما است.))

زه پوه شوم چې اوس به د مشورې سر څه ناڅه معلومېږي او سردار صاحب به ماته د پروني خوب تعبير په څومره شدومد او په ښه انداز کې کوي.

ما (سادو) ته وويل:

زما او د سردار خبره خو پرون ختمه شوې وه، هغه ته خو ما هېڅ وظيفه نه وه ورکړې، نو څنګه يې په بيړه بيا غوښتی يم. متل دی چې وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



((ګرګه زه پرېږدم که ګرګه ما پرېږدي.)). په ما هغه کانه وشه، دی مې رخصت کړ خو په مخه ښه کې راته وویل:

((خسرم این کار را فی سبیل الله انجام داده))

ما په سره سینه درملتون وتاړه او د سردار پسې د (سادو) دوی کور ته په شمېرلو قدمونو روان شوم. کله مې چې (سادو) دوی د کور په وره پښه ولګېده، نو سردار مې اوچته مخې ته رامنډه کړه او راته یې وویل: ((که مانه ګفته بودیم پیریکه پري شو برایم سبت ګل ګلاب داده بود اینه تبریك، تبریك میګویم!))

کېناستو سره سردار بیا خپل دروغ او درم شروع کړل، چې داسې میدان ښار ته لاړم او هغسې په قوماندان صاحب شرم خان باندې راتاو شوم او بیا مې ملا صاحب جلات خان ولید او د لکه خان سره مې چای وخوړې. د خپل کلاشینکوف په لټه کې دومره وم او که نه، خو ستا د زوی په لټه کې مړ، مړ وم. خو زوی دې په خیر سره پیدا شوی دی، نو به خفګان نه کوې په کور کې به ډآډ ورکړې او په ماشومانو به زېری وکړې.

ښه، ښه سردار صاحب ... خانه!

چې زوی مې پیدا شو نو ووایه چې چېرته دی؟

((والله داسې خاص ځای یې راته نه دی معلوم)) چې ځای یې درته نه دی معلوم، نو سردار صاحب! ته د څه نه ماته وایې چې زوی دې پیدا شوی دی؟

((نه ورورجانه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما په میدان ښار کې پته ولګوله او راته معلومه شوه چې زوی دې د حزب اسلامي له ګروپونو سره دی.))

ښه سردارصاحب!

زوی مې د حزب اسلامي د کوم ګروپ او سرګروپ سره دی؟ ((نه ګروپ درته نه ښایم، ګروپ او سرګروپ ته یې د سر خطر دی.)) ګوریځ د سردار منطق ته چېرته لکه چې له ماسره پلتنې او پوښتنه وو ګنې؟ چې ګروپ او سرګروپ مې وژل هغه متل دی چې، (ښځه دې قاضي.... شریعت د چا سره کوي.)

((ځاای یې هم د رته افشا کولای نه شم، خو دومره درته وایم چې زوی دې په میدان ښار کې دی.)) ښه چې داسې ده نو سردار صاحب زما دې خدای په امان وي ته هسې ټوکې کوې چې نه مې د زوی ځای درته مالوم دی او نه یې تښتونکي نو دا هسې کیسې دي.

((نی، نی مدیر صاحب!

یك دقیقه باش! ته کېنه هلهه سادو جان به مدیر صاحب چاي بیار)) نه سردار صاحب مننه چای نه خورم، زه ځم دواخانې ته مې یو قلف اچولی چې څوك یې په رڼا ورځ رانه یونسي.

((خوب که اینطور است، ساعت هشت صبح این جا بیاید!))

په دروازه کې یې بیا راته د ((فی سبیل الله)) کلیمه واوروله.

دې مداریانو او خدداناترسو به ماته د فی سبیل الله، عندالله او عندالرسول جملې ډېرې استعمالولې او بیا چې وخت راغی او دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوبې ته مې د پای ټکی ایښوده، نه بیا عندالله او نه عندالرسول او نه فی سبیل الله و بیا ټوله پیسه اله وه.

کور ته راغلم، ماته خو د سردار په اول ملاقات کې پته لګېدلې وه چې ډاکتر (کوټه) د پرانګانو په منګولو کې د (کوټه) او (سادو) په دلالۍ ورغلی.

ددغو (کوټه او سادو) سره په ژبه پوهېدل او د دوی سره په لاره تګ څه اسانه او ارزانه کار نه و. ولې چې دوی ته انسان کوم ارزښت نه درلوده. انسان وژنه، انسان ځورونه او تښتونه خو د هغه چا خبره چې ورته یو وار نسوار هم نه ښکاره کېدل.

په کور کې مې د ډاکتر مور سره خبره غوټه کړه چې اوس باید د (کوټه) سره معامله وکړو، خو دا معلومه نه وه چې سردار به له مورې څومره باج اخلي، خو زه دې ټکي ته متوجه وم چې سردار به په خپله خوله باج نه غواړي. باج به رانه په درېیم ګړي خوله غواړي. همداسې هم وشول. له وعدې سره سم زه لاسبا د دوی د کور کوځې ته نه وم رسېدلی چې سردار له کوره ووت. البته زه یې لکه د چا په وسیله څارلی وم، د کوځې په خوله کې یوځای شو، سردار صاحب په دې ورځ ښه اوږد څادر اغوستی و، د لاس په اشاره یې په ځان پسې کړم. د ګلاب الدین (شېرزوی) له کوره تېر شو، په کوځو، کوځو کې علي اباد روغتون ترشاه راتاو شو، د شهر آراء د برج ترڅنګ د تندورسازي په کوڅه ورسم شو.

په لاره کې خبرې مبرې سره نه کوو. سردار مې مخکې او زه د هغه په پل، پل بېدم. ردار سر نه تر پښو په خپل اوږد څادر کې ځا پېچلی او

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوازې دوه سترګې يې ښکاري. پکول يې په غوږونو راښکودی، کميس يې د دود سره سم د وخت په غوښتنه ښه پوره اوږد دی، پرتوګ يې بلهٔ وهلی او د سليپر تور بوټان يې په پښو دي. ښځينه باغ ته نږدې دلته د اوبو يو نل دی، ددې نل مخامخ هوټل ته ننوتو، سردار صاحب د ښو او پريمانه کبابو اډر(فرمايش) ورکړ، ځکه چې د سردار صاحب سره د سردار د لوژستيك مدير شته او دده په پيسو خو يې هېڅ زړه نه سوزي، هغه متل دی د (پردي غوږ د لمڅي په څېر غوڅېږي) نه پوهېږم چې ده څومره ډېر کباب وخوړ. د هوټل د تخت په سر خدازده په کومو چورتونو کې تللی وم، خو سترګې مې په سرك نښتې وې، کتل مې چې د هوټل د دروازې په څنګ کې يو بې نمبر پلېټه د تورو شيشو د هغه جيپ موټر په څېر چې ما د حمل په (۶) تاريخ د خپلې کوځې په جنوبي اړخ کې ليدلی و، تر سترګو شو سمدلاسه ترې څلور پنځه تنه ټوپکوال راکښته شول، له موټر څخه لرې او نږدې ودرېدل، يو کس يې چې ترې ډېر بدبوی خاته، زما ترڅنګ کېناست، ږيره يې ښه اوږده او د سنتو په طريقه لاڅه چې په نورو ډېرو طريقو برابره او سمباله وه. دې مسلمان په نږدې يو کال دوو کې مخ او ځان ته اوبه نه وې ښودلې، د سر اوږده اوريچو له ډول او شمېر نه به يې يو الله خبر و، د سينې ګردنۍ جيبونه يې په لاسي بمونو ډك وو. د کلاشينکوف شاجورو ته يې په يو بل پورې تړلي وو، د سينې او ملا په کتار کې يې نور د روسي کارتوسو ځای نه وو، د کلاشينکوف له ماشې څخه يې ګوته نه پورته کوله، ګوته يې پرې داسې ښخه کړې وه لکه چې دی له مانه ډېر ډارېده. په داسې مهال ما سره څه ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



معلومدار چې هېڅ راسره نه و.

د یوه نیمګړي سلام څخه وروسته یې اول سردار سره په سترګو کې یو څه وویل، بیا یې په ډېر تریو وچولي د درملتون کلیګانې چې د ډاکتر په جیب کې وې او دې داړه مارانو ورڅخه اخیستې وې، د نښې په توګه راوغورځولې او ویې ویل:

((نشانیت درست است!))

ما ورته وویل:

هوکې، دویمه خبرهه یې راته داسې وکړه:

((معامله ما و تو یهزار لکه است!))

ما ورته سر وخوځاوه

((اګر یك هزار لك دادی خوب ورنه؟؟؟))

نو ما وویل چې بیا...؟!

ده راته وویل:

((که... خوب میفهمي))

باز چی؟!

ده راته مخ کړ.

((میکشمش مرده شان در چمندی ببرك و یا پیش خانه تان بګي!))

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما خپل څادر ته لاس کړل او په اوږه مې واچو. د هوټل د تخت نه کوز شوم، په تګ، تګ کې مې په لوړ اواز چې د هوټل ټول خلك هك پك شول، داسې وویل:

((ژر ژر یې حلال کړئ، چې درنه مردار نه شي!))

سردار راپسې ډېرې چیغې ووهلې ((که بشین که بشین)) زه په یو تراټ د هوټل نه ووتم او راساً درملتون ته راغلم. په درملتون کې لاناست نه وم چې.. سردار راورسېده.

سردار راته وویل: ((که تو خوب کار نکردی.)) په دې کارونو دې خپل زوی او د زړه ټوټه ضایع کوې. په نصیحت یې راته شروع وکړه، کله به یې د پچې نه راته پېچومی جوړ کړی. حوصله کوه، دا ډېر بد خلك دي ((دوی چې څوك وژلي هغه لاتراوسه مړه دي او نه دي ژوندي شوي!))

په رښتیا چې، د (کوټه) خبره دلته منطقي وه. دې داړه مارانو چې په اخرو څو کلوونو کې په کابل او یا د هېواد په نورو برخو کې یې څوك وژلي او یا یې تښتولي دي، د هغوی مسوولیت په غاړه نه اخلي او وایي چې په دې کې به د خدای پاك رضا وه، د خدای پاك په رضا کې نو موږ خواران څه ویلی شو.

(کوټه) په خپلو خبرو کې زیاته کړه: خیر دی زه به دې نننی قوماندان ته سوال او زاری وکړم، ستا بېوزلي به ورته وژړوم، پیسې به پرې یو څه کمې کړم، ددغې معاملې د سرته رسولو لپاره زه بېګاه ته ستتا مېلمه یم. په کور کې به په تفصیل سره وګړېږو. مازیګر شو، د مازیګر نه پسې ماښام او د ماښام په تورتم کې مې سردار کور ته راوست. ښه و

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځيني فرشونه مې دسالون نه لرې کړي وو او موټر مې هم له ګراج څخه ايستلی و. سردار (کوټه) زما کور ته په راتګ کې ډېر مقصدونه درلودل، چې زما ژوند له نږدې نه وګوري او څومره چې په ما خوله لګولی شي، هغومره مې وينې بايد وڅښي. کله چې سالون ته ننوتو، ده سملاسي د يو چالاکه غله په څېر د کړکيو د پردو شاګانې وکتلې چې د پردې تر شاه څوك پټ نه وي. ما وخندل سردار ته مې مخ کړ ((مطمين باش!)) اوس دلته هېڅوك نه لرم. خپل، خپلوان، ورونه او عزيزان مې د جګړو له امله د مهاجرت په وطن کې شپې او ورځې سبا کوي. زما د يو پرتوګانې[۱۴] (يو نيکه) نه د اتياوو زلمو د برېتونو نه په اصطلاح وينې څاڅي. زما هر زلمی له ډېره خياله کوږ اورمېږ وړي. څه وکړم چې اوس مې په کار رانغلل. د حکومت حال خو په خپله ګورئ حکومت د ګلبدين او دوستم د راکټونو له وېرې سر خو لاپرېږده چې خپل غوږ هم نه شي ګرولی، د حکومت مشران د بې مهاره اوښانو په څېر شپه يې د ډکو په زېرخانو او ورځ يې خدازده چې چېرته وي؟ د کابل ځمکه پرې سور اور ده، ځای ورته، نه ورکوي، دوی د خپل شهادت نه دومره په ډار کې دي، چې ولس يې په سپين ميدان کې د شهادت راکټونو او ستاسې په څېر داړه مارانو ته پرېښی اوس نو د کابل ولس ستاسې او د شهادت راکټونو په لاس کې دی، څنګه چې ستاسې د دواړه خوښه وي، همغسې پرې کولای شئ لوټ، تاراج، سړيتښتونه، د عامه شتمنيو په غلا وړل، ترور او نورو ډېرو منفي او ناوړه کارونو ته وخت ډېر جوړ او مساعد دی، دا نو بالکل ستاسې

(۱۴) دا اصطلاح په شرقي پښتنو کې د يو نيکه اولادې او حتی يوې قبيلې ته کارول کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ووخت دی، وطن درته عام او تام وه[۱۵] دی او په ځنګل کې هغه څوك پاچا دی چې زور لري، سردار صاحب!!!

د سردار صاحب لکۍ زما په دې خبرو نوره هم ډډه او ببره شوه، نه پوهېږم چې د جګړې په اوږدو کې او که ياده د خپلې بدماشۍ په وجه پخوا چې کوم ټيپونه يې خوړلي وو، راته ويې ښودل چې دا ټيپونه مې په جهاد کې خوړلي. په رښتيا چې ټپونه يې بد ژور او د ډډ پوستکی يې سوری سوری او چڼ چڼ وو.

زما په غالب ګومان چې سردار صاحب ته تاراج، لوټ او اختطاف جهاد و، ده په خپلو ننګينو ټپونو بې ځايه او خوشې افتخار کاوه او په خوا کې يې د خبرو په مهال ډېر بې شمېره د پېژندګلوۍ کارتونه يې له جيب څخه وايستل چې کوم د جمعيت، کوم د حزب اسلامي او کوم د اتحاد ملي لنډه دا چې د افغانستان د ټولو تنظيمونو مګر دده د وزارت زراعت د ماموريت په کارت کې ليکلي و چې سردار (...) بعد له هغه پوه شوم چې د (کوټه) اصلي نوم (......) دی سردار يو ناڅاپه رانه پوښتنه وکړه چې: ((ته ولې د خپل زوی پسې خپه نه يې؟))

ما ورته وويل:

چې خپه شم، څه مې له لاسه پوره دي، خو دومره زه اوس په دې ټکي خوشاله يم چې ما خپل مدعيان پېژندلي دي، زما زوی اوس څوك نه شي وژلی، په دې خبره يې رنګ د کورکمن په څېر زېړ واوښت ماته يې وويل:

[۱۵] د زارعت ځمکو ته چې فصل غونډ شي د هغو ځمکو واښه د هغه کلي د څارويو ګډ واښه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته ډېر سخت زړی سړی یې.)) دننه د زړه نه مې یو الله خبر و، چې په ما او زما په کورنۍ څومره ترخې شپې ورځې تېرېږي، خو د کوټه په مخکې مې هسې ځان خوشاله، خوشاله کاوه.

د یوڅه چوپتیا او سوچ څخه وروسته یې ماته مخ کړ: ((مدیر صاحب!

ډېرو خلکو په دې نړدې شپو ورځو کې زما په غبږ او پښو کې سر ایښودی او ژړلي یې دي. دا د خلکو خلاصول د تښتونکو نه زما حرفهه ده. زه اوس په دې هکله خاص مهارت لرم او ښځي حرفوي شوی یم.))

په زړه کې مې تېر شول چې، رښتیا ډېر مظلوم او زما په څېر بېګناه پلرونه تا ژړولي دي. د هغو بې دفاع انسانانو سره خو یوازې یوه ژړا وه بل څه ورسره نه و. که ژړا ورنه اخیستل کېدای، نو په والله که دې پرې اسره کړې وای سرداره! هغه به دې هم ورنه په کوم چل ول اخیستې وای.

ای خدایه!

د خپل زوی غم وژاړم او که د نورو مظلومانو.

په خبرو خبرو کې مې سله زړونه یو کړل او سردار ته مې وویل:

کوم رقم چې نن هغه قوماندان صاحب ماته وښوده، هغه زما په وس کې نه دی پوره. سردار صاحب وویل چې: ((مدیره!))

دا ډېر بې رحمه او بې دینه خلك دي، چې یو مېخ دې هم په کور کې وي خرڅ یې کړه او زوی دې ورنه خلاص کړه!)) ما ورته وویل:

که سیخ د سرو دی د ځیګر د منډلو نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسې اوس لږ څه فکر او سوچ وکړئ چې د سردار صاحب راتګ زما کور ته ماسره کارکول او زما هڅول د خپلو نامشروع اعمالو لپاره چې د قمار بازار یې ګرم او د فحشاوو نغری تود وساتل شي، نور خو لاهر څه په ځای پرېږده، حتی د کور یو مبخ یې هم په ما نه لورېده او راباندې خرڅول یې.

خیر خو کری شپه ده زما سره سر وخوږاوه خو له ما نه یې څه بود نه کړل. سهار شو، دی مې رخصت کړ. زه د کور پاس منزل ته وختم. د ډاکتر مور سره مې بېګانی ټولې خبرې چې د (کوټه) سره مې کړې وې، یو په یو تکرار کړې چې دا خلك له موږ نه زر لکه افغانی غواړي، چې دا هر څه خرڅ کړو او حتی که لاځانونه هم خرڅ کړو، سل ملیونه افغانی خو نه شو پوره کولای هغه وخت زر لکه افغانی ډېرې پیسې وې، نو څه به کوو؟

په دې خبره د ډاکتر مور ډېره خپه او ستومانه شوه اخر د هغه ډېر نازبین زوی د یوویشتمې پېړی جنایتکارانو سره یرغمل و، دې به ټوله شپه خوب نه کاوه، دا به ټوله شبه د ډاکتر تشباټې تخت ته ناسته وه، ژړل به یې یا به یې نفلونه او تهجد لمونځونه کول او یا به یې د قران شریف تلاوت کاوه. ددې خو په دې ساعت تېرېده او یو څه تسکین به یې کېده خو په ما هر څه تنور وو، په اولو شپو کې مې بېخي مزه نه وه او ډېر وارخطا وم، وار او پار مې خطا و خو وروسته وروسته چې مې جعلي صحنې لیدلې او خپل مدعیان مې پېژندل، خپل موراړل مې له لاسه نه ورکاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو ما به د خپلې کورنۍ غړو ته ويل چې تاسې ډېر بختور او نېك بختــه پـه دې ياست چې زه کـور تـه راشـم، ماتـه وژاړئ، زړونـه مـو تـش کـړئ اوښکې مو وبهوئ، غريو نيولې مرۍ ازادې کړئ، زه دومره بدبخته يم چې زه نو چاته وژاړم ستاسې خو د ژړا ځای شته چې زه يم، خو زما د ژړا ځای نه شته.

دا (کوټه) سردار چې بـه کلـه لـه ماسره ملګری شو، ده بـه خپـل ځان پـه څادر کې له سره تر پايه پټاوه، يوازې دوه سترګې بـه يـې ښـکارېدې. زه په دې نه پوهېدم او لاتراوسه نـه پـوهېږم چې پـه دې کې کـوم سُر وو.پـه دغـه ورځ چـې مـا خپلـه ټولـه شـتمني وسنجوله، د اتـه لکـه کلدارو پـه شاوخوا کې وه، چې شپږ لکه کلدارې مې کور او دوه لکـه کلـدارې مـې مـوټر حسـاب کـړ، پـه دې شـرط چـې دا دواړه جنسـه لـه مـوږ نـه پـه دې جنګي او بدو شرايطو کې څوك په بيه راونيسي.

مـا چـې پـه هغـه وخـت کـې د انسـانانو انصـاف او عـدالت تـه وکتـل، پـه انسانانو کې د ځينو مسلمانانو او په مسلمانانو کې مې بيـا لـه دغسـې افغانـانو څخـه بـد راغلـل. ددې پرځـای چـې لـه ماسـره کومـك وکـړي او همدردي راسره ښکاره کړي، زه به يې د خوږې ګـوتې نـه نيـولم، څـومره چې به يې زبېښلی شوم، دومره به يې زبېښلم، خو هذالقياس څه سر بـه دې خوږوم، د شپږ لکه پاکسـتانۍ کلـدارو کـور مـې پـه دريـو لکـو او د دوو لکو کلدارو موټر مې د يولك پاکستانۍ کلدارو په بيه کې ودرول.

د بـازار پـه اټکـل دې څلـور لکـه پاکسـتانۍ کلـدارو څخـه هغـه وخـت شپاړس مليونه او يا يوسل او شپېته لکه افغانۍ جوړېدې، خـو د کـور او موټر اخيستونکو سره مې خار (معياد) کېښود او دوی مې په يو خام

(c) ketabton.com: The Digital Library



تار وتړل، خدای خدای به مې کول چې دوی پښېمانه نه شي او یا په دې پیسو به زه د سردار او یا د سردار داړه ماران راضي کړای شم او که څنګه؟

سردار په دویمه ورځ بیا راسره خبرې وکړې. دا ځل مې سردار ته وویل:

تا خو پرون شپه زما ژوند له نږدې نه ولیده، زه دومره پیسې چې تاسې یې غواړئ، نه شم پرېکولای، چې ډېر ظلم راسره وکړئ، نو لس ملیونه افغانۍ به درته چېرته قرض او پور کړم. یو کور لرم، هغه به د تاسې لپاره خرڅ کړم، نو دلته راته سردار ډېره کلکه ښکنځل وکړه چې دا مې هېڅ وخت له یاده نه وځي او اوس هم کله چې دا د سردار ښکنځل رایاد شي، نو خدای(ج) شاهد دی چې ځوروي مې.

په هغه وخت کې موږ د کابل اوسېدونکي په ښکنځلو او ډبولو نه خپه کېدو. دا زموږ ورځنی خوراك وو. موږ ورسره روږدي شوي وو او دومره باك به مو نه ګڼله. د لس ملیونو افغانیو ژبه راسره سردار قبوله نه کړه، زه یې په ځای پرېښودم. ده په ډېر تاو رانه څادر څنډ واهه او روان شو. سردار خو یو څه سوری پیداکړ، اوس به نو کوښښ کوي چې دا رقم راباندې ورو ورو پورته بوځي. بله ورځ (سادو) راپیدا شو او راته یې وویل:

((یو کرتې زموږ کور ته راشه)) زه د سردار د لیدو نه نور موړ شوی وم، خو چاره نه وه، لاس مې دتیرې لاندې و، که لاس مې په زور راښکودی وای، نو لاس نه به مې پوستکي اوښتي وای. بیا دده محترم کور ته ورغلم چې کتل مې د (سادو) دوی په کور کې هماغه د هوټل... چې په اولو شپو کې مې لیدلای و، د سردار ترځنګ ناست و. نو زما په ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library



سردار ناڅاپه ژړا شروع کړه، زه يو څه ټکنی شوم، په زړه کې مې وويل چې الله دې خير پېښ کړي، لکه چې زوی يې راته وژلی او يا سردار ته بل کوم مشکل پيدا شوی دی.

دا... سردار نو اوس د مکر او فرېب له مخې په غنهو، غنهو ژاړي!! د سترګو څخه يې د اوښکو دارې روانې دي، زه حيران او هك پك يم، وار او پار مې خطا دی، په ډېر کم وخت کې د ډېرو فکرونو او سوچونو نړۍ ته مې ودانګل، د سردار نه مې پوښتنه وکړه چې سردار صاحب څه پېښه ده؟!

په کور کې دې څوك مړه دي که څنګه؟!

((نه مدير صاحب!

زه له يوې خوا ستاسې غريبي او له بلې خوا ستاسې د ځوان او زلمي زوی د سر خطر ته ژاړم.))

ما سردار ته وويل:

کېنه بابا! د پردو په زامنو مه ژاړه، سردار صاحب! په زامنو به خپل پلرونه او ميندې ژاړي، اشاره يې د څنګ ناست سړي ته وکړه نه وينې دا... ده ځواب راوړی چې موږ ډاکتر وژنو.

ما ورته وويل:

اسره څله کوي، زما او دده خو هماغه د هوټل خبره ده ((ژر ژر يې حلالوئ چې درنه مردار نه شي!!)) نو سردار پاڅېده او زما پښو ته پرېوته چې د خدای لپاره په خپل ځوان زلمي زوی دې رحم وکړه اخر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا زوی دی، ته لږ ښه شه او رقم پورته بوزه پیسې زیاتې ورکړه، چې دي بلا نه خلاص شي، ما سردار ته وویل:

ما هر څه سنجولي. زه په خپل زوی د هر چانه ډېر مهربانه یم. زما ټوله شتمني هغه ستا په وینا چې د کور مېخ به هم ځانته پرې نه ږدم ټولټال لس ملیونه افغانۍ ترې جوړېږي. دا پیسې له تاسې نه قربان دي. په دې خبره سردار سور او شین واوښت او هغه بل ځناور هماغسې په وسله سمبال او داسې بد بد یې راته کتل، لکه چې ما دده پلار وژلی وي او یا دده مې زوی تښتولی وي. په وسله بار راته نه یو کړه او نه بل:

((ده این جاه ترا میکشم و ده انجا...))

په همدې اخره خبره پاځېده، د سالون دروازه یې ماپسې پورې کړه. (سادو) سالون ته ننوت، له ماسره کېناست او سردار د وسله بار سره د باندې ووت. ما هم د تګ لپاره ځان جوړ کړ خو (سادو) راته وویل:

((باش که خسرم بیایه!)) لس دولس دقیقې وروسته چې وسله بار ښه پناه شو، بیا نو سردار سالون ته ننوت. زه پوه شوم په وسلهه بار... یې رخصت کړ.

څو شېبې نور یې زه هم په سالون کې په دې او هغه بوخت وساتلم چې وسله بار کوم لرې ځای ته ورسېږي.

زه به د یو کم پنځوسو کلو یم، کله چې مې ښی او کیڼ لاس پېژندلی، حتماً یو څه ناڅه لوړې او ژورې، تودې او سړې، ډېر ښه او ډېر بد انسانان به مې لیدلي وي، خو د سردار (کوټه) په شان دوه مخی...!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



اول به هېڅ نه وي او که بيا پيدا هم شي، هغه به ډېر کم وي. که چېرې خدای کول په راتلونکي کې به دی او زه د هېواد د محاکمو په لوړو ارګانونو کې مخ په مخ سره ودرېږو، خو هر چا چې دا زما ليکل لوستي وي ما د (کوټه) په هکله په کې هېڅ کمی او زياتی نه دی راوستی، کوم شيان چې ما دده په وجود کې موندلي، تحقيق کوونکي او پلټونکي به يې هم بيامومي. دده ټول کړي جنايتونه به لاپسې بربنډ او ځرګند کاندي، په وسله بار ګواښ به راته کله په زړه کې پيشو کېنوله چې خدای مکړه ډاکتر رانه ضايع نه کاندي، مور ته به مې ډاډ ورکاوه، خبره ما څه چې سردار سړه کړه، دوه درې ورځې مې نه سردار وليد او نه مې (سادو) خو زه پوه شوم چې... بل کوم ښکار يې په مخ کړی دی، خدای پاك مې دې غاړه نه بندوي، همداسې به هم وه. بله ورځ مې کتل چې سردار د خپلو اشري برېڅو او بې زره مزدورانو سره د کلوله پښتې د ښاروالۍ د بلاکونو په مخکې ولاړ وو، کله چې يې په ما سترګې ونښتې هغه خپل اوږد او څو متره څادر يې بيا له ځانه ټينګ تاو کړ، دوه سترګې يې ښکاره کړې، زه د يو څه کار نه وروسته په لنډو کې بېرته په همدې لاره راغبرګ شوم. سردار په خپل ځای د خپلو اشرګرندو سره ولاړ نه و، خو د هغه په ځای په عمر يوه نيم زاله مېرمن ولاړه وه او په سورو، سورو يې ژړلې او په سر يې خاورې بادولې او په سايندو کې ويل ((اخ بچه نازنين ام چه شدی کجا برديتان)) ددې مېرمنې آه او فرياد ځمکه لړزوله او اسمان يې ژړاوه، خو د يوويشتمې پېړۍ جنګي جنايتکارانو ترې مزې اخيستې او د يو دوو ټنګو لپاره يې د بشريت او انسانيت په عواطفو خاورې اړولې، ځانونه يې مړول او نور يې شوکول. بيا به يې د کارغانو په څېر مښوکې ښنډلې او ويل به

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې چې ((موږ لا هېڅ خوړلي ه دي)) هلته يو چا د مېوو اوبه له ماشين څخه ايستلې، زه دې اوبو ته نږدې شوم او يو ګيلاس د ګازرو اوبه مې په سر راواړولې. له دې زردك فروش نه مې پوښتنه وکړه چې دا خور ولې ژاړي؟

هغه راته وويل:

((ورورجانه! څه غم پسې ګرځې، دا درېيمه ورځ ده چې ددې خوارکۍ زوی چا تښتولی،)) نو زما په زړه کې ټك شو چې دا کار هم سردار کړی، ولې چې سردار مې څو ورځې مخکې په همدې ځای کې ليدلی و. دا داسې حرفوي او مسلکي تښتونکی و چې په هر کرت ما له ده سره ملاقات کاوه په داسې وخت کې به يې زه ګير کړم چې زما اواز به هېڅ ځای ته نه رسېده او نه به مې رسولی شو. زه به دوی دقيق څارلم. ما ورنه ځان هم نه شو خوځولی. په نوك او ناوك کې به يې ونيولم، ما خپل څارونکي هېڅ پېژندلی نه شول او تر ننه پورې مې نه دي پېژندلي، په دې اختطاف کې ما همدا درې څلور تنه وپېژندل: (دادو)، سردار (کوټه)، (سادو) او هغه وسله وال سړی چې په اول ځل مې د دان باغ د نل مخې ته په هوټل کې ورسره وليدل، مګر که دا وسله وال سړی نن زما مخ ته راشي، شايد زه به يې ونه پېژندلی شم.

سردار صاحب به کله ځان راته ملنګ کړ او کله به يې ځان پلنګ، کله به قوماندان شو او کله به د دولت عادي مامور. کله چې به يې زه وليدم، هسې برناحقه چې د لمانځه وخت به هم نه و، په لمانځه به ودرېده. زما په خپل غالب ګومان ده هېڅ د لمانځه لپاره اودس نه دی کړی، دده هر لمونځ زما په مخ کې د تظاهر، فرېب او تفنن لپاره و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده به دا لمونځونه ښايي ددې لپاره کول چې خپل ځان ماته پاك ديندار او سوچه مسلمان وښيي، زما باور دی په خپل ځان لاپسې قوي او پياوړی کړي او يا امکاناً هغه ورځني جنايتونه، ورانکارۍ او ګناهونه به يې پرې رژول چې هغه ګناهونه هېڅ وخت لوی خدای(ج) نه چاته ښښي او نه يې رژوي. دده هسې چتې خواري وه، لکه چې متل دی (هندو ستتړی خدای ناراضه).

په دې کال په موږ کابليانو شپې او ورځې ډېرې ترخې وې. په ما خو اور بل و، اسمان لرې او ځمکه سخته وه. په دې کرکجن توپاني وخت کې ټولو خوښيو غمونو ته ځای پرېښی و. د عدالت په ځای ټوله بې عدالتي حکم فرما وه. ابادېدو ټول خپل وخت مکملو ورانېدو ته ښلی و، د عالم په کرسۍ... ناست و د سولې او سلم نه وسله جنګ جګړې اخيستې وه، د ملا نه منبر شيطان قبضه کړی و، د معلم او شاګرد په ښوونځي قوماندان د هغه برېخو خېټه اچولې وه، د کاريګرو په فابريکو باندې په ګاونډيو ملکونو کې تودې سوداګانې روانې وې. په ډېره بيړه او چالاکۍ ددې ملك پوځي ماشينرۍ اره کېدې او به جګه غاړه او ټيټو سترګو خرڅېدې، د ښکلو نه ښايست نقاب تر ګوتو کړی و، په ميکدو کې د رندانو په ځای ديوان ناست وو او د چرسو لوخړو د کرکې ورېځې جوړې کړې وې. د کوه قاف د ښاپېرو ښکلا د بنګال دوبيانو وينځله او د پنجاب د جادوګرو منترونو اود عربو او ايراني ګورګينانو د دعاګانو به وجه موږ باندې ښاماران نازل وو. دا څومره وږي ښاماران وو چې پهه هره يوه نيمه ورځ او ان په دقيقه ثانيه او سيکنډ کې د دېرش ځلوېښت تنو په خوراك نه مړېدل. دا ښاماران نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهېږم چې په کومه کربلا کې جل وهلي وو، د دوی تنده دومره زیاته وه چې زموږ د ښار د انسانانو وینه یې په ژبه ښتله. د دوی جل وهنه نه په توده وینه ماتېده او نه په سړه او پرنده وینه، د جګړې شدت زیات و او ورځ په ورځ یې زور اخیسته.

دلته په کابل کې د یزید او د شمر د کارنامو سترګې دې حالاتو ته ډېرې خړې او ټیټې وې، زموږ د ژوند په هدیره کې هر چا د نکیر او منکر له ډډې ډبول خوړل، زموږ خلکو چنګېزخان او هلاکو ته اورنګ او تیمور لنګ ته دعاګانې کولې، روس او پرنګ لا دومره نه وو ځورولي، زموږ د ملت نه عادل نوشیروان ورك و.

په دې شپو ورځو کې مې د ډېرو امنیتي او حکومتي مسولینو دروازې په پټه پټه کې وټکولې، خو چا مې غږ نه اورېده. دوی هم ګرم نه و، هغه داسې حالت و چې هر چا خپله پرده کوله او خپل ځان یې ساته. اول خو به د ارګانونو مسوولین ورك وو او که به مې کوم یو پیدا هم کړ نو راته به یې وویل:

((برادر جان از امکانات شخصی خویش کار بگیر!))

زه یو شي ته ډېر په اندېښنه کې وم، ما به ویل داسې ونشي کوم ځای کې چې ډاکتر قید دی، هلته زموږ د زمانې ښاماران (راکټونه) رانشي او د راکټ په حمله کې مړ نه شي.

بله ورځ مې کتل چې بیا (سادو) راپیدا شو، زه یې بیا خپل کور ته وروبللم او سردار (کوټه) سره مې له ډېر وخت وروسته ملاقات وشو. لنډه دا چې زما او دده په منځ کې د څه کم ځلور لکه پاکستانۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلدارو معادل ديارلس مليونه افغانيو نغدي ده ته او شل لکه افغانۍ نورو لګښتونو چې په ما پورې يې اړه درلوده، بې له دې چې زما زوی (۴۶) ورځې له کاره ووت، موافقه وشوه. د سردار نه مې درې ورځې وخت وغوښت چې تر څو زه ورته پيسې برابرې کړم، کوم خلك چې مې په خام تار تړلي وو، هغوی ته ورغلم. د شپږ لکه پاکستانۍ کلدارو کور مې په درې لکه او د دوو لکو کلدارو موټر مې په يو لك پاکستاني کلدارو خرڅ کړل. موټر په بلا پسې کړه، خو هغه کور اوس شل پنځه ويشت لکه کلدارې ارزي. خپل جايدادونه مې د يوويشتمې پېړۍ د انساني دلالانو لپاره په سيند ورې بيه خرڅ کړل. څه کم څلور لکه کلدارو څخه مې ديارلس مليونه افغانۍ د ۱۳۷۳ل کال د ثور په ۲۱ مه نېټه د سهار په اتو بجو د درېيم پروان په څلور لارې کې وعده کړې وه، غوټه کړې مو وه چې سردار به په ټکسي موټر کې ناست وي. ماسره به په بوجۍ کې پيسې وي، د کور نه په داسې مهال حرکت وکړم چې ټيك اته بجې هماغه نښه شوې څلور لارې ته زه او سردار يوځای ورسېږو. په همدې ورځ څنګه چې پنځه دقيقې اتو ته پاتې شوې، ما د پيسو بوجۍ په شا کړه.

زه ناباری[۱۶] وم خو تنګسې د لومړي ځل لپاره باری کړم. خپله مېرمن مې په ځان پسې کړه، په دې هم وېرېدم چې د پيسو بوجۍ رانه په دې کمه او نږدې فاصله کې بل کوم زورور داړه مار وانخلي او يخ پخ مې کېنوي؟؟؟ پښتو کې وايي: ((هم شرمېدلی او هم زيانېدلی.))

(۱۶) هر هغه څا چې د څا خبره په ځان نه وي تېره کړي، پښتانه دا اصطلاح کاروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو کله چې د دروازې څخه ووتم، د کوځې شمال ته چې مې وکتل، د اخر کور په بهرنـي ګوټ کې زما د ښارنې لپاره (سادو) ولاړ و. ژر يې ځان پناه کړ. زما په غالب ګومان چې د کلوله پښتې په څلور لارې په کوم نږدې هوټل کې سردار ناست و. کله چې (سادو) زما ډاډ سردار ته ورکړ، بيا نو زه او سردار کابو شاته مخکې هماغه نښه شوې څلور لارې ته ورسېدو.

دی د ټکسي نه کښته نه شو، موټر په کراره، کراره روان و. ماته يې د يو قوماندان په څېر وويل: ((بالايش کو!)) بوجۍ مې ورته په ټکسي موټر کې ورواچوله او ورغبرګ مې کړل:

کی به خير؟!

((منتظر ده ويا يازده امروز!))

همدومره وويل شول او بس کور ته ستون شوم، لس شوې، يوولس شوې، غرمه تېره شوه، مازيګر شو، ماښام راغی، زما د ساده او هفته فهم تشويش او انديښنه لاپسې زياتېده. زړه کې مې وويل، د هغه هندو کانه دربانډې وشوه.

لکه چې (دين دين لاړ او....لاړ).

په انديښنه کې وم، کله به حويلۍ ته ووتم، کله به د بام سر ته وختم څو چاينکې مې د شنې چايو نه تشې کړې، سګرېټو ته خو مې هېڅ دمه نه ورکوله، يو چې به لا مړ نه و بل به مې لګولی و، په دېوالي ساعت مې همداسې سترګې ښخې وې، کله چې د ساعت ستن د شپې په ۱۱ او

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۰ دقیقو ودرېده، دروازه ټك ټك شوه، په ډېره بيړه او تادۍ مې د کوټې وره ته ځا ورساوه، غږ مې کړل:

کی بود؟!

((ماهستیم (سادو)!!))

زه لږ څه پښه نيولی غوندې شوم او اندېښنه مې لانوره پسې زياته شوه، د دروازې د پرانيستو نه مې ډډه وکړه، زه کې مې وويل، لکه چې (سادو) په دې ځنګله قانون کې دربانډې بله کومه لاره جوړه کړې که څنګه؟!

ورو غوندې مې د خپل زوی ډاکتر احمدجان غږ واورېده چې:

((لالا ور پرانيزه!))

خدای پاك حاضر او ناظر دی چې ډېر خوشاله شوم. ور مې پرانيست، ګورم چې سردار (کوټه) غلی زما د زوی په خوا کې ولاړ دی. زوی ته مې تر غاړې وتم، زه نور په ځان نه یم پوه شوی چې خبل نازبين مې په څه ډول په زينو کې خېژولی او سردار مې څنګه سالون ته بيولی دی.

ډاکتر مې د خپل مطالعې په کوټه کې کېناوه، مور او خويندې پرې راټولې ې، خويندو يې پرې د نوټونو او نقلونو باران جوړ کړی و. د خوشالۍ نه ژړېدې او د اوښکو سېلابونه يې په ګرېوانونو رامات وو، زمور د هېچا اوښکې نه ودرېدې، مور ټولو ژړل. ډاکتر هم ژړل، نيمايي زما او نيمايي د مور په غېږ کې پروت و. هماغه جامې يې په تن کې وې چې (۴۶) ورځې مخکې يې اغوستې وې. په لاس کې مې ورته د راډو ساعت طلايي ځلا ونه ليده. ږيره يې ښه ببره شوې وه، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خيرو پرې نور ځای نه و، وزن يې ډېر کم شوی و. سترګو يې په رڼا کې کار نه شو کولای، ځو ورځې وروسته مې د ډاکتر نه تپوس وکړ.

((ډاکتره!

ولې دې سترګې ښه کار نه شي کولای؟))

ډاکتر وويل:

پلار جانه!

((داسې کېږي، سترګو مې (۴۶) ورځې رڼا نه ده ليدلې، ته خو پوهېږې پلاره!

د سترګو بينايي په نور کې ده. په ټوکه يې وويل: که نور نه وای، خلك به ټول ړانده وای کله چې...!!!))

نو پس بينايي په رڼايي کې ده او ړوندوالی په تورتم کې.

پلاره!

((له ماسره ډېر په تکليف کې شوې، ډېرې منډې او رامنډې به دې وهلي وي، د ډېرو خلکو او د بې انصافو خلکو دروازې به دې ټکولې وي.))

ما ورته وويل چې هوکې زويه!

ما ډېر بې انصافه خود غرضه او....خلك وليدل. د بې انصافو نه د باانصافو شمېر کم دی.

لکه چې ((پلاره زما په سر دې هر څه له لاسه ورکړل؟))

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه زويه!

ته په هرڅه ارزې، ته لاڅه چې د نړۍ هر يو انسان په ډېر څه ارزي، د نړۍ په سر مادي نعمتونه پيداکېداى شي، که انسانان بې ځايه ضايع شي ((لکه چې موږ افغانان بې ځايه ضايع شو)) دا ډېره بده او تر بدو لا هم بده ده. ضايع شوى انسان بيا د تل لپاره منځته نه شي راتلاى. د جهان د ټولو مادياتو څخه د يو انسان ژوند ډېر معتبر دى ((ژوند زموږ انسانانو طبيعي او خدايي حق دى دا حق بايد له موږه هېڅوك وانخلي!))

کله چې مې د ډاکتر سره د خپلې مطالعې په خونه کې لنډه شان کتنه وکړه، بېرته سالون ته کښېته شوم، د تکراري لنډ روغبړ څخه وروسته سردار صاحب ډېر او ډېر ځان باتور، پياوړى او ښاغل ګاڼه او په ما يې ډېر احسانونه بارول، داسې به يې ښودله چې دا زه وم چې ستا زوى مې د يوويشتمې پېړۍ (خپلو جلادانو) څخه خلاص کړل.

دده هره خبره دروغ وه، دده د دروغو سره زما غوږونه ښه اشنا وو، د مجبورۍ ورځې مې هسې ورته سر خوزاوه او ښه ښه به مې کول. خبرې يې بې ارتباطه او پيکه وې.

شپه له نيمايي اوښتې او نوره په وتو وه. دوى ته مې ځاى واچاوه، زه بېرته وختم او د ډاکتر ترڅنګ کېناستم. دى هم ستړى او بې خوبه و، زه هم جو، جو[17] وم. ډاکتر د خپل خوب کوټې ته لاړ. په خپل تخت کې پرېوت، کوم چې به يې مور ورته کرښ شپه ناسته و او په غټو غټو به

[17] ټوک ټوک او بې خوبه

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې ورته ژړل. خو نن شپه زموږ په کور کې خوشالي او د خوشالۍ نه په ډکو شېبو کې د يوه لنډ وخت لپاره ويده شو. بې خوبي زموږ عادت شوې وه، خو په دې شپه مو يو څه ناڅه خوب وکړ. د سهار له لمانځه وروسته مې د خپل لوی خدای(ج) شکر ادا کړ، سردار ته مو د سهار چای ورکړ، سردار لا نورو نزرانو او تحفو ته هم په تمه و او راته ويې ويل:

((که د ډاکتر مور او يا د کورنۍ نورو غړو د ډاکتر د سر نزرانې ايښودې وي، هغه هم راته راکړئ!!) دې ټکي ته لا زما هېڅ پام نه و، دې سردار صاحب لکه په نورو تښتونو او اختطافونو کې په زړه پورې نذرانې تر ګوتو کړې وې. خير خو ما خبره په دې او هغه کې تېره کړه. په اخر کې يې راته وويل: ((يوه تفنګچه مې پکار ده.))

ما داسې ورته وويل:

کاشکې تفنګچه مې لرلای، ستا او د (سادو) که د پيشوګانو په څېر اووه ساوې وای، بېګاه رانه ژوندي نه شوای خلاصېدای، خو بيا مې ولاهو کړل او په زړه کې مې د لوی خدای(ج) څخه ښښنه وغوښته. ښه ده ای زما لويه خالقه چې تفنګچه دې نه ده راکړې او قلم دې راکړی، علميت دې راکړی او پوهه دې راکړې، که تفنګچه او ټوپك دې راکړی وای، زه به هم د دوی په څېر يو اوباش وای، د چا پلرونه او ميندې به مې ازارولې او جنايتونه به مې کولای. د سردار ټينګار او غوښتنه په تفنګچه د تحفې په ډول ډېره زياته وه.

ما بيا ورته وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس پيسې نه لرم، چې تفنګچه درته واخلم، امکان لري چې جلال اباد ته لاړ شم، يو څه پيسې پيداکړم، بيا به ګورو سره. اوس خو دې د پولې تړق ته کېنولو او د هر څه نه دې خلاص کړو. خسر او زوم يې يوځای رخصت شول. بيا مازيګر په څلورو بجو (سادو) هغه د کابليانو د نږدې ګاونډيانو او خواخوږو په دود يو څو وچې ډوډۍ زموږ کره راوړې، اوس دې ظالمانو راسره د کړي جنايت د پټولو لپاره او د ځان د سپيناوي په اړه خبښې او خپلو شروع کړه.

دا چې خپل ځان ترېنه راټول کړم او په راتلونکي کې ترېنه نور ضرر ونه مومم، نو د ډوډۍ د اخيستلو نه مې ورته ډډه وکړه، دده ډوډۍ مې وانخيستنه دا يو شکل ځواب و چې (سادو) ته مې ورکړ.

سردار صاحب د ډېرو مېلمستياوو او مېلو په تمه (۴۶) ورځې مالګه څټلې وه) چې زه به يې جوړوم او دی به يې خوري. خو دده مې هر څه لنډه تنګ ختم کړل.

سردار په دې پوهېده چې زه په هر څه پوهېږم، زه ده ته په دې سيمه کې خنډه وم.

زما د ګاونډيانو او دوستانو سره دې خددای ښه وکړي، ځوك چې به د ډاکټر د پيداکېدو او خلاصېدو څخه خبرېدل، مبارکۍ ته به راتلل، خو ډاکتر ما پوه کړی و چې هېچاته درست معلومات مه ورکوه، دومره وايه چې په تړلو سترګو يې بيولی وم او په تړلو سترګو يې راوستی يم. حقيقت هم همدا و دومره کفايت کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نږدې ګاونډيان مې د کور او موټر په خرڅلاو ډېر خپه وو، په دريمه ورځ چې کله دواخانې ته لاړم، سردار او (سادو) جان راسره نن بله لوبه شروع کړه، د يو څو بدماشانو په غاړه يې ټوپکې اچولې وې، د دواخانې مخ ته شاته په سړك، کښته پورته د کترو، کنايو او پرزو ويل، بې بندوباري د لرې نه د دواخانې دروازه په کاڼو ويشتل نور او نور خاص ددې لپاره وو چې ما ددې ملك نه پاڅوي، په هغه وخت کې معمول و چې يرغمل شوی به د سختو سکنجو، زېرخانو او تورتمو کوټو څخه د باج په بدل کې کوم يو بختور به خلاص شو، نو کور ته د رسېدو سره سم په پټه خوله به يې سبا کډه بار کړه او بيا به يې وطن دې داړه مارانو ته پرېښود.

ما حوصله وکړه، وطن مې پرېنښود، په دې عمل د سردار کينه هېڅ نه سړېده، د کابل څمکه لکه چې ځانته دده پلار قباله کړې وه، زه يې په کابل کې هېڅ خوښ نه وم، ددې لپاره چې دده داړه ماري او غداري رسوا نه کړم، ددې بدماشانو په کترو او کنايو خدای شاهد دی چې ووېرېدم، دواخانه مې وتړله. نېغ د يو دوست کور ته ورغلم. هغه داسې تجار شانته و، هغه د ځان سره څلور پنځه باډيګاردان د تل لپاره ګرځول. د يو څو ورځو لپاره دوه ترېنه ما ځان سره راوستل.

د (کوټه) زړه د تفنګچې نه، نه صبرېده په لنډو کې يو ناڅاپه دواخانې ته راننوت، د سلام نه وروسته يې چې په ناستو هلکانو او د دوی په کلاشينکوفونو سترګې ولګېدې، په وارخطا او په ډېره بيړه يې رانه رخصت واخيست، بيا مې د طالبانو د راتګه پورې دده ناولې څېره ونه ليده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا خو د داستان هغه مخ و چې په ما او زما د کورنۍ په غړو تېر شوی، اوس به د داستان بل اړخ ونیسو. وبه ګورو چې په ډاکتر څه تېر شوي دي، وبه یې لولو او وابه ورو چې د یوویشتمې پېړۍ جنایتکاران څومره بې رحمه او سخت زړي دي. دوی د بشر پرضد څوره ښکاره او بې پروا تېری کوي، خدای پاك انسان ته اشرف المخلوقات ویلی، خو جنایتکاران یې ورته نه وایي. د خپلو جیبونو د ډکولو او د نورو نامشروع هدفونو لپاره هرڅه ځانته روا بولي.

کله چې ډاکتر پوره یوه ورځ دمه وکړه، په دویمه شپه یې خپل داستان ماته داسې پیل کړ:

+++

پلارجانه!

((په کوم تاریخ یې چې زه تښتولم، په هغه شپه هېڅ خوب نه راته، شپه مې نا ارامه وه ټوله شپ ویښ وم، ددې اوږدې جګړې په ورانیو زمو ږ د طب انستیتیوت پـه تړلو د راکټونـو پـه ورېدو، ترور، اختطـاف او اختناق پ هکله کرۍ شپه په اند ېښنه کې وم، خوب مې وتښتېده، دوه درې ځله د باندې ووتم. د یوه کتاب په مطالعه مې شروع وکړه خو لوستلو یې هم مزه رانکړه. د ښار په بېلابېلو څنډو کې خورې ورې جګړې د درنو او سپکو ډزو اوازونه راتلل، په نږدې یو کال دوو کې بیا په کابل کې د برېښنا پرق چا نه و لیدلی. د کړکۍ نه مې ټول ښار ته وکتل، د سر نه تر پښو پورې په کې یوه کامله چوپتیا او تورتم و، کله

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله به جګړه توده شوه، رسام به ویشتل کېدې او کله به سره. د کابل د ښار ژبه اوس د ټوپك ژبه وه. د قلم ژبه یې غوڅه وه، خوله یې ګونګه، غاښونه یې ړقېدلي، غوږونه یې کاڼه او کسي یې پرېوتي شانته وو، مشواڼۍ یې ماته وه، لیکوال یې په ګولیو سوري سوري و. د شعر ژبه یې ټوټه ټوټه کاغذ یې سوی، کلتور یې لوټ او فرهنګ یې تالاو، زده کوونکو د مکتب نه مخه ښه اخیستې وه او ښوونکي لادرکه وو.

ورځ یې هم د شپې په څېر خاموشه غلې پلې او تورتم وه. د ښار په اسمان د باروتو د لوګو تور څادر غوړېدلی و او د لمر وړانګې ورنه نه شوې تېرېدای. موږ نه زموږ لمر او سپوږمۍ هم جنګ جګړو اخیستې وو. په همدې سوچنو کې وم چې چرګ بانګ مهالل د ښار شمال لوري ته یوه قوي او درنه چاودنه وشوه، لمبې او دوړې یې اسمان ته پورته شوې چې پلاره په اواز یې ته هم پاڅېدې او د لمانځه په بندوبس کې شوې، زه ویښ وم، خو په هر حال شپه تېره شوه. د سهار چای مو یوځای وخوړې، د خپل پدرانه نصیحت څخه وروسته ته رانه مارکېټ ته روان شوې او ما خپلې جامې بدلې کړې. د تانه لږه شېبه وروسته زه او ذبیح الله جان ورور مې د درملتون د پرانیستو په نیت له کوره ووتو. ما چې د فرعي سړك جنوب اړخ ته وکتل، یو تور فلم لرونکی جیپ موټر په موږ پسې روان شو. موږ عمومي سړك ته ونه وتو، د پروژې په منځ کې چهل متره سړك ته مو ځان برابر کړ. متصل چې چهل متره خام سړك ته داخل شو، په هغه ځای کې د خلکو ګڼه ګوڼه نه وه، همغه تور فلم والا جیپ موټر زما ترڅنګ ودرېد او څلور تنه ټوپك والا ترېنه راکښته شول.)) په قهر یې ماته وویل: ((تا بېګاه زموږ ناروغ ته غلطه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوا وركړې ده، هغه د كوما حالت ته تللى و، وخېژه موټر ته)) ما ورسره مقاومت وكړ، ورته ومې ويل چې: ((كه ستاسې مريض زما په دوا كوما حالت ته تللى وي نو تاسې مهرباني وكړئ دلته د فارمسي او بررسي رياستونه شته. دولتي مقررات موجود دي، هلته مې دواخانه ده راشئ، كېنو فيصله به سره وكړو، مگر دې ټوپكوالو زما خبره تالا ترغۍ كړه. دوه درې كلك كلك قنداغه يې ووهلم. چا د پښو او چا د لاسونو نه ونيولم چې د پښو يو بوټ مې همدلته په چهل متره سړك كې پاتې شو، موټر ته يې پورته كړم، زموږ له بده شامته په دې دومره لوى سړك كې په غير له يو واړه ورور څخه مې نور هېڅوك تر سترگو نه شول كوچنى ورور مې په داسې حال كې وليد چې په ما باندې د قنداغونو باران وو او ده په چيغو چيغو ژړل او همدا به يې ويل چې د خداى لپاره كومه گناه مو كړې ده، كله يې چې موټر ته واچولم، سملاسي يې لاس په لاس د موټر شاته تېر كړم، په دې سات كې مې پلاره څو څو ځل په زړه كې تېر راتېر شوې چې كاشكې مې اوس پلار واى.

جيپ په ډېره چټكتيا منډه واخيسته، كله چې موټر د بره كې په پېچومي پوخ سړك ته وخوت، زما يې سترگې كلكې وتړلې او دوه تنه راباندې دپاسه كېناستل، په هماغه اول وخت كې د لاس راډو ساعت يې رانه د لاسه وايست، دې دوو تنو چې راباندې دپاسه ناست وو، ژر ژر يې راته جيبونه ولټول. د دواخانې پنځه زره كلدارې او درې لكه افغانۍ او كليگانې يې رانه واخيستې، نو كله چې موټر د باغ بالا او يا گردنې په پېچومي وخوت، پوهېدم چې موټر د گردنې په طرف په

(c) ketabton.com: The Digital Library



حرکت کې دی. کله چې موټر د پوليتخنيك په مخ کې تېر شو، استقامت يې مستقيم و، پوه شوم چې قرغې ته مې وړي، خو کله چې ګاډی د قرغې عسکري فاميلو ته ورسېد، د حرکت لوری يې چپ لاس ته بدل کړ، نور نو سړك خامه، موټر يوه ښه ټوټه په خامه کې هم منډه واخيستله. د فاضل بيك نه بره ځنې موټر په يو خوړ کې د هديرې ترڅنګ ودرېد. زما يې سترګې خلاصې کړې، د موټر نه يې کښته کړم، چې کتل مې پورې کلی د قرغې وو. يو ټوپکمار سمدستي د خپل کلاشينکوف شاجور وايست او خالي ټوپك يې راته په لاس کې کېښود، بل خپل پکول زما په سر کړ، درېمګړي راته څه ارتې شانته کلوشې راپښو کړې، يو تن يې له مانه مخکې يو مې ښي او بل مې چپ لاس ته او څلورم تن زما تر شا روان شول. مخکنی ښه مخکې لاړ. ده به دې دريو نورو ه اشاره کوله، دې دريو به د هغه يو تن په لارښوونه حرکت کاوه خو بالاخره د قرغې په يوه کور يې ننويستم. هلته يې په يوه خونه کې چې د کړکيو شيشې يې ماتې وې، هسې پلاستيکونه يې ورته نښلولي وو، کېنولم. د لږې دمې وروسته مې د خپلې تېښتې پلان وسنجاوه او د خوشال بابا د شعر دا بيت مې د ځان سره تکرار کړ چې:

که اسمان دې د زمري په خوله کې ورکا

د زمري په خوله کې مه پرېږده همت

((تراوسه خو دې پښې او لاسونه نه دي تړل شوي، د يوې کړکۍ پلاستيك مې ور وشکاوه ومې کتل چې داړه ماران د حويلۍ چنې ته پيتتاوی کوي، ماته يې شا ده. پلاستيك مې د کړکۍ د پلې نه خلاص

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړ د کړکۍ دپاسه د پيك په قسم درې، څلور د لرګو لاړي[۱۸] وتې وو. په کړکۍ ودرېدم او د لرګو لاړو ته مې ټوپ کړل. يو لاړی مې ونيو، د کوټې د بام سرته وختم، کله چې مې د بام په سر حرکت شروع کړ، په دې مهال يو داړه مار وليدم او نورو ته يې غږ کړل.))

((هله که ګريخت.))

((خو ما نږدې يو کاله ته ودانګل، په هغه کور کې يوې سپين سرې مېرمن کالي وينځل، ما په زارۍ او عذر ورته وويل: ((مادرجان مرا پنهان بساز مرا ميکوشن!))

((دې سپين سرې او پتمنې مېرمن سره دې لااوس هم خدای ښه وکړي اول يې په يوه کوټه او بيا يې په بله کوټه ننويستم. خو ددې فقيرې په کوټو کې داسې د پټېدو ځای او شی نه و چې هلته ما په کې پټ کاندي.

نو ناچاره په تشناب کې د آب دان لاندې يې پټ کېنولم. کله چې دا د عزت او وقار نه ډکه مېرمن د تشناب نه ووته، د دوی د دروازې ټك ټك مې تر غوږ شو، ښځه لاړه دروازه يې داړه مارانو ته د ډېر جنجال وروسته پرانيسته. داه مارانو ښځې ته وويل: ((ادم از تو ميخايم و نمو خودا د حويلی شما انداخ!)) مېرمنې په ډېره فقيرانه او ماته لهجه وويل: ((ماکسی را نديدم خانه ما پيش شما اس بپالين يافتن ببرين اينجا هيچکس خوده نه انداخته))

---

[۱۸] ډاګې په درې کې ورته دستک يا تير وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



((زه نو د دوی جروبحث او شورماشور اورم، خو د يوويشتمې پېړۍ دا سړي تبنتونکي او سړي وژونکي او د افغانانو د شرمونو غاړکيو د پتمنې مېرمن د کور په لټولو شروع وکړه، له کوټې نه راووتل، تشناب ته راغلل چې څنګه يې اړولې آب دان وليده اب دان يې پورته کړ، زه يې د ويشتلي مرغه په څېر د اب دان د لاندې نه راوويستم. زړه کې مې وويل چې ای بدقسمته! کاشکې په هماغه اول ساعت کې په يوه ګولۍ ويشتی او مړ وای، خو داسې بايد نه وای شوی، کله چې يې د حويلۍ منځ ته وويستم، بيا يې رابانديې د قنداغونو باران جوړ کړ هغه زړه سواندې او د عزتونو او پت نه ډکې مېرمنې رابانديې ځان واچاوه، داړه مارانو ته يې د خپل عزت، پت او شرافت پوړنی ونيو چې د خدای لپاره دا ځوان زلمی مه وهئ، چاته وايې؟))

((نه زنين بسيا جوان است، چه بدبخت پدر و مادر خاد داشته باشد!))

((دې جلادانو به همدومره ويل او دا يو غږ به يې کاوه چې: ((پدر ازي ادمرا کشته!))

((په رښتيا زه به هم په تشويش کې شوم چې خداناخواسته پلار مې څوك وژلی نه وي؟

په وهلو او ټکولو يې بېرته هماغې پخوانۍ حويلۍ ته بوتلم. په دې غالمغال باندې د کلي خلك پوه شول، زه دلته رسوا شوم، داړه مارانو زه نور دلته نه شوم ساتلی. زما لاسونه يې شاه واړول او ويې تړل او د کلي څخه يې وويستم. چې کتل مې په هماغه ځای کې هماغه جيپ موټر ولاړ و، موټر ته يې بيا پورته کړم. په موټر کې يې اول زما خوله وتړله، بيا يې سترګې او وروسته پښې. زما په وهلو بيا شروع وکړه. په

(c) ketabton.com: The Digital Library



موټر کې د دوی د ګوزارونو ضربې تندې تېزې او کارې وې، زه همدلته په موټر کې بې هوشه شوی وم، نور په ځان نه وم پوه شوی، ښايي دا شپه به تېره شوې وي، بله يوه نيمه لا دوه درې ورځې به هم اوښتي وي، بيا هم نه پوهېږم چې ددې بې هوشۍ موده به مې څومره وه. خو يو وخت چې مې سترګې وغړولې، ځان مې وښوراوه، يوه ډېره خيرنه کمپله راباندې پرته وه، پړمخې پروت وم، لاسونه يې راته په رسۍ او پښې يې راته په کېبل تړلې وې، خو ورو ورو مې لاسونو ته حرکت ورکړ، هله چې هله يو څه شانته لاسونه مې سست شول، خو په دې قادر شوم چې لاسونه مې د پړي د ولونو نه خلاص کړل، بيا مې پښې هم له کېبله خلاصې کړې. پښو او لاسونو ته چې مې وکتل، بې اندازې پړسوب يې کړی و، وينې جريان پيداکړ او حوصله مې يو څه جوړه شوه، د پښو په سر کېناستم، يو لاس او يوې پښې مې ناکاره درد لاره، درېدم، په حرکت کې په اولو دوو قدمونو کې د ډب ډب له امله پوه شوم چې په کانتينر کې اچولی يم او يو څه کمه زياته رڼا په کې وه، سترګې مې د کانتينر په لنډي بازو کې يو ادم قد د اندازې نه په ټيټه ارتفاع کې چې په اسانۍ لاس مې ورسېده په پښه ونښتې، لاس مې ورته ورساوه، پښه مې راښکوده، د پښې خسوکی د کانتينر دواړه سوري نه جدا شوو، د ګوتې په اندازه د سوري رڼا کانتينر ته ننوته، په سوري کې چې مې وکتل، شمال لور ته د پخواني امنيت دولتي او د اوسني امنيت ملي د تعليمي غونډ تعمير او دده دپاسه په غرو کې مې د رادارو سيستمونه وليدل، هله زه پوه شوم چې په خوشال مېنه کې بندي يم. ددې سوري نه د خوشال مېنې يوه څلور لارې هم معلومېده يوڅو ښارې ټکسيانې مې هم په سړك کې وليدې، څه ناڅه مې زړه ښه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شو چې ځه لرې خو نه يم. تقريباً د کابل د ښار په منځ کې يم، دې سوري ته ډېر وخت ودرېدم، که ګونډې څوك راپيداشي، خو له بده قسمته د هېڅا ښکالو نه خته د کانتينر د شا لاره داړه مارانو شاړه کړې وه او امه شمه[۱۹] په کې نه وه.

بيا مې د خپلې تېښتې پلان جوړ کړ، هغه رسۍ چې زما لاسونه پرې تړل شي وو، هغه مې د کانتينر د دروازې پورې وتړله. زړه کې مې وويل، يوڅوك به حتماً ماته راځي، نو کله چې د کانتينر دروازه بېرته کوي، زه يې کړپ کړوپ اورم او د دروازې د بېرته کولو په وخت کې به دروازه بېرته کوونکی ځانته راکاږي او زه به يې ځانته راکاږم همداسې هم وشوه. يو څو شېبې وروسته مې د دروازې کړپا تر غوږ شوه، چابکه پاڅېدم په دروازې پورې مې تړلې پړی کلك کړ. داړه مار ځانته دروازه راښکوده او ما ځانته داړه مار همدا وايي چې: ((اينمی چرا ايقه ماکم شده؟))

خو چې زورونه مو سره ښه ووهل، پړی مې خوشې کړ، دروازه دومره په شدت شااته لاړه چې داړه مار کوم شپږ اوه متره لرې وغورځېده. سمدستي مې د دېواله سرته ټوپ کړل او خپل لاسونه مې د دېواله په جی کې کلك کړل او داړه مار زما پښې د لاندې نه کلکې کړې. ګورئ!

انسان د وېرې او ډار په وخت کې ډېر زور لري، ما څو ځله خپلې پښې دې ځناور نه خلاصې کړې خو داړه مار همدا يو غږ کاوه:

((هله که باز ګريخت))

(۱۹) دا اصطلاح په هغه ځای کې کاريږي چې په کوم ځای کې او يا په کومه لار کې څوک نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



((پ دې کش و ګير او بګيرنمان کې د دوی ډله بيا زياته شوه، دوی که هر څومره زور واهه، ما هم اسره نه کوله، يو وخت مې فکر شو چې پرتوګ مې خوپېږي او مخ په کښته روان دی، زړه کې مې وويل، يوځل خو په شرمونو وشرمېدې، د اب دان لاټدې نه يې پورته کړې، که دا وار دې پرتوګ ووځي؟ خو ناچار لاسونه مې د بوالـه د جی نه سست کړل. لاټدې د لېوانو په پښو کې پرېوتم. دوی راباندې دپاسه د وهلو اتڼ جوړ کړی او زه د لاټدې نه لګيا يم، خپل پرتوګاښ ټينګوم، بيا يې راته لاسونه او پښې وتړل او يو د (شينه کې) نوم مې واورېد چې ورته وويل شول:

((بيا شينه کی))

((زه بيا نور په ځان نه يم پوه شوی چې خدای زده څو شپې ورځې به راباندې په بې هوشی کې تېرې شوې وي. يو وخت کې مې ډېره يخني وشوه، دس ړو له کبله بيدار شوم، د دوهم ځل لپاره بيا د خپل خالق په مرسته د بې هوشی څخه ووتم لاسونه او پښې مې تړلې وو، يو څه مې لاټدې پراته وو، خو د بره راباندې څه نه وو، د ويدو خلکو خرار ې تر غوږو کېده، پوه شوم چې شپه ده، خو مړه کان مې هم په خېټه ګرځېدل راګرځېدل، د مړه کانو د وچو ډوډيو د خوراك او چيچلو کړپا مې هم د ډېرې لرې فاصلې نه غوږو کېده، خو دا شپه ډېره سړه شپه وه، چې پښې مې وخوځولې پښو ته مې يوه شرۍ پرته وه. په ډېر جنجال مې شرۍ په ځان راښکوده، خو ساړه مې هېڅ نه درېدل، وجود مې ډېر درد کاوه. سهار شو، ښکنځلې، سپکې او سپورې مې واورېدې، چې داړه مارانو يو بل ته کولې. په يوه مې غږ کړل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



((اوبرادر ما يك مرتبه بيرون ميروم))

د دوی نه يو چا ځواب راکړ

((ای وختت بيرون رفتن نيس خو بگی))

((تورتم دی، هيڅ شی نه وينم، خو انسان ته خدای پاك توفيق ورکوي، صبر او حوصله ښه شی دی. که د بې صبرۍ او وارخطايۍ نه مې کار اخيستی وای نو زاره به مې پړق چاودلې وای او اوس به هيڅ نه وم.

دغه ټوله ورځ مې په نيمه پرېشانۍ او نيمه بې هوشۍ کې تېره شوه. يو وخت په دروازه کې کړپ کړوپ شو، يو تن دروازه خلاصه کړه، راننوت د خولې نه يې غږ نه خاته. اول يې لاسونه او بيا پښې راته پرانيستې، خو برعکس سترګې يې راته وترلې په دې مهال په ځان سخت ووېرېدم لکه وژني مې څه؟

پايڅولم خو کاواکه شانته وم. د ځناور په اوږه مې لاس کېښود، چې ونه لوېږم بهر ته يې وايستم حويلۍ چکره او لمده وه، هوا ډېره سړه وه، تازه هوا مې تنفس کړه. هسې يې د دېواله څنګ ته کېنولم او راته ويې ويل: ((بکو))

((تش جواب چای مې رفع کړ، پاڅېدم د لاسونو د وينځلو لپاره مې ترېنه اوبه وغوښتې خو په ځواب کې يې راته وويل: ((ګپای ډاکتريتان پس کو بندی دس نمی شويه))

((کوټې ته يې دوباره ننويستم، سترګې راته په کوټه کې خلاصې کړې، زړه مې راټول شو، څه که خدای کول، نه مې وژني. په بشقاب کې راته لږې شانته وريجې راوړې، دوه مړۍ مې د اوبو په زور تېرې کړې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستونی مې ناست او ورغلی و. له دې نه پوه شوم چې ډېر وخت مې په بې هوشۍ کې تېر کړی، زړه مې خوای، خوای کېده، د ضعف حالت ته به نږدې کېدم، خو ومې پتېيله چې ډوډۍ به د يوې يا دوو مړيو څخه زياته نه خورم. څه به هر ساعت دې بې ننګو ته چيغې او سورې وهم په دوی کې به ځينو فارسي کوله بعضو به په کې هزاره ګي او ازبکي لهجو خبرې کولې، ټوله شپه به يې په سپکو، سپورو او چټې خبرو تېرولـه. داسې وخـت بـه راغـی چـې يـو د بـل پسـې بـه يـې د کلاشينکوفونو ګېټونه راښکودل، بل کوم يو به په ژړا شروع وکړه، يو نيم به په کې په زور او شور وخندل. د چرسو بوی به يې ډېر تنګولم. کرۍ شپه به يې په قماربازۍ تېره کړه. د قمار په داو کې به يې د پرديو دوکانونه د خيرخانې او کارته پروان کورونه او د شهزاده سرای چورول ايښودل. په کومه کوټه کې چې دا داړه ماران اوسېدل، زه يې د هماغې کوټې په تشناب کې اچولی وم.

ددې لپاره چې د بل ځل لپاره د تېښتې هڅه ونکړم، بنديز او فشار راباندې سخت زيات و، پښې او لاسونه به مې د ورځې په اوږدو کې تړلي پاتې کېدل، يو ماښام او بل ماښام به يې بهر ته په تړلو سترګو ويستلم. د پښو او لاسونو تړل مې دومره کلك وو چې د پښو او لاسونو د وينې جريان به قطع و. مړه کانو به راته ډېر اذيت راکاوه. په خېټهه به يې راته کرۍ شپه مستي کوله، شپه او ورځ به مې د داړه مارانو له خرار او د مړه کانو له مستۍ نه معلوموله. داړه ماران به د ورځې له خوا ورك شول، مازيګر ماښام به راپيداشول، ډېر نا اهله او بې کرکتره خلك وو. دوی ته د انسان شرافت او کرامت اهميت نه درلوده. د دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



توپیر له ځناورو سره نه کېده، کومه موده چې ما په تشناب کې تېره کړې، د لاسونو او پښو سخت او کلک تړل زما د ژوند ترخې او ډېرې ترخې شپې ورځې وې. کوم ساعت نیم که به خوب راغی، خوښه، که نه نو ټول وخت به مې په سوچونو او چورتونو کې تېراوه او ویل به مې چې:

زه به دې سړي خورو نه کله ژغورل کېږم. د مور او پلار حالت به مې څنګه وي؟

مړه به وي او که ژوندي؟!

دواړه ورور مې په هغه سلګیو، سلګیو ژړا چې زه یې په موټر کې اچولم، له یاده نه وتله. شپه او ورځ به کله اوږد او کله پړمخې پروت وم، لاس او پښې به یې راته په اسې سیستم تړلې وو چې باید کېننم او تل باید پروت ووسم. ډډې مې ولګېدې. د لمانځه او اوداسه نه محروم وم. د دوی فشار همدا و چې پلار ته دې لیک ولیکه، څه چې مور غواړو هغه دې مور ته راکړي، ما د لیک لیکلو نه ترپایه ډډه وکړه او تر اخره پورې یې رانه لیك وانخستلی شو. په تشناب کې مې اخرنۍ شپه وه، خوب مې ولید خوب کې وایم پلاره! ته لګیا یې زمونږ د کور د بام نه واوره غورځوې.

بیا یې په دې سیمه کې په ډېره لږه فاصله په تړلو سترګو یوې بلې حویلۍ ته ولېږدوم. په هغه حویلۍ کې یې هم په یوه تورتمه کوټه کې اچولی وم. دلته راته ډېر زیات سهولت پیدا شو. په دې مانا چې لاسونه او پښې مې نه تړل کېدې، په اوله ورځ د وره په ګېرۍ کې یې یو دانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شمع راکړه او د اول ځل لپاره يې راته يو کتاب راکړ چې، عنوان يې و ((ادم فروشان قرن بيست)).

زه په کتاب او شمع ډېر خوشاله شوم، لکه چې مې د ډېرې يو ورك شي موندلی وي. ددې کوټې پهره دار ډېر بد سړی نه و.)) ده راته ويل:

((زه هم د پولي تخنيك محصل يم، خو څه وکړم د يو سخت مجبوريت له مخې ددې سړيتښتونکو او ادم کشانو په دام کې کېوتی يم، ته مه خپه کېږه. زه به تاته هره شپه يوه دانه شمع او يو تازه کتاب راوړم. ته يې مطالعه کوه، زه په دې شمع او کتاب د خوشالۍ نه په جامو کې نه ځايېدم. راته ويل به يې چې ته اوس زموږ مېلمه يې.

د کتاب او شمعې کومه وعده چې دې محصل له ما سره کړې وه، هغه يې تر اخرې ورځې راسره پوره کړه، زه ترېنه خوشاله يم. خو تراوسه پورې يې راته ځان ونه ښوده.

په يوه شپه او بله به يې د دريو تنو په بدرګه په تړلو سترګو بهر ته ويستلم او خپل احتياج به مې کله ناکله رفع کاوه. ما دلته هم د ډوډۍ د خوراك نه سخته ډډه کوله. خو دې محصل به راته ډېرې زارې کولې او ويل به يې ته او خدای ډوډۍ خوره، له لوږې به مړ شې، زما د زندان شپې ورځې له دې داړه مارانو سره نه پوره کېدې. يوه ورځ مې د داخل نه دروازه وټکوله، څوك رامعلوم نه شول، څو دقيقې وروسته مې دا عمل بيا تکرار کړ، بيا هم چا ځواب رانکړ، بيا مې غوږ کېښود، هېڅ ښکالو مې وانه ورېده، په وره مې زور کړل، په ډېر شديد زور مې د دروازې کونډه د بېرون نه والوزوله، دروازه ببرته شوه، منډې ته مې ځان جوړ کړ، خو دا چې ډېره موده مې لمر نه و ليدلی، څنګه چې مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په انګړ کې پښه کېښوده، دا وطن راته یو د تك شین شو، هېڅ مې نه لیدل، په پښو کې مې زور هم نه و، د انګړ په منځ کې په ټپه ټپنۍ کېناستم. د پښو پلې مې وتښتېدې او غړي مې خوای شول بیا یو دم د کومې خوا چیغې شوې: ((هله که بچهه سګ باز ګریخت.))

((ځو چې مې ځان بیا منډې ته جوړاوه په دغه مهال کې هله هوله شوه څو خطا ډزې راباندې وشوې شپږ اوه لېوان راورسېدل. متهې یې راباندې واړولې، دا ځل یې ونه وهلم، خو د شپې له پلوه هماغه چې ځان یې محصل معرفي کاوه، بېرون نه په نصیحت یې راته شروع وکړه.))

((ډاکتر صاحب احمدجان! وارخطا کېږه مه، له پلار سره دې لکه چې کومه معامله شوې ده.))

((خبره یې اورېده کړه. دلته یو څوك دی، زه یې هم نه پېژم. ستا د پلار دوست دی، سردار (کوټه) یې نوم دی، د هغه په واسطه ستا د خلاصېدو کار نږدې شوی دی. په نږدې شپو ورځو کې به انشاالله خلاص شې او که چېرې خلاص نه شوې، بیا به زه او ته سره معامله وکړو، زه به دې له دې ځایه وتښتوم، خو ما چې به څومره فکر کاوه پلارجانه!

ستا په دوستانو کې د سردار (کوټه) نوم ماته بېخي نا اشنا و، ولې چې تقریباً ستا ټول دوستان ما پېژندل، د ځان سره مې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا محصل ماته دروغ وايي، پلار خو مې د سردار (کوټه) په نوم داسې کوم دوست نه لري. خو دې محصل به راته ډېر تسکين، ډاډ او زړه اېښودل راکاوه. د شپو نه يوه شپه وه چې:

دروازه راپسې خلاصه شوه، هماغه محصل پهره دار زما سترګې وتړلې، په غوږ کې يې ورو شان راته وويل: ((مبارك خلاص شوې ډاکتره))

((خو زما باور نه راته، د لاس نه يې ونيولم، يوې بلې حويلۍ ته يې بوتلم. په دې حويلۍ کې يو څو تنو په ټيټ اواز په ګونګوسي او پسپسي خبرې کولې. د يو څه ځنډ نه وروسته په تړلو او پلستر شويو سترګو يو بل تن د لاس نه ونيولم، روان شو. له حويلۍ نه چې ووتو، په يو موټر کې يې کېنولم، کله چې يوه واړه بازارګي ته ورسېدو، موټر ودرېده، سترګې يې راته پرانيستې، چې کتل مې په غير د ډرېور نه دوه تنه موټر کې راسره ناست وو يو خو بېخي نا اشنا و او په دې بل مې لږې شانته سترګې خوږې شوې، کم چې مې ښي لاس ته ناست و. ((ويې ويل: ما سردار کوټه هستيم!))

او دې بل:

((ما سادو!!))

د سادو نوم او څېره يو څه راته اشنا وه، خو سمدستي يې رانه تپوس وکړ. ((اينمی بازار رامي شناسي؟))

ما ورته وويل:

نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوټه راته وویل:

((اینمي میدان ښار است.))

((خدای شاهد دی چې په زړه کې بیا لږ شکمن غوندې شوم، چې دوی ولې د کمپنۍ بازار ماته میدان ښار ښیي. ټکسي موټر د کمپنۍ نه په خامه سړك د دیوان بیګي دپاسه عسکري فامیلیو ته ووت، دې مکارانو له مانه خوشال مېنه ډېره پټه ساتله. ما خوشال مېنه په هغه ورځ لیدلې وه چې د کانتینر د سوري نه مې پنبه لرې کړې وه. اول دې دوو دلالانو د خوشال مېنې نه تر کمپنۍ پورې تړلې سترګې د غرب په لوري ولېږدولم او کله یې چې په کمپنۍ کې راته سترګې پرانیستې کمپنۍ یې راته میدان ښار معرفي کړه. ددې لپاره چې دې (کوټه) او ناچل سردار زما پلار ته ویلي و چې زوی دې په میدان ښار کې د حزب اسلامي ګروپونو سره دی. کله چې د عسکري فامیلیو څخه تېر شو، افشار او د افشارو نه پولیتخنیك ته ورسطدو. دکارته پروان د دان نل په ساحه کې د موټر نه پیاده شو، د ټکسي نمبر پلېټ ته متوجه شوم، په ټکسي باندې نمبر پلېټ نه و، خو ټکسي روسي زوړ ماډل موټر و. په خپلو پښو درېیم پروان ته نږدې شو.

په کوټه کې (سادو) له موږه مخکې شو ده اول زموږ د کوردروازې ته ځان ورساوه او دروازه یې ووهله زه سردار کوټه تر شاه ودرولم او راته ویې ویل: ((داکتر! ته اول غږ مه کوه چې پلار دې د ډېرې خوشالۍ نه سکته ونه کړي!)) هغه و چې په ټك ټك ته دروازې ته راغلې وردې خلاص کړ، ماته راغاړېوتې او زه دې د کور په زینو کې پورته پوړ ته بدرګه کړم.))

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا و د يوه بېوزلي پلار او زوی داستان چې د يويشتمې پېړۍ سرېتنبتونکو او د جنګي جناياتو جنايتکارانو د کابل د جنګونو په مهال سرته رسولی وو. دا جنايتکاران اوس هم پړسېدلي او ارت، د کابل په ښار کې په دې تمه ګرځي چې بيا به هماغسې شپې ورځې راځي او بيا به دا خوار ملت ځوروو.

خو دا ځل دې خپل خوبونه اوبو ته ووايي.

پلاره!

((زما د تښتولو نېټه د ۱۳۷۳ل کال د حمل ۶ ورځ وه مګر د خلاصېدو نېټه رانه ورکه وه. د ورځو او شپو حساب مې نه شو کولای، خو د هوا په حساب پوهېدم. په اولو شبو کې به مې خونه ډېره سړه وه، مګر په اخرو کې به مې ګرمي کېدله. ما د ځان سره د سختې سکنجې او د بې هوشۍ سره سره د بند موده شپېته ورځې اټکل کړې وه.))

پلاره!

((تا چې کله ويل، نن د ۱۳۷۳ل کال د ثور (۲۱)مه نېټه ده، زه پوه شوم چې مور او پلار مې (۴۶) ورځې په ژړا تېرې کړي او ما په سخته سکنجه او د يوويشتمې پېړۍ د بربريت په تورو او ناوړو منګولو کې.))

زړه چې ودردېږي، درد يې په وينا ټکورېږي. دنيا ده کله به مې دا کيسه چاته د خولې نه وتې وي، هغه به بل کوم يو ته کړې وي، خو اخر د هغه وخت امنيت دولتتي کارمندانو ته به رسېدلي وي، کارمند به د خپلې شخصي ګټې او يا د کوم مډال او يا فوق العاده ترفيع په منظور په ۱۳۷۵ل کال د جوزا په مياشت کې يې (سادو) په اوله حوزه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بندي کړی و، يوه ورځ دوه وروسته د امنيت دولتي درېيم رياست ته بيولی و، خو د خسر د شناخت پر اساس په لنډو کې د دريم رياست نه هم خلاص شوی و، نه پوهېږم چې ده نه به چا تپوس کړی وي او که کړی نه وي، نو ده به په تحقيق کې څه ويلي وي، ولې چې زه چا جلب نه کړم او نه له مانه چا پوښتنه وکړه، په دې کې زه خبر شوم، درېيم رياست ته مې مراجعه وکړه، راته ويې ويل:

((هغه خوشې شوی دی)) ومې ليدل چې حکومت اوس هم د چا پوښتنه نه شي کولای. ځان مې غلی کړ، خو د (سادو)، (کوټه) او د (دادو) پوښتنه مې د لرې لرې په غير مستقيم ډول کوله، د (سادو) د دستګيرۍ په اولو يو دوو ورځو کې (دادو) تښتېدلی و، سادو د لنډې مودې دوه درې ورځو بند نه وروسته د کابل ښار لارو او کوڅو کې پټ پټ ګرځېده. کله به يوځای او کله به بل ځای ته په کډه شو، خو د طالبانو د راتګ پرمهال دی په کډه پاکستان ته وتښتېده. (کوټه) تايمنيو نه کډه وکړه او د چين د سفارت ترڅنګ يو وخت د روغتيا وزيري سهيلا (صديق) ګاونډی شو، نو کله چې د همدې کال د ميزان په مياشت کې طالبانو کابل ونيو. زما خوشبيني زياته شوه، په دې اميد کې شوم، که خدای کول، اوس د سردار څخه مې خپل بدل اخيستی شم او محکمې ته يې راښکودلای شم، ولې چې د طالبانو د عدالت ډنډورې به د دوی د ډنډورچيانو به واسطه مور ته غږېدلې او ويل به يې، ((په کوم ځای کې چې د طالبانو نظام دی، هلته يوه اوزه د بلې وابنه نه شي خوړلی او حق په حقدار سپاري.))

(c) ketabton.com: The Digital Library



په همدې هيله مې د طالبانو د راتګ په دويمه ورځ په سردار (کوټه) ګوته کېښوده چې ((سردار صاحب! ته مې مدعي يې!!))

خپل زوی او تره يې سردار جوټه ماپسې دواخانې ته ولېږل. په دواخانه کې بېروبار و ګڼه ګوڼه ډېره وه، خبرې مو نه کېدې، د نوي ښار په پارك کې مې څادر خور کړ، پرې کېناستو سماوار نه مې چای راوغوښت ما سردار جوټه ته خپله کيسه سر نه تر پايه څه چې راباندې تېر شوي وو، وکړه نو سردار جوټه[20] راته وويل: سباته سردار (کوټه) خپل کور کې ختم لري، ته يې هم غوښتی يې، که دې څوك ځان سره راوستل، هم يې راوله. هلته به سره جرګه شو او ټولې خبرې به حل کړو. سبا په يوولسو بجو ما د ځان سره دوه تنه مامورين محمد بشير او صديقي صاحب ملګري کړل. د سردار کور ته ورغلو، کور ته يې ننوتو، په رښتيا چې د ختم د ډوډۍ د يګونه بار وو. دده د کور په انګړ کې شل پنځه ويشت ټيمه غوړي پراته وو، د وريجو د بوجيو خو شمېر نه نيول کېده. په زړه کې مې تېر شول چې د امنيت د وزارت د دريېمې ادارې او يا د يونيسف د سازمان چې کور يې ورسره دېوالي شريك، ټول خوراکي مواد يې خلا په مهال د شپې چلولي دي دده کور د امنيت د دريېم رياست او د يونسف د سازمان سره په لنډه فاصله کې پروت و. موږ هم د انګړ په يوه اړخ کې د نورو مېلمنو په څېر تېر شو، په مهمان خانه کې کېناستو، د جوټه او (کوټه) سره د لنډ روغبړ نه وروسته څلور پنځه تنه ټوپکوال هم راننوتل... دسترخوان خور شو، په ډوډۍ کېناستو، (کوټه) په دسترخوان راته وويل: ((ترااينمي به خاطر خواستيم

---

(۲۰) د جوټه لفظ ددې لپاره کارول شوی دی چې دا سردار يو وخت پيلوټ و او افغاني طياره يې وتښتوله، په پاکستان کې يې کېښوله جوټه (استعمال شوی، نيمګړی).

(c) ketabton.com: The Digital Library



مدیر صاحب! که دست راس و چپ تان ببینی، طلبه کراما بشناسی، که آنها هم تحت قومانده ما هستند، چندسال پیش هکار شان بودیم!))

دلته ده چې سردار په غوږ ووهلم او پوه یې کړم چې په هر نظام کې چلېدی شم او ټوپك لااوس هم ماسره شته او که دې ځان وخوزاوه نو...

د ډوډۍ نه وروسته یو څه ګڼه ګوڼه د خلکو کمه شوه. د (کوټه) او (جوټه) سره مې خبره واچوله، خو ماته د دوی خبرې پیکه ښکاره شوې، د دوی خبرې د جرګه مارو په څېر نه وې. د دو خبرې هماغسې د ښاري اوباشانو په څېر وې، رخصت شو، خو ځان مې په لمر او سوري کې ساته او هم مې دی د خپلو دوستانو په وسیله په نامخصوص ډول څاره، دې... سردار بیا په ډېره لنډه موده کې د سید... آغا سره ټینګ روابط پیداکړل. (کوټه) به په ... آغا په دې حرفوي قاتل څومره افغاني پاك لمني مېرمنې ژړولې وي او څومره به یې د جنایت نه ډك عملونه سرته رسولي وي او څومره ټیټ او نامشروع خوش خدمتي به یې ورته کړې وي د... آغا په ارتباط به په کابل کې ویل کېدل.

((ډالر د یو نه اخلي او د هغه په نوم او عوض د اعدام په تخته بل څوك ځړېږي.))

دلته زموږ په ملك کې د هغه ښار ناپرسان کیسه وه. دې داړه مار د هرې جمعې په ورځ د... آغا سره په هغو مېلمستیاوو کې ګډون کاوه، کومې چې به غټو تجارانو د بند قرغه په شاوخوا کې تیارولې چې د پسونو د کبانو د بوی پورې به یې د قرغې د کلي بېوزلانو وچه ډوډۍ خوړه، د ورځو نه یوه ورځ په مېلمستیا کې د جان آغا په نوم زه یو چاپېژندم، چې سردار (کوټه) زم د زوی احمدجان د اختطاف او زما د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مجبوريتونو كيسه كړې وه. ده نه يوازې دا چې په خپل كړي جنايت يې پښېماني ښودلې واى، پرې افتخار يې كاوه او په خپلو برېتونو يې د مېړانې او باتورۍ لاس راښكوده، نو بيا چې كله... آغا د افغانانو په ډالرو، مړو او اعدامونو موړ شو، په دې او هغه نامه يې د پوځي مخصوصې څارنوالۍ له څوكۍ نه لرې كړاى شو چې تر ننه د هغه اجير او حرفوي قاتل درك او خرك نه شته، چېرته به په كويټه بلوچستان كې د افغانانو په وينو سره لاسونه او زموږ د ښځو په دود پټ مخ ګرځي. بيا سردار د خپل فعاليت ساحه تنګه وليده، امل و عيال يې پېښور ته واستول او دى د غله په څېر كله دلته او كله هلته شپې سبا كولې.

زه هم له نيمايي كورنۍ سره د خپلو ځمكو د ابادېدو لپاره كونړ ته لاړم، كال نيم دوه مې هلته تېر كړل، بيا چې مې ادرس واخيست، دده كډه د پاكستان څخه غبرګه شوې وه، زړو مكروريانو كې په (۱۶) بلاك (۸) اپارتمان كې اوسېده او څه موده د پخواني دفاع وزير جنرال محمد رفيع تر تامين لاندې كور كې چې د كوم قوماندان له خوا ورته ډالۍ شوى و، اوسېده.

د طالبانو له راتګ وروسته مې د (سادو) مشر ورور بيامونډ، اوس يې نوم رانه هېر دى. دومره راته ويل شوي وو چې د ملګرو ملتونو د دريېمې كارتې په روغتون كې ډاكتر دى. په تايمنيو كې اوسېږي. دده په كور كې مې ورسره وليدل. د (سادو) ټوله ناروا مې ورته يو په يو واوروله. ده ماته په ځواب كې هېڅ ونه ويل، خو زما په اورولو د ډاكتر د سترګو نه د رود په څېر اوښكې راماتې وې. سترګو ته يې خپل دسمال كلك نيولى و، په نيولې، ژړغوني او ډډ اواز يې راته وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



((بس، بس برادر که دیگر طاقت شنیدن رانداریم. ما به (سادو) ده سال پیش گفته بودیم که از سردار (کوټه) دست بگیر!))

ما دا خپل آه او فریاد یو ځل دوه د (کوټه) او (سادو) مشرانو، خپلوانو ته ورساوه چې دوی دې راسره کېني، جرګه به شو سره، دوی زما جرګې ته حاضر نه شول او غاړه یې کېنښوده، زما پور او کوم بشري حق یې چې راته پیمال کړی، شاته غورز

ته وي او زما د خبرې په پورته کولو دوی د شرم نه ټیټ سرونه نیولي وي.

د ډاکټر احمدجان د اختطاف په موده کې ما دوه درې ځل سردار ته خوله جوړه کړه خو اخر یوه ورځ مې وویل ګوره سردار صاحب! ته ك د خپلو پلرونو او نیکونو تاریخ ته وګورې (که رښتیا ته په هغوی پورې تړاو لرې) د امیر دوست محمد خان نه نیولې د کندل خان او شېردل خان پورې او بیا د غازي محمد ایوب خان نه تر غازي امان الله خانه پورې ستاسې نیکونو زموږ د افغانانو شملې هېڅ وخت نه دي کښته کړې، تاسې همېش زموږ مشران پاتې شوي یاست. موږ افغانان د ټل او واڼه د جبهې اعلی سر قوماندان محمد نادر خان، مارشال شاه ولي خان او اعلیحضرت محمد ظاهر شاه خان ته د احترام او د ویاړ خاص ځای لرو، نو دې غله ماته نه یو کړ او نه بل، یوازې دومره یې وویل:

((ما از جمله سردارای بدل هستیم!!!))

نو ګوره چې ده د پنځو غلا شویو پیسو لپاره ځان بدل سردار بښوده، خو اوس به دده... په تبرګي هم نه ماتېږي او ببرته به ورنه اصیل او

(c) ketabton.com: The Digital Library



پدرکرده سردار جوړ شوی وي او ده به بیا ډېرې دروازې د خپلو کړو جنایاتو د پټولو لپاره ټکولې وي. د رباب د غږولو په پخوانیو انډیوالانو لکه... باندې به یې بیا لاس راښکودی وي.

اوس چې کله کله د چا نه اورم، سردار (کوټه) (سادو) او (دادو) پلې په ډانګ ستنوي د خپلو جرمونو، شرمونو او تنګدستۍ له وجې په ښار کې ژوند نه شي کولای او د کابل په مربوطاتو کې چېرته په لریو کلو کې اوسېږي.

ډاکتر اوس د ملګرو ملتونو فدرېشن په څانګه کې اوچت ډاکتر دی. ناروغان د خدای(ج) په حکم تداوي کوي، معاینات یې کوي، خپل هېواد او خپلو خلکو ته یې د خدمت ملاتړلې، انسان او د انسان لوړ مقام ته په ډېرو ارزښتونو قایل دی. له انسان او خاصکر ناروغ انسان سره ډېره مینه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# هينداره په هيندارو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# هینداره په هینداروکې

(ادبي رپوټ)

د حاجي صاحب دا خوی دی، هر کتاب یې چې نوی له چاپه راووځي، نو بیا دی په هغه کتاب باندې د کره کتنې غونډه جوړوي.

اوږم کال یانې (۱۳۸۴ل) کال کې د حاجي صاحب دوه کتابونه (زه کابل یم) د دویم ځل لپاره او (اوړاپرنګې) په پښه یې ژبه د لومړي ځل لپاره د نبراسکا د مطبعې له خوا دده په شخصي لګښت چاپ شوي وو. د همدې کال د سنبلې په اتلسم تاریخ باندې د میوند په کلوپ کې د کره کتنې غونډه پرې جوړه کړې وه. په ډېر افسوس سره باید ووایم چې، ددې کره کتنې غونډه ما او ورور مې ذبیح الله ثبت نکړای شوه، چې په دې کې موږ دواړو سخت غفلت کړی دی. خو دومره مې په یاد دي چې ددې غونډې مشري اجمل تورمان کوله. په سر کې محترم محمد حسن ولسمل صاحب، بیا محترم ډاکتر عبدالکبیر رنجبر، ورپسې محترم عبدالغفور لېوال، بیا محترم محمد نبي صلاحي او په پای کې د کره کتنې غونډه د ښاغلي رازقي نړیوال په وینا او ارزیابۍ سره پای ته ورسېده. پورته پنځو تنو پیاوړو دانشمندانو، محققینو او ژورنالستانو په خپل وار سره خبرې وکړې. ولسمل صاحب په خپلو خبرو کې حاجي صاحب ته د یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړور او د کونړونو د لوړو غرونو باسواده ليکوال لقب ورکړ. ليوال صاحب حاجي صاحب د پښتو او پشه يي ژبو د شعر او نثر د نوې صنف ايجاد ګر وباله. صلاحي صاحب حاجي صاحب ته د يوه نوښتګر شاعر او ليکوال خطاب وکړ. حاجي صاحب ته پوهاند رازقي نړيوال د جګړې د کلونو د الفت صاحب لقب ورکړ.

همدارنګه (زه کابل يم) په کتاب باندې چې لومړی ځل په پېښور کې چاپ شوی و، د کاوون توفاني صاحب ګوتو ته په المان کې ورغلی و او پر (۲۰۰۰م). کال د مې په مياشت کې د (يو ليک او يو پيغام) تر عنوان لاندې (م-ح- حسام) په ادرس يې يو شعر په (۱۱) مخونو (باد په کندوالو) کتاب کې ليکلی چې د دې ادبي رپوټ په اخرو کې ځای پرځای شوی دی همدا راز د حاجي صاحب يو بل پشه يي کتاب (ايم ورګ) تر عنوان لاندې پر (۱۳۸۵ل) کال د قلم ټولنې له خوا چاپ ته رسېدلای و. بيا د همدې کال د سرطان پر (۷) مه نېټه د قلم ټولنې په انګړ کې د کره کتنې غونډه پرې جوړه شوې وه. د غونډې مشري د څېړونکي محمد نبي صلاحي صاب په غاړه وه. په لومړي سر کې حاجي صاحب ځينې پشه يي شعرونه په پښتو ژبه ترجمه کړل او بيا وروسته د هېواد معتبرو ليکوالانو په پشه يي ژبه د ازاد نظم رامنځته کېدل يې د حاجي صاحب برياليتوب وګاڼه او ټولو نقادانو او کره کتونکو دا ومنله چې حاجي صاحب د پشه يي ژبې ازاد نظم په پشه يي ژبه کې ځای پرځای کړ چې د دې غونډې د يو معتبر وېناوال محترم سرمحقق الحاج عبدالله بختاني خدمتګار وينا اول ټايپ شوې او بيا د سولې هڅه په مجله کې (د ملي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وحدت تېنګول زما عقیده ده) تر عنوان لاندې د حاجي صاحب په شعر او شاعرۍ یو اوږد بحث کړی دی چې په دې ادبي رپوټ کې ځای شوی دی. حاجي صاحب د (۱۳۸۵ل) کال په اخرو شپږو میاشتو کې دوه د ازاد نظم کتابونه په پښتو ژبه (د سپیني وینې او سرخلاصیی لیکونه) تر عنوان لاندې چاپ ته ورسول. په دې دوو کتابونو باندې د تېر کال د حوت پر (۲۷)مه نېټه په تاج محل رستورانت کې د کره کتنې یوه لویه غونډه جوړه کړې وه، چې خوشبختانه د دې غونډې ټول جریان مې په ویډیو کیسټ کې ثبت او یو ادبي رپوټ مې تر بڼه جوړ کړ.

باید یادونه وکړم چې د حاجي صاحب فرهنګي کارونه لا نه دي ودرېدلي. ده پر (۱۳۸۶ل) کال (یوه شپه دوه خوبونه) کتاب چاپ کړی. کره کتنه پرې هم شوې ده. بل کتاب یې د یوویشتمې پېړۍ انساني دلالان ناول یې چاپ شوی دی. دا شیل منظومه په ازاد شعر کې د چاپ لاندې ده. که د کال په اوږدو کې یې بل کوم کتتاب هم چاپ شي بیا به یې د کره کتنو وروسته تاسې دانشمندانو ته وعده درکوم چې ادبي رپوټ به یې همداسې ترتیب او راغونډ کړم او په ډېره مینه به یې تاسې پوهانو ته ستاسې وېناوې د یو کتاب په شکل کې ډالۍ کړم.

په درناوي

ډاکتر احمد همدرد حسام

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څېړونکی محمد نبي صلاحي

بسم الله الرحمن الرحيم

د غونډې د مشرانو او د حاجي صاحب په اجازه، نننۍ غونډه پيلوو. د تاسې ټولو قدم دې نېک او مبارک وي، کور مو ودان چې په دې يخه او باراني ورځ کې مو ځان زهير کړی او دې علمي او ادبي غونډې ته راغلي ياست.

له مونږ سره په دغه غونډه کې د هندوستان دوه کسه او سېدونکي او د کابل پوهنتون د پښتو څانګې محصلين ښاغلی پروين او پرکاش هم ګډون لري، د دوی راتګ ته هم ښه راغلاست وايو.

زمونږ غونډه د محترم الحاج محمد حسن حسام د دوو نويو کتابونو چې يو يې (سپينې وينې) نومېږي او بل يې د (سرخلاصي ليکونه) په نومونو دي، ددغو دواړو کتابونو د مخ کتنې په باب باندې جوړه شوې ده. ددې په څنګ کې د حاجي صاحب مشر زوی ډاکتر صاحب احمد همدرد حسام هم د حاجي صيب د شخصي ژوند په باب يوه رساله ليکلې ده چې هغه هم ستاسې په مخ کې پرته ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حسام صاحب له دغو دوو کتابونو پرته څو نور کتابونه هم په پښتو ، دري او پشه یي ژبو باندې لیکلي دي. (زه کابل یم) په پښتو ژبه دی بل کتاب یې (اوړا پرنګې) په پشه یي ژبه دی، بل کتاب یې (ایم ورګ) یا (د واورې اوبه) چې دا کتاب هم په پشه یي ژبه باندې د ازاد نظم یو غورچاڼ دی، دوه نور کتابونه یې له (سپینې وینې) او (سرخلاصي لیکونو) نه پرته (د شلمې پېړۍ انساني دلالان) په نامه یو ناول دی چې اوس زه ورباندې سریزه لیکم او یو دوه کسه نور لیکوال هم ورباندې لیکنې کوي او په راتلونکي کې ډېر ژر غواړي چې هغه چاپ کړي.

یو بل کتاب یې (یوه شپه دوه خوبونه) او (اشیل) نومېږي. له دې اثارو نه یې پرته یو بل اثر په دري ژبه باندې هم لیکلی دی چې د ټولو کتابونو مجموعه یې نهه اثره کېږي.

موږ غواړو چې ننني غونډه د عظیم الشان قران په تلاوت سره پیل کړو ، له دې امله د حاجي صیب منیجر محترم دوست محمد خان ته په ډېر درنښت بلنه ورکوو چې د ستیج سر ته راشي او د قران مجید د څو مبارکو ایتونو په تلاوت سره زموږ او ستاسې ننني غونډه متبرکه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دوست محمد خان:

د لوی او ښښونکي خدای تعالی(ج) په نامه

یا یها الذین امنوا اتقوا الله حق تقته ولا تموتن الا و انتم مسلمون (۱۰۲).

وعتصمو بحبل لله جمعیاً ولا تفرقوا و اذکرو نعمت الله علیکم اذکنتم اعداءً فالف بین قلوبکم فاصبحتم بنعمته اخواناً و کنتم علی شفا حفرة من النار فانقذ کم منها کذلک یبین الله لکم ایته لعلکم تهتدون (۱۰۳)

د محترمو مشرانو په اجازه ! زه هم په خپل وار سره محترم الحاج محمد حسن حسام صاحب ته ددغو کتابونو د چاپ مبارکي وایم او د خدای تعالی نه دده او د هیواد د نورو تکړه شاعرانو د لا بریالیتوب په هیله یم.

مننه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څېړونکی محمد نبي صلاحي:

((که مورږ یو له بله پوه شو

نور کارونه ټول اسان دي

قتلوي مو په خپل منځ کې

وايي خپل يو غليمان دي

مورږ په سرو وينو کې رغړو

دوی چک چکې کړي خندا کړي

منتظر دي هغه وخت ته

چې به کله مورږ تباه کړي))

(لوی احمد شاه بابا)

د غونډې په پیل کې د افغانستان نومیالي پوه محترم سر څېړونکي الحاج عبدالله بختاني خدمتګار صاحب ته په ډېر درنښت بلنه ورکوو چې د ستېج سر ته راشي او زمورږ د نننۍ غونډې پرانستونکې وينا وکړي.

د افتتاحيه خبرو په څنګ کې، محترم بختانی صاحب دا حق هم لري چې خپلې نورې خبرې په همدغه وار دوستانو ته واوروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سرمحقق عبدالله بختانی خدمتګار:

بسم الله الرحمن الرحيم

درنو او خوږو ورونو مشرانو ، ځوانانو ، اديبانو ، شاعرانو او ددې هېواد خواخوږو او په هېواد باندې مينو او زهيرو شخصيتونو !

د افتتاحيه خبرو حق خو د صلاحي صاحب و ، دا چې په ما يې امر وکړ، زه به په کې څه ووايم؟

حسام صاحب تاسې پېژنئ، کتابونه يې هم توزيع شوي دي تاسې به مخکې لوستي وي اوس به مو هم څه ناڅه له نظره تېر کړي وي، په هغه باندې به تبصرې کېږي او په هغه باندې به نقد کېږي.

نقد د يو شي کره کولو ته وايي چې د هغې مثبتې او منفي خواوې څرګندې شي. کله کله موږ په غلطه نقد هغه څه ته وايو چې يوازې څه عيبونه ولټوو او ددې په مقابل کې مدح او توصيف ته، نه پوهېږم چې څه ووايو؟ !

(c) ketabton.com: The Digital Library



مگر که هغه چې د يو شي د مدحې او د توصيف مواد لري هغه هم څرګند شي او چې کوم عيب لري هغه هم څرګند شي، هغه نقد دی.

د مثبتو خواوو څرګندول هغه د اثر خاوند هم تشويقوي هم هڅوي هم يې زړه ته ډاډ ورکوي هم يې په ځان باندې ويسا زياتوي او هم لارښونه ورته کوي.

او ليکوال ته وايي چې:

دغه خبرې ښې دي او همدا کوه او چې عيبونه يې ښکاره شول هغه هم ددې موجب ګرځي چې هغه اثر هم اصلاح شي او په اينده کې ليکوال چې په هغسې اثارو باندې قلم چلوي د هغه انتقاد نه استفاده وکړي خپل اثار کره کړي.

دا چې په پښتو کې ورته کره کتنه وايي، دا ډېر په ځای تعبير دی او دا مجلس د همدې لپاره جوړ شوی دی. دې سره ددې موقع نه په استفاده زه د خپل وطن په حال باندې او ددې وطن د شاعرانو او ليکوالو په حال باندې ډېر تاسف کوم. په يوه جنبه او د يوې موضوع په ارتباط باندې چې هغه داده:

دلته شاعر شعر وايي نثر ليکونکی نثر ليکي داستان ليکونکی داستان ليکي، محقق او حېړندوی څېړنه کوي دا خو کوي. په مشکلاتو په دردونو په کړاوونو د کاغذ په مخ دده فکر او دده څېړنه توبې شي. بيا حيران وي چې په دې څه وکړي. بيا ګرځي ځوک چې څه شی نه لري په دې لټه کې وي، چې يو ځوک پيدا کړي چې يو څو روپۍ ورکړي چې دا اثر

(c) ketabton.com: The Digital Library



چاپ شي او څوک چې جيب کې يو څه لري د خپل جيب نه يې وباسي او خپل اثر پرې چاپ کړي.

ګورئ !

همدې سړي هم د ليکلو کار وکړ، هم د چاپ کار يې وکړ. حال دا چې دا د يو سړي کار نه دی.

ګورئ ! بيا مخ کتنه ورته جوړوي، د مخ کتنې مصرف هم ورکوي، د مېلمنو مصرف هم ورکوي او کارتونه ورته هم لېږي، ګورئ چې دا د ليکوال دربيم مصرف شو.

موږ د کتاب لپاره بايد بازار ولرو، دوکان ولرو، خرڅلاو ولرو، کتاب باندې پيسې ځي، لږ تر لږه د هغو پيسو اصل هدف بايد څه وي؟ ! په جهان کې موږ اورو چې ليکوالان او شاعران د قلم د څوکې نه ډوډۍ خوري، موټر پرې اخلي، کور پرې اخلي او ټول ژوند يې تامينېږي او دلته؟ !

ټول ژوند يې پرې ځي، د موټر پيسې هم په کتاب ځي، د عايل د مېوې او نفقې پيسې هم په کتاب ځي.

دا د ډېر افسوس حالت دی، په افغانستان باندې او د افغانستان په ليکوال باندې.

ښه ! که ليکوال کتاب چاته ورکړ بيا بله ورځ چې ملاقات وشي چې زما کتاب دې ولسوست، بيا د لوستلو شوق د چا سره نه شته، کتاب هلته په

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاقچه کې او یا په الماری کې پروت وي، بیا حتی کله ناکله د چا پام وي یا نه وي، د بخاری او ر پرې لګول شوی وي.

نو دې مجلس کې چې زموږ د علم او ادب مشران او رهبران هم ناست دي، ځوانان او نقادان مو هم ناست دي دا خبره ما لازمه وبلله چې د دې خبرو لړ غم په کار دی، د دې لپاره سیستم په کار دی او د دې سیستم رواجول په کار دي.

نو زما افتتاحیه خبرو کې ما دا خبره لازمه وبلله او دا د حسام صاحب برکت دی او که زما د دې خبرو نه یو سلسله عمل په دې وطن کې رویکار شي. د هغې عمل په وجه زموږ شعر، ادب، څېړنه، ژبه، ادبیات او علم به لړ انکشاف او ارتقا وکړي او زموږ هر څه د مغزو محصول زموږ عام ولس ته له دې ځای نه ورسېږي.

د دې ثواب انشاالله که وشو او زما خبره عملي شوه حسام صاحب ته هم رسېږي.

څوک چې یو ښه دود رواجوي د هغه اجر تر قیامته پورې ده ته هم راجع کېږي او که بد دود رواجوي د هغه بد دود ګناه هم ورته راجع کېږي.

زه امید لرم چې موږ او تاسو په دې موفق شو چې د لیک او لیکوالۍ د لارې نه خنډونه ایسته کړو او خپل اثار خلکو ته ورسوو او یوه خوشګواره فضا له دې لارې وطن کې پیدا شي. حسام صاحب! دا حق لري چې د هغه په اثارو باندې سړی د خپل زړه خبره منعکس کړي، نو ما یو څه یادداشت ګوتې د ځان سره راوړی کله چې د حسام صاحب دا دوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مجموعې چاپ شوې دا (دوه اثره) نو هغه وخت کې دا دوه ټوکه ماته راکړی شوي وو.

نو د هغه پر بنا زه به يو څه خبرې ستاسې حضور ته تقديم کړم.

((منقد هر چه می گويد بگويد

به خون زخم دل نامه نوشتم

منقد هر چه می جويد بجويد

نيابد گل به خارستان کشتم))

جناب حاجي صاحب محمد حسن حسام سره زه سږ کال په اوړي کې اشنا شوم. په هغه ورځ کې چې دده د پشه يي ژبې د شعرونو مخکتنه هلته وه. دده له شخصيت سره دده د اثر سره د هغې ورځې نه تراوسه پورې ماته دده د شخصيت او دده د ادبي لياقت او کفايت په باره کې مې معلومات نور هم زيات شو او دغو مره اثر يې راباندې کړی چې په دې نږدې اوو اتو مياشتو کې لکه دا زما د اوو يا اتو کلونو لا زيات اشنا وي.

دا يو صميمي انسان دی، يو محترم مخلص او د زړه د مينې والا انسان.

ما هغه وخت هم دده په هغه پشه يي مجموعې باندې خپل نظر څرګند کړی و، ده خپل پشه يي شعرونه او پښتو شعرونه هلته واورول او بيا يې په پښتو ترجمه کول هم. نو په هغه بنا ما يو څه ويلي و، بيا دغه زما زوی عبدالرحيم ته دې خدای خير ورکړي، هلته يې راته ټيپ اينښی و. بيا د ټيپ نه يې زما خبرې استخراج او ليکلې وې چې هغه خبرې بيا (د سولې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه) يوه مجله کې، ماموند دصاحب چاپ کړې ده. هلته هم زما نظر دده د شاعرۍ باندې مثبت و او چې څه موده مخکې ده دا دواړه مجموعې چې نن د بحث لاندې دي دا يې راته راکړې او ويې ويلې چې په دې باندې شايد کومه غونډه هم جوړه شي. نو زما زړه کې دا و چې په کراره په غور او دقت باندې زه به يو څه پرې وليکم.

مګر ژوند دا سې راغی چې دا مسلسل سيمينارونه او دا مسلسلې جلسې راغلې ټول کال تېرېږي، خبره د کال اخر ته رسېږي. دا هم يو د توجه او د تامل وخبره ده چې مسلسل سيمينار، مسلسل سيمينار، څنګه يې سرته واوري؟

څنګه پرې ځان پوه کړي؟

څنګه ترې استفاده وکړي؟

نو تاثير دومره وشو چې ما دې کتابونو باندې ليکل څه چې هغه لوستل هم ونه شول کړای، ونه رسېدم ورته، زه خو بوډا او کمزوری هم يم، په عين حال کې ددې دوو نه يو يې پرون ماته فرصت پيدا شو چې د جمعې ورځ وه، مړاو تاسې خو داسې خلک يو چې په نورو ورځو کې به يو کار لرو د جمعې په ورځ کې راته شل کارونه وي، مېلمانه وي، مور چېرته ځو مړی ژوندی او دا خبرې وي.

ددې سره سره بيا هم ما پرون وکولای شو يو يې مطالعه کړم. دې کتاب باندې يو دوه تقريظونه هم ليکل شوي او په دې کې يو تقريظ ورکوونکی وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دا په روان او خواږه نثر او په نوي بڼه ليکل شوی اثر دی.

زه ورسره موافق يم.

بل بيا د کتاب له ظاهري شکل، خط و خال نه تېر شوی او د هغه ژورې مانا تل ته يې ځان رسولی او تبصرې پرې کړې دي چې دا هم مستحق و او دا کار هم بايد شوی وای او ما چې ولوست دا کتاب يوه شکوه نامه ده شکوه نامه.

په ليک کې د وطن د حالاتو او د ملت د حالاتو په ارتباط په شاعرانه او اديبانه ژبه شکوې او شکايتونه منعکس شوي او درج دي.

حاجي صاحب په ډېر خلاص مټ د خپل زړه براس ايستلی، هغه څه چې د ويلو وړ دي يا هغه څه چې شايد ډېر کسان يې د وخت د شرايطو په ارتباط د ويلو وړ ونه بولي هغه يې ټول ويلي دي.

زه ورته شاباسی وايم او علامه اقبال ويلي چې:

بيا ور هر چه اندر سينه داری

سرودی، ناله يی، آهی، فغانی

د حاجي صاحب دوه ليکونه ((سرود)) خو نه دی قطعاً د يو نوع نوي نظم او يا ازاد نظم بڼه لري، خو د هغه نوي او ازاد نظم اهنگ هم نه لري يانې د سرود بوی هم په کې نه شته او که دا بوی په کې وای، نو خوش خوی به يې لا زياته شوی وای مگر ناله ده ناله!

اقبال وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سرودی، ناله یی، آهی، فغانی

آه او آهونه دي. فغان او فغانونه دي او د فغانستان فغانونه په کې دي.

د افغان ملي اخبار چې د ولسمل صاحب په مشرۍ باندې چلېږي او د قديم نه دده د اخبار په تندي باندې د حضرت علي کرم الله وجهه يوه مقوله په هره گڼه کې چاپېږي:

چې وايي: ((کلمت تالحق عند سلطان جابر خير من عبادة ستين سنة او سبعين سنة))

يوه حقه خبره د ظالم سلطان په مخکې ثواب يې زيات دی د ۲۰ کلو عبادت څخه او په بل روايت کې اويا کاله عبادت دی.

او بل حديث شريف دادی:

((انصرة-اخاک ظالماً و مظلوماً) ياني خپل ظالم او مظلوم ورور سره مرسته وکړه صحابه وو پوښتنه وکړه چې مظلوم سره به کومک کوو، مگر ظالم سره څنگه؟

حضرت پيغمبر(ص) وفرمايل:

ظالم د ظلم نه منع کړئ دا د هغه سره مرسته ده، که هغه ستا سو خبره ومنله د دنيا او اخرت د ماخوذيت او مسوليت نه خلاصېږي او د ژوند په سمه لار روانېږي او دا لوی کومک دی، هغه سره مرسته وکړئ چې د هغه له لاسه مظلومان ارام شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو حاجي صاحب چاته چې خطاب کړی دی، په دې دوو لیکونو کې خصوصاً په اول لیک کې، دا اشتباه یا غلط فهمي دې پیدا نه شي چې هغه د افغانستان سلطان یا ولسمشر یا جمهور رئیس ته خطاب کړی دی، نه دده خطاب د دنیا او جهان یو داسې قدرت او سلطې ته دی چې هغه ځان ددې جهان واکدار بولي او د جهان د واکدارۍ خوبونه ګوري او همداسې بې لګامه روان دی او زما او ستا د حسام صاحب په هولس باندې ناتار جوړوي.

حسام صاحب په خپل اثر او نامه سرګشاده یا سرخلاصي لیکونو کې هغه ته حقې خبرې کړې دي او ځان یې د افضل الجهاد په ثواب کې شامل کړی دی او د ظالم سره یې د کومک حدیث عملي کړی دی او بشر د حقوقو د هغې مادې څخه کار اخیستی چې په هغغه کې د بیان ازادي راغلې ده، هر انسان ته.

ده هم د یو انسان په حیث د هغه حق نه پوره استفاده کړې ده، خو ده ته دې خدای پاک خیر ورکړي. ده د یو لیکوال او شاعر وظیفه اجرا کړې ده او دغه موضوع ته یې عملي شکل ورکړی لکه چې شاعر وایي:

((څه چې وینې د صیاد د بې رحمۍ نه

څه چې اورې د بلبل هزار داستانه

دغه ولیکه هم شعر دی هم تاریخ دی

وظیفه ده ډېره سخته نه اسانه ))

(c) ketabton.com: The Digital Library



حسام صاحب دغه سخته وظيفه سرته رسولې ده خدای دې ورته اجر او خير ورکړي.

يوه خبره په کې شته، کتاب کې نه شته شعر کې نه شته زما په نظر حالاتو کې شته حالات دادي:

موږه افغانان عموماً او دا پښتانه خصوصاً په دې جهان کې لا هم اواز نه لرو، زموږ غږ چاته نه رسېږي لکه چې شاعر سيد حسن مرحوم ويلې دي:

زه د نن ورځې شاعر نه يم پوهېږم

زمانه رسوي غږ تر غوږه پورې

زموږ کار هم د زمانې په اوږو باندې روان دی چې زموږ غږ تر کوم غوږه پورې ورسوي تصادفاً ماشاالله په قيد سره ځکه چې موږ په دې باندې بريالي شوي نه يو چې خپله ژبه د دنيا په خلکو ومنو. نو زه د هغه تقريظ ليکونکي خبره او مشوره تائيدوم چې حسام صاحب ته يې ليکلي:

((حسام صاحب!

خپل ليکونه په سم ادرس وليکه)) او په سم ادرس باندې ليکونه په هغه صورت رسېږي چې د مرسل اليه په ژبه ترجمه شي چاپ شي او مستقيماً ورته ورسېږي.

ځکه زموږ همدا بدبختي ده چې کتاب به چاپوو هم او چاته به يې رسوو هم او په بله ورځ په تليفون کې او يا چې مخامخ شو، ورته وايو به:

صاحبه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه زما کتاب دې ولوسته دا زموږ بدبختي ده، نو په دې بدبختۍ کې حسام صاحب باندې دا بوج هم راځي چې کتاب یې ترجمه شي او مرسل الیه ته ورسېږي.

نو په هغه صورت کې که په مرسل الیه کې عقل او شعور وي، هغه به فکر وکړي چې زموږ د پیغمبر حضرت محمد مصطفی(ص) د حکم او فیصلې مطابق حسام صاحب ورسره ډېر لوی کومک کړی دی چې هغه یې ملتفت کړی دی، خپلو کارونو او عواقبو ته.

زه جناب حسام صاحب ته مبارکي وایم د زړه د مینې او اخلاص نه ورته مبارکي وایم او دا کتاب یې ستایم، مګر یوه خبره به کوو چې دا په ډېرو ستایلو سړی کله کله مغروره کېږي هم، یوه عربي مقوله ده:

المدح والذبح

مدح چې ده د چا حلالول دي، ستاینه زموږ د پښتو په اصطلاح سړي نه ځان ورک کوي، اګر چې د حسام صاحب شخصیت ددې خبرې نه لوړ دی، نو د داسې رنګ نظمونو یا لیکونو لپاره مبارکي ورته وایم بیا یې وایم او بیا یې وایم او ددغسې اثارو د ایجاد لا زیات توفیق ورته غواړم او د وطن لیکوالو او شاعرانو ته هم زما دا پېشنهاد دی چې د بشر د حقوقو د اعلامیې د هغې مادې څخه چې د فکر او د بیان د ازادۍ په باره کې دی له هغه څخه پوره پوره استفاده وکړي.

والسلام

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څېړونکی محمد نبي صلاحي:

له استاد بختاني صاحب نه ډېره مننه کوو.

((عقل او حکمت يوازې په ناز او نعمت کې نه دی، د پښتنو په غرو او رغو کې هم پوهان او هوښياران شته.))

((ميرويس نيکه))

د پروګرام په دې برخه کې محترم الحاج محمد حسن حسام صاحب ته په ډېر درنښت بلنه ورکوو چې د ستېج سر ته راشي او د خپلو کتابونو مخ د غونډې درنو برخوالو ته ورښکاره کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# حاجي محمد حسن حسام:

د هر څه نه مخکې دوستانو ستاې راتګ ته هرکلی وایم هر کله راشئ او بیا هم هر کله راشئ، د کتابونو په هکله نه ګړېږم دا د نقادانو حق دی ما فقط یوه زمینه مساعده کړه چې یو له بل سره کېنو او یو بل سره له نږدې نه وویننو او په دغسې دید او بازدیدونو باندې طبعاً د شاعرانو او لیکوالو په منځ کې مینه او محبت زیاتېږي او هم فرهنګي نیمګړتیاوې پرې بشپړېږي. زه د دغه کتابونو په باب زیات نه ګړېږم خو ماته یو خبره ډېره جالبه او په زړه پورې وه کله چې مې لوړی کتاب بشپړ کړ، نو ما څلور خطونه ولیکل البته څلورو لیکوالانو ته چې په ده باندې یو څه ولیکي اول خط مې محترم رفیع صاحب ته بل خط مې ولسمل صاحب ته دوی دواړه دلته ناست دي، شکر دی غونډې ته راغلي دي، دریم خط مې صلاحي صاحب ته ولیکه او څلورم خط مې لېوال صاحب ته واستاوه.

د پنځلسو ، شپاړسو ورځو وروسته د دې خطونو ځوابونه راته د قلمي نسخو سره بېرته راورسېدل. ما د خپل هېواد په دې شه‌لو خو د لوړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیالونو لیکوالانو باندې هغه مهال ډېر ویاړ او افتخار وکړ چې د کتاب د قلمي نسخې د مطالعې په نتیجه کې دوی مشترک ټکي موندلي وو لکه د بڼې، شکل، پیغام او د نورو او نورو په هکله د ټولو نظر یو قسم وو. زه ستاسې ډېر وخت نه نیسم زه فقط د یو کتاب د اخرني نثر نه دوه درې کرښې را اخلم او لولم یې او درنه رخصتېږي:

په یوځای کې مې لیکلي دي چې:

دوسته !

د ټولو پتنو نه دې دا پتنه

ماته ډېره ګرانه، سخته او

د تشویش وړ ده.

د وینځلو مغزو بنیادم

نه هېڅ جوړ نه دي

خواهش کوم په هماغه پخواني

ګوډ شل په ړانده

او

کاڼه

حالت ډېر خوښ یم

پرې مې ږده د خدای په پار

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرې مې رېده ! !

په کومه ګنا مې ماغزه پرېمنځې؟ !

په همدې حالت هم خپله پنځه زره

کلنه بوډۍ مور د اتلس کلنې

پېغلې په څېر د ګندهارا

په تمدن د کوشان

شاهانو په دود شم

سینګارولای.

دا به څومره او څومره او بیا هم

څومره ښه وای چې:

ما خپله مور د ((اوستا ))[1] په پوستینچه

کېنولې وای.

د ماسخوتن لمانځه د اداکولو

څخه وروسته زما

ټوټه

ټوټه

[1] اوستا کتاب په پوست لیکل شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



صورت دده په لمن کې بې له

کوم ډاره او غلو غشه د

شمشاد ، هندوکش او يا

د سليمان د غرونو په کومه

لرې هسکه تړه[1] او مورګه

کې د يوې مومانې او يا د کومې

ګورګورې ونې لاندې

وروسته خوبولی پروت

وای.

او د سبا ورځې په چرګ بانګ کې

د خپل امام د اذان سره سم

او د مور د قرآن شريف د تلاوت

په خوږه اواز له خوبه

پاڅېدلای

نو هلته به ما د يو

خوشبخت

[1] تامبيره، ګړنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



او

خوشقسمت

انسان، واقعي افغان

او د یو ښه مسلمان

په نوم په ډېر ویاړ د

یو بل ځل لپاره ځان

نومولای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خېړونکی محمد نبي صلاحي:

د حاجي صاحب له وينا نه ډېره مننه.

خوشال خان ختک وايي:

چې د ستار تړي هزار دي
د دستار سړي په شمار دي

د پروګرام په دې برخه کې د افغانستان د علومو اکاډمۍ سلاکار، نامتو ليکوال او شاعر محترم استاد حبيب الله رفيع صاحب ته په ډېر درنښت بلنه ورکوو چې د مېز سرته راشي او تاسې ته د دې دوو کتابونو په باب يو څو خبرې وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# استاد حبيب الله رفيع صاحب:

نحمده و نصلی علی رسوله الکريم اما بعد ،

دوستانو !

تېره دوشنبه حسام صاحب دفتر ته تشريف راوړی و او کتابونه يې راوړي وو ، چې د دې شنبې په ورځ د دې کتابونو مخ کتنې دي، ما ژمنه ورسره وکړه چې دې ورځې ته ستاسې په کتابونو ليکنه کوم او خپل نظر به ښکاره کوم. دوی چې تشريف يوړ فقط يو ساعت وتلی و چې ما ته د کلي نه ټليفون راغی، زما يو مشره خور وه هغه وفات شوې وه، نو ما د خپل دفتر کتابونه راټول کړل او کور ته راغلم، ليکن دا مې اخلاقي فرض وبلل چې حسام صاحب ته ټليفون وکړم. زه د يو داسې مشکل سره مخامخ شوم کوم بار چې تا په ما ايښی و ، د ځينو کسانو خبرول به ته په خپله وکړې هماغه و چې زه ولاړم، چون ژمنه مې کړې وه چې زه به راځم ما ښېګاه ماسخوتن د کلي نه ځان راورساوه او د حسام صاحب سره مې هغه د راتلو ژمنه ترسره کړه. ليکن د څه ليکلو ژمنه مې ترسره نه کړای

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوه. نو په دې اساس هغه لیکنه چې ما ددې د سپینې وینې په کتاب کړې وه او فکر کوم چې تاسې به تراوسه نه وي لوستي هغه به تاسې ته واوروم او په دې شکل به خپل وار تېر کړم.

## نوی انداز، نوې خبرې

(منځپانګه) او (بڼه) د شعر دوه ارزښتونه دي که دا دواړه ارزښتونه د پخوانو په پېښو ولاړ وي ((روایتي شاعري یې بولې)) خو که ((منځپانګه)) او ((بڼه)) ((نوښت ولري)) او د نوښت ارزښت پرې ور زیات شي، نو بیا دا شاعري د ((جدت)) او ((ابداع)) پر واټ ګامونه کېږدي او د ادبي انلاب لاره هواره کړي. ښاغلي حسام زموږ د عصر یو سپین ږیری شاعر او لیکوال دی ((نثر)) هم لیکي.

((نظم)) هم لیکي، خو دا ځل یې د دواړو په ګډون څه لیکلي چې ادب پېژندونکي ((نثري نظم)) ورته وایي، ((نثري نظم)) په پښتو ادب کې نوی ((صنف)) دی دا ژانر له ((اردو)) نه ((پښتو)) ته راغلی او په پېښور کې ((هاشم بابر)) دوه کتابونه ((د مېلې هلک)) او ((ورک موندلی)) په همدې نثري نظم کښلي او د ادب په ډګر کې یې هنګامه راولاړه کړې ده.

زموږ شاعر او لیکوال ښاغلي حسام نه اردو نثري نظمونه کتلي او نه یې د هاشم بابر ((ورک موندلی)) او د ((مېلې هلک)) لیدلی، ده ته خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



مبتكر مغز او شاعرانه احساس حكم كړي چې دا سې يو څه وليكي او پښتني ټولنې ته يې وړاندې كړي، نو ځكه ماته په يوه ليك كې ليكي:
((ستاسو د ګڼ شمېر بوختياوو سره سره زړه نازړه د يو څو ماتو ګوډو او ناقصو شعرونو يوه ټولګه چې نه يې ازاد شعر د شعر په څېر دی او نه يې مقفا ، نه يې په شكل پوهېږم او نه يې په محتوا ، خو په هر حال موږ ټول په دې عقيده او اند يو چې هر څيز په اول كې خام وي او په كراره ترېنه د پخلي تمه كېږي، نو د دې اصل په رڼا كې په زړورتيا او په خلاص مټ مې د ځان سره وپتېيله چې ټولګه په قلمي شكل كې ستاسې حضور ته د يوې لنډې سريزې لپاره وړاندې كړم، كه ټولګه په سريزې ارزېدله هيله من يم چې هيله مې ترسره كړئ او ټولګې ته به په خپله نوم غوره كړئ او كه.. ))

د مصر يو نامتو نقاد ډاكتر مندور وايي:

((شاعر خپل شعر ووايي خو كله يې چې كره كتونكي وګوري نو دومره خبرې په كې راپيدا كړي چې د شاعر اروا هم ترې خبره نه وي. ))

همدا سبب دی چې شاعران، هنرمندان او تخليق كاران د الهام په نوراني نړۍ كې ډېر څه وايي او ډېر څه په خوله ورځي په خپله نه پرې پوهېږي چې دا څه دي؟ خو نقاد هغه ته سبک ټاكي شكل او فورم ورته ټاكي، ادبي څېره ورته ټاكي، قاعده او قالب ورته ټاكي او بيا حكم كوي چې دا څه ډول پارچه ده او نوم ورته ټاكي. ادبيات ټول لومړی ويل شوي بيا قالب بندي شوي او نومونه پرې ايښودل شوي ځكه شاعر او هنرمند ازاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی هغه د ټولو قیدونو نه دباندې خپل هنر خلقوي او خپل اثر رامنځته کوي همدا ازادي ده چې:

قالب شکني کوي نوي فورمونه رامنځته کوي او نوي ژانرونه او صنفونه پنځوي حسام صاحب هم دا کار کړی خپل د زړه غږ یې د قلم غبرګ ته سپارلی او له هغې نه دا نوی فورم او شکل جوړ شوی او د پښتو ادب په ورشو کې یې یو نوی ګام ایښی دی او له دې سببه دده دا لیکنه د بڼې له پلوه په نوښت ولاړه ده او زه یې یو نوی ادبي ګام او انداز بولم ! تر دې وروسته دده دې وینا منځپانګه ده، ده د خپلې ټولنې پېښنو او بهیرونو ته په غور او دقت کتلي د سیاست د لوبغاړو تر زر زري جامو او پودري مخونو لاندې یې د دوی اصلي څېرې لیدلي ((د دیموکراسۍ د کوکریو پرځای)) ((سمسېرې)) (تمساوې) ((روې)) ((ګورګټۍ)) او ((خپسۍ)) ورته ښکاره شوې او د نورو ویرندوکو کسانو په شان یې سترګې نه دي پرې پټې کړې او پردې یې نه دي پرې اچولي په واز کومې یې د هغه رښتیني ماشوم غوندې چې غږ یې وکړ:

((پاچا لوڅ دی !)) د ټولو هغو لویو لویو کسانو د ریا او منافقت پردې څیرې کړې چې په لوڅ پاچا پسې روان وو خو ددې جرات یې نه درلود، وو ایې چې:

((پاچا لوڅ دی !)) اوس نو د چاپلوسو ((پرده پوښانو)) خوښه ده چې دا غږ ورسره غبرګوي که بیا هم له منافقت او چاپلوسۍ نه کار اخلي ! او له دې رسوایۍ سره سره حال نه وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



((چې پاچا بربنډ دی !)) او د حسام صاحب د لیک هغه خبرې چې ماته یې کړي دده شکسته نفسي بولم ! او په پوره ډاډ وایم چې د حسام صاحب ((دا نثري نضمونه)) هم د ښې له پلوه نوښت لري او هم د منځپانګې له لوري، نو ځکه یې زه ((نوی انداز او نوې خبرې)) بولم، مبارکي ورکوم او وایم:

چې قلم یې چلاند قدم یې تپاند فکر یې ځلاند او شعر یې تاند اوسه !

په درنښت

حبیب الله رفیع

د افغانستان د علومو اکاډمۍ مشاور

کابل/ ۲۷/ ۱۰/ ۱۳۸۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځېړونکی محمد نبي صلاحي:

له محترم استاد نه دد غې درنې سريزې له لوستلو څخه چې درنو اورېدونکو ته يې واوروله او په ښه انداز يې ولوستله، يو عالم مننه کوم. استاد ته له دې امله هم کورودانی وايم چې، په دغسې يو غمجن حالت کې چې دده خور وفات شوې ده، په خپله وعده يې وفا وکړه او زموږ او ستاسې ننني غونډې ته يې ځان راورسولای. له ټولو دوستانو نه هيله کوو چې په ګډه سره، البته په دې به ځان نه خلاصوو اوس به د دعا لاس پورته کړو، کله چې استاد فاتحه اعلان کړه، اشتراک به په کې کوو. استاد ته صبر جميل غواړو او خدای پاک دې دده خور وبښي.

د پروګرام په دې برخه کې د هېواد له درانه ليکوال محترم محمد حسن ولسمل صاحب نه په ډېر درناوي هيله کېږي چې د مېز سر ته راشي او خپله وينا واوروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# محمد حسن ولسمل:

درنو مشرانو کشرانو د هېواد محترمو شاعرانو او ليکوالانو السلام عليکم:

ما خو څه شی نه دي ليکلي خو د حسام صاحب په يو کتاب باندې مې يو څو کرښې ليکلي دي زما خواهش دادی کتاب هر چا مخ ته پروت دی هغه به ولولي د حسام په باره کې او ددې کتاب په باره کې به زما نظر ورته معلوم شي.

زه غواړم چې په دې او دغه وخت چې ما ته راکړل شوی دی ددې خپل وطن د غم لړلو حالاتو په باره کې يو څو خبرې وکړم. زه د حسام صاحب نه مننه کوم چې دغسې يوه درنه غونډه يې جوړه کړې ده او حسام صاحب يو صفت دادی چې دی سرمايه دار دی، خو د سرمايې ترڅنګ دا بل اړخ يې نه دی هېر کړی، د خپلو وطنداړانو سره په درد باندې درد بدلی دی او دغه لاره ده نه ده پرېښې، نو دده دغه کار د قدر وړ دی د نورو سرمايه دارانو غوندې دی نه دی زه ده ته کور ودانی وايم. يو وخت زه په پېښور کې وم، باچاخان راغی هلته يې مهاجرينو ته يو اعلان وکړ.

چې راشئ زه ستاسو او د کابل د حکومت ترمنځ جوړه کوم په پېښور خو داسې هوا او فضا حاکمه وه چې هلته افغاني تنظيمونه او په افغاني

(c) ketabton.com: The Digital Library



تنظیمونو کې بیا په خاص ډول د حکمتیار صاحب له وېرې نه څوک ورتللی شول باچاخان ته هېڅوک ورنه غلل، نو ماپسې یې د سر ډېرو هدایت الله پاچا راولېږه.

چې ولسمل ته وواېه ته ولې نه راځې؟ نو باچاخان له ما سره جګړه غوندې وکړه چې دا د روس او امریکې جنګ دی ما باچاخان ته وویل:

چې زموږ وطن روسانو نیولی ته داسې خبرې کوې.

ډېر وروسته زه په دې پوه شوم چې دا د روس او امریکا جنګ و. دې کې د امریکې دا مقصد و چې روس ته څنګه شکست ورکړي او څنګه دا راشي چې دغه ستراتیژیکه نقطه ونیسي، اوس زه په دې پوهېږم.

موږه د روسانو سره او د هغوی له طرفدارانو سره په دې باندې مبارزه کوله چې موږه به یو ښه حالت راولو نو د هغوی سره جنګېدلو او ځانونه به مو پرې مړه کول، خو د دوی په باره کې هغسې مبارزه نه کېږي کوم چې د روسانو سره کېدله.

دوی ته څوک حقه خبره نه کوي، حکومت ته هم څوک حق نه وایي، زموږ خلک وژل کېږي، زموږه خلک بندیانېږي، زموږ په خلکو باندې ډول ډول تاپې لګول کېږي، په خاصه توګه په پښتون ولس باندې هغه ذلیل ترین حالت دی که لږ ځان وخوزي، نو وایي چې القاعده دی نو وروڼو زه تاسې ته دومره وایم چې ما په دې وروستي شماره کې یوه کیسه لیکلې او دغه تاسې په غور ولولئ، تاسې ته به ددې امریکایي ماماګانو هغه اخلاص او هغه نیت معلوم شي چې دوی له موږ نه څه غواړي؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو زه به په لنډه توګه دا کيسه درته وکړم. زه د غسې يو وخت امريکې ته لاړم او هلته باچا د کاکا زوی سره مې په يوه رستورانت کې ملاقات وشو، ماته يې وويل:

چې ته د امريکا د جمهور رئيس فوق العاده نماينده ټامسن سره ګورې؟ !

ما ورته وويل:

زه خو ورسره ګورم خو هغه ما نه پېژني، نو څنګه ووايم چې زه ورسره ګورم؟ !

هغه راته وويل:

چې نه هغه تا پېژني، زه دا اوس ځم او د هغه سره وخت لرم که ته غواړې زه به تا لپاره وخت ترې واخلم.

کور يې ودان د ټامسن نه يې وخت اخيستی و، نو دی بيا ببرته هوټل ته راغی ماته يې وويل:

چې با تاته ټامسن په اتو بجو منتظر دی ته ورشه ده سره به مرکه وکړې.

نو زه چې د مرکې لپاره ټامسن ته ورغلم ما به يو ډول پوښتنې کولې دی به په دې افغاني تنظيمونو رابرابر شو دا به يې غندل او بل اخره ما ترې پوښتنه وکړه زموږ ستوني خو په دې خبرو وچ شو چې ملي عناصرو ته موقعې ورکړئ که دا روسان او کمونستان شکست هم وخوري، دغه د تنظيمونو خلک افغانستان ورانوي، جوړوي يې نه.

تاسې ولې ملي عناصرو ته موقعې ورنکړه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسې د ستهینګر راکتونه د ګلبدین او سیاف په اوږو کېښودل، نو ده زما د خبرو په ځواب کې وویل:

چې دوی زموږ دښمنان دي او هغه زموږ یوه سیاسي اشتباه وه دوی د خلیج په جنګ کې د خنجر ګذار د شا له خوا نه پر موږ کړی دی، موږ به بیا دا اشتباه تکرار نه کړو.

دا د خنجر کلمه او دا د دښمن کلمه په دې مصاحبه کې پنځه، شپږ کرته تکرار شوې ده، نو مصاحبه خلاصه شوه او د مصاحبې نه وروسته بیا یوه بله خبره یې راته وکړه ته چې اروپا ته ځې دا پیغام به باچا ته یوسې چې هلته یو سړی دی دده په څنګ او دی د K.G.B اجنټ دی او ورته ووایه! چې دا د ځان نه لرې کړه.

نو بیا زما ټکټ یې هم وګرځاوه اروپا ته لاړم، باچا ته مې وویلې باچا هم هغه دی ژوندی دی سړی په مړو دروغ وایي. نو اوس د بن په غونډه کې هماغه خلک د امریکا د یو بل فوق العاده استازي خلیل زاد په واسطه بېرته رامسلط شول چې کابل یې وران کړی و، چې د افغانستان اردو یې منحل کړې وه، شپېته زره کابلیان یې وژلي و، موزیم یې تالا کړی و، پوهنتون یې خراب کړی و، کابل یې په بل مخ چپه کړی و، هماغه خلک یې بېرته په موږ باندې امریکایانو راحواله کړل.

ځانونه مو پرې مړه کړل، یو نیم ملیون شهیدان مو ورکړل، اوس موږ بیا وژل کېږو. هغه وخت کې خو به مو غږ جګاوه، هغه وخت کې خو دنیا به هم زموږ خبره اورېدله، مګر اوس زموږ خبره دنیا نه اوري، هغه چې دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



مړه کړي وايي چې دوی القاعده و او يا د القاعده و ملګري وو، موږ ځکه مړه کړل. نو زه تاسې ته دا وايم چې ورونو دا يوه تاريخي مرحله ده، افغانستان يو تاريخي مملکت دی او د غه خبرې ته ملتفت شئ، چې دغه ماماګان له موږ نه څه غواړي؟!

دوی خو زموږ د وطن د ودانولو پرځای زموږ د وطن د ورانولو کوښښ کوي.

نو د ليکوال او شاعر وظيفه ده چې د غه حالت ته متوجه شي او په دغه باره کې يو څو کرښې وليکي. زه ستاسې وخت نور نه نيسم، زه ستاسې يو خدمتګار يم او ما دروغ هم نه دي ويلي، هغه دی هلته اخبار پروت دی، نه امريکايي نه وېرېږم او نه د کرزي نه وېرېږم، نه بند نه وېرېږم، بندونه مې هم تېر کړي دي، د همدې وطن لپاره، نه د چوکۍ لپاره، د عزت لپاره، ما لپاره چې په زندان کې يم د بېرون نه ډېر خوشاله يم، خو تاسې ته مې دغه واقعيت ښکاره کړ چې خبره دغسې ده.

هغه چې دوی اجنټ ګانه هغه يې پر موږ وزير کړ، هغه چې دوی د دې وطن دښمن ګانه، هغه يې بېرته پر موږ مسلط کړل، نور قضاوت به تاسې د دوی په حصه کې وکړئ.

السلام عليکم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څېړونکی محمد نبي صلاحي:

د ولسمل صاحب له زړه سوي نه ډکو خبرو ، ژورې او هر اړخيزې وينا څخه ډېره مننه.

د غونډې د ټولو پوهانو او ګډونوالو په اجازه. د پروګرام په دې برخه کې زه غواړم چې د پېښور نه راغلو پښتنو ليکوالو محترم استاد همېش خليل صاحب او محترم صاحب شاه صابر صاحب ته ډېر ښه راغلاست ووايم. کور مو ودان چې زموږ غونډې ته راغلئ او ننني غونډه مو لا پرتمينه کړه.

غني خان وايي:

زما بخت د شمعې بخت دی

يا به مرمه يا به سوزم

يا به ببخ ته د درياب ځم

يا به سر په چپو خوځم

عجب زه عجبه لاره

عجبه کاروان روان دی

ما وروستي پړاو له بيايي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## که زه ځمه او که نه ځم

د پروګرام په دې برخه کې د افغانستان پیاوړي صاحب نظر لیکوال او کیسه لیکونکي محترم استاد اسد الله غضنفر صاحب ته په ډېر درنښت بلنه ورکوو چې د ستېج سرته راشي او د حاجي صاحب د دوو کتابونو په باب تاسې ته یو څو خبرې وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# استاد اسدالله غضنفر:

صلاحي صاحب خو د حاجي صاحب ډېر کتابونه ياد کړل ما يې درې کتابونه لوستي دي.

دوه همدا دي چې تاسې ته په مېز پراته دي او بل هغه (زه کابل يم) چې څو کاله يې پخوا چاپ کړی و.

حاجي صاحب ازاد شعر ته ډېره توجه کوي.

بل دا چې حاجي صاحب ساده کليمې او هغه کليمې چې خلک يې کاروي هغو ته ډېر اهميت ورکوي او زه ددې هم پلوی يم.

او درېيم حاجي صاحب په خپلو ليکنو کې هغو خبرو ته اهميت ورکوي چې د اوس وخت سره تعلق لري او دا شی هم ما ته ډېر ښه ښکاري.

نو زه غواړم په همدغو دريو خبرو او په همدې دريو تمايلاتو وګړېږم:

د حاجي صاحب د اثارو دغه نوی شعر چې دی ځينې پلويان لري، ځينې مخالفين هم لري، دوواړه چې دي خپل دلايل لري، خو زما په نظر د مخالفت بنيادي وجه يې داده چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هر انسان پخوا وخت خوښېږي موږ غواړو دنيا هماغسې وي چې موږ تجربه کړې ده، خو دنيا بدلېږي، زموږ خوښې ته نه ګوري، بلکې د هنر رامنځته کېدو يوه وجه داده چې مثلاً يوه خاطره وي يو مازيګر وي، د سين غاړه وي، د برش کاله پخوا زمانه وي، هغې ته موږ بېرته نه شو ستنېدلی، بيا نو څه کوو، بيا نو که د خاطرې ځښتن شاعر وي غواړي په شعر کې هغه خاطره وساتي دا د انسان ارزو ده او ډېره ژوره ارزو ده، خو دا هغه ارزوو ده چې که سړی په عملي ژوند کې ډېر ټينګار پرې وکړي نو تاوان کوي.

د شعر له پخوانو فورمونو ډېره دفاع تر ډېره حده پورې د غه اړخ هم لري. پخواني شعرونه چې قافيه په کې شرط و له د څپو برابروالی په کې هم شرط و، دا شرطونه به خپل کمالونه لري، خو زموږ شاعرۍ ته ډېر بنديزونه هم جوړوي.

ګورئ!

که د هنر مقصد دا وي او يا د شعر مقصد دا وي، چې يوه انساني تجربه ولېږدوي، نو که د څپو د شمېر اندازه معلومه وي، که د قافيې مشکل وي، که د رديف مشکل وي، بيا نو هغه انساني تجربه پاتې شي. بيا نو د شاعر کمال دا وي چې خامخا به هغه کلمه راوړي چې قافيه يې غواړي، که زه بهار ووايم بيا به په کومه کلمه پسې ګرځم؟!

په سينګار پسې به ګرځم. صرف هغه د کلام موسيقي تا مجبوروي چې يوه خبره وکړې، د زړه خبره به دې هغه نه وي، نو د غو خبرو ته چې سړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



وګوري ګومان کوم، حاجي صاحب چې په نوي انداز شاعري کوي دا په ځای کار دی او بهتره داده چې نور هم توجه ورته وکړي. په دې کې په هنري لحاظ ګټه ډېره ده، تر تاوانه. البته ځينې خلک هسې د فېشن په حساب باندې د نوي شعر ملګرتوب کوي، سرې پرې پوهېږي، دوی ګومان کوي چې ډېر نوي او وروستي نظريات چې په شعر او شاعرۍ کې دي. که موږ د هغو ملګرتوب وکړو دا به موږ پرمختللي معلوم شو. خو داسې نه ده په پرمختګ کې موږ بايد تېر نه وځو. يو په علم کې پرمختګ دی، بل په اقتصاد کې پرمختګ دی، بل په هنر کې دی.

په هنر کې پرمختګ هغسې نه دی د دا نورو.

په علم کې پرمختګ کېږي، مثلاً فزيک دی. فرضاً ارسطو د فزيک په حصه کې خبرې کړې دي، ارسطو لوی عالم و، ډېر لوی انسان و. خو د ارسطو نه وروسته اوولس اتلس پېړۍ وروسته د فزيک په باره کې اسحق نيوټن خبرې کړې دي، د اسحق نيوټن خبرې تر د ارسطو ډېرې مهمې دي، وروسته انشټين خبرې کړې دي، د انشټين خبرې د اسحق نيوټن تر خبرو هم د منلو وړ دي.

علم وده کوي، اقتصاد هم وده کوي، يو وخت د توليد وسايل ډېر ابتدايي وي، بيا ښه شي، بيا بهتره شي، دا ناممکنه ده چې موږ وواېو هغه خلک چې په يوم باندې، په قولبې باندې، دهقانی او کر کرونده کوي، هغه دې په اقتصادي لحاظ تر هغو خلکو پرمختللي وي چې په تراکتور باندې کار کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وسایل بدلېږي، ترقي کوي، علم بدلېږي ترقي کوي، ابن سینا ډېر لوی طبیب وو، خو د ابن سینا په نسخه باندې اوس موږ علاج نه کوو، هغه د کوڅې د سر ډاکتر ته ورځو ځکه چې علم ترقي کوي. اما د هنر په حصه کې ګورئ خبره داسې نه ده او ضرور نه ده چې خامخا نن تر پرون بهتره وي. ځینې خلک د نوي شعر یا د نویو طرزونو یا د نویو مکتبونو ملګرتوب په دې خاطر کوي چې دا وروستۍ خبرې دي. که په دې بنیاد یې کوي دوی دا د هنر په حصه کې اشتباه کوي.

یانې دا نوی شعر چې تراوسه منل شوی هم نه دی، علت یې دا دی چې اکثره ملګري یې دې ته ګوري چې دا نوی شی دی. که یو بل نوی شی راشي بیا به د هغه ملګرتوب کوي. حال دا چې هنر د علم غوندې، یا د اقتصاد غوندې، نه دی چې د پرون تر شي دې د نن شی خامخا بهتره وي، داسې نه کېږي. هنر چې دی، شعر چې دی، د انسان د ارزوګانو، د انسان د جوهر، د انسان د ماهیت بیان دی. د انسان جوهر چې دی، په زرګونو کلونو کې فرق نه کوي او که کوي یې هم ډېر لږ یې کوي.

د پنځه زره کاله پخوا انسان او د اوسني انسان جوهر یو شی و، ماهیت یې یو شی و، په هغه کې تغیر نه راځي او که راځي ډېر لږ تغیر راځي.

د فرعون د زمانې پخواني مصریان چې دي تر ټولو پخوانی تاریخ د دوی دی که تاسې هغه ولولئ، د هغوی ارزوګانې او زموږ ارزوګانې چندان فرق نه سره لري او بلکې نه یې لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی هم مینېدل، هغوی هم غوښتل چې مړه نه شي، هغوی هم غوښتل چې نوم یې په دنیا پاتې شي. حاجي صاحب کتابونه لیکلي دي په دې خاطر چې په معنوي لحاظ ژوند وکړي. دغه ارزو د خوشالخان هم وه، خو دا ارزو د هغو کسانو هم وه چې پنځه زره کاله پخوا یې په مصر کې ځانته اهرامونه جوړول او غوښتل یې چې بعد له مرګه هم یاد شي. دا د انسان د جوهر سره تړلې خبرې دي. هنر دغسې وده نه کوي چې د نن خبره خامخه د پرون تر خبرې غوره وي. خو ددې سره سره نوی شعر، د ګټې شی دی. د انسان د تجربې د بیان لپاره د انسان لاس او پښې ازادوي. شاید حاجي صاحب په همدې خاطر دې ته توجه کړې وي او دا یې هنر ته یو خیر رسولی دی.

بله خبره داده چې: حاجي صاحب ساده غږېږي، حاجي صاحب داسې خبرې کوي لکه موږ چې یې په ورځني ژوند کې کوو. زما په خیال دا د ادب د ودې لپاره دا د فکر د ودې لپاره، دا ډېر لوی کومک دی. ززموږ روشنفکر چې دي، زموږ تعلیمیافته چې دي، زموږ لیکوال چې دي، ډېر وخت اکثره یې فکر کوي، که موږ د خلکو غوندې ونه اوسو، موږ به یو قسم ښه معلوم شو، موږ به لوړ شو، موږ به مهم معلوم شو، دا تېروتنه ده.

زه چې تاسې ته ددا اوس خبرې کوم، که تاسې دا فکر وکړئ، چې زه د زړه خبرې تاسې ته نه کوم، که تاسې فکر وکړئ، چې زه ځان یو بل قسم ګڼم، تاسې بیا زما خبرې نه منئ. خو که تاسې احساس وکړئ، زه تاسو ته ستاسو په ژبه غږېږم او په خبرو کې مې کومه تصنع نه شته او دا خبرې مې له زړه راوځی، بیا ممکن په تاسې اثر وکړي. زموږ لیکوال، زموږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاعران، زموږه روشنفکران کله کله فکر کوي چې که د خلکو غوندې ونه اوسو په ليکنو کې د ليکلو په ستايل کې، نو دا به مولوی کار کړی وي، خو له لويه سره په دې کار کې ګټه نه شته دی، هماغه لغاتونه، هماغه کلمې، هماغه طرزونه چې خلک وربانديې خبرې کوي او خلکو خپل کړې دي، هغه خلکو ته ډېر نږدې دي. که شاعر غواړي چې اثر پرېباسي له دې لارې يې ښه پرېستلای شي.

ما چې اول کار شروع کړ، په خپل ژوند کې، له نطاقۍ مې شروع کړ، او ولس کاله پښوا يا اتلس کاله پښوا په راډيو کې وم، په تهران راډيو کې، هلته چې مې کار شروع کړ، نو اول چې به مې نطاقي کوله تېزې، تېزې خبرې به مې کولې. ما به فکر کاوه چې دا اورېدونکي به ګومان کوي چې دا سړی څومره مسلط سړی دی. څومره باسواده سړی دی، د غه متن څومره ژر وايي، وروسته وروسته بيا زه پوه شوم چې زه اشتباه کوم.

که زما اورېدونکي فکر وکړي چې زه دوی ته خپل لياقت ښيېم، بيا زما اورېدونکي ما نه مني، خو که زما اورېدونکي ګومان وکړي چې د دوی په ژبه خبرې کوم، ددا د ګټې کار دی.

دربيمه خبره چې ما د حاجي صاحب د شعرونو په برخه کې کوله داده چې:

دده په اثارو کې د خپل وخت خبرې اورو او په دې کې ګټه ده.

حاجي صاحب د خپل وخت خبرې کوي، دا ډېره ضروري خبره ده، موږ يو تصور لرو او زما په خيال هغه باطل تصور دی. موږ ګومان کوو کومې خبرې چې پښوانو خلکو کړي دي او په ډېرو پښوا زمانو کې کمې خبرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوې دي، هغه ډېر ثابت حقايق دي. هغه که بيا بيا کوو، نو موږ به هم د هغو غوندې ابدي شو، موږ فکر کوو چې په شعر کې که د رحمن بابا غوندې خبرې وکړو، که د خوشال بابا غوندې خبرې وکړو، موږ که په فلسفه کې د ارسطو او افلاطون غوندې خبرې وکړو، نو موږ به هم د هغو غوندې ابدي شو. او د ابديت له کاروان سره به ملګري شو.

خو دا تېروتنه ده، که چېرته انسان په راتلونکو زمانو کې پاتېږي، نو صرف په يو شرط پاتېدی شي او هغه دا چې د خپلې زمانې خبرې وکړي.

له پخوانۍ زمانې، زه او راتلونکي خلک په يوه اندازه لرې يوو. راتلونکي هم هغومره لرې دي لکه زه چې لرې يم. نه زه څلور سوه کاله پخوا ته تللی شم او نه د سل کاله راتلونکې زمانې انسان څلور سوه کاله پخوا ته تللی شي او بلکې هغوی ورنږدې دي، هغوی ځکه ورنږدې دي چې ممکن وسايل پرمختګ وکړي او هغوی زما په نسبت هغه زمانه ښه درک کړي د پخوانۍ زمانې خبره خو دا سې ده.

او پاتې شوه راتلونکې د راتلونکې زمانې په حصه کې خو خبره کول طبعاً عيب ګويي غوندې ده په هغه کې به خبره نه کوو. ليکن يوه زمانه داسې ده چې هېڅوک زما غوندې نه شي وررسېدای، هېڅوک د تاسې غوندې نه شي ورسېدای او هغه دا اوسنۍ زمانه ده چې په کې اوسو.

راتلونکي خلک که موږ ته اهميت راکوي په دې به يې راکوي چې د خپلې زمانې خبرې کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حاجي صاحب چې د اوسنۍ زماني په حصه کې خبره کوي لکه د تېرې تورې غونډې ډېر شديد انتقاد کوي او هغه څوک چې د خپلې زمانې په ارزښتونو او اقدارو انتقاد نه شي کولای، هغه څوک چې د خپلې زمانې په مسايلو باندې انتقادي تبصره نه شي کولای، هغه په حقيقت کې فکر ه لري.

د فکر خاوندان هغه څوک دي چې د خپلې زمانې اقدارو ته د خپلې زمانې فکرونو ته د خپلې زمانې د خلکو مسلطو ارزښتونو ته په انتقادي نظر وګوري. حاجي صاحب دا کمال هم لري. د کتابونو د چاپ مبارکي ورکوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ښېړونکی محمد نبي صلاحي:

د غضنفر صاحب له ښکلې او ژورې وينا نه مننه کوو. کور يې ودان، ډېرې ښې او پرځای خبرې يې وکړې. يو شاعر وايي:

يو غنم چې کرونده کې ځان قربان کړي

تک شين بوټی شي بيا زردانې غنم شي

((سليمان لايق))

د پروګرام په دې برخه کې د پښتو تکړه ليکوال او ښېړونکي، زما هم نامي، محترم محمد نبي تدبير صاحب ته په ډېر درناوي بلنه ورکوو، چې د سټېج سر ته راشي، د حاجي صاحب د کتابونو په باب تاسې ته خپلې خبرې واوروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# محمد نبي تدبیر:

د دوستانو او مشرانو په اجازه !

زه یوه اوونۍ وړاندې هلمند ته تللی وم، کله چې د هلمند نه بېګاه کور ته ورسېدم، حاجي صاحب کارت کور ته لېږلی و، د حاجي صاحب کتابونه څه ناڅه ما مخکې مطالعه کړي وو. مخکې له دې نه چې زه د حسام صاحب په کتابونو څه ووایم. د دوی خبرې هغه د الفت صاحب وینا له مخې چې هغه وایي: د کلیوالو خلکو خبرې دومره سپینې او بربنډې وي، لکه د متمدنو خلکو مېرمنې، هغوی هېڅکله د خپلو زړونو سره منافقت نه کوي، څه یې چې په زړه وي، هغه یې په خوله وي.

نو حسام صاحب هم سپینې خبرې کوي څه یې چې په زړه و، هغه یې په خوله ویلي دي، د زړه سره یې خیانت نه دی کړی. حاجي صاحب د پښتو خوږ ژبی او روان لیکوال دی، درنې سیاسي او ټولنیزې موضوعګانې یې په خوږه ادبي ژبه لیکلي او د ترخو حقیقتونو لیکلو ته یې خواږه لفظونه موندلي دي. ده یو ځانګړی ادبي سبک رامنځته کړی دی. لومړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې په همدې خوږه ادبي ژبه (زه کابل يم) ليکلی، ژبه يې دومره خوږه وه چې که د کتاب په لوست به دې پيل وکړ، تر پايه پورې په لوستلو يې مجبوروليې، او مطب يې دومره رسا و چې د افغانستان ټول ليکوالان يې د نوم په اخيستلو دې ته اړيستل او ويې هڅول چې د وران کابل په کنډوالو اوښکې تويې کړي او څه پرې وليکي او د وران کابل له خولې هغه د پښتو ژبې خوږې محاورې او متلونه او نګه ولسي وينا په ډېر مهارت او په ښه انډول په ترسکوني ډول ځای کړې، لکه دده په دې درې کتابونو کې سرخلاصي ليکونه هغه د پېښورو په اصطلاح بې رنګه ليکونه دي، چې دوه ټاکلې پتې لري، يوه يې د پاکستان او بل يې ي تا جامريکا ده. بې رنګه په دې مانا نه دي چې خدای مکړه مانيز رنګ او خوند ونه لري. د چاپسي ببکبټ نه دی لګېدلای چې د چا شخصي جبونو ته لاړ شي، بلکې غوښتې يې دي چې ټول نړيوال د جفا او خيانت دا داستان ولولي او د دوستۍ په جامه کې د دواړو له خوا شوې دښمنۍ ورته په ډاګه کړي او د حمزه بابا په خوله دا غږ وکړي چې:

بې شکه ما دغه خطا کړې ده

چې تا جفا او ما وفا کړې ده

حسام صاحب له بلې خوا دې ليکونو کې نړيوالو ته د افغاني احساس هغه هېنداره هم په لاس کې ورکوي، چې افغانستان په دې هر څه پوه دي او هر څه يې درک کړي دي او بې شعوره نه دي، خو دوی د دوستۍ په احساس کې دا هر څه زغملي او منلي دي او اوس چې چاره هډوکو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسېدلې او د حوصلې او د زغم کاسه يې نوره ډکه شوې ده، نو د حسام صاحب همدغه سرخلاصي ليکونه يې ښه څرګندونه ده.

مطلب دا چې د حسام سرخلاصي ليکونه، د افغانستان د دريو لسيزو، هغه ټولې ناخوالې په خپله غېږه کې رانغاړي، چې د دوست او دښمن، خپل او پردو، د افغانانو سره يې کړي دي، او په افغانانو تېر شويدي، ټولې يادې کړي دي او خپله افغانانو ته هم د پند او عبرت درس دی او د رالتونکي لپاره د بدو پېښو يو دردناک داستان.

حسام صاحب په سرخلاصي ليکونو کې دومره وړاندې تللی دی چې ده په خپلو ليکونو کې ټکي ايښي، چې دا د سپينو ويناوو او نېغ په نېغه هغه وروستی توله کېدای شي. د حسام صاحب د لا هسکې شملې په هيله.

مننه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ښېرونکی محمد نبي صلاحي:

د تدبیر صاحب له دغې ښایسته وینا نه مننه کوو، کور یې ودان.

خوشال خان خټک وایي:

ازادي تر پاچهۍ لا تېرې کا

چې د بل تر حکم لاندې شي زندان شي

د پروګرام په دې برخه کې د حاجي صاحب یو انجنیر زوی محترم ذبیح الله حسام ته په ډېر درناوي بلنه ورکوو چې دلته راشي، تاسې ته د سایل صاحب یو شعر ووایي.

حاجي صاحب په کور کې خپل کتابتون لري او ټول زامن یې له ادبیاتو سره بلد او اشنا دي. دوی ټول د شعر او ادب مینوال دي. په دې برخه کې کارکوي د دوی په کور کې کتاب او قلم لاس په لاس ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# انجنير ذبيح الله حسام:

بسم الله الرحمن الرحيم

چې په خندا ورته د خوږ زړه پرهرونه، نه شي
چېرې دې هم ستا د ښایست غوټۍ ګلونه، نه شي

راشه مظلوم زړه مې په یو نظر لمبه لمبه کړه
چې په ظالم زړګي دې پاتې ارمانونه، نه شي

بیا د جنون مستي ځواني غواړې د مستې مینې
بیا چېرې خیال د تورو زلفو زنځیرونه، نه شي

په دعاګانو مې د خوږ زړګي دردونه، نه شي
څو چې ښېرې د شونډو ترم ټکورونه، نه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړي مې د روح جنازه چېرته د خندا په اوږو
په وينو سره دې ترې شينکي شينکي خالونه، نه شي

د نظر غشي مې په زړه باندې په پام اوروه
چېرته زخمي په کې دا ستا نازک يادونه، نه شي

خاموشي شونډې مې لوستې بېدارلې؟ ويلې
اورونه مه چېره لووګي دې پرې فکرونه، نه شي

ويده دنيا ای د سايل قلمه مه لړزوه
د فريادي اوښکو مات ستوري تندرونه، نه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څېړونکی محمد نبي صلاحي:

دی انجنیر دی، اوس د ملګرو ملتونو په یوه اداره کې کار کوي، ده د کمپیوټر ورډ- وینډوز- اکسل او نورو برخو په باب تدریسي پروګرامونه جوړ کړي دي. له دې پرته ده د پښتو او دري یو دوه زره لغات لرونکې ډکشنري لیکلې ده، له مورږ سره یې دا ژمنه هم کړې ده چې: دا به د پښتو، دري او انګلیسي ډکشنري وي. دا به پنځه زره لغاتو ته ورسوم، نو زموږ دا کوښښ و چې تاسې له ده سره اشنا شئ. د سایل صاحب شعرونه او د نورو اشعار په ډېره مینه لولي. دی له سایل صاحب سره مینه لري او خاص عقیدت ورته لري، نو ځکه مو ده ته نوبت ورکړ چې تاسې ته د سایل شعر ووایي.

غني خان وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته لېوني نه شې لېونتوب ته جلال پربږده

کېنه افلاطونه فلسفه دې سنبال پربږده

ای د رڼا زویه دلته لړې او خوبونه دي

ستا تله قطرې تلې او دلته دریابونه دي

د پروګرام په دې برخه کې د پښه يي او پښتو ژبې پیاوړي لیکوال ښاغلي ممد زمان کلماني صاحب ته په ډېر درنښت سره بلنه ورکوو چې د سټيج سرته راشي، تاسې ته د حاجي صاحب په دې نویو چاپ شویو کتابونو باندې رڼا واچوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# محمد زمان کلمانی:

بسم الله الرحمن الرحیم

د درنو مشرانو په اجازه !

اګر چې ما هېڅ تیاری نه درلوده، دا چې صلاحي صاحب لطف وکړ زه یې دلته راوبللم، یوازې دومره ویلی شم چې: دغه د حاجي صاحب حسام کتابونه که شعر بولئ، که نظم یې بولئ، که نوی شعر یې بولئ او که هر رقم یې بولئ، خو هغه کار یې وکړ چې:

ټولو لیکوالو او ټولو خلکو ته یې چې په زړه کې څه احساسول د ویلو لاره یې ورته پرانسته. کله چې شعر منځته راغلی دی. هغه وخت کې د شعر قالبونه نه وو. هر چا چې شعر جوړ کړی بیا پس له هغه نه نورو پرې څېړنه کړې ده، چې دا په کوم ډول او کوم قالب کې دی !

حسام صاحب دا قالبونه مات کړل او واقعاً دا ډېر لوی جرئت دی او د ستاینې وړ خبر دی. دې ته په دې برخه کې مبارکي وایم او واقعاً حسام

(c) ketabton.com: The Digital Library



صاحب لوړ شخصيت لري، ډېر زړور دی او ډېر شهامت لري او د عالي غرور څښتن دی. نور استادان چې دلته ناست دي او خاصتاً رفيع صاحب او غضنفر صاحب کومې خبرې چې د حسام صاحب په کتابونو کې وکړې، ډېرې په ځای خبرې وې. زه له دې نه نور زيات ځانته اجازه او جرئت نه شم ورکولای چې څه ووايم.

بيا هم حسام صاحب په ډېر جرئت سره واقعيتونه ليکلي دي، په سپينه توګه يې حقيقتونه برملا کړي دي، مبارکي ورته وايم او له صلاحي صاحب نه مننه کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څېړونکی محمد نبي صلاحي:

له محترم کلماني صاحب نه یوه دنیا مننه.

د خبرو لکۍ

چا وویشتو په کاڼو

څوک شوو مړه

څوک په سرو وینو کې خولګۍ راته وهي

یوه خبره کم، بله لکۍ راته وهي

اې ارمانه د بابا !

ستا جانان هم ځوانیمرګ ش

اوس ځیسکۍ له ماتو ستنو بیا ماڼۍ راته وهي

یوه خبره کم، بله لکۍ راته وهي

د ښکلا کلی برباد شو بلبلان شو بې وطنه

اوس بیزو په لنډه پزه کې نتکۍ راته وهي

یوه خبره کم، بله لکۍ راته وهي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هر چا په لاس کې اور دی، د جانان حسن پرې سوځي

اوس ملخ لویو ښارونو کې، کېږدی راته وهي

یو خبره کم، بله لکۍ راته وهي

زموږ له لاسه جام نسکور شو، شیدې ګډې شوې په خاورو

یتیمان په تورو خاورو کې، سلګۍ راته وهي

یوه خبره کم، بله لکۍ راته وهي

ای خالقه د دنیا، موږ یې څو واري پهانۍ کړو

اوس جلاد په سرو لاسو کې بیا رسۍ راته وهي

یوه خبره کم، بله لکۍ راته وهي

یوه خبره کم، بله رکۍ راته وهي

((د محمد نبي صلاحي طنزیه شعر))

د پروګرام په دې برخهه کې د افغانستان یو لایق عنصر، پیاوړی شاعر او لیکوال محترم سلیمان لایق صاحب په ډېر درنښت سره خبرو ته رابولو. تېر ځل چې لایق صاحب بېرته خپل هېواد ته راغلی و، ویل به یې چې زه غواړم ډېرې خبرې له تاسې واورم، خو دا واري موږ غواړو چې یو څه خبرې له لایق صاحب نه د حاجي صاحب په کتابونو او یا نور څه چې په زړه کې لري، موږ ته یې واوروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لایق صاحب:

بسم الله الرحمن الرحیم

نحمده و نصلی علی رسوله الکریم اما بعد:

ګرانو عزیزانو ! زه نه پوهېږم چې دلته د فرهنګي ټولنو داسې ناستې به په لومړي ځل نه وي، ډېرې به دا یرې شوې وي. د دوی عرف څرنګه دی. یو چا چې د هېڅ په باره کې فکر نه وي کړی او دلته غږ پرې وشي، چې دلته لږ وغږېږه نو دا یو ستونزمن کار دی. که څه هم په ادبي مسایلو باندې غږېدل هغه د فارسي ژبې شاعر صاحب اصفهاني خبره ده چې کوم مشکل کار نه دی.

وایي چې:

در بند آن مباش که مضمون نه مانده است

یک عمر می توان شخن از زلف یار ګفت

لیکن په دغو پېچلو اوضاعو کې چې په افغانستان کې روان دي، کوم پېچلتوب، کوم پرابلمونه، چې د سولې او امنیت په باره کې موجود

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي، هغه طبعاً په ټولو عرصو باندې خپل تاثير واردوي او ټولې اجتماعي ستونزې او پرمختګونه يو په بل باندې متقابل اثر لري، بلکې ګډوډ کړي دي. ټول سُنن يانې پخواني دودونه يې تر سوال لاندې راوستي دي. چې دا دودونه هماغسې چې پخوا وو او جامعه يې کنټرولوله او اداره کوله يې او د هرچا مکلفيت يې ټاکه، هغه ټول له منځه تللي دي.

نو په دې ځای کې په داسې غونډو کې، نن چې ما دغه غونډه وليدله په ويناوو کې دا څرګنده شوه چې په هره غونډه کې چې ډېرې خبرې د يوې غونډې د موضوع سره ارتباط نه لري، طرح کېږي او طرحه کېدای شي.

زه ډېر وخت دباندې پاتې شوی يم، ښار تغيير کړی دی، ولسونو تغير کړی دی، دودونو او عنعناتو چې مخکې ما تاسې ته اشاره وکړه زما له نظره بدلون موندلای دی او زه کله کله ړښتيا تاسې ته ووايم چې اوس ما پښه په اوه اويا کلنۍ کې ايښې ده، په خپله بې موازنې شم او په خپلو قضاوتونو کې حتی د شعر په ليکلو کې زه نه پوهېږم، کله داسې مطالب زما قلم ته راځي چې زه يې په صحت باندې ډېره عقيده نه لرم او لکه چې مخکې غضنفر صاحب په ښکلې تحليل کې او په ډېر وار د تحليل کې ددې ورځې په مناسبت وويل: چې ښه ليکوال هغه دی چې د خپلې زمانې په باب وغږېږي، د خپل وخت مسايل توضيح او تشريح کړي، دا هم ډېره ستونزمنه خبره ده، هغه سړی چې د جګړو له کتارونو او سختيو نه دلته راځي او دلته موږ سره يوځای کېږي، د هغه وخت جلا دی. له بده مرغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاشکې د ټولو انسانانو غږ یو وای، یو لا تراوسه هم په ډېرو پخوانیو پېړیو کې اوسېږي.

یو ل ده عفوه غواړم له غضنفر صاحب څخه ده وفرمایل چې سړی د خپل وخت ن مخکې مسایلو باندې نه شي غږېدلای، معلومه نه ده، د قران شریف آیت دی: ((وما تدری نفساً تموت)) هېڅوک نه پوهېږي چې چېرته به مړ شي.

یانې د اینده په باره کې څوک خبرې نه شي کولای، دې کې اوس موږ داسې خلک وینو د علم او ټکنالوژۍ په باره کې هغه انکشافات په جهان کې وینو چې د څلورو پنځو پېړیو اینده محیط او طبیعت په باره کې او د انسان د اټکل شوي خصوصیاتو په باره کې خبرې کېږي.

عفوه غواړم لرې لاړم، زه د یو بل محیط نه دلته راغلی یم په دې هم خوشاله نه یم چې هغه ځینې کسان دي په اروپا یا امریکا کې هستوګنه د یوې جلوې په توګه نورو ته وړاندې کوي، چې زه هغه جنتې یم چې هلته وم، تاسې جلا خلک هستئ، او موږ جلا خلک یو، نو شرمېږم چې کله وایم چې ما څوارلس یا پنځلس کاله دباندې کې تېر کړي دي، ځکه: ددې خاورې د هر وګړي سره دا سوال پیدا کېږي، چې نو دا لافې دې ولې وهلې او په هغه شېبو کې دې دا خبرې ولې کولې، هغه وطن چې په تاګران دی هغه چېری دی؟ هغه څه شو؟ ته خو یو سړی یې، تا ته فرق نه کوي چې دلته یې او که هلته یې (هر ملک، ملک ما است که ملک خدای ما ست) په هغه پرنسیب باندې روان یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



صحيح ده چې ټولې ميندې، ميندې دي، ولې په سرې باندې خپله مور ګرانه وي، دا خو د طبيعت حکم دی. بې له دې نه هغه دقيق مناسبات د ميندو او نسلونو ترمنځ او د بچيانو ترمنځ، دا نه شي طبيعي کېدای او دا غير طبيعي دی په هر حال.

ورونو ! دلته د بلل کوونکو نه چې زه يې ستېج سرته راوبللم، مننه کوم او زه دد غو ورونو په مخکې د خپل اوږده غياب لپاره احساس د شرمنده ګۍ کوم، زه راغلی يم چې تلافي وکړم، که په ادبياتو کې وي، که په سياست کې وي، کوم مسايل چې په يوه ټولنه کې انسان و هغه سره مواجې کېږي، په مقابل کې د يو اکشن يو عمل الزام ور ترغاړې وي، زه غواړم هغه وظيفه په ځای کړم.

نه پوهېږم تاسې به ووايئ چې:

په سپينه ږيره لېونی شوې

د لنګوټې پورې دې بنګ تړلي دينه

زه ډېر نن خوشاله شومو ما ډېر خه دلته زده کړل، ما د خل يو استاد خبرې دلته واورېدې چې بختانی صاحب دی. په ځينو به درنېږي عفوه غواړم شايد دا وړ صفتونه به يې نه خوښېږي. ددې مانا هماغه د غضنفر صاحب خبره ده چې هغه په خپل زمان کې ده او لکه زموږ نسل زه او بختانی صاحب له دې دروازې شايد ووځو، ليکن زموږ په دې خوارو خبرو کې به زه فکر کوم چې د ځنځير د يوې کړۍ مانا پرته وي. موږ هم د يوې زمانې خلک يو وايږئ !

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه په عربي کې يو متل دی چې وايي:

خو سما صفا و داما کا

واخله هغه شی چې دې ښه ايسي او درته پکار دی او پرېږده هغه چې هغه تاته ښه نه ښکارېږي او په درد نه درته خوري.

زموږ په خبرو کې د بختاني صاحب په خبرو کې د هغو په تشو خبرو کې چې زموږ استادان او زما په نظر او زما په تله کې ډېر لوی کسان دي، لکه الفت صاحب، الفت صاحب د پښتو ژبې يو لوی شاعر دی، ساده سړی نه دی ډېر لوی سړی و، لکه بېنوا صاحب يو ګرم طبيعته شاعر چې هر شي ته به ښه سترګه ګوري، د يو سړي چې سترګې هم ښکلې دي تفکر طرز او ليکل يې هم ښکلي دي.

موږ د هغوی شاګردان يو، ليکن يقين لرم چې نوی سنل نه شي کولای چې زموږه نه پرته استادانو ته سترګې په لاره ودرېږي او فکر وکړي هر څه چې دوی درلودل هغه واورو او په مخه لاړ شو، هره زمانه خپل وخت لري، لرې لاړو وبښئ.

موږ سپين ږيري شو، کله چې موضوع تعقيبوو را څخه خطا شي، عرض مې کاوه چې دلته ددې خبرو نه مې ډېره لويه زده کړه وکړه، ما د بختاني صاحب خبره کوله، بختاني صاحب د هغو استادانو په رديف کې يو سړی دی،لکه د الفت صاحب سره، د بېنوا صاحب سره، د حبيبي صاحب سره، د رشتين صاحب سره، د خادم صاحب سره، د هغوی سره يې وخت تېر کړی دی او دا چې هغوی مړه دي، د پښتنو يو خصوصيات دی چې مړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته احترام کوي، ژوندیو ته په بله سترګه ګوري، بختاني صاحب د هغه خلکو هم ردیفه سړی دی او زه ډېر احترام ورته لرم. زه ډېر زلمی وم، دا سیاستونه دلته روان وو او موږ به د مشرانو خبرې د الفت صاحب دوی د ویښو زلمیانو د سیاست رهبران وو، یانې یو ازې ادب یې نه پاله، یوازې حکمت یې نه پاله، یانې د خپل زمان روان سیاست یې پاللی دی.

دوی نه به موږ زده کړه کوله، هغوی کې د بختاني صاحب نویشتې هم وې او ما به لوستلې، چې دا سې یو عجب سبک دوی ایجاد کړی و. چې هغه سبک له بده مرغه زه فکر کوم چې هغه ډېر یو مهم ادبي ژانر و، ې دوی ولې خوشې کړ، هغه یو به مبتدا وه او ورپسې به صیب په سلهاوو او حتی ویلی شم د سلهاوو نه زیات خبرونه به پسې لیکل کیدل. زه معذور الذهن نه یم، زه غواړم چې د اکاډمیک له مخې وڅېړم، چې دا څنګه سبک و، که موږ او تاسې دلته وو او عزرایل موږ ته مهلت راکړ، نو انشاالله زه به په زړو خبرو باندې م په دې لحاظ چې د یوې لوی زینې یو مرحله ده او هغه به زه تاسې ته توضیح کړم. ززه دلته که د ولسمل صاحب په باره کې یو څو خبرې وکړم، بیا هم هغه فرمول وړاندې کوم دا ما کدا.

یوه ورځ ولسمل صاحب ماته راغی ما په هغه وخت کې یوه شعبه کې کار کاوه، ډېر زلمی وم، د ځلرویشتو یا پنځه ویشتو کلو به وم. دی نوی د فاکولتې نه فارغ شوی و، د شلو کلو به و، له اسمانه چې به کانی رالوېده ده به ورنه لاندې سر نیوه. چې هر څه به مې ورته عذر ووک چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



اى ولسمل صاحب ! د ژوند دا لاره نه ده، ته به خراب شې، ما هم دا لاره څه پالله او دا خپل تجارب به مې ورته ويل. دى به بيا بله ورځ راغى، چې هغه وزير نه ګورې، پلانى ځي کې يې رشوت اخيستى، په پلاني ځاى کې خپلوان يې مقرر کړي ي. نن پس له ډېرو کلونو که څه هم په هره نقطه د جهان کې چې وم، ده خپل اخبار ما ته رالېږه.

موږ د دوو متضادو جبهو کسان وو، دى يو جهادي مبارز و او زه په يوه سره نهضت کې صيب ورګډ شوى وم، ليکن زموږ ترمنځه يوه نقطه شريکه وه.

ده ولې دا کار کاو؟

دى زما په شخصيت معتقد و، دى که هره عقيده پالي خو داسې درک لري د هغه په سرتجارت نه کوي، په هېڅ جهت او سمت نه ځي. په جهادي سنګر کې دى يو سړى دى، چې د پيسو ټولولو ته او د خلکو د وينو په قيمت، د لاترۍ ټکټونه نه ګټي يو سړى دى. کله چې زه دا خبره کوم او هغه ورونه چې دلته ناست دي فکرونه کړي چې زه جهاديان په دې مفهوم او په ډېر مهارت سره د ولسمل صاحب د خبرو د يادونې پر اساس په جهاديانو باندې حمله وکړم.

دا لاره ښي خواته نه وځي، موږه په تياره کې د ورونو سره جنګېدلي يو او ورونه د موږ سره جنګېدلي دي. په هغو کې هم داسې نه ده چې ټول له مخې غله دي. په موږ کې هم داسې نه ده چې له مخې کافران دي. دا يو غلط برداشت دى، دا د هغو هلو ځلو چې تاسې ورته انقلاب وايا ست، يا

(c) ketabton.com: The Digital Library



جهاد وايا ست امکانات پيدا کړي طبعاً هلته دا سې حوادث رامنځته کېږي چې علمي نوم يې انقلاب دی. کله د ما نه څوک پوښتنه کوي، چې تاسې خپلې کودتا ته ولې انقلاب وايا ستئ؟! او دې کې لا هم اختلاف دی او زه بيا دوی لپاره په داسې ځايونو کې چې څوک ترې بده اتنباه وانخلي، نو زه يې پاڅون ګڼم. پاڅون هماغه انقلاب دی چې هغه يې عربي ده او دا يې په اصطلاح پښتو کليمه ده.

انقلاب بل څه نه دی ورونو د ارامو شرايطو ګډوډېده دي، که دا په نظامي کېږي او دا که په ملکي کېږي، يانې متخاصم طبقات يو د بل سره جګړه کوي متخاصمي منافعې يو د بل مخې ته راوځي، متخاصم فکرونه يو د بل سره د تبارز په حالت کې کېږي، په ارامو حالاتو کې دا نه شته. دا خرې چې نن دلته ولسمل ووکړې، که دا خبرې پنځلس کاله مخکې زموږ د دولت او يا د هغه نه مخکې او يا وروسته يې کړې وای، وبښه ولسمل صاحب! بې ادبي کېږي، دده خوله به يې تر غوږو پورې ورڅيرلې وای.

ليکن نن يې وايي راځئ چې په دې اعتراف وکړو، د ټولو بدبختيو سره نن موږ يو انکشاف هم کړی دی، لا يې تراوسه موږ دده پرمختګ او انکشاف نه منو، يانې د دهقانانو او کليوالو زامن راځي، ساده خلک چې چا د دفتر په خوله کې هم نه پرېښدل او په تاج د قدرت باندې حمله کوي دا ښه خبره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما دغسې یوه بله زده کړه هم وکړه، تاسې ګورئ غضنفر صاحب چېرته دی، زه رښتیا درته وایم زه غضنفر ته خپله ټوله مینه تقدیموم، چې ده په څه مهارت سره چې دی د زلمي نسل نماینده دی او زه ددا انتباه اخلم چې اوس زلمیان څنګه فکر کوي. ده په هغه چوکاټ کې ځان وساته چې نه سیاست نه ترې ووت، نه اقتصاد نه ترې ووت او نه د حسن حسام صاحب د لیکنو او نه ددې مطرح موضوع دی ووت. په دغه چوکاټ کې د یو عالم یو دانش مند، یو پیاوړي صاحب نظر په څېر وغږېده. زه ستاسې نسل ته مبارکي وایم، تاسې له موږ نه واقعاً ښه شوي یاستئ، تاسې له موږ نه پیاوړي یاستئ تاسې مه ډارېږئ.

په هر حال ددغې فرصت څخه به استفاده وکړم. د پراګنده خبرو چې ما هېڅ د خبرو کولو لپاره سکېچ نه درلوده او نه اماده وم، له تاسې نه مننه کوم، چې زما د پاشل شویو او غیر منظمو خبرو ته مو غوږ ونیو.

موږ به د خپلو حکومتونو په وخت کې دومره خبرې کولې، چې چاته به مو وار نه ورکاووه، نننۍ خبرو زما کاذبه اشتها یو څل بیا زیاته کړه ډېره مننه کوم. ابد صاحب[۱۲] سره زه دلته نه غږېږم ځکه چې پخوا دده کتابونه ما نه دي لوستي.

پخوا چې به ایران نه څو ژانره نوي شعرونه دلته ورسېدل، زموږ دري ژبو ورونو په کابل کې د پارچه های ادبي ستون لاندې یو شی ولیکه، چې ګویا قافیه او وزن به یې ضرور نه و، مفاهیم به یې ټول شاعرانه و، چې

[۱۲]- حسن حسام پخوا د (ابد) تخلص کاوه، نو لایق صاحب هماغه پخوانی کلیمه کارولې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اح، اوخ کله به داسې کېدل چې هېڅ مانا به يې نه درلوده. (اح تو مرا دیدی، و من سرگردان شدیم.) داسې قیصې به وې، بیا به يې یو څو ټ:ي پسې و. بیا به یو سوالیه پسې وه او زه تاسې ته ووایم چې ددې خبرې مانا دا نه ده چې غلط برداشت ونه کړئ، چې د فارسي د ښکلې ژبې چې ددې وطن ژبه ده چې زه په دې باندې کوم انتقاد ولرم او غواړم طنز پرې ووایم، او یا تمسخر وکړم، موږ د فارسي نه ډېر خه زده کړي دي او زه ډېر افسوس کوم چې د فارسي او پښتو په نوم ددې ملت د تفرقې لپاره کار روان دی.

مګر نن زه په هغه مسلې نه غږېږم، زه تصمیم لرم چې د خپلو ځوانو، شاعرانو او لیکوالو سره په دې باره کې په دغو سازمانونو کې چې دي. لکه بهیر، لکه قلم یا لکه نور یا ډېر مکتبونو او یا په فاکولتو کې. دا فرصت پیدا کړم چې یو درسګی واخلم او خپل نظریات وړاندې کړم، دا هم نه ورته وایم چې دا به دقیق او صحیح وي، خو د یو مسول سړي په حیث باندې چې د جامعې په مقابل کې او د پښتو د ښکلو او ځوانو ادبیاتو مقابل کې احساس د مسولیت کوم، په دې ټولو ساحو کې به زه خپل نظریات ووایم.

ما ددغو افکارو تر تاثیر لاندې موږه هم ځوانان وو، زه نوی راډیو ته راغلی ووم، یو پراخ میدان کې مې خپل اثار خواره کړل او زه تاسې ته اعتراف کړم چې دومره لوی شاعر نه یم، لکه خلک چې ماته په دې سترګه ګوري. ماته فرصتونه په لاس راغلل، او ما د هغه نه وسیع استفاده وکړه، نو په هغه وخت کې صیب چرت راته راولوېده چې راځه ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو نوی شعر وليکه، د ځوانو معلمينو له طرفه دا وړ شعرونه، غزلې چون د اروپا نه به راتلل او د هغه د فرهنګ د تاثيرلاندې و، ما نو لومړنی شعر دا وليکه:

سپوږمۍ د لوړو غرو له شاانه

راخته، راخته

سپينه رڼا په لويو دشتو

خوربده، خوربده

وږمې د ګلو له عطرونو سره

شپې د شپنو د اوازونو سره

او نشې د ميو د جامونو سره

زما په لاس کې ځنځيرونه د ګونا اچول

او توبه و ماته

د غسې شيان به ما ليکل، کله به قافيو ته تلم، کله به مې رالنډ کړل، ما فکر کاوه چې دا نوی شعر دی.

او په دې اخته شوم.

زه بايد ووايم:

چې ايراني ازاد شعر په کوم نامه چې زموږ ادبياتو ته رانو ځي، زموږ له ژبې سره سر نه خوري، زه اوس هم د غسې فکر کړم. زموږ ځينې ليکوال

(c) ketabton.com: The Digital Library



لګيا دي، هماغه سبک دغو ژبو ته رانقلوي زه د دې په مقابل کې تعصب نه لرم، ليکنې نظر لرم چې دغه مجلس د دې لپاره د بر وخت نه لري او خت تنګ دی، د نوي شعر د بحث د باب نه د اوس لپاره تېرېږم.

په دې وروسته کلونو کې ما يو کتاب هم ليکلی، چې هغه ټول بې قافيې او ازاد شعر دی او يو به يې د تبرک لپاره په اصطلاح سره تاسې ته ولولم:

مورې د اختر ګلوري نه يو

چې په سپينو چړو

بې له فرياده قرباني شو

او د چا لپاره؟

په دوزخونو باندې لاره د جنت

وباسو

مورې وژل شوي غلامان يو

د لرغوني مهال

چې پاڅېدلي يو د غچ لپاره

زمورې له ټپه چې بهېږي

دا هغه وينه ده

چې سپارټاکوس د رم په

(c) ketabton.com: The Digital Library



تور مخ باندې وشيندله

نو دا وګورئ مطلب په کې راځي، عفوه غواړم که ما په ډېر مهارت سره د ځان صفت کړی وي، زه هم انسان يم، مونږ په خپلو خودخواهيو، ځوواري ځانونه ډوب کړي دي او لا معلومه نه ده چې کومې خواته به وځي.

نو نوي شعر کې قوت شته، ژبه شته، زه فکر کړم چې ښه شاعر باندې حکم کول، چې نوی يې ويلی دی او که زوړ يې ويلی دی، زه ددې طرفدار نه يم. زه وايم چې خپل مطلب يې څنګه افاده کړی دی، قالب يې چې هر څه ددی، شاعر که په نوي سبک وايي لکه په غضنفر صاحب چې لږ په قهر شوم، چې اورم له هغه نه لذت اخلم، ټول مهم دي، چې دلته پورته ياد شول، ماته يې نومونه نه راځي، دغه احسان يې چې په ما کېښوود خپلې خبرې يې واورولې، ټولو ته شاد باش وايم.

او حسن ابد صاحب ته له خدايه دا غواړم چې په دې لاره کې نور ګامونه هم واخلي او وعده ورکوم چې د دې اثار به مطالعه کړم او هغه به بې طرفانه بې له کوم رعايت نه وڅېړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څېړونکی محمد نبي صلاحي:

له محترم لایق صاحب نه د هغه د لنډې، د ادبي ځیرکۍ او فرهنګي بصیرت نه ډکې وینا نه یوه دنیا مننه کوو او خدای تعالی دې زموږ د غه سپینږیری اکاډمیسین شاعر او لیکوال د ډېر وخت لپاره روغ رمټ ولري.

روهي صاحب ویلي دي:

((شاعران بې ازاره موجودات دي، دوی پرېږدئ چې خپله لاره ووهي، هغوی د هېچا د خوشالۍ او نېکمرغۍ جام په لغته نه وهي.))

د پروګرام په دې برخه کې د حاجي صاحب لمسي ته چې یو ماشوم دی، ښاغلي امین الله حسام صاحب ته په ډېر درنښت بلنه ورکوو، چې دلته راشي او تاسې ته د ماشومانو یو دوه بیته شعر ووایي.

که کوم پیغام لري، هغه هم ویلی شي، دا ماشومان له تاسې لیکوالو نه څه غواړي. دی په سبق کې هم ډېر تکړه دی، له شعر او ادب سره هم مینه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# امين الله حسام:

بسم الله الرحمن الرحيم

محترمو مشرانو السلام عليکم.

ستړي مشئ.

خوښ يم چې مورې ماشومانو، تاسې مشرانو ته د خپل بابا کتابونه درکړل. زموږ هيله داده چې پس له دې نه، تاسې مشران موږ ماشومانو ته کتابونه وليکئ او په موږ ماشومانو باندې يې وويشئ. تاسې زموږ پوروړي ياست. ګورئ چې موږ هېر نه کړئ. دا چې نن باران اوري نو زما د شعر عنوان هم اوري دی.

اوري، اوري باران اوري

د پيشې لکۍ ښوري

موږک په غونډۍ ناست دی

د مستو بدلې بولي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څېړونکی محمد نبي صلاحي:

له ښاغلي امین الله حسام نه ډېره زیاته مننه کوو چې په ډېر جرئت سره یې د لومړي ځل لپاره د سټېج پر سر باندې قدرمنو لیکوالو او شاعرانو ته خپل پیغام ورساوه.

ده په پیغام کې دا لیکلي و چې: شاعران او لیکوالان، ټول زموږ پوروړي دي، نن ما ځکه په خپل لاس باندې کتابونه په دوی وویشل ، چې په راتلونکي کې دا لیکوال او شاعران موږ هېر نه کړي، موږ ته کتابونه ولیکي، موږ ته د ماشومانو کیسې ولیکي، موږ ته شعرونه ووایي، تر څو په راتلونکي کې ددغو ماشومانو له منځ نه، د افغانستان د ادبیاتو لپاره یو څوک را اوچت شي.

د پروګرام په دې برخه کې د امین الله حسام پلار محترم ډاکتر صاحب احمد همدرد حسام ته چې د حاجي صاحب مشر زوی دی اوس فکر کوم د سره صلیب په یوه روغتون کې کار کوي، ډاکتر دی او په ضمن کې د حاجي صاحب د شخصي ځانګړتیاوو په باب باندې یوه (رساله) هم لیکلې ده، چې دلته راشي، خوښه یې چې خپله رساله وایي او که تاسې ته څو خبرې لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډاکتر احمد همدرد حسام:

د ژوندي لیکوال ځانګړني دانشمندانو ته دده د زوی له خوا د مینې ډالۍ.

ددې غونډې اغلو او ښاغلو درنو مشرانو دانشمندانو، اندېښمندانو لیکوالانو د قلم د بلې ډیوې تل پاتې مشعل دارانو او مخورینو !

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته !

په سر کې اجازه راکړئ چې د مقدمې یو څو کرښو په لیکلو بس والی وکړم.

دوستانو !

زه یوازې نه، بلکې تاسې به هم په دې باور یاست چې که د پخوانیو مثبتو ښو دودونو سره نوی ښه دود یوځای شي، نو ژوند او ماحول ته ښکلا ببښي، زاړه چوکاټونه پراخوي او کله ناکله یې ماتوي او د نوي په لور ګامونه اخلي.

مشرانو ! زموږ اندیش مند مړ شي، دانش مند مو خاورې شي، د لیکوال په مړي مو کلونه او پیړۍ تېرې شي، تاریخ زموږ نوم ورکي شاعران، هنرمندان او حتی نوابغ لا پسې هېر کاندي.

بیا نو زموږ محققین، مورخین او څېړونکي ورپسې سرګردانه او لالهنده ګرځي چې نه یې کورنۍ ومومي، نه د هغه د شخصي ژوند په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارتباط کوم سند پیدا کړي، هسې خوشې د خاورو ډېریو ته یې لیکوالان راټول شي، څوک یې ښه لیکوال وبولي څوک یې ښه شاعر او هنرمند، څوک یې څنګه او څوک یې څنګه؟ !

دا به لومړی ځل نه وي، نورو به ه دا کار کړی وي، خو نن د یو بل ځل لپاره د زاړه دود سره دا نوی دود یوځای کوو، حاجي صاحب شکر ژوندی دی او ستاسې په منځ کې ناست دی.

تاسې محترمو دانشمندانو د حاجي صاحب په لیکوالۍ، په شعر او شاعرۍ، د هغه د نثر او نظم په شکل او محتوا ډېرې خبرې وکړې. دا تله او کانې ستاسې په لاس کې دی، څنګه یې چې تلئ هغسې به یې تلئ خو:

درنو لیکوالو ! زما پلار په خپله کورنۍ کې په لالا بابا شهرت لري. زه د طب او طبابت ډاکتر یم نه پوهېږم چې زما پلار څه قسم لیکوال دی، د نظم او نثر په هکله یې هېڅ نه شم ویلای، خو دومره ویلای شم چې:

زه د هغه د مشر زوی په صفت ویاړم او ستاسې په موافقه نن دده د شخصي او کورني ژوند په هکله دده ځینې ځانګړتیاوې درخبېرم، حاجي صاحب په پښتو، دري او پشه یي ژبو پوره مسلط دی.

د خپل اولاد په تربیه کې چې زه ډاکتر او بل زوی یې انجنیر دی، ښه مثال کېدای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حاجي صاحب که تاسې ته ښه ليکوال او شاعر دی، مور ته ښه پلار او نورو ته د مېلمنو ښه مېنو جوړونکی، په خپله رشته کې حاکم معلم او د وخت ښه اداره چي، طالع مند او بې باکه سوداګر دی.

د پيسو سره يې مينه کمه ده، د محترم ولسمل صاحب خبره زه دلته بالکل تائيدوم چې دی د نورو په څېر د سرمايې د وربښمو په غوزو کې نه دی ننوتی.

حاجي صاحب ! په خپل کور کلي ولسوالۍ او حتی په خپل ولايت کې يو کلک دهقان ښه ملک او د ملک زوی دی. دی چې په خپل ولس کې جرګه او مرکه کوي، دده د جرګې فيصلو ته هر څوک په درنه سترګه ګوري او هېڅوک دده مخې ته نه وځي، د مظلوم حق يې هېڅ وخت نه دی تلف کړی.

زما په پلار د دهقان قشر ډېر ګران دی او دهقانان يې ښه ايسي، د خلکو په ځمکو کې د تراکتور په ځای، حلتې او چابکې د سرو (اچو) غويانو قولبې او د شيدو غوګانې يې ډېرې خوښې دي.

حاجي صاحب د ۱۳۷۲ ل کال نه را په دې خوا، د دريشۍ اغوستل پرېښې په لنګۍ او سپينو جامو کې ګرځي، خو د معمول په خلاف اوس په دې اخرو کې حاجي صاحب دوه درې جوړه دريشانې ځانته ګنډلي، خو اغوستې يې نه دي.

نه پوهېږم؟ يا کوم لوی ماموريت ته يې پتيالې او يا د کوم لرې هېواد د سفر په تکل کې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حاجي صاحب د ډېر پخوا نه د تورو پېښورو څپليو او د عادي ورکوټي کورلا ګاډي شوقي دی، ډرېوران لري خو ډرېوري په خپله کوي.

حاجي صاحب هېڅ وخت ځانته خواړه نه خوري، د ناستې لپاره هوجره، ډېره او جومات غوره ګڼي.

خير، خيرات زياته برخه يې د جوماتونو او د مکتبونو په جوړولو پېرزو ده.

حاجي صاحب د تل لپاره په يو خياط ځانته ډېرې د غاړې جامې ګنډي، خو د يو يا دوو جوړو نه زياتې نه اغوندي او خلکو ته يې بښي.

حاجي صاحب په کور کې په ښځو باندې درې وخته تاوده خواه د خپلې اندازې نه زيات پخوي، خو خپل خوراک يې يو مشقاب سابه او يا کوم (شومې) شوروا ده.

حاجي صاحب مشاق او خطاط نه دی، خو خط يې ډېر ښه دی.

دی په عام ډول غير شعوري، په بعضې وخت کې املايي غلطي کوي، د خپلو اثارو خطي نسخې په خودرنګ تور رنګ او په ګيا کاغذ ليکي، په داسې مواردو کې د بل رنګ قلم او کاغذ نه کار نه اخلي. د حاجي صاحب نه ما تراوسه کمزورې او کمزړې خبره نه ده اورېدلې.

حاجي صاحب د ژوند په ټولو لوړو او ژورو کې کلک زړی سړی دی، خو دی ما په دوو وختونو کې په ژړا ليدلی، يو د کابل په تنظيمي جنګونو کې او بل د باميانو د بتانو د ورانولو په ورځ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حاجي صاحب د خوشالۍ ورځ هغه وه چې ده خپله ټوله شتمني او دارايي زما په سر په يو (داو) کې کېښوده او زه يې د يو ويشتمې پېړۍ د انساني دلالانو د (۴۷) ورځني اختطاف د کوټه قلفۍ نه خلاص او د مرګ نه يې وژغورلم، زه چې کله کور ته ورسېدم. نيمايي دده په غېږ کې او نيمايي د خپلې مور بي بي حاجي په غېږ کې دوه ساعته پروت وم، د ډېرې خوشالۍ نه نږدې و چې دده زړه ودرېږي.

حاجي صاحب د لمانځه قوي او کلک پاند دی خو د نورو په څېر تظاهر نه کوي د جومات د ملا مصارف په پټه خوله په غاړه اخلي خو چې مړ يې کړې د جومات د ملا وعظ ته غوږ نه نږدي او نه ورته کېني.

دی تل لپاره د ماسخوتن د ډوډۍ وخته ويده کېږي او چرګ بانګ وختي د خوب نه پاڅېږي، خپلې ليکنې د شپې د دريو بجو نه وروسته تنظيموي، دی په خپلو کارونو کې د سهار له مخې ډېر اکتيف او فعال وي او په همدې وخت کې په پخواني چيني چاينک او پياله کې يو يا دوه ځل تريخ شين چای څښي.

خپل ورېرونه او خوريونه پرې ډېر ګران دي. د خپلې کورنۍ د ښځو په هکله د نرم زړه خاوند دی. په مورږ نارينه وو کلک زړی، سخت ګير او منظبط دی، په کومه خبره کې چې منطق موجود نه وي، د مخاطب په هکله زر جدي کېږي.

د اخرو څو کلونو د قوماندانانو، وزيرانو، اتلانو او قهرمانانو د نومونو سره حساس دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حاجي صاحب کله کله په وړو وړو خبرو د کورنۍ غړو سره سلا او مشوره کوي او کله بیا په ډېرو لویو خبرو ، د هېڅ پروا نه ساتي او په خپل سر هغه کار سرته رسوي، انجام یې هم ښه وي. خو زه په دې اخرو کې لږ څه پرې شکمن شوی یم، د لویو کارونو سرته رسولو په موقع، دده ترشا زما د مور بي بي حاجي لاس وي.

په حاجي صاحب باندې داسې وخت راغی چې د چا سره په لکونو حساب نه کوي، کله ناکله بیا د یوې روپۍ پورې نښتی وي.

ګر چې مورږ تول د معاشونو او کاروبار خاوندان یو او په خپلو متهو متکي یو ، خو حاجي صاحب د کورنۍ د خوشالۍ په ورځ په اخترونو او جشنونو کې مورږ ته او زمورږ ماشومانو ته په خلاص لاس پیسې او سوغاتونه راکوي. حاجي صاحب ډېر سفرونه کړي دي د عادي سفرونو په هکله یې ماته دومره ډېر څه نه دي ویلي، خو د حج د اداکولو د سفر نه یې ډېره مزه اخیستې او په دې هکله یې ماته ډېرې ژورې او فلسفي خبرې کړې دي.

حاجي صاحب ډېر څه له ما او د مشر وراره نه یې نه پټوي او خدای شاهد دی چې مورږ دواړه پرې ډېر ګران هم یو ، خو دده په څو رمزونو زه هېڅ نه پوهېږم.

حاجي صاحب خپل وربرونه، خوریونه او نور خپل خپلوان تجارت، دهقانۍ او مالدارۍ ته هڅوي خو شخصاً د خپل کور غړي، که نارینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي، که ښځینه که زامن یې دي او که لونې، د سرکار ته یې تشویقوي.

زه په دې نه پوهېږم چې حاجي صاحب ولې په یو وخت کې په یوه وړه او کوچنۍ خبره له موږ ټولو نه مشوره اخلي او ډېر سوچ پرې کوي. کله ډېر لوی کار بې له سوچه او بې مصلحته سرته رسوي.

حاجي صاحب ولې کله په لکونو ډیل نه وي او کله د یوې روپۍ پوښتنه کوي.

د حاجي صاحب د وینا او د اورېدو توازن یو قسم دی، څومره چې د چا نه اوري هغومره ورته وینا کوي.

د حاجي صاحب د خبرو د تلفظ طرز په اول کې ځیګ او تریخ، د نورو انسانانو برعکس، خپله وینا د یو جالب او ورک ټکي نه په ډېره تېزۍ او تندۍ شروع کوي او په کراره کراره خپله وینا خوږوي او سړوي چې نابلده سړی ورته په اول وخت کې وارخطا کېږي، بیا وروسته د نا اشنا سړي ورنه زړه نه کېږي چې جدا شي، په دې هکله موږ هېڅ نه شو ویلای، دا به د اروا پوهانو کار وي.

حاجي صاحب د هر چا سره د هغه په سطحه خبرې کوي د مخاطب د پوهې او دانش په هکله ډېر ژر پوهېږي، خو حاجي صاحب د خپلو یو څو ډېرو نږدې دوستانو لکه د رئیس صاحب سید محمد خان سره، جنرال صاحب اخترمحمد خان سره، جنرال صاحب عبدالواسع خان سره، حاجي صاحب ورث خان سره، ګل اقاخان او اکبر شاه خان سره ډېرې پټې او ظریفې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټوکې تبادله کوي، دوی چې کله په خپلو منځونو کې ناست وي، د پښتو عربو په دود يو بل ته د نوم پرځای د پلرونو نومونه اخلي.

حاجي صاحب په اول کې په اسانۍ د چا سره خوی او بوی نه اخلي، کله يې چې د چا سره خوی واخيست هغه سرې تر اخره پالي.

د حاجي صاحب سليقه ساده ده، بعضې تزيني او تشريفاتي کارونو ته ما مخامخ کوي. د غم او ښادۍ په ورځو کې يې حالت عادي نه وي، خوب يې کم وي، د کورنۍ ښځينه وو سره يې ملاقات قطع وي، ده ټوله توجه راغلو مېلمنو ته اړولي وي، له مانه او له مشر وراره نه يې حاجي صاحب نعمت الله خان نه ډېر جديت او اکتيف والی او د مېلمه خدمت په هماغه وخت او زمان کې غواړي.

زموږ د لږې تنبلۍ او بې پروايۍ په صورت کې موږ ته د مېلمه نه پسيشا، سخت ګوربړي حتی خوله لا کله ناکله ښکنځل ته هم سازه کړي، خو زه او حاجي صاحب نعمت الله خان دا موقع ده ته نه ورکوو په داسې اوقاتو کې زه او حاجي صاحب نعمت الله خان ډېره بې خوبي ګالو او د ډېر فشار لاندې يو.

دده په مخ اړولو موږ دواړه ښه پوهېږو، چې دی څه غواړي؟!

حاجي صاحب په دې وختونو کې د بل هر کار نه خپلو فرهنګي کارونو ته لومړيتوب او اولويت ورکوي او په خپله کورنۍ کې خپل ځای ناستی لټوي، خو تر اوسه يې زړه په هېچا اوبه نه دي څښلي، د انتخاب په لټّ کې دی، چې خپله لنګۍ به د چا په سر ږدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حاجي صاحب چې کله د مېلمه سره ناست وي، دده ځای د هوجرې د وره په خوله کې وي.

له مور سره نه خو د خپلو لمسيانو سره کله ناکله لانديکولې (غېږې) نيسي او مستي ورسره کوي، يو د بل سره همزولي لمسيان په خپلو منځو کې په غېږه ننه باسي او دی په کې پړ او وړ معلوموي.

حاجي صاحب د کوور په سودا کې غله او غووړي په خپل لاس د بازار او يا د خپلو ځمکو نه په دومره ډېره پيمانه کور ته راوړي چې زموږ د دوه دريو کلونو تکافو کوي.

حاجي صاحب د خپلې ټولنې د هر قشر خلکو سره ناسته او ولاړه لري، يا د غريب سړي ډوډۍ خوري او يا په خپل کور کې.

ډېر لږ نه شپېتمې لسيزې ننه راپه دې خوا کله چې زه په ښو او بدو پوه شوی يم، زه مې د پلار سره د ژوند په ټولو لوڅو پوڅو، تودو او سړو کې يو ځای پاتې شوی يم.

حاجي صاحب د ژوند په ټولو لوړو او ژورو کې قانع، صابر او شاکر سړی دی، خو دده قناعت ما په دوو وختونو کې نه دی ليدلی، يو په شپېتمه لسيزه کې چې ده د قومونو او قبايلو په وزارت کې فعال کار کاوه، زه په هغه وخت کې داسې هلک وم او دده د ځوانۍ جوش و، د ماموريت په يوميه کار يې قناعت نه کاوه، دی به د سهار په شپږو بجو دولتي کار ته، ته او د ماسخوتن په نهو لسو بجو د کار نه کور ته ستنېده، خو بيا به يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم سوړ اسويلی وويست او ويل به يې چې نن ما د خپلو خلکو لپاره هېڅ مثمر کار ونکړای شو.

په شپېتمه لسيزه کې ده چې کوم د ډېورنډ خط دواړو خواوو پراته پښتنو قومونو ((باجوړ د سالارزو د لرامدک او برامدک د لر سدين او برسدين نه نيولې د کمرالدين کاربز، د مندوخېلو پورې)) او بيا د همدې کاربز نه نيولې د ((چمن د اڅکزو او د رباط پورې د بلوڅو شيرانيو، براهويو، مينګلو مرعيو او بګټيو)) قومونو په اړه پوره متخصص، د هر قوم په دود، دستور، تړه، تيېره، برمته، ناغه، نرخ او د هرې قبايلې تپې جغرافيوي موقعيت او د هغوی په کرونولوژۍ د قومونو د موثره مشرانو په بيوګرافيو باندې ډېرې قلمي ليکنې کړي دي، زه نه پوهېږم چې ددې ليکنو په ترتيب او تنظيم کې ولې سست او په چاپولو کې يې متردد او زړه نا زړه دی او بل دا اوس اوس د روان کال په اخرو څلورو مياشتو کې د دوو اثارو پنځونې يې وکړې، خو بيا هم قانع نه دی.

حاجي صاحب په اويايمه لسيزه کې چې د دولتي کارونو نه فارغ و، په اولو پنځو کلونو کې په ډېره حوصله مندی، په پشه يي ژبه کې درې اثار وليکل، چې په يو شعري اثر کې يې پشه يي ژبه د ازاد شعر په چوکاټ کې او يا ازاد شعر يې په پښتو يې ژبه کې ځای پرځای کړ، دا اثر يې ډېر د قدر وړ دی.

خوشبختانه د پشه يي دربواړه اثار يې چاپ شوي دي. د حاجي صاحب د څلورو پښتو اثارو د جملې نه جاويدان اثر يې (زه کابل يم) او په دې دوو نورو يې نن تاسې مخ کتنه لرله، نتيجه به يې وروسته معلومېږي، چې لوستونکي او علاقمندان پيدا کولی شي او که نه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د يويشتمې پېړۍ انساني دلالان چې زما د اختطاف ژودۍ او تراژيدي کيسه ده، په خطي شکل کې حاجي صاحب يو شمېر ليکوالو مخې ته ايښودی چې دا ځل يې د چاپ نوبت دی، که ژوندي وو سره همدغسې يو مخ کتنه به پرې ونيسو او کومه کتابخانه چې ما حاجي صاحب ته په کور کې جوړه کړې ده، د بل ځل لپاره به په تاسې دانشمندانو باندې پرانيزم.

په اخر کې وايم ددې ويارلي او سرلوړي هېواد محترم دانشمندانو، اندېښمندانو څېړونکو او محققينو زما په اند چې ستاسې څېړنې او تحقيق ځانته د مړو ليکوالو پورې محدود نه شي، ژوندي ليکوال هم بايد د تحقيق او څېړنې لاندې ونيسئ، د هغوی په هکله همداسې د هغوی د فاميل د غړو پواسطه مواد جمع کړئ، که د رسالو توان يې نه رسېده، مواد يې په قلمي شکل په مشخصو دوسيو کې قيد کړئ، د اوس او د راتلونکي دانش مندانو او محققينو کار به اسانه کړي، څه چې ما پورته ستاسې د ليکوال په اړه چاپ کړي ومې ويل، چون زما پلار دي، په بعضې مواردو کې به مې ورته اسره او لحاظ کړی وي خو تاسې ورته لحاظ مه کوئ، بې اسرې يې کنټرول کړئ.

چې زما حاجي لالا بابادا پورته صفات لري او که څنګه؟!

په درناوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څېړونکی محمد نبي صلاحي:

زموږ ننی، غونډه د پای ته د رسېدو په حال کې ده. یو بل سپین ږیری لیکوال محترم شادمان صاحب غواړي د عبدالغفور لېوال صاحب هغه سریزه ولولي چې د حاجي صاحب په کتاب باندې یې لیکلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شادمان صاحب:

# په کوم ویاړ؟!

د قهرمانیو او اتلولیو، لاپو، پر لوړو غرونو قسمونو او پر توري او مېړانې ویاړونو، له پېړیو پېړیو راهیسې، لکه د بنګو نشه او لکه د چرسو دود، زموږ عامه ذهنیت تخدیر کړی دی.

یوه ورځ تنکي نسل وپوښتل، پلاره! بابا! زما په کتابونو کې توره شته، اتلان شته، وینې شته، خو ډوډۍ نه شته دا ولې؟

کوچني نسل بیا وپوښتل، پلاره! بابا! دا وران وطن ولې پر تا ګران دی؟ او که ګران دی نو ولې وران دی؟

هېچا ځواب ور نه کړ، له کوم ځایه غږ راته:

دا مو د بابا وطن...

... توره لرم، زغر یې لرم

... سترګې به دې وباسم

او...

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما تخليقي ادب، زما هنري ادب هم د همداسې افراط او تفريط ترمنځ سرګردانه و، کله به چې له التزام او تعهد څه تښتېده نو مې، ميخانه ساقي، بادامي سترګو او... ته يې پنا وړه، صوفيانه او عرفاني سولېدلي اصطلاحات يې د تېښتې فکري دروازه وه، خو کله به چې تعهد او التزام ته راوګرځېد نو داسې به د تورو په وهلو بوخت شو چې سترګې به د وينو په ډنډ بدلې شوې او يا به د وطن د لوړو غرونو په ستاينه کې داسې ورک شو چې خبره به يې جغرافيې ته ورسېده.

هېڅ ددې وطن د وړې ماشوم له اوښکې څخه غمی جوړ نه کړ او پر دغه الماس يې کونډې ته د ډوډۍ ګانه وانه خيسته، د قهرمانيو نظمونو همداسې دوړې بادولې چې سترګو رو ويناوالو حقيقتونه ومونډل او هغو ته يې د ويلو لارې ولټولې چا په کيسه، چا په شعر، چا په تحليل او چا هم په شاعرانه طرحو کې يوه نيمه سپرغۍ ومونده، چې زموږ حاجي صاحب حسام هم له همداسې ويناوالو څخه دی له هغې ورځې څخه يې چې په يوه نوي قالب کې ددغو طرحو ليکل پيل کړل، يو شمېر يې ما ته لوستې او دادی اوس يې بشپړ کتاب زما تر مخ پروت دی چې ده ته او درنو لوستونکو ته دې مبارک وي. ښاغلي حسام صاحب هغو ترخو حقايقو ته متوجه شوی چې زموږ ډېرو هنرمندو ويناوالو لاتراوسه پرې څه نه دي ليکلي، وګورئ:

موږ هغه ولس يو

چې سوله په

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوال غواړو

جنګ ښځو په ژبه

بیا له جنګه

وبال غواړو

هسې تش ځانونه

ستایو

په تېرو ځان تېرباسو...

ترپایه...

یا:

موږ هغه ولس یو

چې دښمن نه دوستي غواړو

بیا هم داوبو په ځای

د وینو لښتي غواړو

ښه ځانونه کاندو ستړي

شیرواروشاربو له شګو

ترپایه...

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ښاغلي حسام په وينا کې د شاعرانه تصوير جوړونې هڅې شته، استعاره، سمبولونه، تشبيهات او د بلاغت يو شمېر فنون لري خو تر هر څه مهم د پيغام له اړخه زموږ د پېړيو ، پېړيو معتادو وطنپرستو(!) ناظمانو ته هغه د استاد شپون خبره غاښ ماتوونکی ځواب له ځانه سره لري ځکه خو زه دده وينا ته د پيغام وينا وايم او دا ارزښت يې د قدر وړ ګڼم.

د ښاغلي حسام په وينا کې هغه تريخ اجتماعي درد تر سترګو کېږي چې په حقايقو رنګ تمثيلونه له ځانه سره لري په ليکنو کې ولسي متلونه، اصطلاحات او ترکيبونه د وينا وال له خپلو ترکيبونو او تشبيهاتو سره په يوه ساده او ټ،لو ته د پوهاوي وړ ژبه دا سې ښکلې طرحې رامنځته کوي چې هر لوستونکي ته د دغې ټولنې د بدمرغۍ، ځانځانۍ او وروسته پاتېوالي عوامل او ځانګړتياوې معرفي کولای شي، زه د خپلو دغو ګډوډو کرښو په پای کې خپل درانه دوست حاجي صاحب حسام ته وايم، چې راځه په يوه سوځېدلي مکتب، خپل کنډر ښار او خپل وران ويجاړ ژوند ټولو افغانانو ته ور وښيوو او بيا د ماشوم نسل په شان ورڅخه وپوښتو چې:

پلاره ! بابا !

پ‌ه کوم ويار؟ !!

عبدالغفور لېوال

کابل- ميرويس ميدان

۸ ليندۍ، ۱۳۸۵ل کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ملي وحدت ټينګول زما عقيده ده:

د ۱۳۸۵ل کال د چنګاښ په اوومه نېټه، د افغانستان د قلم ټولنې له خوا د همدې ټولنې په انګړ کې، د ښاغلي الحاج محمد حسن حسام د شعرونو د مجموعې مخ کتنه وه، چې يو شمېر ليکوالو شاعرانو په کې برخه اخيستې وه، د شعرونو دغه ټولګه په پښه يي ژبه ده او (ايم ورګ) نومېږي په غونډ کې د افغانستان د علومو اکاډمۍ مشر، علمي غړي او د افغانستان ند سولې د جايزې وړونکي استاد عبدالله بختاني خدمتګار يوه په زړه پورې شفاهي وينا وکړه چې لنډيز يې دلته وړاندې کوو.

سرمحقق عبدالله بختانی خدمتګار

بسم الرحمن الرحيم

الحمدلله وکفی والسلام علی عباده الذين اصطفی

اما بعد:

ګرانو ورونو السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاعر وايي:

هر دم از این باغ بری می رسد

تازه تر از تازه تری می رسد

پرون هم د قلم د ټولنې له خوا ادبي غونډه وه. د افغانستان د ښځو د ادبیاتو په باره کې هلته بحثونه روان وو او نن هم دا غونډه ده ادبي غونډې دي چې روانې دي. نن د پښتو کتاب مخ کتنه ده او صبا د پښتون شاعر لمانځنه، نن د دري کتاب مخ کتنه او سبا د دري شاعر لمانځنه او سنۍ غونډه د پشه يي شعرونو د کتاب مخ کتنه ده. شابس! د دې کتاب نوم (ایم ورګ) دی. لکه چې وویل شو، مانا یې (د واورې اوبه) کېږي دا نوم پرما ډېر ښه ولګېد. د کتاب پر لومړۍ پښتۍ واورې. زه د ننګرهار د سره رود یم.

ننګرهار په تېره بیا په دې موسم کې ډېر تود دی. سور رود بیا کله کله سور اور کېږي. د سپین غره د ویلې شویو واورو یخې اوبه زموږ تنده ماتوي. د کتاب نوم او د پښتۍ انځور زما دا احساس راویښ کړ:

پر لویو غرو د خدای نظر دی پر سر یې واورې وروي پای کې ګلونه، د کتاب د چاپېدو له امله د هغې شاعر جناب حاجي محمد حسن خان حسام ته د زړه له کومي مبارکي وایم. الله پاک دې ورته دد غسې اثارو د لیکلو او د وطن د نورو خدمتونو زیات توفیق ورکړي. روغ رمټ دې واوسي. د اوږد عمر خاوند دې شي. د ډېرو خدمتونو افتخارات دې ور په برخه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنگه د دې کتاب د خپرولو لامله د قلم ټولنې ته هم مبارکي وایم. د قلم ټولنه نن سبا داسې ځلېږي، لکه چې واقعاً د قلم ټولنه وي. قلم نازوي د قلم ایجادات ځلوي او خپروي. الله پاک دې دوی ته هم خیر ورکړي.

دا چې د ښاغلي حسام د شعر دا ټولګه په داسې وخت کې د قلم ټولنې له خوا چاپېږي چې د افغانستان د قلم ټولنه، د قلم د نړۍ والې ټولنې یوه برخه یا یوه څانګه ده، ددا هم د خوشالۍ ورځ ده. دې سره زه یو څو خبرې کوم:

کله چې جناب حسام صاحب دلته خپل شعرونه په ډېر فصاحت او بلاغت سره واورول او هره مصرع یې په پښتو ژباړله، د شعرونو رنګیني او د هغو هر اړخیزې محتوا، زه ځانته ډېر کش کړم. زما احساسات یې ځان پلو کش کړل او زه یې د تېرو خاطرو یو لوی جهان ته بوتلم. ما ته هغه وخت را یاد شو چې زموږ د ویښ زلمیانو حزب، په خپل مرام کې یوه ماده لرله چې هغه په هېواد کې د ملي وحدت د ټینګولو لپاره موږ ته د هڅې او وظیفې ماده وه. په هغه وخت کې د ملي وحدت د ټینګولو د عملي شکل په باب موږ سره یو څه برداشتونه وو. زموږ یو تحلیل دا و چې افغانستان ددې خاورې د ټولو اوسېدونکو کور دی، نو ددې هېواد ټولې ژبې د هغه د ټولو خلکو ژبې دي. د افغانستان د ټولو قومونو ادب، فرهنګ او مدنیت د افغانستان د ټولو خلکو افتخار دی او د افغانستان ټول خلک ټولو ته د خدمت دنده لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې لړ کې زموږ هڅه دا وه چې پښتو او دري ژبې چې زيات تر کار لاندې دي په مساويانه توګه پرمختګ او پراختيا ومومي. نورې ژبې هم په علمي، تعليمي، ادبي او فرهنګي ډګر کې د رکود او سکوت حالت ښخه ووځي. په دې لار کې بايد کار وشي، موږ په خپله هم کار وکړو، خلک او دولتي مقامات هم ورته متوجه کړو.

له نېکه مرغه، په ويښ زلميانو کې زياتره پوهان، ليکوال او شاعران شامل وو. په هغه دور کې زه په خپله په ننګرهار کې وم. د دې حزب د ننګرهار د ولايتي کمېټې منشي هم بدلېده، مګر زه مجدداً انتخابېدم. رئيس به کله الفت صاحب او کله به خادم صاحب انتخابېده. له دوی ښخه به هر يو چې په ننګرهار کې تشريف درلود هماغه به انتخابېده، تصادف داسې وشو چې د دوی ترمنځ وار او نوبت غوندې جوړ شو.

زه په ننګرهار کې تر هر څه دمخه دې خبرې ته ملتفت وم. په دري ژبه مې هم مقالې او شعرونه ليکل. د مرکز او ولاياتو هغو خپرونو ته مې لېږل چې په هغو کې دري مضامين خپرېدل. په ننګرهار کې پښتو ژبه عامه وه. تقريباً د ټول ولس ژبه وه او ده. ښوک چې هلته اوسي که بله ژبه ولري هم، په پښتو غږېږي. که باسواده يا ليکوال او شاعر وي پښتو ليکي. هلته پښتو عامه ده. يو شمېر کسان په دري ژبه هم غږېږي او بيا هلته نورستاني او پشه يي ژبې هم موجودې دي. په هغه وخت کې دا ښلور ولايتونه، ننګرهار، لغمان، کونړونه او نورستان، يو ولايت و. دمخه د (سمت مشرقي) يا (مشرقي ولايت) بيا وروسته ((ننګرهار ولايت) په

(c) ketabton.com: The Digital Library



نامه یادېده. هلته یو شمېر سکهان او هندوان هم وو او اوس هم شته موږ د هغو ژوند او کلتور ته هم متوجه وو.

د پشه یي ژبې په برخه کې باید ووایم چې موږ زیاتره په ښار کې ګیر او بند وو. د کارونو له امله، د مېزونو او چوکیو ترمنځ بندیان وو.

پشه یي ورونړه په غرونو کې او سېدل تماس ډېر کم و، یا نه و. یوازې ما به کله کله د سندرو په محافلو کې لټه کوله چې کوم سندرغاړی د کوز کونړ دی؟ څوک د دره نور یا کلمان یا د لغمان او کونړونو د هغو درو دي چې پشه یي یا نورستاني ژبه په کې رواج لري؟

هغه هنرمند نه به مې پوښتنه کوله چې هلکه! یا استاده! د پشه یي ژبې کوم شعر دې زده دی او که نه؟ ډېرو به ویل: نه! ځینو به وویل: هو! په محفل کې حاضرو ځوانانو به د خپلې خوښې کړیو سندرو او فرمایشونه ورکول او ما به سندرغاړي ته وویل: ما ته یو یا څو د پشه یي ژبې سندرې ووایه!

په دې کې د کوز کونړ د شګې تکړه سندرغاړي، استاد هنرمند، وطنپال هنرمند، استاد بسم الله زما دې فرمایش ته ډېر خوشالېده او هغه یې په ښه توګه ترسره کاوه. ورو ورو خبره دې ته ورسېده کله چې هغه په کوم مجلس کې چېرته سندرې ویلې او هلته به یې زه ولیدلم چې چېرته د نندارچیانو په.. کې ناست یم نو بیا به یې زما د فرمایش انتظار نه کاوه او په پشه یي ژبه یې سندرې وویلې..

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس کله چې په مجلس کې زه د ښاغلي حسام د شعرونو په اورېدو مست شوم هغه وختونه رایاد شول چې زه به د بسم الله استاد په پښه یي سندرو مستېدم. نور ناست کسان به هم مستېدل. د امیر حمزه شینواري یو بیت، د شعر په باره کې رایاد شو چې وایي:

څوک پرې پوه شي په یو رنګ

څوک پرې پوه شي په بل رنګ

که څوک پوه پرې نه شي هم

شي پرې مست لکه پتنګ

زه هغه وخت هم، د پتنګ په شان مستېدم او اوس هم مست شوم. هلته د ځوانۍ مستي هم وه او اوس د تجربې او د شعر د ژباړې د پوهېدو مستي ورسره شوه...

بل قدم چې موږ واخیست هغه دا و چې زه د (۱۳۲۲ل) کال په میزان کې د (ننګرهار) د ادبي ثقافتي پښتو مجلې د مسول مدیر په توګه وګمارل شوم او دوه کاله مې دغه مجله وچلوله. د ننګرهار د مطبوعاتو د مدیریت د مطبعې آمر (طباعتي مامور)، د کوز کونړ د قلعتک اوسېدونکي ښاغلي عبدالحسین په پښه یي ژبه پوهېده. هغه ته ما وویل: راشه یو کار وکړه. زه غواړم چې په دې مجله کې د پښه یي ژبې یو مخ پیل کړم. یو څه شروع کوو. هغه دا لله پاک ارشاد دی چې ((والذین جاهدو فینا لنهدینهم سبلنا)) یانې ((څوک چې زموږ په لار ځي مجاهده کوي موږ ورته لار

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښيبيو)) هر څنګه چې وي مرد پشه يي ژبې لپاره يو كار پيلوو. كېدى شي چې عكس العمل پيدا شي.

ملګري پيدا شي مور په سمه لار سم كړي او يا په خپله ځوک مرسته وكړي. هلته سيد محمد طاهر بينا ، د پښتو ولسي شاعر د مجلې مسلكي غړى هم و. د كار نقشه مې داسې جوړه كړه چې بينا صاحب به د پښتو ساده الفاظ د ورځنيو مسايلو ، د سلام، ادابو ، ستړي مشي ، د كوروكلي ، هوجرې او جومات عادي الفاظ وليكي او د هغو سمه ترجمه عبدالحسين خان وو ايي او بينا صاحب يې د پښتو الفاظو په مقابل كې وليكي. د يو ((خود آموز)) غوندې كار پيل شي. په اخر كې به يې زه هم وګورم او نشر ته به يې وسپارم... كار مو پيل كړ.

په دې صورت د پشه يي ژبې څېړندوى، ژبپوهان حق لري چې وليكي:

خدمتګار هغه خدمتګار دى چې پشه يي ژبه يې د افغانستان د مطبوعاتو په پاڼو كې لومړي ځل لپاره چاپ او خپره كړه.

ماته خو په ياد نه راځي چې د هېواد په بله خپرونه كې تر دې دمخه دا كار شوى وي. له بهر او بهرنيو څېړندويانو څخه خبر نه يم چې هغوى داسې كار كړى دى او كه نه؟ كه نه وي كړي نو زما كار د ټولې نړۍ په مقياس لومړنى كار دى دا زما لپاره افتخار دى او زما د خوشالۍ خبره داده چې دحسام صاحب له خوا د خپلو شعرونو د لوستو په وخت دا ټولې خبرې او خاطرې را ياد بدلي او دا خبرې مې ځكه وكړې چې د پشه يي ژبې د چاپ هغه ډېر وركوټى كار يا د پشه يي سندرو په ارتباط هغه ډېر وركوټى

(c) ketabton.com: The Digital Library



احساس یو منشا درلودله. هغه منشا د ویښ زلمیانو مرام او د هغه مرام د عملي کولو لپاره زموږ تعهد و چې موږ به د ملي وحدت د ټینګولو لپاره تبلیغ ه کوو ، کار هم کوو ، هسې خبره نه وه.

اصولي بنیاد یې درلود. دا زموږ عقیده وه او دا زموږ ژمنه ده چې د ملي وحدت د استحکام لپاره خدمت کوو. په خدمت کې خو د غسې خبرې راځي. د خولې په تشه وینا خو څه نه کېږي. لکه نن ورځ چې د هر چا په خوله کې ((د ملي وحدت)) ناره ده، مګر په دې کې ډېر داسې کسان هم وي چې په دې نامه او ناره، ځان ته کرېډېټ غواړي ولې هغه بنیاد ته هېڅ توجه نه کوي، په دې نامه او ناره په ټولنه کې ځان وړاندې کوي مګر کله ددې مخالف عمل هم ترې صادرېږي، متاسفانه چې دا کسان دروغ وایي. منافقت نه باید لاس واخلي. ملي وحدت چې ټینګېږي، دا یوازې د یو قوم یا یو شخص لپاره ګټه نه ده، دا ددې وطن د ټولو اوسېدونکو او ټولو قومونو په ګټه ده. نو په دې کې د منافقت هېڅ ضرورت نه شته. دې موضوع سره باید ټول مینه ولري او ټول د خپل همت او قدرت په اندازه ورته خدمت وکړي.

اوس چې هغه وخت را یادېږي، چې په پښه یې ژبه د بسم الله استاد د خولې یوه سندره مې هم غنیمت ګڼله او د مرحوم سید محمد طاهر بینا او مرحوم عبدالحسین په ملګرتیا، د ننګرهار مجلې په یو مخ خپرنه هم خوشالېدم او زړه مې باغ باغ کېده او اوس شکر داسې وخت راغلی دی چې پښه یې ژبه د ژورنالیزم په ساحه کې داخله شوه. پښه یې ژبه د خپرنې او لیکوالۍ په ساحه کې فعاله شوه. پښه یې ژبه د شاعرۍ، حتی د ((نوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



شعر )) په ساحه کې کتابونه لري. په داسې حال کې چې په پښتو او دري ژبو کې لا هم ((نوي شعر )) نوي دي او وږد تاریخ نه لري. د همدې زمانې او همدې کلونو پیداوار دی. پشه یي ژبې هم ځان وررسولی دی او په ډېر ښه معیار یې ځان ور رسولی دی.

د حاجي صاحب دا شعرونه چې ما واورېدل، اوچت معیار لري او شاعر یې حق لري چې په دې لار کې نور پراخ او ګړندي ګامونه اوچت کړي.

په پشه یي ژبه داسې کتاب، دداسې ټولنې له خوا چاپ شو، چې دا یوه نړیواله ټولنه ده. پشه یي ژبه د قومي ساحې نه ملي ساحې ته ننوتې وه، دې کتاب سره نړیوالې ساحې ته هم ننوتله، مبارک دي وي !

زه دې ته ډېر خوشاله یم، ځکه چې دا زما د مرام او عقیدې د ګلونو خوشبویي ده زه ستاسو په حضور کې اقرار او اعتراف کوم او که د شهادت ځای راغی، تاسو په دنیا او اخرت کې راباندې شاهدي ورکړئ، چې د ملي وحدت د ټینګولو خبره زما د عقیدې خبره ده، زما د وجدان خبره ده او زما د ایمان خبره ده. زه د الله پاک له درباره په دې باندې اجر غواړم او که اشتباه مې کړې وي، ترې د عفوې هیله لرم. او فکر کوم چې اشتباه مې نه ده کړې ځکه چې دا د الله پاک د بندګانو د خیر خبره ده.

دې عقیدې لاندې ما ژوند تېر کړی دی او ژوند تېروم او کوم کار چې زما د عقیدې سره سم وي زه په هغه خوشالېږم او وایم:

اخر شکوفه کرد نهالی که کاشتیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې غونډې ته زما راتګ په ظاهري دنيايي حساب ضرور نه و. ځکه چې زه په پښه يي ژبه نه پوهېږم، نو زه څله راغلی يم؟ زه ځکه راغلی يم چې زموږ د مرام او عقيدې او تحليل له دغې پښه يي ژبه هم زما ژبه ده او نورستاني، ازبيک او ترکمني د وطن نورې ژبې هم. نو زه د خپلې ژبې لپاره راغلی يم، نه د بل چا د ژبې لپاره او د خپلې عقيدې له مخې راغلی يم نه د کومې پاليسۍ يا ډيپلوماسۍ په خاطر دلته يوه بله خبره هم رايادوه شوه، هغه هم ستاسو په اجازه کوم.

په ځينو ويناګانو کې پښه يي او د وطن ځينو نورو ژبو ته (وړه ژبه) وويل شوه. زه دې اصطلاح سره موافق نه يم. زما په نظر يوه ژبه هم وړه نه ده.

که لږ خلک پرې غږېږي او که ډېر.

ژبه اصلاً او اصولاً د انسانانو ترمنځ د پوهېدو وسيله ده. ژبه د يو انسان تفکر بل ته لېږدوي. انسان خو اشرف المخلوقات او د کرامت خاوند دی. انسان د ژبې په واسط د خپلې عقيدې اظهار کوي او الله پاک يادوي نو ژبه، هره ژبه چې وي لويه ده، وړه نه ده.

زموږ په هېواد کې (اورمړي) ژبه ډېر لږ ويونکي لري، مګر زه ورته وړه ژبه نه شم ويلی. (تيراهي) ژبه له منځه تللې ده. بيا هم زه يې وړه ژبه نه بولم. شل دېرش کاله د مخه د ننګرهار په (تيراهي کوټ) کې يوازې يو سپين سرې ښځه پاتې وه چې دا يې ژبه وه. الله پاک دې ډاکتر مجاور احمد زيار ته خير ورکړي چې د افغانستان د ژبو د اتلس د جوړولو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترخ کې یې د هغې بوډۍ وینا هم ثبت کړې ده او د دې ژبې یو بېلګه یې د ژب څېړونکو لپاره محفوظه کړې ده.

سانسکریت ژبه اوس نه شته خو چې وه د مندرونو د دیني مسایلو او مناسکو ژبه وه او مقدسه ګڼل کېدله. همدارنګه سوریاني ژبه یوه لرغونې ژبه ده چې ډېر پخوا له منځه تللې ده. دا هم دیني او مقدسه ژبه وه. د هغې په باره کې ویل شوي دي چې هغه ډېره لرغونې ژبه ده چې ډېر پخوا له منځه تللې ده. دا هم دیني او مقدسه ژبه وه د هغې په باره کې ویل شوي دي چې هغه ډېره لرغونې او زړه ژبه او د ټولو ژبو مور ده. که سانسکریت، سوریاني او نورې له منځه تللې ژبې زړې ژبې وبولو، بولو یې، مګر وړې ژبې یې نه بولو. ځکه چې ژبه د انسان د تفکر او عقیدې اظهار او انتقال وسیله ده او انسان په خپله د کایناتو ((لویه هستي)) ده چې زموږ صاحبدلو عارفانو ((عالم کبیر)) بللې دی. زما خبرې پای ته ورسطدې، یو ځل بیا د (ایم ورګ) کتاب د چاپ او خپرېدو لامله د هغه شاعر ته د عقیدت ګلونه او ناشر ته یې شابسی وړاندې کوم. مننه

د (زه کابل یم) د کتاب لیکوال، ښاغلي م.ح. حسام په ادرس بنندې کاوون توفاني په دوه زرم میلادي د مې په میاشت کې د باد په کنډوالو کې د ((یو لیک یو پیغام)) تر عنوان لاندې په (۱۱) مخونو کې یو شعر لیکل چې ما هماغه شعر دې ادبي رپوټ ته رانقل کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاوون توفاني (باد په کنډوالو کې)

## يو ليک، يو پيغام:

يه د وطن د ارمانونو ياره

يه د ولس د فريادونو ياره

زما د غم او د قلم شريکه

يه د کابل د ماتمونو ياره

+++

تا مې د زړه په سوځېدلې دښته

بيا د يادونو اغزي وتړو کول

تامې د ذهن رژېدلي باغ کې

بيا د غمونو ګلان وغوړول

+++

تا مې د سترګو د اسمان لمنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بيا د ماتم په وربځو ولړلې

تا مې بې وسه بې فرياده اوښکې

بيا د ارمان په مزار وشيندلې

+++

تا مې د ذهن وزر ماتې مرغه

بيا د کابل د کنډوالو مېلمه که

تا مې د ژوند د اميدونو قاصد

بيا د وطن د هديرو مېلمه که

+++

لاړم د خيال په وزرو والوتمه

په سوځېدلې کابل وګرځېدم

د ورکو هيلو د لټون په تمه

په نړېدلي کابل وګرځېدم

+++

پيدا مې نه که هغه ښکلی کابل

د افغانانو نازولی کابل

زما کابل، زما منلی کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکلی کابل، د ګلو خلی کابل

+++

د ښايسته کابل د زړه په سر مې
د سپېرو خاورو ډېرۍ وليدلې
په هر قدم او هره لوېشته کې مې
د سوو هيلو غونډۍ وليدلې

+++

هغه د مينې په شور مسته سيمه
لکه خاموشه هديره ښکارېږي
دا کاسي او نسترونو باغچه
له ګلو تشه ده، سپېره ښکارېږي

+++

چا يې هوس د سوزېدلو کاوه
چا يې ارمان د نړېدلو درلود
چا يې په زړه يو زر زخمونه غوښتل
چا يې اميد د پرزېدلو درلود

+++

(c) ketabton.com: The Digital Library



چا يې په ځيرې ګرېوان اور پورې که
چا يې لمن چا يې لونګۍ پټه کړه
چا يې تاريخ ترېنه ځولۍ کې يووړ
چا يې د هيلو ناوه کۍ پټه کړه

+++

چا يې وياونو ته کتلای نه شول
چاته يې جګ سره د منلو نه و
څوک يې راندە وعظمتونو پسې
چاته يې برم د ليدلو نو

+++

چا يې پګړۍ له سره کوزه کړله
چا پرې لمبې د انتقام بلې کړې
چا يې ګرېوان ريښې ريښې که ورته
چا ورته شمې د انجام بلې کړې

+++

نه يې سهار دی د شغلو ملګری
نه يې ماښام، رنګين رنګين ښکارېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه يې سپوږمۍ د لمر په مينه مسته

نه خو يې ستوري ګلورين ښکارېږي

+++

نه يې باغونه په ګلابو سينګار

نه يې دښتونه په غاټولو ښکلي

نه يې ماڼيو کې پرتم پاتې دی

نه يې جونګړې چا په ننګ پاللي

+++

په وينو سره ښکاري لمنه د ښار

پرهر پرهر يې مړه ننګونه ژاړي

له زخمي زړه نه يې څڅېږي وينې

ويرژلې سا يې تاريخونه ژاړي

+++

د شنه اسمان مخ يې په وريځو ککړ

شپه يې بهېږي په کوڅه کوڅه کې

هر لور اورېده دي د ستم لاسونه

مرګ يې نڅېږي په کوڅه کوڅه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



+++

په هر ځپک خاوره يې وينې پرتې

په هر قدم يې رژېدلي ګلان

په هره لښته يې زمولي غوټۍ

په هره څانګه سوځېدلي ګلان

+++

اسه مايي، دغه زخمي پهلوان

نور د رزمونو افسانې نه وايي

دغه د تېرو پرتمونو راوي

د سترو سوبو ترانې نه وايي

+++

نور يې (مهراب) او (رودابه) هېره ده

نور يې د (زال) زاړه رازونه نه شته

اوس يې په ذه کې (شغاد) پاتې دى

نور يې (رستم، رستم) يادونه نه شته

اوس په کې مړه دي د مردۍ رسمونه

اوس په کې ماتې دي سپېڅلې تورې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس په کې ورک دي د دستار سرونه

+++

نور يې (اکبر، اکبر) غيرت ويده دی

نور يې (امان، امان) ننګونه نه شته

نور يې (مشکي، مشکي) شملې ټيټې دي

نور يې (طرزي، طرزي) فکرونه نه شته

+++

حسامه، تا خو د کابل په لوټو

د اوښکو ډېرې ډيوې بلې کړلې

تا د بې ګوره شهيدانو په ياد

د خلکو هېرې شمې بلې کړلې

+++

تا د قلم په هنرمنده ژبه

وطن، وطن سندرې وويلې

تا د سرو وينو د درياب په غاړه

د مرغلرو مرۍ وپېيلې

+++

(c) ketabton.com: The Digital Library



تا د قدرت د لېونو له مخه

د دين (سپېڅلي) نقاب وغورځوه

تا د منکرو زاهدانو جرم

په خپلو چيغو چيغو ولړزاوه

+++

ته د ريا خرقه پوشانو پسې

د ننګ پېلوځې په لاس وګرځېدې

ته له دروغجنو اتلانو سره

د خپل قلم په توره وجنګېدې

+++

دا هورا په نوم راغلي ياران

ګوره زامن دا هريمن وختل

د پرښتو جامه کې پټ شيطانان

وحشي سرتېري د دښمن وختل

+++

د شپې برېښې د رڼا دښمنان

د زرو غله دي هنر څه پېژني

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا له کتاب او له قلمه پردي

د علم او پوهې سنګر څه پېژني

+++

له غلو نه تمه د انصاف مه کوه

له قصابانو قضاوت مه غواړه

د بې عزتو ، عزت نه خوښېږي

له بې غيرتو نه غېرت مه غواړه

+++

دا د سرو وينو د ثروت سوداګر

د محبت په ژبه، نه پوهېږي

دا د مرګونو د ښامار قاصدان

د ژوندانه په مانا څه پوهېږي

+++

دا د پرون د معرکې (اتلان)

د خپلو خلکو قاتلان وختل

دا د (وطن د ازادۍ) جنګيالي

خپله د نورو غلامان وختل

(c) ketabton.com: The Digital Library



+++

دا د بربنډو پرښتو مينان

د دنيايي جنت خوبونه ويني

دا له هېندارو نه بېزاره شيخان

تورو کوودړو کې مخونه ويني

+++

راځه چې لوڅې کړو ناولې څېرې

راځه رسوا کړو درواغجن اتلان

دا د ګناه او د ثواب مالکان

دا د جنت او د دوزخ واکداران

+++

راځه په چيغو کې لمبې وکړو

راځه تاده کړو يخ وهلي زړونه

راځه د هيلو غوټۍ ونازوو

راځه چې ايل کړو خزاني بادونه

+++

راځه وربِمه شو باغ په باغ وګرځو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په سپېرو لښتو کې غونچې وکرو

راځه د پوال د سکوت ونړوو

په وچو شونډو ترانې وکرو

+++

راځه د تور ماښام په توره دړه

ښکلې تصوير د سباوون وکاږو

راځه د مرګ د هيولا په تندي

ځلانده ليکه د ژوندون وکاږو

+++

باور مې نه شي چې د وربځو مور به

د شنه اسمان په مخ خپره پاتې شي

باور مې نه شي چې دا توره شپه به

د لمر په کلي کې د بره پاتې شي

+++

دا د سرکښو توفانونو وطن

سر د ستم مخې ته نه ټيټوي

دا د رزمونو په بټيو کې پوخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بې ننګيو زنځير نه قبلوي

+++

بيا به راپاڅېږي دا سترې ولس

بيا به راوينښ شي دا ويده ننګونه

بيا به پخلا شي مرور اشنايان

بيا به تازه شي پخواني هوډونه

+++

بيا به نو تورې تلانګرې څېرې

په تکو سپينو جامو نه پټېږي

بيا به لوټمارې ستمګرې ډلې

د عدالت په ګدۍ نه برېږي

+++

بيا به د لمر ګلونه وغوړېږي

بيا به سحر په ځلېدلو راشي

شپه به، د شپې کلي ته کډه وکړي

بيا به سپېدې په برېدلو راشي

+++

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا به مو تاج شي د غنمو وږي

بیا به سپرلي شي د بابا په وطن

بیا به جارېږو یو له بله ځنې

بیا به راپلنه شي رڼا په وطن

+++

بیا به کابل شي د ننګونو کابل

د تل ژوندیو پرتمونو کابل

د ټول افغان د امیدونو کابل

د بریالیو ارمانونو کابل[۱]

[۱] جنرال اختر عبدالرحمن له ۱۹۷۹ څخه تر ۱۹۸۷م کال پورې د پاکستان د استخباراتي سازمان ISI رئیس و، چې لوی ارمان یې د کابل سوزول او ویجاړول و او د (زرګونو زخمونو...) تر نامه لاندې د جګړې نقشه یې په سر کې درلوده.

(۲) وزیر محمد اکبر خان

(۳) اعلیحضرت امان الله خان

(۴) ملامشک عالم

(۵) محمود طرزي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لړليک


| سرليک | مخ |
|---|---|
| **زه کابل يم** | ۱ |
| پيلامه | ۲ |
| قومندان صيب | ۹ |
| د پساتونو مور | ۲۰ |
| لوونه | ۲۸ |
| د قلم ملګري ته يو ليك | ۳۲ |
| خوب | ۳۵ |
| جګړه، جګړه وه! | ٤۱ |
| نړيوالو! | ٤۷ |
| زموږ مشران څه وايي؟ | ٦٦ |
| زموږ پوځونه | ۷۳ |
| قوماندان مُلك | ۸۵ |
| د فكر ازادي او سوله | ۹۱ |
| بېوسه کوچی | ۹٤ |
| زموږ د زماني ښاماران | ۹٦ |
| دلته د ټوپك قانون حکم فرما دی | ۹۹ |
| زورور او کمزوری | ۱۰۲ |
| اوس څوك ديوث ((دووس)) شو | ۱۰۸ |
| يو بازار او دوه نرخه | ۱۱۱ |
| درې فقره ييز اساسي قانون | ۱۱٤ |
| مرکه | ۱۱۸ |
| د شاعر واك | ۱۲۲ |
| ښکلي دوه ځل مري | ۱۲۵ |
| د شلمې پېړۍ جلاد | ۱۲۸ |
| پېښنې | ۱۳۳ |
| زه کابل يم! | ۱۳٦ |
| مبتکر، مخرب او که بت شکن | ۱۵٦ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



کابله........................................................................................ ۱۵۹
پاخون ته.................................................................................... ۱۷۰
**انساني دلالان**............................................................................... ۱۸۵
د یوویشتمې پېړۍ انساني دلالان د یوه جنایي ((ناول)) په توګه ............ ۱۸۶
سریزه........................................................................................ ۱۹۱
د جګړې له ناخوالو نه ..................................................................... ۱۹٤
لنډې خبرې................................................................................... ۱۹۸
**هینداره په هینداروکې** ........................................................................ ۲۷۲
هینداره په هینداروکې....................................................................... ۲۷۳
ځیرونکی محمد نبي صلاحي ............................................................. ۲۷٦
دوست محمد خان:............................................................................ ۲۷۸
سرمحقق عبدالله بختاني خدمتګار:....................................................... ۲۸۰
حاجي محمد حسن حسام:.................................................................. ۲۹۲
استاد حبیب الله رفیع صاحب:............................................................ ۲۹۸
محمد حسن ولسمل:.......................................................................... ۳۰٤
استاد اسدالله غضنفر:......................................................................... ۳۱۱
محمد نبي تدبیر:.............................................................................. ۳۲۰
انجنیر ذبیح الله حسام:....................................................................... ۳۲٤
محمد زمان کلماني: .......................................................................... ۳۲۸
لایق صاحب:.................................................................................. ۳۳۲
امین الله حسام:............................................................................... ۳٤٦
ډاکتر احمد همدرد حسام: .................................................................. ۳٤۸
په کوم ویاړ؟!.................................................................................. ۳٦۰
د ملي وحدت ټینګول زما عقیده ده: ..................................................... ۳٦٤

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تحريك يادښت

د افغانستان ملي تحريك د (۱۳۹۳ ل) کال په پیل کې له خپلو ګرانو هېوادوالو سره ژمنه کړې وه چې د دې کال په بهیر کې به (شل عنوانونه) بېلا بېل دیني، علمي، ادبي او ټولنیز اثار خپلې ټولنې ته وړاندې کوي. ملي تحریك دا ژمنه د یاد کال د کب پر (۲۸)مه نېټه پوره او د یوې پرتمینې غونډې په ترڅ کې یې شل عنوانونه علمي اثار هېوادوالو ته وړاندې کړل. ملي تحریك په یاده غونډه کې ژمنه وکړه چې د (۱۳۹۴ ل) کال په بهیر کې به انشاء الله د خدای (ج) په نصرت ټول ټال سل (۱۰۰) عنوانه بېلابېل علمي اثار ټولنې ته وړاندې کوي. طبیعي خبره ده چې دا اسانه کار نه دی، ډېر زیات زیار او زحمت ته اړتیا لري، خو ملي تحریك ټینګ هوډ کړی چې خپله دا ژمنه به هم د تېرې ژمنې په څېر عملی کوي. دا اثر چې ستاسو په لاس کې دی د همدې (سل عنوانونو) ژمنه کړو اثارو له جملې څخه دی، چې د چاپ جامه اغوندي. ملي تحریك هیله لري چې له دې اثر څخه به زموږ هېوادوال په زړه پورې ګټه پورته کړي. ملي تحریك له ټولو هغو لیکوالو، ژباړونکو، سمونچارو، مالي او معنوي مرستندویانو او چاپ چارو څخه چې ددې اثارو د چاپ په دې ټول بهیر کې یې یو بل سره مرسته او ملګرتیا کړې او دا فرهنګي بهیر یې بریالی کړی، د زړه له کومې مننه کوي او کور ودانی ورته وایي.

د هېواد د فرهنګ د ښېرازۍ په هیله

د افغانستان ملي تحریك فرهنګي څانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د الحاج محمد حسن حسام

# نثري کلیات

۱۳۹۴ل کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

# کتاب پېژندنه:


د کتاب نوم: د محمد حسن حسام نثري کلیات

لیکـــوال: الحاج محمد حسن حسام

خپرونـدی: د افغانستان ملي تحریك، فرهنگي څانگه

وېـبپـاڼـه: www.melitahrik.com

کمپوز/ډیزاین: ضیاء ساپی

پښتی ډیزاین: فیاض حمید


چـاپشمېـر: ۱۰۰۰ ټوکه

چـاپـکـال: ۱۳۹۴ ل کال/ ۲۰۱۵م

د تحریك د خپرونو لړ: (۱۰۱)


یادونه: د چاپ حقوق له ملي تحریک سره خوندي دي او د کتاب د محتوا مسولیت لیکوال پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الحاج محمد حسن حسام

## چاپ شوي اثار:

- زه کابل یم
- اوړا پرنګی
- تارینا لوشه
- ایم ورک
- سپیني ویني
- سرخلاصي لیکونه
- یوه شپه دوه خوبونه
- د یوویشتمې پیړۍ انساني دلالان
- اشیل
- یو خوب دوه انځوره
- څار

د خپرونو لړ: ۱۰۱

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**